د خپرونو پرله پسې لمبر

۸

# د مغلویه دولت کی دورستیو سیاسی کودتاوو تاریخ

لوسین بوواټ

مترجم: ډکتور گل محمّد نورزی

# يادونه

خوشحاله يو چې د مغلو په دولت کې د ورو ستيو سياسي کودتاوو تاريخ لومړی ټوک له چاپه راووت، د کتاب د علمي ارزښت او تاريخي ګټور توب په باب دلته موږ څه ويل نه غواړو چې ښاغلي مترجم پوهنمل دوکتور ګل محمد پرې پخپل يادښت کې هر اړخيزه رڼا اچولې، هم دا رنګه د روسي چاپ مقدمه ليکونکي د کتاب ګټورتوب پوره څېړلی دی، چې ګران لوستونکي به خپله قضاوت پرې وکړي.

خو زموږ يادونه دا ده چې د کتاب قطع، صحافت او ډيزاين په موږ پورې اړه نه لري، او د پوهنتون د خپرونو دلوی مديريت پخوانيو کارکوونکو، پرته له دې چې ميلمه و پوښتي «چې پيتي خوری او که نه؟» په خپل سر د کتاب لومړی او دوهمه پښتې چاپ کړی، او هم د لومړي ټوك د دوهمې پښتې په څېنو نسخو کې دادبياتو پوهنځي پر ځای د «ابياتو پوهنځی» راغلی، چې دادبياتو پوهنځی، د کتاب د مترجم او مهتمم د ذوق او سليقې نمايندګي نه کوي، که څه هم د خپرونو مديريت په دوهمه پښتې زموږ د مهتمم نوم هم چاپ کړی دی، او س مو د پوهنتون د خپرونو د مديريت د اوسنيو کارکوونکو په مرسته په پښتې کې نوې سمونې وکړې، او دادی په دغه اوسنۍ بڼه د پېړۍ او تاريخ مينانو ته وړاندې کېږي. «اداره»

## سلسله کتب درسی

رياست پوهنتون کابل بادرك نيازمندی شديد به کتب درسی
چاپ اين سلسله رار وی دست گـرفت. پيروزی
درين راه نه تنها به استفاده بيشتر از وسايل
ومنابع موجود بلکه به همکاری
استـادان محترم نيز
بستگی دارد.

www.libtool.com.cn

دادبیاتو دپوهنځی دخپرونو په لړ کی

۲۷

www.libtool.com.cn

# د مغلو په دولت کی د وروستیو سیاسی کودتاوو تاریخ

## لومړی ټوک

لیکونکی : فرانسوا برنیه

روسی مترجمین: ب. ژوخاویڅکی او م. تمارا

روسی مقدمه لیکونکی: ا. پروزین

پښتو مترجم: ډکتور گل محمد نورزی

PROPERTY OF ACKU 5833

خپروونکی

دادبیاتو او بشری علومو پوهنځی

د زلمی ساپی په اهتمام

د ۱۳۵۲ وری

www.libtool.com.cn

# سریزه

دفرانسو ابرینه (۱۶۸۸ ـ ۱۶۲۰) کتاب «دمغلو په دولت کی د ورو ستیو سیاسی کودتاو وتاریخ» روسی ترجمی سره زه هغه وخت آشناشوم، چی په مسکو کی می دخوشحال په «ژوندا و آثارو» باندې ددوکتورا تیزس لپاره کار کاوه. دهندوستان په مطالعه کی خصوصاً دخوشحال خان دورې پوهې لپاره ماسره دې کتاب ډېره زیاته مرسته وکړه. داځکه چی دبرنیه کتاب دمغلو په امپراتوري کی په هغو ژورو اقتصادي اوسیاسي بحرانونو باندې خبرې کوي، چی اساس ئی د مغلو امپراتوري په سیاسي او اقتصادی سیستم کی پروت و.

زمونږ په هیواد کی تر اوسه تاریخ لیکونکو داز یار په ځان نه دی منلی، چی دتاریخی پیښو اوبحرانونو په څیړنه کی له هرڅه اول دهغه دورې اقتصادي، اجتماعی اوسیاسی فکتورونه په نظر کی ونیسي، او بیاد تاکلی دورې تاریخی پیښی او یادهغی دورې په تاکلی علمی، هنري اوسیاسی شخصیت په جوړښت باندې خبرې وکړي. دلته عادت داسی دی، چی دتاریخی شخصیتونو په مطالعه کی زیاتر دخپلی زمانی فکر دمطالعی لاندې شخصیت زمانی ته ورانتقالوي، یادا کوشش کوي چی هغه خپلی زمانی ته راوړي. داډول قضاوت اوڅیړنه زیاتره وخت ددې سبب ګرځی چی دلرغونو تاریخی دورو خصوصیات زمونږ له نظره لاپټ کړي.

دبرنیه کتاب دوې برخی لري چی اوله حصه یی «دمغلو په دولت کی دورو ستیو سیاسی کودتا وو تاریخ» ده او تر ۱۶۶۹ ـ ۱۶۷۰ کال پورې لیکل شوې ده

«الومړی»

دارخت فرانسوي طبيب ، سيلاني فيلسوف اومؤرخ ددیارلسو کلو نو مسافرت نه وروسته د ۱٦٦۹ په سپتمبر کی مارسیل ته راغلی دی. دکتاب دوهمه برخه مکتوبونه دي ، چی لومړی مکتوب « ډیلاموتلی وی ته لیلك» په ۱۶۶۳/۷/۱ نیټه لیکل شوی دی. که د ۱۶۶۳/۷/۱ کال لیك مونږ دکتاب پیل وګڼو ، نو دغه کتاب تر لن ورځی پورې خه دپاسه درې پیړی ژوند کړی دی .

www.libtool.com.cn

دبرنیه کتاب په خپل وخت اودهغه نه وروسته په بیلو بیلو ژبو ترجمه او چاپ شوی دی .

دغه کتاب دلومړي وارلپاره په (۱۶۷۰) کال کی په فرانسه کی چاپ بیا تر (۱۶۷۶) کال پورې اووه واره طبع شو. تر ۱۸۳۳ کال پورې دبرنیه کتاب دآروپا (۲۹) مختلفو مهمو ژبو ترجمه اوخپور شو.

دبرنیه کتاب روسی ترجمه په ۱۹۳٦ کال کی په مسکو کی له چاپه راووته ، چي پښتو ترجمه هم ددغی ترجمی څخه شوي ده .

دبرنیه کتاب دزمانی په لحاظ ډیر پخوانی دی ، ولی هغه موضوعات چی پدې کتاب کی فرانسوي طبیب اوسیلانی راغونډ کړي دي ، په عمومی صورت سره د دې صیمی لپاره دومره نوي دي ، چی زیاتره یې زمونږ دڅپوورځو راقعیتونه بیانوي.

برنیه زمونږ دنامتو شاعر ، فلیسوف ، سیاستمدار او په خپل وخت کی دآزادي غوښتلو دملی نهضت قهرمان خوشحال خان هم عصردی . خوشحال خان په ۱٦۱۳ ع کال کی زیږیدلی او په (۱٦۸۹م) کال کی ئی له دنیا سترګی پټی کړي دي. خوشحال خان په ٦۷۲ امیلادی کال کی دآزادی ملی نهضت بیرغ په لاس واخیست ، چی داوخت برنیه خپل هیواد (فرانسی) ته ستون شوی و . برنیه په ۱٦٦۹ کال فرانسی ته راګرځیدلی. همدا سبب دی چی فرانسوی نامتو عالم دخوشحال خان دنهضت په حصه کی هیڅ نه دي لیکلي ، د روښا نیانو نهضت ۱٦٤۰ ع کال په شروع کی تقریباً د (۷۰) اویاوکالو مبارزې نه وروسته له منځه تللی و ، چی داوخت برنیه

دوه ویشت کلن ځوان و. د روښانیانو نهضت سقوط نه لس کاله وروسته، یعنی په ۱۶۵۲ کال کې برنیه د مانپلی په پوهنتون د مشهور فیلسوف او ماتریالست ګاسندي تر رهبری لاندې په فلسفه کې د فلسفې امتحان ورکړ. د همدې کال په وروستیو برخو کې یې د طب امتحان هم ورکړ او د طبیب لقب ئې حاصل کړ. برنیه د لومړي وار لپاره په ۱۶۵۴ کال کې د فرانسې څخه ووت، فلسطین او سوریې ته راغی. د فلسطین، سوریې مصر او عربستان یو شمیر ښارونو لیدلو نه وروسته د ۱۶۵۹ کال په لومړیو شپوو رځو کې د هندوستان سورت بحری بندر ته راورسید، چې د هغه وخت په ټول هندوستان کې د سورت بحری بندر، له مهمو تجارتی بندرونو څخه و. او د اروپایی تجارتی کمپنیو قوي مرکز هم په سورت کې واقع و.

www.libtool.com.cn

فرانسوي طبیب برنیه له ۱۶۵۹ څخه تر ۱۶۶۹ کال پورې په هندوستان کې پاتې شوی دی. د مغلو په دربار کې چې کوم سیاسی بحرانونه راغلی، تقریباً ټول ئې د همدې دورې سره ربط لري او ټول یې په سترګو لیدلي دي. د برنیه علمي بینګښه داده چې د مغلو امپراتوری او دربار کشالی مونږ ته نه یوازې د افسانې په ډول بیانوي، بلکه په امپراتوري او دربار کې د سیاسي بحرانونو اساس په اقتصادي عواملو کې لټوي. هغه تضادونه چې په امپراتوري او دربار کې موجود دي، برنیه د هغوی شاته علتونه او او قوتونه ډیر ښه ویني او هغه افشأ کوي. د برنیه په زمانه کې د هند په نیمه قاره او آسیا کې درې سیاسي قوتونه موجود دي: په هند کې د بابر کورنی ده؛ په پارس کې د صفویانو امپراتوری؛ په منځنۍ اسیا کې د بخارا د ازبکانو خانان. افغانستان د دې درې ګونو برغلګرو قوتونو په منځ کې د دولجی میدان ګرځیدلی و. د افغانستان ختیځې او جنوب لویدیځې برخې تر غزنی پورې د کابل په ګډون د مغلو په لاس کې وې. له کندهاره تر هراته پورې سیمې د صفویانو تر پښو لاندې وې. د هندوکش هغه خواشمالي سیمې د امو ترسینده پورې د ثمرقند او بخارا خانانو له خوا وخت پـه

وخت لوټ کیدلی . برنیه په خپل کتاب کی دافغانستان په ویش باندي ددغو دري ګونو متمر ضوقوتونو مبارزې ته ځای په ځای اشارې کړي دي ، اوهم یی ددې لرغونی تاریخی هیواد په ستراتیژیکی موقعیت کی ډیر مهم ګڼلی و . برنیه دمغلی اکبر بادشاه منشی ابوالفضل عالاتی دغه خبره چی ویلی یی وو : « ترڅو چی یی کابل په لاس نه وي ، تر هغی هیڅوك نه شی کولای دهندوستان واکدارشی » پوره منلی او تائید کړي ده . زما په نظار دبرنیه کوچنی غوندې عیب به داوی چی دی په خپلو لیکنو کی دمغلو امپراتورۍ او دهندوستان لرغونی تاریخ سره تماس نه نیسی . فرانسوی طبیب او سیلانی د مغلو امپراتورۍ زوال لپاره اقتصادي فکتورونه سند نیسي ، ولي هغه نهضتونه اوملي جریانونه چی دمغلو په امپراتورۍ کی ددربار او ملکانو په ضد راپورته شول ، اودوی غوښتنی په اجتماعي او اقتصادي ناانډولیو باندې بنا وې ، یا په بل عبارت دهغه وخت په شرایطو کی طبقاتي مبارزې پرمخ روانی کړې دي ، نه مطالعه کوي . دمثال په توګه دروښانیانو نهضت دغه دخپل وخت مترقي نهضت نه یوازې دبرنیه شپږ ورځو ته رټ نږدې دی ، بلکه دمغلو په امپراتورۍ کی تر ټولو ملي نهضتونو قوي او دوامدارو . دروښانیانو نهضت مؤسس بایزید (۱۵۱۵ـیا ۵۲۰ ـ۱۵۸۰) انصاري و ، چی دمغلي پادشاه اکبر (۱۵۵۶ـ۱۶۵۶) هم عصر دی . دروښانیانو نهضت له (۱۵۴۲ یا ۱۵۶۰) څخه شروع او تر ۱۶۴۲ کال پورې پسی اوږدشو ، چی پدې حساب دغه مترقي ملي نهضت دا کبر (۱۵۵۶ـ۱۶۰۶) دجهانګیر (۱۶۰۶ـ۱۶۲۷) اوشاه جهان (۱۶۲۷ـ۱۶۵۸) دسلطنت د دریو جریان دی ، او دې درو وارو مغلي امپراتورانو ټول عسکري اومالي قوت دیته متوجه کړی و ، چی د روښانیانو نهضت نه پرته نور ډیر لوی واړه ملی نهضتونه د دربار اوفیوډالانو په ضد راپورته شول ، دمثال په توګه دسکانو نهضت چی مؤسس یې ګورو نانك (۱۵۳۹ـ۱۶۶۹) ؤ ، داوولسمی پیړی په دوهمه نیمایي کی دمرهټیانو نهضت چی مؤسس یی سیواجي

« څلورم »

( ۱٦۲۷-۱٦۸۰ ) دی ،دغه او داسې نورو لويو ورو ملي نهضتونو هريوه‌په‌خپل‌وار سره دمغلي امپراتورۍ کتاب دبنسټ په ورانولو کې غټه حصه واخيسته. فرانسوي فيلسوف اومورخ په خپل کتاب کی کله چې د مغلی امپراتورۍ د زوال لپاره علتونه لټوي، نود دغو ملي نهضتونو په رول باندې هيڅ خبرې نه کوي . برنيه په خپـل کتاب کی يوازې په سيواجی باندې يوڅو ځايه غزيدلی دی ،ولی هغه ديوه نهضت دمؤسس په‌ډول نه، بلکه‌ديوه‌داړه‌مار په نظر ګوري . کله چې برنيه‌په‌مغلی امپراتوري کی‌په‌پټانانو(افغانانو) خبرې کـوي، نو وايي چې پټانان دبنـګال سيمـوڅخــه راپورته شوي دي.

www.libtool.com.cn

داهغه غلطی ده چی متأسفانه برنيه دخپلی ټولی زيرکتيا اوپوهی سره سره ورسره مخامخ کيږي. دغه تاريخي واقعيت چې پښتانه هندوستان ته‌څه‌وخت‌ولاړل ،څنګه يې هلته امپراتوری جوړې کړې او بيا‌څنګه په‌هندوستان کی‌دپښتنو‌دولتونه دزوال سره مخامخ شول ،دې سوالونو ته ځواب ورکول که‌ديوې خوامونږدخپلی موضوع څخه‌ليرې کوي، نو دبلی خوا‌پدې لنډه مقدمه کی زمونږ دتاريخ دغه اوږد فصل ځايول آسان کار نه دی. دې لنډې تبصرې څخه چې تيرشو او دبرنيه کتاب‌ته‌راشو نو ويلای‌شو ،چې‌دغه تاريخی اثرکه‌دزمانی په‌لحاظ څه دپاسه درې قرنه دمخه‌ليکل شوی دی ، اوداسې‌به فکر وشی چې په‌کتاب‌کی راغلی موضـوعات ډير زاړه دي ولی دکتاب لوستل په‌خپله لوستونکی دې حقيقت‌ته متوجه کـوي ، چـی دکتاب موضوعات نه‌يوازې‌زاړه‌نه‌دي ، بلکه‌ډير په زړه‌پورې‌دي . زه‌پدې نه‌خوشحاله کيږم ، چی‌دبرنيه کتاب زماپه زحمت ترجمه اوخپورشو، بلکه زمالپاره به خوشحالی هغه رخت وي، که‌زه پدې باور پيدا کړم چې کتاب زيات لوستونکی پيدا کړي‌دي.

دبرنيه کتاب پښتو ترجمه څه‌دپاسه دوه کاله زماپه‌ميز باندې پرته وه، هغـه وخت چې دتاريخ په‌ټولنه کی دکتابونوچاپولو کار ماته راپه‌غاړه شوی‌و ، ماغوښتل

چې دغه کتاب هلته خپور شي، ولی دبرنیه کتابونه کرلای شول چې دهغه وخت د تاریخ توولنی ریاست پاملرنه ځانته راجلب کړي، کله چې دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی ته داستاذ په صفت راغلم، نودرا تګ سره سم مې ددغه کتاب ترجمه دپوهنځی ریاست ته وړاندې کړه. دپوهنځی ښاغلی رئیس پوهاند میرحسین شاه دغه کتاب ډیر ګټور وباله، او لاس په لاس یې دپښتو دیپارتمنت استاذانو ته وړاندې کړ. دپښتو څانګی استاذانو فاضل پوهاند استاد عبدالشکور رشاد او عبدالرسول امین د کتاب د مطالعی نه وروسته په اتفاق سره دا نظریه ورکړه، چې د دغه اثر خپرول به دپښتو دیپارتمنت زده کوونکو لپاره دمرستیال درسی کتاب په صفت ډیر ګټور وي.

اوس چې دغه کتاب دپوهنځی له خوا دګران افغانستان نوي عصر دجمهوری نظام په رڼا کی دچاپ نه راوځی، زه د ځان وظیفه بولم، چې دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی له رئیس ښاغلی پوهاند میر محمد حسین شاه، دپښتو دیپارتمنت قدرمنو استاذانو او د «وږمې مجلې» تکړه او ځوان مرستیال ښاغلی زلمی او ښاغلی لامان لیکوالی چې له مرستو او همکاریو څخه دزړه له کومې شکریه وکړم، په درناوی.

پوهنمل دوکتور ګل محمد

www.libtool.com.cn

# لړ


| ګڼه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۱ |
| | د برنیه بیوګرافي | |
| | د کالبر اقتصادي سیاست | |
| | او د برنیه کتاب | |
| ۲ | د برنیه د کتاب متودولوژي | ۱۰ |
| ۳ | د مغلو په دولت کې دورو ستیو | ۲۳ |
| | سیاسي کودتا و و تاریخ | |
| | داورنګ زیب او امیر جمله روابط | ۳۵ |
| | په دربار کې د بې نظمیو پیل کېدل | ٤۲ |
| | داورنګ زیب او مراد بخش تړون | ٤۸ |
| | د سلطان شجاع او اورنګ زیب جګړه | ۵۲ |
| | د جیسا مسنګ او د راني دلور پیښه | ۵۷ |
| | داورنګ زیب او دارا جګړې | ٦۱ |
| | جیون خان ته د دارا ورتګ | ۱۱۲ |
| | د دارا نیول | ۱۱٤ |


اووم

| گنه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | د دارا وژل | ۱۱۸ |
| | د مراد بخش وژل | ۱۲۱ |
| | د سلطان شجاع عقب نشيني | ۱۲۲ |
| | دسلطان شجاع او دارا کان بادشاه روابط | ۱۲٤ |
| ٤ | دمغو خاصو پېښو په باره کې | ۱۲۹ |
| | نکل چي د ٥ ـ ٦ کلونو جگړو | |
| | نه وروسته د مغلو په دولت کې | |
| | منځ ته راغلي دي | |
| | د اورنگ زیب دربار ته | ۱۳۰ |
| | د ازبکو سفیرانو راتگ | |
| | د هندوستان په دربار کې | ۱٤٥ |
| | د حبشي سفیران | |
| | د پارس د سفیر راتگ | ۱٥٥ |
| | ملاصالح ته مهلمستیا | ۱٦۲ |
| | درباري پیښې | ۱٦٦ |
| ٥ | کالبیر ته لیکک | ۲۰٤ |

www.libtool.com.cn

اتم

www.libtool.com.cn

# مقدمه

## دبرنیه بیو گــرافی

# دکالبراقتصادیسیاست اودبرنیه کتاب

فرانسوا برنیه په (١٦٢٠) کښې دکنا کورد سره نږدې دنیاته راغی. په ١٦٥٢ کال کښې دمونپیه په پوهنتون کې برنیه دفلسفې امتحان ورکړ چې مشهور فیلسوف او ماتریالست گاسندي *Gassendi* (١٥٩٢ ــ ١٦٥٥) دهغې تدریس کاوه. په همدغه کال کې برنیه په طبابت کې هم امتحان ورکړاو دطب دډاکترې عنوان یې هم حاصل کړ. په ١٦٥٤ کال کې برنیه فلسطین اوسوریې ته سفروکړ. په ١٦٥٥ کال کې برنیه فرانسې ته ستون شواودخپل استاز گاسندي (*Gassendi*) دجنازې په مراسموکې یې برخه واخسته، کوم چې دبرنیه په قول په هغه باندې بې اندازې زیات تاءثیر درلود.

١٦٥٦ ــ ١٦٥٨ کالونه برنیه په مصرکې تیرکړل اودعربستان یوه سلسله نور ښارونه یې هم ولیدل. د ١٦٥٨ کال په پای اود ١٦٥٩ کال په شروع کې برنیه دسورت بندرته راورسید. سورت پدې وخت کې یوله هغو مهمو بندرونو څخه وچې اروپایی

کمپنیو پدې ځای کی تجارتي فعالیت کاوه . کله چی برنیه دسورت څخه داګرې خواته روان و ، په لارکې د داراشکوه عسکرو ونیو . داراشکوه دشاه جهان مشرزوی و چی دخپلو خلور وورنو سره یی په تاج وتخت باندی جنګونه کړل .

www.libtool.com.cn

برنیه داراشکوه سره په لښکر کښیو کی دطبیب په صفت سفر کاوه . کله چی داراشکوه دخپل وړور اورنګ زیب له خوا ـ ماتی وخوړ له ، نودسند لاره یی ونیوله . برنیه دډیرو مصیبتونو اومحرومیتو څخه وروسته احمد آباد ته را ورسید اوله هغه ځایه په ۱۶۶۳ کال کی ډیلي ته راغی . برنیه دډیلي څخه دیلاموتلی وی ته مکتوب استولې چی په هغه کی دهندوستان لویو ښارونو لکه ډیلي ، اګرې تفصیل راغلی دی .

برنیه دمغلو په دربارکي دطبیب په صفت ومنل شو . داورنګ زیب په دربار کی برنیی ته دطبابت کار داموقع برابره کړه چی په دربارکی د ډیر وسیاسي پیښونه خبر شي او هم په مملکت کی داقتصادي اوسیاسي حالاتو نه کافي معلومات راټول کړي . بله داچی برنیه پدې موده کی داموقع پیداکوي چی د هندوستان مختلف ښارونه کلی او بانډې له نږدې نه وګوري . برنیه په ډیر خطرناك وخت کی دډیلي نه ر لاهوره پورې مسافرت وکړ . لاهور په هغه وخت کی دسیاست او اقتصاد له نظره دشمالي هندوستان مرکز بلل کېده او بیا په ۱۶۶۵ کال کی کشمیرته لاړ . د کشمیر څخه برنیه بنګال ته سیاحت وکړ او دلته یی دمشهور فرانسوي سیاح تارونیه سره په اله آباد کی لیدنه وشوه تارونیه سره دهندوستان په باره کی دخپلو مشاهداتو نه دیر په زړه پورې کتاب برابر کړی دی . دبرنیه اوتارونیه کتابونه له هغو مهمو تاریخي اسنادو څخه ګڼل کیږی چی داولسمی پیړی په منځ کی په هندوستان باندې لیکل شوی دی . په ۱۶۶۶ کال کي برنیه دبنګال څخه ګالکنډ ته راغی او دلته د ۱۶۶۷ کال تر

نیمایی پوري پاتې شو. پدې ترتیب سره ویلای شو چې برنیه دخپل سیاحت په وخت کې دمغلو امپراتورۍ په اوږ دواو سور لیدلی ده. کله چې برنیه د هندوستان څخه فرانسې ته ګرځیده، شیراز ته ولاړ او له دغه ځایه یې شاپابن ته ایلك ولیږه کوم چې په ۱۵ر۱۱ر۱۶۶۹ نیټه هغه ته ورسیده.

www.libtool.com.cn

د ۱۶۶۹ کال په سر کې له دیارلسو کالو وروسته برنیه مارسل ته ولاړ او بیا له هغه ځایه پاریس ته ستون شو. برنیه په فرانسه کې ډیر شهرت پیدا کړ. د هندوستان په باب دبرنیه افسانې په ډیره تنده سره اوریدل کیدې. دهمدې وخت نه و روسته برنیه دربارته لار پیدا کوي او دفرانسې باعظمته سالونونوته را بلل کیږي اودخلکو له خوا د«لوی مغل» په نوم سره شهرت مومي. کله چې برنیه فرانسې ته راګرځي دا وخت دفرانسې دمالي وزیر کالبرو، او کالبرته هم لار ور پیدا کوي. کالبر په خپل وخت کې ډیر زیات نفوذ او قدرت درلود. د همدغو لیدنو کتنو په ترڅ کې چې دکالبر اوبرنیه په منځ کې وشوې برنیه دهندوستان دسیاسي او اقتصادي حالاتو په باب خپل یاد داشتونه را وباسي. په ۱۶۷۰ کال کې برنیه د کالبر په مرسته د۱٤ لویي څخه دخپل کتاب چاپولو اجازه اخلي. څرنګه چې دده کتاب په خلکو کې ډیر زیات لوستونکي پیدا کړل نو دلومړیو ۷ کالونو (۱۶۷۰–۱۶۷۶) په موده کې ۹ (نه) واره چاپ شو. لدې جملې څخه ۲ واره په فرانسه، دري واره په لندن، امستردام فرانکفورت او میلان کې چاپ شو. تر ۱۸۳۳ کال پورې دبرنیه کتاب ۲۹ واره داروپا په مهمو ژبو باندې له چاپه راوت. برنیه دژوند تر وروستۍ ورځې (۱۶۸۸) پورې په ډیو لوړ نوم سره یاد دیده. دده کتاب چې کوم شهرت ګټلی و، هغه په اروپا کې ټول دهغه وخت په سیاسي او اقتصادي عواملو پورې تړلی و.

داولسمې پیړۍ په دوهمه نیمایی کې فرانسه د نهایي ستبداد په درشل کې ولاړه وه. د۱٤ لویی (۱۶٤۳–۱۷۱۵) نا محدود قدرت اساسي تکیه دفرانسې په

فیوډالي عناصرو او روحانیت باندې وه. دفیوډالي ارسطو کراسي محدود اقلیت
د دربار شاوخوا نیولی وه. ددوی ژوند له هر ډول امتیاز نه برخوردارو. دبزګرانو
او کسب ګرانو زحمت او کار څخه یې دخپلو ګټو په غرض ډیرې ناوړه استفادې
www.libtool.com.cn
کولې او دوی یې بې دریغه استعمارول. په دولتي ادارو کې قدرت دهغو دولتي
مامورینو په لاس کې وچې څانونه یې په اصطلاح سره دریم قشر یا په بل عبارت سره
«شاهي بورژوازي» ته منسوبول. دفرانسې اقتصادي استبدادي سیاست ځلانده نمونه
په خپله دمالي وزیر کالبر (۱۶۱۹—۱۶۸۳) وچې دهغه سیاسي لوبه یواځې د فیوډالي
استثمار ګرې طبقې کوچني قشر په نفع وه. دغه کوچني قشر د دربار شاوخوا کې
ځان ډیر ټینګ کړی و. ددولت بودجه او عایدات تقریباً تر زیاتې اندازې پورې
دشاهي دربار بیهوده خرڅې، دفیوډالي طبقې او روحانیونو دلوی تعداد مفت خوارو
کسانو په اختیار کې و. دمالیې وزارت دشاهي دربار دتحویل دار حیثیت درلود او
اساسي وظیفه یې داوه چې بې له ځنډه او هغې دغې د درباریانو فرمایشانو لپاره په
هر صورت چې وی عظیم مقدار پیسې پیدا کړي. په عسکرو او پولیسو باندې دربار
ډیر زیات لګښتونه کول. دربار کوشش کاوه دبزګرانو دشور شونو د کرارولو په
مقابل کې مضبوط ژاندارم او قوي عسکري پوځونه ولري. دبلې خوا فرانسې د اروپا
او مستعمرو په مقابل کې نه شلیدونکي جنګونه پر مخ بیول چې البته دا په خپل
وار سره د فرانسې د بزګرانو په ژوند او د مملکت په
مفلسې کې زیات رول لوباوه. په (۱۶—۱۷) پېړیو کې دفرانسې اقتصادي سیاست
په میرکانتلیزم باندې بناو. دمیرکانتلیزم اساسي حالات په لاندې ډول و: پیسې
داجتماعي ثروت اساس دي. هیواد ته دپیسو د راتللو لارې باید خلاصې شي. په
میرکانتلیزم کې تجارتي عایدات د پیسو تولاولو اساسي منبع دمیرکانتلیستانو لپاره
د تجارتي عایداتو اساسي چینه دکالیو تبادله وه. د ۱٤ لویی بیلانسي سیاست داسې
و: پیسې دهیواد نه د باندې باید ونه وځي. په عوض کې خلك دیته تشویقیدل
چې هیواد ته پیسې راوړي. څه موده وروسته دفعاله تجارتي بیلانس سیاست داسې

شکل غوره کړ : صادرات زیات او واردات باید کم وي . فعاله تجارتي بیلانس هیواد ته دپیسو د راتګ لاره حتماً باید خلاصه کړي . وطني تولیداتو ته دقدر په سترګه وکتل شي ، تر څو دوطن صادرات لا زیات شي . دتجارتي کمپنیو جوړونه ، دترانزیتي تجارت تشویق او خصوصاً بحري تجارتي قوه لا تقویه شي . داوې دمیرکانتلیزم اقتصادي سیاست اساسي او مهمې نکتې . کله چې کالبر دمالیې د وزیر په حیث په کار پیل کاوه د فرانسې سیاسي اقتصادي وضع ډیره بحراني وه . دهیواد د تولیداتي وسایلو انکشاف دفیوډالي حاکمه روابطو په وسیله په پرله پسې ډول ځنډول کیده . ملي بودجه مخ په زوال وه ، تطمیع ، رشوت په دولتي ادارو کې حکم فرما و ، په هیواد کې دبزګرانو شورشونه پورته کیدل . په بزګرانو او کسب ګرانو باندې دفیوډالانو له خوا په مختلفو نومونو مالیات او باجونه وضع کیدل . دکالبر لپاره دغه مهم پرابلمونه په مخ کې و : له یوې خوا د بادشاه ، درباریانو او فیوډالي طبقې ممتاز قشر عایدات باید لوړ بوځي ، دبلې خوا په هیواد کې اقتصادي بحران له منځه یوسي او د زحمتکشانو عظیمې توده هم خوشحاله وساتي . کالبر کوشش کاوه چې دفرانسې پرمخ تللي بورژوازي دولت په دربار کې دفیوډالي طبقې ممتاز قشر په پښتو کې ور وغورځوي . دکالبر په نظر بورژوازي باید د « لنګې غوا » مثال ولري چې شاهي دبار تغذیه کړي ، ولې په عین وخت کې بورژوازي د سیاسي حقوقو څخه هم بې نصیبه وي . کالبر دخپل نظر سره سره بیا هم وطني تولیدات تشویقول دفرانسې څخه دخامو موادو صادرول منع شول ، کوم چې دوطني محصولاتو لپاره ضروري و . په داخل کې په خوراکي مواد و باندې ټیټ مونو پولیسټي نرخونه ولګول شول ، تر څو لدغې لارې معاشونه را ټیټ کړي . کالبر دهغو مالونو صادرات چې فرانسې دنورو هیوادونو خصوصاً دهالنډ ، انګلستان ، نرماندیا څخه واردول منع کړل . دولتي عایدات لوړ کړای شول . په هغو مالونو باندې چې لومړی درجه ضرورت ورته احساسیده په غیر مستقیم صورت سره لوړ مالیات وضع شول . داټول یو طرف ته د بلې خوا په کلیو او ښارونو کې دزحمتکشو طبقو نارضایتي لا زیاته شوه .



www.libtool.com.cn

حکومت کوشش کاوه چی صنعت اوتجارت پرمخ بوځي، ولی په عین وخت کی یی په بوروکراتیك ډول دهغوی مخی ته خنډونه اچول. کهد بی حسابه مقرراتو څخه کومه سرغړونه کیدله، تخلف کوونکی باید درنه جریمه ورکړی وای اویا یی

www.libtool.com.cn

باید مال ضبط شوی وای. کالبردوزارت په لومړیو څوکالونو کی دهمدې جریمو اوضبط له لارې شاهي خزانې ته سل (۱۰۰) ملیونه لیرې رانقل کړې. دفرانسې مخ په انکشافه بورژوازي (صنعت، تجارت) دسیاسي حقوقو په نه لرلوسره رتهناراضه وه. بورژوازي شاهي مسرف دربارته په رټ نفرت سره کتل. دفیوډالانو مینځنی قشر پدې ناراضه وچی دولت په خوراکی موادوخصوصاً ډوډی باندې ډیر ټیټ انحصاري نرخونه وضع کړي و، ولې په مقابل کی په صنعتي شیانو لوړقیمت او هم په وارداتو باندې ګمرکي محصولات کم و. البته دا کار د بورژوازي په ګټه و. دزحمتکشانو حال ورځ په ورځ خرابیده. ۱٤ لویی اودفیوډالانو طبقی ممتاز قشر دکالبر اقتصادي سیاست څخه بالکل راضي و. دا ځکه چی دکالبر مقرراتو او قوانینو د دربار، فیوډالانوته باشکو ژوند لپاره ټول وسایل برابرول. دداخلي سیاسي اقتصادي وضعي تزلزل، دپیسو دپاره ورځ په ورځ زیاتیدونکی احتیاج، حاکمه ټولنی دیته راکش رلی چی دهیواد نه دباندې په تیري اوتوسعه طلبی پسی پښې لوڅې کړي. دا سپانیې، هالنډ په مقابل کي دفرانسي دجنګونو مقصد داو، چي ددوی صنعتي مرکزونه ونیسی اوهم دفرانسی تولیداتي مالونو لپاره په خارجي بازورکی لاراواره کړي. دفرانسی څوکالیزي جګړې چی په ۱٦٦۸ کال کی پای ته ورسیدې، په اروپا کی یې ځینی نوی سیمی دفرانسی لاس ته وروستی، ولی نوو سیمو او کامیابیو ونه کولای شول چی حتی په فرانسه کی سیاسي او اقتصادی ګډوډی لږترلږه غلی کړي. البته دې دوامدارو جنګونو یوکاروکړاوهغه دا چی دفرانسي سیاسي وزن یی په اروپا کی ترډیرې اندازې پورې زیات کړ. دا ولسمی پیړی ترپایه پورې اسپانیې او هالنډ دفرانسی

او انګلستان سره په جګړو کې ټول پخواني قدرت له لاسه ورکړ. داولسمې پيړۍ په وروستيو لسو کلونو کې فرانسه او انګلستان دسياسي قدرت له پلوه ديو او بل په مقابل کې ولاړه وه او دغه دوه هيوادونه په اروپاکې داقتصاد اوسياست لـه نظـره اساسي دښمنان و . په اروپاکې ددې هيوادونو دروابطو ترخوالي دمستعمرو په نيولوپسې مبارزه کې لاتيزه کړه، پرتګال، اسپانيې، هالنډ او انګلستان دمستعمرو په نيولـــو پسې عظيمې دارايي مصرف کړې . د کالبر د وزارت په دوره کـــې فـــرانسه د مستعمرو له پلوه ډيرلوی دولت و. فرانسې په کاناډا، لوزيانا او ګينې کې ډيرې ارتې سيمې ونيولې، آنلپدې مستعمرو کې تجارتي چارې نسبت هالنډ او انګلستان ته ډيرې سستې وې. په ۱٦٦٤ کال کې د ۱٤ لويي تر رياست لاندې په يوه مجلس کې کالبر دفرانسې تجارتي وضع داسې ترسيم کړه :

www.libtool.com.cn

په« شرقي هندوستان کې چې له هغه ځايه بوره، مالـــوچ، تمباکو او د رنګ ريزې مواد راځي او فرانسويان هلته مختلفې جزيرې لري بياهم تـــول تجارت د هالنډيانو په لاس کې دی. کوم تجارت چې فرانسې دسوريې او لبنان سره دمارسيل له لارې کوي تقريباً تورزياتې اندازې پورې په خپله دفرانسوي تنساګرانو له لاسه بې سروصورته دی. هغه تجارت چې د بالتيک او شمالي بحر له لارې کېږي له يوه سره دهالنډيانو په لاس کې دي. يوازې دشاهي دولت د ننه تجارت . . . . . . . » (۱)

کالبر په ۱٦٦٤ کال کې دختيځ او لويديځ هندوستان کمپنی تنظيم کړې او غوښتل يې ددې لارې نه شاهي دربار غني کړي. ددې کمپنيو فيصله لاد شيليې په وخت کې نيول شوې وه، ولې دواړو کمپنيو سقوط وکړ. څرنګه چې فرانسې لاتر اوسه دمستعمرو په چارو کې پوره تجربه نه لرله، نوپدې اساس هغه غوښتنې چې دوی لرلې په لازمه اندازه ترسره شوې . پدې کې شک نشته چې ددې ټولوخنډونو سره سره بياهم داسې سرې وجود لکه برنيه، چې د هندوستان په سياسي او اقتصادي حالاتـــو

۱ــ داروپا اجتماعي، اقتصادي تاريخ منتخبات، دولګينا په تصحيح، ۲۷۸مخ .

ترهرڅه زیات پوهیده. د کالبر د استعمار مسأیلو اوخصوصاً هغه پلان لپاره چې په ۱٦٦۹ کال کې کالبر تراجرالانهي نیولی و بی تأثیره نه و. ددې پلان په اساس کالبر په ۱٦٦۹ کال کې نظامي هیئت چې په خپل وخت کې یې ساري نه درلود او د نوموړي هیئت سره شپږ نظامي مسلحې جنګي بیړۍ را ولیږل شوې. کالبر په خپل سفارش کې داسې ولیکل: «. . . . . دغه زیات اګښتونه چې داعلحضرت په اراده کیږي او د یوې مودې لپاره دجنګي بیړ یولوی اسکادر لیږي، یوازینی هدف یې دادی چې هلته د کمپنیو لپاره کلکه تکیه برابره کړي ترڅو کمپنۍ وکولای شي په آزادانه صورت هلته ځانونه ټینګ کړي» (۲) درباري اشرافو لپاره برنیه نه یوازې لمدې درکه دلچسپ وچې هغه دهندوستان په باره کې د وی ته خوږې افسانې ویلې بلکه لدې پلوه هم په زړه پورې و، چې د برنیه په افسانو کې اشرافو دخپل آینده ثروت آسانې لارې زیرې او ډیر ښه متدونه لیدل. داهم باید وویل شي چې د فرانسې فیوډالي طبقې ممتازو قشرونو دخپلو ګټو په لټون کې دا پرو پاګنډه هم کوله چې بادشاه دخپلو رعیتو په ځمکو او جایداد باندې ګویا نامحدود قدرت لري. ددې افسانو څخه ددوی مقصد داوچې نه یوازې دبزګرانو، کسبګرانو ناچیزه جایدادونه غصب کړي، بلکه دبورژوازانو، کوچنیو او متوسطو فیوډالانو ملکیت هم لاس ته کړي. دختیځو هیوادونو بادشاهانو په باب د برنیه افسانې دد باري تولنوله خوا ددې لپاره استعما لیدې چې دخپلو ګټو لپاره ددربار قدرت نا محدود وښيي. په یوه مخفي اثر کې چې ۱٤ لویي اودرباریانو په مقابل کې په هغه وخت کې خپور شوی و، داسې واقعیت ته اشاره شوې وه: «د کالبرشاو خواکسان په ډیر جدیت سره پدې سوال سوچ وهی چې آیا ۱٤ لویي نه شي کولای دفرانسې ټولې ځمکې په خپل نوم کړي آیا ۱٤ لویي نه شو کولای داسې قدرت لاس ته کړي چې

---

۲- داروپا اجتماعي، اقتصادي تاریخ منتخبات، ۳۰۰ مخ.

دهغې له مخې هرچانه چې زړه یې وغواړی څمکې ور کړی ؟ بې لدی چې دمالك ملـکیت په نظر کې ونیسی ، او یاد دارایـی اوملـکیت په مقابل کې میراثی حقوقوته ارزښت ور کړی. کالبرمشهور سیاح ته چې دیر کالو نه یې دختیځو هیواد ونو پهدر بار ونو کې تیر کړی وو ، صری استوی . کله چه کالبر بر نیه سره ملاقات وکړ نوده څخه یې داپوښتنې کوله چې :په ختیځو هیوادو نو کې دولتي څمکې څنګه اداره کیږی ؟ همدې خبرو اترووبرنیه مجبور کړچې کالبرته مکتوب ولیـکی او په هغه کی داثابته کړی چې څینو عواملو دختیځ ښکـلی هیوادونه په دښتو بـدل کړل . په ختیځو هیوادونو کې اوس هیڅوك په ځمکو باندې دملـکیت دعوې نه شې کولای او همداعلات دی چې هیڅوك دځمکو غمخوري نه کوي ، (۳) .

پهدې ترتیب سره دفرانسو و ابر نیه کتاب که دیوې خوا فرانسوي مطلق رژیم ته پههندوستان کې دمستعمراتی سیاست خواته بلنه ور کوی ، نو دبلې خوائی اپوزیسیونـي قشرونوته داوسله پهلاس ور کړه چې دمطلقهرژیم په مقابل کې ددی کتاب نه مرسته وغواړی .

---

(۱) ساوېن ، ۱۷ قرن ، دلود ویلك دوره ، ۱۹۳۰ ، مخ ۱۸ .



www.libtool.com.cn

## دبرنیه د کتاب میتودولوژی

داورنګ زیب په عهد کی دهندوستان سیاسي او اقتصـادی لنډه معرفـي دبرنیه کتاب بیلي بیلي برخی لري، چې په مختلفو وختونو او حالاتو شرایطو کـي لیکل شوي دي(دلوي مغل په دولت کی دوروستیو سیاسي کودتاوو تاریخ) او کاابرته مکتوب په ۱۶۶۹ـ۱۶۶۷ کالونو کی لیکل شوي دی. داهغه وخت دی چې فرانسـوي برنیه دهندوستان څخه فرانسي ته راستون شوي دی. دیلا موتلی وی‌ته ۱ر۱۲ر۱۶۶۳ کال لیك واستول شو. داوخت برنیه فرانسي ته دراتګ په لاره کی په شیراز کـي لنډه موده معطل شو. دبرنیه په لیکنو کی ډیرلوړ صفت دادی‌چي مؤلف خپل چاپیریال ته پـه رڼ تیز نظر ګوري، اوډیرو کوچینو پیښو څارونکی‌دی. دغه‌صفت ته دمارکس او انګلس له خوا هم ګوته نیول شوې وه، برنیه دخپل استاذ ګاسنـدی (GAssendi)پشان دخپل وخت منور ینو برجسته نماینده دی. دغه صفت دده په لیکنو کی ډیرښه معلومیږی. په برنیه باندې خپل استاذ ډیر زیات تأثیر لري. ګاسنـدي (Gassendi ) داوولسم قرن دمـاتریالستانو په‌جمله کی نامتـو ماتـریالست‌دی. ګاسندي(Gassendi )دخپل وخت میتافزیکانو خصوصاً دیکارت غوندی آیډیالست سره سختی آیډیالوژیکی مبارزې کولی او په دغو آیډیالوژیکی مبارزو کی کامیاب هم و. مارکـس ګاسندي(Gassendi) داسی معرفي کـوي:« د۱۷ پـیـړی میتافزیکانو کی چی مهم نماینده یی په فرانسه‌کی دیکارت و، باید دپیدایښت نه‌ئی دماتریالستانو په مقابل کی مبارزه کړی وای، دډیکارت په مقابل کی دماتریلستانو مشهور نماینده ګاسندي راپورته شو، چی ګاسندي هم په خپل وارسره دا پیکور ماتریالیزم پیرو» (۱) .

---

(۱) مارکس او انګلس دریم ټوک (روحانی کورنی) مخ ۱۰۰ .



www.libtool.com.cn

ګاسندي مشهور فیلسوف ، ریاضي دان ، فزیك دان او داپیکور دمادي ساختماني فلسفې او اخلاقو ژوندی کوونکی وه. دلته باید داسی فکر ونه شي چې ګاسندي انحراف ناپذیر ماتریالست و. په فرانسه کی ۱۷ پیړۍ داسې دوره وه چې له یوې خوا د حاکمې فیودالي طبقې عناصر په اقتدار کی ؤ ، له بلې خوا بورژوازي نوي قدمونه اخستل. همدې تاریخي شرایطو د ګاسندي په افکار وژور تأثیر درلود. ګاسندي کوشش کاوه چې داپیګور ماتریالیزم د کتالیزم (کاتولیك) سره پخلا کړي.

مارکس د ګاسندی دغه صفت په غټو تورو سره داسی لیکی: «ګاسندی زیار باسی چې په هغه یادغه صورت سره خپل کاتو لیکی وجدان داتیزم له فلسفي سره پخلا کړی. اما دغه کوشش بی ځکه چې یو بی فایدې کار او تلاش و». (۱) برنیه د میټودو لوژی له پلوه د خپل استاذ ګاسندي رټ وفادار شاګرد دی. دی په خپل کتاب کی چې د هندوستان په باب لیکل شوی دی عین د خپل استاذ پشان کوشش کوي چې په ایدیالوژیکی صورت د فرانسې مطلق رژیم د هغه هیواد له نوې زیږیدلې بورژوازی سره پخلا کړي. برنیه په ختیځو هیوادونو کی د فیودالی استبدادي دولتونو سقوط اساسی علت پدې کی وینی ، چې هلته د ځمکی ملکیت نشته ، یا په بل عبارت سره هلته د ملکیت «زما» او «ستا» قانون نشته. د مثال په طوردی لیکی: «دا به ډیره ښه او معقوله وای چې په ختیځو هیوادونو کی نه یوازې دا چې دولت او بادشاه د ځمکو د ملکیت حق لری ، بلکه دا حق رعیتو ته هم ورکړ شوی وای ، لکه څنګه چې دغه حق او قانون زمونږ په اروپایی دولتونو کی موجوددی. دغه د «ما» او «ستا» قانون هلته هم باید جاري وای. دغه جملې برنیه په خپل مکتوب کی کالبرته لیکي. پدې کی هیڅ شك نشته چې برنیه د خپل اجتماعی موقعیت او جهان بینی له مخې دریمې طبقې ته نږدې دی ، آماله دې سره سره دی دا کوشش نه کوي چې د مطلقه استبداد د مقابل کی د تودو په قطار کی ودریږی. دي هم د ۱۷ پیړۍ ټولی داپوزیسیونو بورژوازي پشان د فیوډالیزم او منارشي ترمنځ د مصالحی لار لټوي ، برنیه غواړي منارشی

(۱) مارکس او انګلس ، لومړی ټوك ، «د دوکتورا تیزس مقدمه» ۲۵ مخ.

نظام ته دبورژوازي اخلاقو کمبس ورواغوندي. دی قصداً نه غواړي دسیاسي
بی قانوني، بی رحمانه استثمار، فقراو زحمتکشوتودو په مظلومیت باندې څه ووايي.
www.libtool.com.cn
برنیه که کوم ترس لري، نو هغه دادی چې استثمار ګري طبقې زیانمنې نه شي، دی
غواړي چې دغه «زما» او «ستا» پرنسیپ دمنارشی حمایی لاندې ژوندی پاتی شي .
دبرنیه کتاب دهندوستان دعظیمو سیاسي، اقتصادي تحولاتو په باره کې مونږ ته ډیر
زیات موثوق مواد په لاس راکوي، چې په ۱۷ پیړی کې دهندوستان په نصیب شوی و.
فرانسوي طبیب او فیلسوف په خپل کتاب کې زیات ژوندي حقایق ځای کړي دي،
اما همدغه طبیب او فیلسوف دفیوډالیزم او دفرانسي دماشومی بورژوازی ترمنځ د
مصالحی ایدیالوژی وړاندې کوله. برنیه داقدرت نه لري چې اساسی علتونه پیټ
کړي؛ کوم چې دبرنیه په قول هغوی ته «دمغلو په لوی دولت کې سیاسي کودتاوې»
ویل کیږي. زمونږ په عقیده دبرنیه کتاب میتود لوژیکي عیب هم پدې کې دی.
ددې لپاره چې دبرنیه کتاب په بی شمیره پیښو باندې وپوهیږو، په کوموکې چې د
هندوستان سیاسي؛ اقتصادی تحول ژور تحلیل شوی دی او بیادغه تحول ددې سبب
کیږي، چې په نږدې را تلونکي وخت کې هندوستان سیاسي؛ اقتصادي آزادي له لاسه
ورکوی. ددې ټولو پرابلمونو څخه چې دهندوستان په مطالعه کې لوستونکي ورسره
مخامخ کیږي، دغه درې لاندې پرابلمونه را اخلو:
۱ ــ هغه سیاسي؛ اقتصادي عوامل چې دمغلو دامپراتوري یې داورنګ زیب له
مرګ نه لږ وخت وروسته کلي زوال ته راوسته.
۲ ــ داروپایي کمپنیو رول دمغلو دامپراتوری دسقوط په چټکتیا کې.
۳ ــ داورنګ زیب دکامیابی عوامل، یا په بل عبارت هغه اجتماعي قواوې
چې په اورنګ زیب پسې په داخلي نښتو کې ولاړې وې. دسیاسي؛ اقتصادي بحرانو

نورد درك نشتوالی. دغه وروستی سوال په مستقیم صورت سره دهغوزیاتو مشخصو پیښو سره ربط لري چې برنیه په خپل کتاب کی تشریح کړې دي . دبـرنیه کتاب دهندوستان هغه ژوري : اقتصادي اوسیاسي کمزوری څرګندوي چې اساس علتونه يې په خپله دمغلي امپراتوری په اقتصادي اوسیاسي سیستم کی پراته و .

www.libtool.com.cn

د اولسمی پیړی په منځ کې یعنی هغه وخت چې بـرنیه خپل کتاب لیکی دهندوستان په موجوده ځمکه باندې یوه سلسله دولتونه موجود وچې پدې ټولو کی ډیره زیاته مهمه: مغلو امپراتوري وه . دغه امپراتوري شمال خواتــه ترنر بادې سند پورې رسیده . د نربادې شمال خواتــه کشمیر اوداوسنی افغانستان یوه بـرخه هم پــکی داخلی وه . امپراتوري ختیځ . خواته بنګـــال ، لویدیځ اوږې ته ګجرات اودسنــد ځمکی پکی شاملی وې . ددکن په مرکز کی دنــربادې جنوب پلوتــه داسی لوی سلطنتونه پراته وواــکه بیدار ، کاندیشی ، احمد نګر ګولګـهند اوبیجا پور . لومړي درې سلطنتونه په واقعیت کی دمغلو امپراتورې ولایتونه کنټرل کیدل . پدې ولایتونو باندې کلك مراقبت روان وه داځکه چې مغلی امپراتوری په ولایتونو کی دسیسوځخه سخته په ویره کی وه بله داچی دغه سلطنتونه دمغلي امپراتوری لپاره خطرناك هم و دګولکهنده او بیجاپور سلطنتونه چې یووخت د مغلو تابع و ، ولی داخلي آزادي یې لرله ددکن په جنوب کی په ۱۰٤۰ کال کی یووخت یوقوي دولت دویجا ینګر په نوم سره موجود وچې وروسته پدې ځای باندی د( نیاکس) په نوم سره ور وروسر داریو سررا پور ته کړ ګولهکنده او بیجاپور سلطنتونه که له یوې خواد یوه اوبل په مقابل کی جنګیدل دبلې خوادوی دمغلو په مقابل کی دفاع هم کولــه . ځکه دوی نــه غوښتل چې دمغلو لاس لاندی راشي . اوهر وخت دغوسطلنتونود هغوسر داریو سره چې په جنوب کی پرتــی وې دمغلو په مقابل کی اتحادیــی جوړ ولی . دهندوستان په جنوب کی خونړي جنګونه یوعادي کار کنټل کیده .ملي امپراتوری ته په ختیځو

سرحدونو کې داراکان ، پیګو ، او اوسیام دولتونه ورڅیرمه و . هند پېژندونکی انګلیسی مؤرخ مولینډلیکی : چی (مغلوته په ختیځ سرحدکی هروخت دددې امکان موجود وچی هلته دجنګ لمبې پورته شي (٦) . شمال خواته دخوراسو کالونوپه دوره کی په مسلسل ډول دپارس مغلو ، ترکانو ، دمنځنې اسیا خانانو ترمنځ دوچوتجارتی لارو په نیولوباندې جنګونه جاري و .
www.libtool.com.cn

دهندوستان ټول دولتونه بې له استثنا په سختو اقتصادي اوسیاسي بحرانونو باندې اخته و .ددولتونو ترمنځ پرلهپسی جنګي حالات ، دبزګرانو او ښاري کسب ګرانو خلقي شور شونه ، دمرکزی دولت په مقابل کی دفیوډ الانو او سوداګرانو توطئې دعظیموتودولوزې او نیستی ، وبایی مرضونه دا ټول هغه صفات وو چې د۱۷ پیړی نیمایی وربانډی موصوفه کیده .ددې دورې داقتصادي او سیاسي بحرانونو لوی دلیل په خپله هغه فیوډالی ماموران ، استثمار کوونکي سود خواره سوداګران وچې تر زیاتي اندازې پورې دجهاني وچې تجارتي لارې محصول ګټل کیدل . دآسیا لرغونی تجارتي لارې چې هندوستان یې د چین اروپا او افریقا سره نښلولی و دهندوستان په اقتصادي وضع کی رټ کومک کاوه ولی په عین وخت کی نوو بحري لارو انکشاف کاوه ، کومی چې داروپایی هیوادونو : پرتګال ، ډنمارک هالنډ ، انګلستان او وروسی دفرانسی تجارتي کمپنیو په تصرف کیوې .په هره اندازه چې دبحري تجارتي لارو ګټی نورو هیوادونوته ورتللی په هغه اندازه په هندوستان کی تقریباً دیوې پیړی په اوږدوکی سیاسي اقتصادي تضادونه زیاتیدل ، کوم چې دبرنیه ښخه د مخه و .

دمغلو امپراتوری داکبر پادشاه په وخت کی بحری لار پیدا کړه ولي د۱۷ پیړی په اوایلوکی مغلي امپراتوری د هندوستان په سواحلو او خلیج پارس کی

(1)*Moreland, From Akbar to Aurengzeb* ' p. 2 — 20.

تجارتي آزادي له لاسه ورکړه. هندوستان ته دبحري لارې تجارت تقريباً له يوه سره دپرتګاليانو په لاس کې انحصار شو. دبزګرانو او ښاري کسبګرانو په نيستي کې دمرکزي حکومت فيوډالانو، سوداګرانو، سرمايه دارانو فشار او استبداد لا مرسته کوله. همدغه استبداد او فشار ددې سبب شول چې په ۱۷ پيړۍ کې په کليو او ښارونو کې دبزګرانو او کسبګرانو زراعتي محصولات او لاسي صنايع سقوط کوي. داستثمارګر واستثمار شويو فيوډالانو او فيوډالي حکومتونو ترمنځ تضادونه زيات شول. دمغلي حکومتونو نه خلاصيدونکي جنګونه چې اساسي مقصد يې چور او دفيوډالانو دلاسه ورکړ يو عايداتو جبران و په خپل وار سره د اقتصادي او سياسي بحرانونو په زور والي کې مرسته کوله.

کوم جنګونه چې داکبر نه تر اورنګ زيب پورې مغلو کول په عمومي ډول زياتره برخه يې دهغو سرداريو په مقابل کې وچې بحرته څيرمه ورپرتې وې. دا ټول ددې لپاره وچې دجنګونو په وسيله په هغه تجارت باندې کنترول ولګوي چې د هندوستان بحري بندرونو څخه کيده. ولې په دغو سرداريو کې چې بحرته څيرمه ورپرتې وې په ۱۷ پيړۍ کې نسبت تيرو وختونو ته حالاتو رټ فرق کړی و. دشاه جهان او اورنګ زيب پوځونه داوخت نه يوازې دهغو سيمو فيوډالانو، بزګرانو او ښاري کسبګرانو سره لاس په ګريوان و بلکه د اروپايي هيوادونو قوي تجارتي کمپنيو سره مخامخ و، کوم چې مسلحې قواوې، محکمې کلاوې، او د هغه وخت په تناسب قوي بحري لرلې. مغلي امپراتورۍ په هغه وخت کې بحري استحکامات نه پيژندل. د ۱۷ پيړۍ په نيمايي کې داروپايي هيوادونو تجارتي کمپنيو دهندوستان په سواحلو کې دومره ريښې وغزولې چې دهغو سيمو فيوډالانو، سوداګرانو ددوی سره تجارتي معاملې نسبت مغلوته ګټورې بللې.



www.libtool.com.cn

ددې لپاره يوڅو مثالونه راوړو مور لينډ(۷) ديوه لوی وړاندی ماليونر سوداګر ورجی ورا (۱۶۲۰، ۱۶۷۰) فعاليت داسی بيانوي: ورجی ورا بې استثنا هرڅه چې

www.libtool.com.cn

په هندوستان کی پيدا کولای شول هغه يې د باندې صادرول. د مثال په توګه مرجان، ادويه جات، نخي توکران. همدا ډول طلا، نقره اونور قيمتي معدنيات. ورجی ورا په خپل لاس کی د مالابار سواحلو هغه تجارتی بندرونه نيولی و، چې هلته خارجي تجارتي کمپنۍ نه وې. د ورجی ورا کاتبان په احمد آباد، اګرې، ګولکهنډې او د هندوستان ختيځو سواحلو کی موجود و. ورجی ورا د بصرې اويا واسره هم تجارتی روابط ساتل. ورجی ورا د اروپايي تجارتي کمپنيو څخه په حسابه زيات مالونه اخستل، هغه يې د هندوستان منځ ته راتيرول. خارجي تجارتی کمپنيو ورجی ته ديوه قوت په سترګه کتل. ورجی ورا د خارجی کمپنيو خصوصاً انګريزانو سره زيات پولی کومکونه کول. ورجی اګرچې ډير قوې و، ولی بياهم د هغه شوای کولای چې د محلی حاکمانو سره روابط ښه کړي. دی په ۱۶۳۸ کال کی د مغلی امير مرتضی الزمان (؟) له خوا د سورت په جيل کی واچول شو، ولی څه موده وروسته د همدې کار په سبب د مغلی پادشاه په امر تبديل شو (مور لينډ). د ورجی ورا ميزه صفات داوچې دی د منځ ګړي سوداګر په صفت د اروپايی لويو تجارتي کمپنيو سره تړلی و، او ضمناً د مغلی امپراتورۍ له قوانينو څخه سخت ناراضه و. په همدې ترتيب سره دې ډول نورو سوداګرانو مونه هم اخولي د مثال په طور مالايی، جګت سيتي اونور. همدا ډول يوه سلسله نور هندي منځ ګړي سوداګران وو چې د اروپايی تجارتی کمپنيو سره تړلی و. برنيه په خپل کتاب کی د يوه بل تيپ سوداګر و فيوډال او لوي مامور امير جمله مثال راوړي. امير جمله اګرچې کومې ارسطو کراتۍ کورنۍ ته منسوب نه ؤ ولی بيا هم د ده برخه په تجارت کی ډيره درنه وه، امير جمله

(I)*Moreland · From Akbar to Aurengzeb ‘ P. 153 – 157 ·*

امیرجمله د مغلو په امپراطوری کی دیوه فیوډال ، صاحب منصب سرداګر ، سودخوراو په عین وخت کی په فیوډالي دولت کی دتجارتي کاپټال ډیر ښه مثال و.

www.libtool.com.cn

اوس به دې موضوع ته راشو چې دمغلو امپراتوری دجنګونو هدف څه ؤ.

دلته باید ووایو چې شمالي خواته دمغلي بادشاهانو: شاجهان، اورنګزیب جنګونو هدف داوچې ددې سیمو تجارتي وچې لارې په خپل لاس کنترول کړي. ولې په هم دغه وخت کی د آسیایی تجارتی لارو سر نوشت دهندوستان بحري لارو له خوا ټاکل کیده کومی چی داروپایی تجارتی کمپنیولاسه ته ور غلی وې. دخارجی تجارتی کمپنیو ترمنځ دهندوستان په تجارت باندی سخت رقابت روان وه هري یوې تجارتی کمپنی کوشش کاوه چی دهندوستان ساحلی تجارتی بندرونه دخپل نفوذ په دایره کی شامل اوځه موده وروسته یی اشغال کړي. د۱۷ پیړی اوله نیمایې کی دهندوستان په بحري تجارت باندی اساسی رقابت دپرتګالي، هالنډي او انګلیسي تجارتی کمپنیو ترمنځ روان وه دانګلستان ایسټ انډیا وسلهٔ اله کمپنی چی په ۱۶۰۰ کال کی جوړه شوي وه. په ۱۶۱۳ کال یی دپرتګال وسله والو بیړیو ته په سورت کی ماتې ورکړه. لږ وخت وروسته ایسټ انډیا کمپنی د ګجرات په سوا حلو، سند او اګره کی دنورو اروپایی تجارتی کمپنیو په قطار کی لومړی درجه ځای ونیو. په ۱۶۳۶ کال کی انګلیسی کمپنی دمدارس سین تومې بندرونه هم لاس ته کړل. لدې وروسته یی نوره حساسی نکتی په خولګی (په بنګال کښې د ګنګا دریاب خوله) کی هم ونیولی. په ۱۶۶۱ کال کی انګلیسی کمپنی دبمبایی محکمه جزیره هم لاس ته کړه په هره اندازه چې په هندوستان کی دپرتګال تجارتی کمپنی نفوذ اوقوت کمیده په هغه اندازه د ایسټ انډیا کمپنی اقتصادي اوسیاسی پوزیشن ټینګیده. دانګلیسي کمپنی اقتصادي اوسیاسي موقعیت په لوړیدوسره د مغلو په دولت کی تضادونه زیاتیدل اودهندوستان سره دتجارتي بندرونو

موقعیتونه بدل شول . پرتګالیان دلومړي ځل دپاره په ۱۴۹۸ کال کې هندوستان ته
راغلل . پرتګالیانو دهندوستان سره تجارت عموماء ددوو بندرونو یعنی سورت او ګوا
www.libtool.com.cn
څخه کاوه .دغه کمپنی د هندي صادراتو څخه ډېر لږه برخه عموماء ادویه جات
دباندې وړل . پرتګالیانو زیات کوشش وکړ چې تکي باندې و، چې دهند بحر په جزیرو
کې ځان ټینګ کړي او د هغه ځایه دچین سره تجارت ته پراخوالی ورکړي . ولی
پرتګالیانو داهم نه غوښتل چې نور هیوادونه هندوستان سره تجارت وکړي . دوی
حتي داهم نه غوښتل چې مغلی امپراتوری دهندوستان ساحلي سردار یوسره تجارتي
روابط ټینګ کړي اوددې کار مانع کیدل هم . دګجرات پنجاب نخي توکرانو
صادرات دپرتګالیانو په لاس کې ترډیره وخته پورې انحصار و . مغلي حکومت
هالنډي تجارتي کمپنۍ چې د ۱۶ پیړۍ په پای کې جوړه شوی وه او بیا دایسټ انډیا کمپنی
د پرتګالي کمپنی په مقابل کې جنګ ته تشویقول ترڅو ددوی په واسطه دپرتګالي
کمپنی انحصارات کړي .

ایسټ انډیا کمپنی دلومړی ځل لپاره دهندوستان نخی توکرانو په زیاته پیمانه
اول چین بیا اروپا ته یوورل . داکار البته دمغلي امپراتوری فیوډالي طبقې اوتجارتي
سود خور کاپیټال لهارزوسره ډیر برابر کارو . دا کار یوله هغو مهمو عواملو څخه
وچې دایسټ انډیا کمپنی لپاره یې په هندوستان کې دنفوذلارې خلاصې کړې . ولی
دا باید وویل شي چې دایسټ انډیا کمپنی نفوذ دمغلي امپراتوری مرکزي حکومت
دارزویو برخې سره برابري کوله. هغه داچې پرتګالي انحصارات شي . دغې ورې
ارزو خبره دې ځای ته ورسوله چې لږه موده وروسته ایسټ انډیا کمپنی د مغلي
امپراتوری لپاره یولوی خطر شو او هم مغلي مپراتوری ټول ساحلي بندرونه له لاسه
ورکړل . شاه جهان او بیا اورنګ زیب دهمدې مقصد لپاره دایسټ انډیا کمپنی سره
جنګونه کول ، ولی په ۱۶۸۸ کال کې دایسټ انډیا کمپنی سره داورنګ زیب جنګ

او بیا دمغلي دولت شکست دهندوستان په داخل کی ددې کار سبب شول چې له یوې خوا دایسټ انډیا کمپنی نفوذ لا زیات شو او دبلې خوا تجزیه طلبی بی اندازې زیښتی وغزولی . دایسټ انډیا کمپنی نفوذ په ټول هندوستان کی دبې اتفاقی اور ونو ته بړوځي

www.libtool.com.cn

وهل او دداخلي تضادونو په زیاتولو کی یې خپلو کوششونو ته لا دوام ورکړ . د مثال په طور د ( ۱۶۳۰ ـ ۱۶۵۰ ) کالونو کی دسختی لوږې او نیستی په موده کی ایسټ انډیا کمپنی په سورت ، ګجرات او نورو سیمو کی ټول غنم واخستل او یوه میاشت وروسته یې ده ـ ۸ واره پورې په جګ نرخ خرڅ کړل . ایسټ انډیا کمپنی کوشش کاوه درشوتو دسیسو او توطئو په مرسته دمغلو په رسمی دایرو ، کلیو او ښارونو کی داسی کسان پیدا کړي چې دانګریزانو لپاره مناسب او طرفدار وي . آماداخبره باید هیره نه شي چې دمغلی امپراتوری دسقوط اساسي عوامل د مغله امپراتوری په اقتصادي

اوسیاسي جوړښت کی و . فیـوډالانو دولتی مامورانو استبداد دسوداګرانو سود خورو کاپټال دې ټولو په یوځای دتولیدي وسایلو دیشی سوزولی . دبزګرانو او ښاري کسب ګرانو تولیدي قوه ورځ په ورځ مخ په زوال وه . فیوډالانو سوداګرانو دا قدرت نه درلود یا ممکن اساساً نه یې غوښتل چې په هیواد کی اقتصادي او سیاسي بحران په ځای ودروي او ـ تولیدي وسایل را ژوندی کړي . د کلیو اسیدونکي چې دهیواد اساسي اقتصادي اډه ګڼل کیده دنیستی او بی کاری کندې ته ورغورځول شوي و . په سل زرګونو کسان پر له پسی داخلي جنګونو کی هر کال ستیدل . وچ کالیو ، سیلاونو په خپل وار سره اجتماعي بدبختیو ته بړوځي وهل . دمرکزي حکومت او محلي فیوډالانو په مقابل کی بی شماره بزګري شورشونه هم دهندوستان په اقتصادي بحرانونو کی بی اغیزې نه و . د ۱۷ پیړی په اوایلو کی په پنجاب کی دمرهټانو شورش ، په ګجرات کی دزرګونو کسانو دلوږې اعتصابونه او بغاوتونه ، دمغلي حکومت په مقابل کی د ګولګهنډه ، احمدنګر او دکرماندیل په سواحلو کی په ۱۶۳۰ : ۱۶۳۵ ، ۱۶۴۰ ، ۱۶۴۵

۱٦٤٦، ۱٦٥۰، ۱٦٥۹، ۱٦٦۰ او ۱٦۷۰ کالونوکي د مرهټانو سخت جګړو نه، دمغلي امپراتوری په ضد د هندوستان نورو دولتونو مسلح قيامونه، دا ټول پيښې د مغلي دولت په کلي زوال کي حتماً مؤثرې وې .

www.libtool.com.cn

اورنګ زيب د خپلو ورونو سره په جنګ کي کامياب شو . يوې لنډې مودې لپاره يې وکولای شول چي په امپراتوری کي تجزيه غوښتونکي تمايلات سره پخلا کړی. دامپراتوری قلمرو يې لا پرمخ بوت، ولی اورنګ زيب پدې هيڅ کامياب نه شو چي په امپراتوری کي پرمخ زياتيدونکي اقتصادي او سياسي بحرانونه له منځه يوسي بحرانونه لا پسې زياتيدل او خپل وروستي پړاو ته داسي ور نږدی کيدل :

الف :ــ په بزګرانو او کسب ګرانو باندې مالياتي استبداد لا زيات شو د مثال په طور پخــوا يوازې د حاصلخيزو ځمکو څخه ماليه اخستل کيده ولی د اوخت پــه ټولو يعنی آباد وغير آبادو، آبی او للمي ځمکو باندې ماليه وضع شوه . پدې معنی چي هر ډول ځمکي نه ماليه بايدو اخستل شي خو پدې شرط چي هغه ځمکي څښتن ارلای . په مالګي ، تمباکو ماليات لوړ شول . که څوك ديوه ښار څخه بل ښارته، يا ديــوې ناحيې څخه بلې سيمې ته تللای بايد دلاري ټکس يې حکومت ته ورکړی وای. همدا ډول يوې سيمی څخه بلې سيمې ته د بار ګيرو په تګ راتګ هم ماليات مقرر شول.

ب : دماليې د ټولو لپاره بې رحمانه قوانين وضع شول د ماليې ځينو لو لپاره مختلفې جزاوې و تاکل شوې د ماليې اجارې وخت لنډ شو د مثال په طور د دکن په مرکز کي د ماليې ټولو لپاره د اجارې موده يو کال و تاکل شوه ـــ دا کار ددې سبب شو چي په زحمتکښانو لا فشار وارد کړي او په ځينو سيمو کي توليدي عمليې بيخی ښنډې شوې .

ت :ــ په ځينو سيمو کي لکه بنګال، دکن او خصوصاً په ساحلي منطقو کي چي هلته د سودا ګرانو، سودخور و طبقو ښه قدرت پيدا کړی و، ماليات په نقره سره اخستل کيــدل .

ث :ـــ په کليو کی د بزگرانو او بزگرانو کی د کسب گرانو ورکيدل دا معنی لرله چی په مستقيم صورت سره د هيواد توليدي قوه له مينځه ځي . د بزگـرانو پـه ورکيدو سره هغه حيوانات چی په بزگري توليد کی فعاله برخه اخلي هم له منځه تلل.

www.libtool.com.cn

ج :ـــ د اروپايي هيوادونو تجارتي کمپنيو پوزيشن محکميده . ددي کمپنيـــو اقتصادي ملکيت او دسياسي نفوذ دايره ورځ په ورځ ارت کيده. ايسټ انډيا کمپنی او بياو ر پسی د۱۷ پيړی په پای کی دفرانسی تجارتي کمپنی ډيري قـــوی شوي او د هندوستان څخه يي ډيرزيات ثروت دباندی ويوست . د هندي سوداگرانو کاپيټال ورځ په ورځ د فعاليت نه لويده او د اروپايي تجارتي کاپيټال تابــع کيــده. داوخت د فيوډالانو ، دولتي مامورانو په منځ کی بلو ، دسيسو ، نوی شکل غوره کړ. پدي معنی چی دوی نه پوهيدل دفرانسي تجارتي کمپنی حمايه وکړي يادايسټ انډيا کمپنی . دهرې خواچی دوی ته رشوت رسيده د هغه طرف حمايه يی کوله .

اورنګ زيب که په داخلي جنګ کی بريالي شو ، نوهلت دانه ولــکه څنګه چی برنيه وايی چی اورنګ زيب خپلو ورو نو نه متحمل او چالاک و ، بلـکه اساسي دليل داوچی اورنګ زيب وکولای شول په فيوډالانو ، مامورانو ، سود خورو ، سوداگرانو تـکيه وکړي اودوی په خپلـه گټه وڅرخوي. په پوره يقين سره ويل کيدای شي چی دغوعناصرو اول داورنګ زيب په کاميابی او بياد اروپايي تجارتي کمپنيو په پرمختګ کی لوی لاس درلود .

کله چی برنيه داورنګ زيب جنګونه د داراشکوه سره بيانوی نوڅو وار دسر په سر داخبره کوي : « که چيری داراشکوه په اگره او ډيلي کی دشکست نه وروسته دپنجاب له لارې کابل او کندهارته راغلای وای او هلته يی ځان سمحکم کړی وای نو لدی ځايه به يی په مناسب وخت کی په اورنګ زيب حمله کړي وای اوحتماً به يی تاج وتخت لاس ته کړي وای.» پدي کی شک نشته چی دامپراتوری په شمالي سيمو

کی دفیوډالی ، سودخورو ، تجارو ، عناصر وخواهشات اوغوښتنې دهندوستان ځینو برخو فیوډالانو ، سودخورو ، سوداګرانوسره جوت ټوپیر درلود. دهندوستان شمالي سیمو ځخه جهاني تجارتي لار تیریده اوځوپیړی یې دهندوستان په سرنوشت کی مهم رول لوباوه . دهندوستان په ختیځو سیمو کی خبره برعکس وه پدې معنی چې هلته دوچې تجارتي لارنه وه . دسیندونو ځخه ترانزیتي لارې چې بحري بندرونوته ورېږي کیدلې دمالونوپه وړ وراوړو کی یې ډیر مشکلات لرل ، بلکه داچې دهندوستان په شمالي سیمو کی مسلسل داخلي جنګونه روان و . داټول ددې سبب کیدل چې د۱۷ پیړی په پای اوتقریباً ټوله ۱۸ پیړی په پنجاب کی دمغلي امپراتورۍ مرکزي حکومت اومحلي فیوډالانو په ضد مبارزې روانې وې . دې تاریخي پیښو دمغلي امپراتوري اقتصادي اوسیاسي زوال لپاره د۱۸ پیړی په اوا خرو کی زیات عوامل راټول کړل اما (۱۵۰) کاله نوره هم په کار وچې دایست انډیا کمپنی کاپیټال دخونړیو جنګونو په نتیجه کی دهندوستان مختلف دولتونه اوپه هغه جمله کی مغلي امپراتوري بالکل دزوال درشل ته راولی .

دبرنیه کتاب زیات ارزښت پدې کی دی چې دغه کتاب دهندوستان په مطالعه کی دانګریزي تسلط نه دمخه د ورو په هکله ډیر زیات غني اوپاخه مواد زمونږ لاس ته راکوي .

۱. پرونین.

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU 5833

www.libtool.com.cn

# دمغلو په دولت کی

## د وروستیوسیاسی کودتاوو تاریخ

دجهان لیدلو خواهش زه فلسطین اومصرته په‌تگ مجبور کړم، ولی هلته‌دیر پاتی نه‌شوم. ماسره داقصد پیدا شو چی دسرې بحیری سره له یوه سره او بله آشنا شم. دقاهرې لوی ښار ځخه ووتم، په کوم کی چی‌له یوه کاله زیات‌پاتی شوی‌وم. داوښی‌دمزله په‌حساب په دوو دیرشوساعتونو کی سویز ته راورسیدم . له هغه ځایه په گلیره(بحری‌عسکری‌جاز) کی کښیناستم، د ۱۷ ورځو سفرنه‌یی وروسته په جده کی کوز کړم، چه داځای دمکی ځخه دیوی نیمی ورځی په مزله فاصله لری . دلته زمانښکته کیدل هم زمادنیت مخالف واوهم دهغی وعدی عکس وچی ماته دسری بحیری ښښتن‌راکړی وه. اوس‌په‌اصطلاح‌سره دمحمد(ص)په‌پاکه ځمکه کوز کړای شوی وم .

په جده کی خلور دیرش ورځی پاتی شوم. له هغه وروسته په لویه بار گیره بیړی کی کښیناستم؛ له دوو هفتوو وروسته دنیکمرغ عربستان دسواحلو په اوږدو کی یعنی دماکو یا بابل مندیب تنگناته نږدی راورسیدم. ماغوښتل چی ددی ځای نه دماسوف‌جزیرې اوار کیکاته ځان ورسوم، اوله‌هغه ځایه‌گاندییریعنی‌دجشی امپراتوری پایتخت ته ورشم. (۲) ملکی ددسیی په نتیجه کی تول پرتگالیان چی

هلته‌وو، سمت او یادګاتو لیکی مذهبه پاتري آرخ سره‌چی دګواځخه ددوی په ذریعه دلته راوستل شوي وو، یوځای وشړل شول. دګاتو لیکانو لپاره دلته وضع ډیره خطرناکه وه، یوکاپوځین سوا کین غریب په همدی‌وو ژل شوچی غوښتل یی مملکت‌ته ورننوځی.
www.libtool.com.cn
که رښتیا ووایم نو ماهلته ځان‌داسی‌ښوو ته چه وای چی یونانی اویاارمنی دی. پدی چل سره زما دځان خطرهم لږو. که چیری بادشاه پدی پوهیدلی وای‌چی زه دده لپاره ممکن له‌کومه طرفه ګټور ثابت شم، هغه به‌ماته‌ځمکه راکړی‌وای، کومه چی په‌غلامانو باندی کرل کیده او یاکه ماپیسی درلودلای نوماکولای شول چی هلته‌ځمکه واخلم. ولی پدی‌صورت کی‌به زه‌مجبور کړای‌شوی وای‌چی‌هلته‌وادەوکړم، لکه څه موده پخواچی یو روحانی په همدی‌ډول مجبور کړای شوچی هلته‌واده وکړي، اودی سړي‌ځان په یونانی‌طبیب سره مشهور کړی و، او بیابه یی‌هیځکله دا موقع نه وای راکړی چی دهغه مملکت نه وتلی وای.

دی فکرونو او یوڅه نورو تشویشونوچی دهغه په باره‌کی به‌ممکن ورروسته وغزیږم زه دیته تشویق کړم چی خپل پلانونه بدل کړم. زه‌په‌هندي‌جازکی کښیناستم دتنګنا څخه تیرشوم، دوویشتو ورځو څخه ورروسته دلوی مغل هند امپــراتوری دسورت په بندرکی کوزشوم. دلته خبر شوم چی شاه‌جهان دهند‌امپراتوردی.
شاه‌جهان د«جهان بادشاه»معنی لري، لکه‌څرنګه چی‌تاریخ معلومات راکوي، دجهان ګیر «نړی فاتح»زوی اوزمونږ په اصطلاح د«لوی»اکبر لمسی دی.

اکبر دهمایون له طرفه په لسم نسل کی هغه تیمورلنګ ته رسیږي چی «ګوډ بادشاه»ورته ویل کیده. (تیمورلنګ ته مونږ تیمورلان وایوولی‌دادرسته نه‌ده)، او دخپلو فتحو له مخی ډیر لمانځل کیده.

تیمورلنګ دخپلی نږدي‌خپلوانی‌سره‌وادەوکړ، چی هغه‌دتاتار و دیوه‌لوی پادشاه یوازینی‌لوروه، او داهم په خپله مغله وه. دوی خپل نوم خارجیانوته‌ورکړ، کوم چی

اوس دهندوستان واکداران دی ؛ ولی لوړ ماموریتونه حتی په عسکری کی هروخت دمغل نژاد منصب داران‌و په‌لاس کې‌نه وی ، اودالوی‌ماموریتونه زیاتره دنورو قومونودنمایندګانو له خوا چلول کیږی چی‌دمختلفو هیوادونو څخه دلته‌راغلی دی ، زیاتره یی دپارس ، ځینی‌عرب اویااترکان‌دی.

www.libtool.com.cn

دوی‌سپین‌پلن‌مخونه لری‌اوپه همدې‌شی‌سره دوی‌دهندوانو ، تورپوستو ؛ بت پرستانو څخه بیلیږي ، اوهغه عیسوی مذهبه چی‌داروپاڅخه دلته راغلی‌دی ، دوی په (فرنګی) یاپه (فرنګیانو) سره یادیږی.

دخپل راتګ سره پدې‌هم‌خبرشوم ، چی‌شاه‌جهان (دنړی‌پادشاه) تراوسه یاکالو اوښتی دی. دی څلورزامن اودوی‌لونه لری. څوکالو پخوا یی خپل څلور واړه زامن په څلورولویو ولایتونو ، سلطنتی‌هیوادونو کی نائب‌الحکومه‌او یانائب‌السلطنه مقرر کړل. زما دراتګ لایو کال‌نه وپوره شوی چی شاه جهان سخت ناجوړه شو. لاهمدغه وخت فکرکیده چی‌شاه جهان نورنه جوړیږی. دې‌وضعی دڅلورووروڼو په منځ کی دنفاق اورلانیز کړ. ددی څلوروورونوڅخه هریوه دتخت‌او تاج خیال سرکی ګرځاوه اوپه دی باندی ددوی په منځ کی جنګ تود شو. دی جنګونو نږدې پنځه کاله دوام وکړ ، او زه غواړم چی‌دامفصل ولیکم. داځکه چی دزیاتره مهمو پیښوزه پخپله شاهدوم ، اوآته کاله په همدی دربار کی‌اوسیدم.

قسمت اوتنګدستی ، په ماباندې ددارو ماراتو حمله ، ٤٦ ورځو سفر یعنی دسورت نه تراګری او بیاتر ډیلی پورې چی‌دادامپراتوری‌مرکزدی ؛ دلاری مصرفونو ، دی ټولو مشکلاتو مجبور کړم چی دطبیب په صفت دمغلوپه دربارکی نوکری قبوله کړم او یوڅه موده وروسته یوی بلی پیښی زه مجبور کړم چی ددانشمندخان سره نوکری وکړم (٥). دانشمندخان دآسیادلویو پوهانوڅخه‌و ،

او د (بخشي) ماموريت ياپه بل عبارت دسپرو نظام و دلوی آمر وظیفه ورسپارل شوی وه. دانشمندخان یو پخوانی، ترټولو قوی، دمحترمو امیرانو او ددربارله سردارانو څخه ګڼل کیده.

www.libtool.com.cn

دشاه جهان په خلورو زامنو کې ترټولو مشر دارا شکوه و. دوهم زوی یې سلطان شجاع چې د (زړور سلطان) معنی لری، دریم زوی اورنګ زیب (مرصع تاج) معنی لري، او وروستی زوی ئې مرادبخش و. ددوولو نو څخه ئې مشره بیګم صاحب، (دوهمه شاهزادګی) او کشره یې روشن آرابیګم (ځلیدونکې شاهزادګی) بلله. دادډی ملك عادات و نه دی چې په شاهزادګانو او شاهزادګیو باندې دادول نومونه زدی. همدادول دشاه جهان ښځه دخپلې ښکلا او بیادهغې قبر دخپل ښاییښت له مخې دمصر داهرامو دلویو او پلنو تیزو څخه دېر ښکلی او دنړۍ په عجائیبو کې راځي، او داځای په تاج محل (تاج حرم) سره مشهور دی.

دجهانګیر ښځې هم ډیره اوږده موده ددولت ټول کارونه اداره کول، او په خپله جهانګیر په شراب خوری اوساعتیری کې دوب و. دجهانګیر ښځه په اول کې نورمګان نومیده، او وروسته یې دنورجهان بیګم (دنړۍ رڼا) نوم اختیار کړ. شهزادګانو اوشاهزدګیو ته چې دادول نومونه ورکـــول کیږی، نودا دځمکـــو او سردار یو له مخې نه دي، لکه څرنګه چې په اروپا کې مروج دی، بلکه ددی کـــار علت دادی چې دلته (دمغلو په امپراتوري کې) ټوله ځمکه دامپراتور ده. په هندکې د (ګراف) او (ګنیاز) لقبونه نشته، چې اشراف یې استعمال کړی. داشرافو نمایندګانو ته ددربار نه معاش په نقدی ډول او کله دځمکو نه دحاصلاتو څخه ورکول کیږی. پادشاه کولای شي چې اشراف مقرر، رتبه یې لوړه یاټیټه او یایې په خپل اختیار سره بر طرف کړی. ددی سبب له مخې امیران دادول نومونه لری، لکه راز اندازخان، صافي چکن خان برق اندازخان، دیانت خان، دانشمندخان او داسې نور.

دا راهم دښتو صفاتو څخه خالي نه دی. مثلاً په خبرو کی ډیر مهربان، حاضر ځوابه ژبئت نرم او فوق العاده ښیځی دی. آماله بلی خوا ډیر لوړ دماغه، بیدی خیال چی دی په هر فن کی استاذ دی. حتی دافکر یې په سر کی نه را ته چی څوك دیده ته مشوره ورکړی. دا راپه ډیره بې نزاکتۍ سره دهغه کسانو نومونه افشاء کوول چاچی به ده ته مشورې ورکولی. همدا سبب و، چی حتی دوه ډیرو وفادارو کسانو دا جرأت نه شو کولای، چی دا راته دده دړ و نو له دسیسو نه خبر ور کړی. لدی نه پرته دا ر اډیر تیز مزاجه و، حتی دلوړ و رتبو سرداران او امیران به یې تهدیدول، سکول او لـه ځانه به یې خوا بدی کول. دا ر اداځوی هم درلود چی قهر یې دبوسو دلمبې پشان ډیر ژر سړیده. اګرچی دی مسلمان و، عادی مذهبی مراسم یې په جو ته اجـرا کول، اما پـه ځانګړي ژوندکی دبت پرستا نو سره بت پرست او عیسو یانو سره عیسوي مذهبه و؛ دده ګـردچاپیره بـه همیشه په اصطلاح سره پنډتـان او یادبت پرستانو عالمان تو لیدل.

دا ر ادوی ته په زیاته اندازه معاشونه ور کول، او دې عالمانو (لکه چی وایی) ده ته داسی مفکوری ور تر زیقولی چی هغه دهیواد له مذهب سره تضادی وی. کله چـی دبت پرستا نو او هندوانو مذهب ته راشم، بیا به هلته ور باندې وغزیزم. دڅو موډی راپیدې خوا دا راپه ډیره مینه سره ستر مذهبی محترم پلار بیوزی کا تولیك مذهبه خبری او ریدی او دهغه خبری یې خوښیدې. ولی ځینو ویل چی په واقعیت کی دارا هیڅ مذهب نلری. دده اعمال پدې باره کی تش دکنجکاوی او تفنن بڼه درلوده او دځینو په نظر داسیاسی عمل فقط ددې لپاره و، چی عیسویان ځان ته راجلب کړی، کوم چی دده په توپ خانه کې زښت ډیرو، تر څو له دی لاری نه و کولای شی دامپراتـوري بانفوذه باج ور کوونکی بت پرستانو؛ راجګانو توجه ځان ته را و ګرځوی او دضرورت په وخت کی ددوی له قوی څخه استفاده و کړی. په هر صورت واقعیت چی هر دول



www.libtool.com.cn

وي مګر خبره داده چې ددارا لاسو، پښو وهلوده سره مرسته ونکړای شوه، بلکه برعکس، لکه چې مو نږ به یې وروسته وو ینو، داورنګ زیب لپاره بهانه پیداشوه چې دده سرور باندې ووهی اوپه دې بهانه یې په بې مذهبي، بت پرستۍ او کفر باندې تومتی کړي .

سلطان شجاع هم تقریباً ددار اپشان خوبو نه لرل ، ولی شجاع نسبت دارا ته ډیر کلک، پټ خولی او چالاک و. ده کولای شول ځان په ځپله اداره کړي. شجاع ددې لپاره ښه جوړ روچې په بریالیتوب سره دسیسې پر مخ بوزي او دا قدرت هم وسره و، چې دسوغاتو نو په کومک په غلی شان دوستان ځان ته راجاب کړي ، دغوی نه لوی او مهم امیران جوړ کړی ، خصوصاً بانفوذه راجګان . دمثال په ډول جی سام سنګ او بعضی نور .

دبلی خوانه دشجاع تمایل ډیرزیات دعیش خواته و . زیات شمیر ښځې یې لرلې، کله چه به ددوی منځ ته ورګډ شو، نوشپې ورځې به یې په شراب خورې سندرو او نڅاوو کې تیرې شوې. ده به دوی ته (دې کچنو) قیمتی کالی بخښل، په خپل صلاحیت به یې ددوی معاش لوړ اوه اویالږ اوه ،او که چا به دا کوشش کاوه چې شجاع ددې کارنه راو ګرځوي، نو هغه به په خپل لاس ځان ته نه پخلا کیدونکی دښمن پیدا کړ . ددې عیاشی په نتیجه کې دشجاع کارونه زیاتره بې فیصلې پاتې کیدل زیاترو به داکوشش هم نه کاوه چې ځان دشجاع سره وتړي.

شجاع دپارسیانو مذهب ومانه ، اګرچې شاه جهان او دده ټول ورونه دتور سنی و .

داسلام دین په فرقو وویشل شو. دې کار مشهورشیخ سعدی دګلستان لیکونکی مجبور کړ چې په یوه رباعی کې داسې ولیکی : ( زه درویش او په ښار ابو مین یم . ته به وای چې زه مذهب نلرم . تولی ۷۲ فرقې ماپیژنی ) . ولی ددې فرقو په منځ کې

www.libtook.com.cn

دوې فرقې مهمې دی. د اورنګ زیب عقل دا دول ظرافت نه درلود؛ نه یې دارا
پـښان زړه وړونکی راشه درشه کولای شول . مګر دی ډیر هوښیار را ووت.
www.libtool.com.cn
اورنګ زیب خلق ښه پیژندل، ده په انتخاب کې په هغه چا ګوته ایښوده چې
هغه یې استعمالولای شول . دی پدې لږ پوهیده څوک په څه وخت کې د
سوغاتونو او بخښښونو پواسطه لاندې کړي. اورنګ زیب رټ، چالاک اودو مره
دوه مخی او ریاکاره وه، چې ډیر زیاته موده یې ځان په فقیر، درویش او غریب سره
ځان مشهور کړي و. دومره یې ځان مذهب ته تسلیم کړی و، چې دخلکو په نظر کې
تارک الدنیا ښکاریده . ده داسې ځان ښوده چې ګویا دسلطنت خیال او فکر په
سر کې نه ګرځوي او یوازې ارامه ژوند، عبادت او عام المنفعه کارونه غواړي.
ددې چلونو لاندې اورنګ زیب په دربار کې په نه ستړې کیدونکي صورت سره
دسیسې جوړ ولې ، خصوصاً له هغه وروسته چې د کن نایب السلطنه
مقرر شو .

اورنګ زیب داهم و کولای شول چې د خپل پـلار شاه جهان سـره
دوستي وساتي، شاه جهان اګر چې زیاته علاقه د داراخواته ښکاره کوله، مګر بیا
هم د شاه جهان له وسه داپوره نه وه چې د اورنګ زیب نه خپل احترام پټ کړی
او دی یې دامپرا توری لپاره مناسب باله . د اورنګ زیب وضعې د دارا کینه
او حسد لا تیزول اوځینې وختونه به یې حتی بې ارادې خپل ملګرو ته ویل :

« د ټولو وروڼو په جمله کې زه د دې نمازي څخه ویریږم »؛ یا په بل
عبارت د دې ملاو زاهدنه . مراد بخش پر ته لدینه په ټو لو وروڼو کې کشر و،

زبر دست ، ساده او لنډ فکره هم و .ده یوازې دعیش‌و نوش ، ښکار او غشي و یشتلو په باره کې فکر کاوه، مراد بخش هم خپلې ښېګڼې در لودې ،دی ډېر سخي
www.libtool.com.cn
او مؤدب و. د ده د وجداني قضاوت په اساس بایډ هیڅ رازپټ ساتل شوی نه وای . در باري دسیسو ته یې په ګرکه کتل . په جوته به یې د ځان دا صفت کاوه چې دی یوازې په خپل لاس او خپله توره اعتمادکوي . رښتیا دا ده چې مراد بخش ډېر میړنی و ، که چیرې د ده میړا نه او حوصله سره ملګري شوې وای، لکه څرنګه چې زمونږ له نقل څخه به وروسته ولیدل شي. مرادبخش به ډېر بریالی شوی وای،چې ټول خپل ورونه مات کړي ،اودهندوستان واکمن به‌شوی وای .

کوم شي چې دشاه جهان دلونو په هکله بایډ و ویل شي، هغه داده چې بیګم صاحب ډېره ښکلې او هوښیاره وه؛ په پلار باندې هم بې اندازې ګرانه وه . حتی داسې آوازې خپرېدې چې دپلار عشق دبیګم صاحب سره داسې‌حدته رسیدلی دی، چې تصوریې نه کیږی . شاه جهان به د خپل ځان د تبرئې لپاره وویل چې د ملایانو (قانون پوهانو ) دحکم له مخې هرڅوک داحق لري چې د خپل لاس دایښو دلې ونې میوه وخوري . شاه جهان په بیګم صاحب باندې دو مره اعتماد کاوه چې دشاهي ګارډ، او همدا ډول هغه څه چې شاهي میز باندې د خوراک لپاره ایښودل کیدل، دټولو کنټرول دبیګم صاحت په لاس ور کړی و . بیګم صاحب په ټوله معنی کې ولاې شول

چې شاه جهان یعنی خپل پلار ترخپل نفوذلاندی راولی ، او دمهمو کارونو په فیصله کی هرډول چې بیگم صاحب وغواړی ، هغې خواته گوز کړي . بیگم صاحب ډیره بډایه ؛ زیات عایدات دمهمو کارونو په فیصلاو کی دلاس او پښو وهلـوله
www.libtool.com.cn
درکه دهغې لاس ته ورتلل . دهرلوری نه لوی سوغاتونه ورته رسیدل . ډیری زیاتی پیسی یې مصرفولی ، او په مصرف کی بې اندازې میړنی وه . ددارا سره هم بیگم صاحب زښته زیاته جوړه وه . دهغه په لوري ولاړه او په جوته یې له هغه حمایه کوله . ده دارا سره بیگم صاحب ملگرتیا او وفاداری دپلار او مشر زوی په دوستی کی کی لرزول نه لوبا ه .

بیگم صاحب داراله هره پلوه حمایه کاوه او په موقع به ئې خبرونه رساوه چې اوس باید څه وکړی . ددارا او بیگم صاحب دا دوئ ټینگه ملگرتیا تش پدې بنانه وه چې گویا دوی دواړه په اولادونو کی مشران و ، لـکه څرنگه چې خلکو پسې ویل ، بلـکه خبره داوه چې دارا بیگم صاحب ته وعده ورکړې وه ، که چیرې دی امپراتورشی دینه به اجازه ورکړي چې میړه وکړي .

داډول کار یعني شاهزاد گیو ته دمیړه کولو تقریباً په هندوستان کـــی هیڅوخت څوک حق نه ور کوی . ځکه چې دشاهزاده گیو میړونه په دربار کې ډیر قوت پیدا کوی ، او داقوت ددې سبب گرځی چې همیشه یې تر نظارت لاندی وی چې دتاج غوښتنی مخه یې ونیسی . لدینه پرته بادشاهان خپله وینه دومره لـوړه گڼی ، چې دخپل ځان مساوی څوک تـــه بـــولی ، چې ددوی دلـــو ژولایق وی . زه غواړم چې دموضوع په ضمن کی ددې شاهزادگی (بیگم صاحب ) دعشقی دسیسو په باره کی هم څوتکی ولیکم . باوجود ددې چې بیگم صاحب په حرم کی ساتل کیده (۱۲) اوددې ساتنه دنور څخه کمه نه کیږی . زه ددې نه ویریږم چې ممکن دکرم لیکوال لپاره درومان مواد په لاس ورکړم . دلته عشقی دسیسی زمونږ دعشقی

پیښو پښان نه وی، چې دخوندا وره کومیکی ضرګند شتونو سره ملګرې وې، بلکه دذوی عشقي معاملې همیشه وحشتناکې او دزړه لړزونکو پیښو سره څیرمه وي. وایې چې شاهزادګۍ (بیګم صاحب) په پټه سره یو ځوان چې چنداڼلوړ القاب یې نه درلودل مګر ډېر ښکلی او ښه ځوانی ئې لرله حرم ته ننیستی و. ددومره کینه کښو او حسد ناکو ښځو په منځ کې بیګم صاحب ونه کولای شول چې معامله پټه کړي. خبره زر شاه جهان ته ورسیده. ده دانیت وکړچې بیګم صاحب بې خبره ګېر کړی او داسې یې ځان ښکاره چې ګویاتش دخپلې لور لیدلو ته راغلی دی. شاهزادګی دشاه جهان په ناخاپې رانګ سره تش دومره وکړای شول چې هغه کم بخت د حمام په لوی دیګ کې پټ کړی. مګر بیاهم بیګم صاحب وپوهیده چې شاه جهان یې په ځان شکې کړ. شاه جهان په سره سینه دبیګم سره دهمیشه پشان خبرې تللې خواته بوتلې، او په آخر کې ورته وویل چې دده په نظر کې بیګم صاحب ډېره خیرنه ښکار او ضرورده چې لاس پرلاس حمام وکړي، او دغسل لپاره زر او بـه تودې کړي. شاه جهان په تهدیده آمیزه لهجه سره امرور کړچې زرد حمام دیګ ګرم کړي او په خپله تر هغې پورې هلته پاتې شو ترڅو چې نوکرانو په اشاره ورته وویل چې هغه کم بخت فیصله شو.

دخه مودې نه وروسته بیګم صاحب یوه بله معامله ترلاس لاندې ونیوه یو پارسیبان ځوان چې ناظرخان نومیده خپل (معتمد) چې زمونږ په اصطلاح د کارونو اداره کوونـکی ورته ویل کیږي مقرر کړ. ناظرخان ځوان امیر، له ټولو ښکلی او ددرباري نوکرانو په جمله کې دښایست، ونې او پاکې لمنې جوړه نه درلوده. دی په ټولو باندی ګران و. ښایسته خان داورنګ زیب ماما ختې داپیشنهادوکړ چې بیګم صاحب ده ته واده کړي، ولې په شاه جهان باندې داپیشنهاد ډیر بد ولګیده ځکه چې شاه جهان ددې موضوع متعلق دځینو دسیسو څخه خبر شو. لاس په لاس یې

www.libtool.com.cn

فیصله وکړه چې دناظرخان څخه ځان خلاص کړي او خپله فیصله یې داسې عملي کړه.شاه‌جهان ناظرخان ته د احترام په سترګه(بیتیل) بخشش کړ چې دمملکت دمنعنی له مخې لاس په لاس باید وڅوول شي.بیتیل (پان) نازکی پاڼې دي چې له لږو نورو شیانو سره ژوول کیږي . دبیتیل دژویلو څخه شونډي او خوله سره کېږي او سیلوي څکول لاخوندور شي .ځوان امیر داتصور هم نه شوکولای چې بیتیل به یې مسموم کړی وای.دناظرخان مجلس نه په خوشحالي ووت او په خپل پالکي باندې سپور شو . ولی زښت ډیر تیزو . کورته دناظرخان‌تش بې سیلوی وجودراورسید.

www.libtool.com.cn

روشن آرا بیګم د بیګم صاحب پشان هیڅکله دومره ښکلې او هوښیاره نه‌وه دواړه خویندې په خوشحالي او خنده رویی کی یوې بلې‌ته سره ورته او همدا دول کشر خوره دمشرې پشان دساعتیري چندان دښمنه هم نه وه. روشن آرابیګم اورنګ زیب سره زښته صمیمي وه. لدې وجهي نه د دارا او بیګم صاحب سره دښمنه وه.ددې دشمنی له وجهی ددې عایدات هم چندان زیات‌نه وو او په کارونو کې یې لږه برخه اخیستله ولي په حرم کې یې ژوند کاوه او دلوي هوښیارې ښځې په صفت یې خپل جاسوسان لرل په ډیرو مهمو پیښویې ځان خبر اره اوبیا داتول ددې په مرسته اورنګ زیب ته رسیدل .شاه‌جهان دشوړ ش نه‌خوکاله‌پخوا راتلونکی حال احساسوه او ځان یې په سخت ګران حالت کې ګیرلیده.دی پدې پوهیده چې څلور واړه شاهزاده‌ګان تول بالغ دکورونو خاوندان او هریوه دتخت وتاج لپاره ځان برابروی،په پته دیواوبل په ضد دسیسې جوړوي، اوبالاخره یودبل دښمن دي.دی نه پوهیده چې ددوی یعنی خپلو زامنو سره څه وکړي،او څنګه خپل ژوند بچ کړي . هغه څه چې وروسته پیښ شول ته به وای

شاه‌جهان تول پخوالیدل . دګوالیار کلا (پدې کلاکی‌عموماً شاهزادګان‌قیدیدل. دې کلاته لاروپیداکول ناممکن و، ځکه چې په زښت‌پیچلی‌څوري باندې پرته وه.

کلا په خپلو دیوالونو کی ننی اوبه لري او د پوځ داعاشي لپاره هم پوره خوراکي موادپکی موجوددي) دخپلوزامنو اچول هم څه اسانه خبره نه وه . دوی اوس پوره اندازه قوی شوی و، هریوه ځان ته دربار درلود . دابه هم معقوله وه چی شاه‌جهان خپل زامن دځان څخه لرې اودوی ته دولایاتو اداري ورکړي ، په کوم ډول چي ددوی دنسب سره برابري وې .

www.libtool.com.cn

په عین‌وخت کی شاه جهان دخپلوزامنو څخه ویریده اوفکریی کاوه چی که چیرې دوی په ورکړشوي‌ولایاتو کی نوره هم‌قوي‌شي‌نو هریوبه د کوچنی پادشاه‌پشان رول لوبوي په آخرکی همداسی هم وشول . دهغه ویرې له مخی چی په دربار کی پرته وه شاه جهان پدې ویریده چی دده په‌مخ کی به شاهزادگان دیوبل مرگ ته لاس تیرکړي . ددې ویرې نه ده دانیت وکړ چی دوی دځان څخه لرې کړي . سلطان شجاع ته‌یی دبنگال سلطنت ورکړه‌اورنگ زیب ته دکن ، مراد بخش ته گجرات اوداراته‌یی کابل اوملتان ورکړل . ددوی څخه درې لومړي شاهزادگان په خپلوولایاتو خربښ اوهلته یی ځانونه پادشاهان گڼل . ددې ولایاتو ټول عایدات یی ځانونوته راگرځول . په رعیتوباندی دکنترول او دهمسایه هیوادونوپه مقابل کی یی دخپل ولایت دمدافعی په ځوم زښته ډیره عسکري قوه دځان سره ساتله . دارا چی ټولو ورونو کی مشراو دمبادا په صورت کی دتاج وتخت لپاره په نظرکی نیول شوی و ، ددربار څخه لرې نه شو . داسی ښکاریده چی داکار دشاه‌جهان دفیصلی سره سم وي . پدی هیله چی دده دمرگ نه وروسته‌داراده‌جانشین شي . شاه‌جهان حتی ددارا‌حکمونه منل او دا اجازه‌یی ورکړه چی دشاه جهان دتاج نه‌ټیټ‌یوتاجگی هم ولري . شاجهان اودارا دامیرانو په منځ کی داسی ښکاریدل ته به‌وای چی دوه تاجداران یوځای ناست دي . امالکه ښرنگه چی څرگنده ده په یوه‌هیوادکی ددوو تاجدارانو گذاره اودوستي ناممکنه ده .نو پدې سبب شاه جهان‌په‌دارا‌باندی‌بدگمانه

شو . اګرچې شاه جهان به همیشه دارا سره ډیره مینه ښوډله او احترام به یې کاوه ولې بیاهم شاه جهان خصوصاً دمسموميت څخه سخت ویریده . ده ته داورنګ زیب کیفیت هم څرګند و ، او فکريې کاوه چې دی به دټولونه دمملکت اداري لپاره مساعدوي . لکه چې ویل کیږي شاه جهان داورنګ زیب سره مستقیم مناسبات ساتل .

www.libtool.com.cn

داهغه شیان وو چې ، دشاه جهان اودده دزامنو په باره کې ویل یې ماته لازمي ښکاریدل ځکه چې دراتلونکو لیکنو دپوهې لپاره ضروري دي .

ماونه کولای شول چې ددواړو شاهزادګیو په هکله چپ پاتې شم ، ځکه چې دوی پدې تراژیدی کې دنورو ټولو نه زیات مهم رول لوباوه . ښځې په هندکې لکه په کانستانتینوپل اونورو ځایونو کې زیاتره مهم رول لوبوي سره ددې چې څوك دوی ته زیاتره توجه هم نه کوي اوپدې پېښو کې په نورو علتو نوپسې ګرځي اوسرورپسې ماتوي .

ددې لپاره چې داتاریخ ښه واضح شي باید دلرې څخه ورته راشو او ضمناً داوویل شي چې داورنګ زیب ، دګولکهندې پادشاه او داورنګ زیب وزیرامیرجمله (١٤) ترمنځ څه وشول ؟. ددې لرې مطالعې نه به داو رنګ زیب کرکتراو اوزیر کې هم ښه څرګنده شي ، کوم چې وروسته به زمونږ د داستان قهرمان وي اودهندوستان پادشاه کیږي به . هم به امیرجمله راته معلوم شي چې ده څنګه داورنګ زیب دامپراتوری لپاره دبنسټ تیږه کښیښوه .

هغه وخت چې اورنګ زیب په دکن کې و ، دګولګهنډې دپادشاه وزیر اوعسکري قوماندان په ټول هندکې مشهور پارسیان امیرجمله دمتوسطې کورنۍ څخه ومګر په کارونو کې دزیاتې تجربې خاوند ، ممتاز عقل ، او دیوه قابل سپه سالار خصوصیات یې لرل . دامیرجمله لوېه اندازه دارایې نه تش ددې لارې نه ، چې ده وکولای شول دی بدایو سلطنتو نوته ځان ورننباسي بلکه دده دهغه تجارتې

بیړ یوله‌لارې هم وه چې هرې خواته گرځیدې اوده ته یې زیاتې پیسې راگټلې همدا ډول دالماس د معدنونو داجارې له لارې چې د بدلو څیرو په نوم به یې کول او هلته‌ده د نمایند گانو له خوا دده لپاره په پوره اخلاص کار کیده. خلکو یوازې دده د دارایی په باره کې خبرې کولې او دده د الماسو مقدارېې په بوجیو باله. امیر جمله وکولای شوو چې ځان ډیر قوي او بانفوذه کړي. ده دشاهي عسکري قوې دادرایې نه پرته د پار سیبانانو عسکري ځانگړې قوه ځان سره ساتله او هم یې د فرنگیانو یعنې عیسویانو ډیره مظبوطه توپخانه لرله چې دهغوی څخه یې دقوماندانانو په صفت کار اخیست.

www.libtool.com.cn

لنډه داچې امیر جمله ډیر قوي او ډیر رشته من شو. خصوصاً وروسته له هغه چې ده وکولای شول د کرناتیک (۱۵) سلطنت ته ځان ورننو یوست او هلته یې د بت پرستانو تول پخوانی حومونه تا لاکړل چې د گولکنډې (۱۶) پادشاه دامیر جمله په حال حسد خوړ او د یته تیار شوچې د امیر جمله سره پنجې واچوی. د گولکنډې بادشاه لپاره دا اوازه چې دده مور ـ ملکه دامیر جمله سره پته عشقي راشه‌درشه لری د تحمل وړنه وه او دا ملکه لا تر او سه ښکلې هم وه. ولې بادشاه دخپل نیت نه هیچاته څه نه ویل. په صره سینه یې انتظار یست چې امیر ـ جمله د کرناتیك څخه راستون شي، کوم چې هلته دلښکر سره و.

آما یوه ورځ کله چې بادشاه ته د امیر جمله او خپلی مور ـ ملکی ترمنځ د مناسبانو په هکله مفصل وویل شول، ده نور داقدرت نه درلود چې دخپل قهر، غضب، ښکنځلو او تهدید ر نولوموني په لاس کې ونیسي. ددې موضوع څخه زر امیر جمله ته خبر ورکړشوه ځکه چې په دربار کې دامیر جمله د ښځی له پلوه ډیر دوستان موجود و، او دې خپلوانو او ملګرو لری چوکی هم په لاس کې وې. د بادشاه مور هم زر دې خبرې څخه خبره شوه. لدی کبله امیر جمله خپل یوازینی زوی محمد ـ امیر خان ته چې هغه وخت په دربار کې و، والیکل او امریې ورکړچې د ښکار یا بلې

لاری نه ددربار څخه ووځی ، اوده ته ځان ور ورسوي. محمدامیرخان خوځلی کوشش وکړچی دربار څخه ووځی ولی بی فایدی ، ځکه دباد شاه له خواتر کلکی څارنی لاندی و ، اودده یو کوشش هم کامیاب نه‌شو . دی حال امیرجمله په سخت حالت کی راګیرکړ ، اودی دیته مجبور شوچی وروستی فیصله وکړی. دکومی په نتیجه کی چی دپادشاه ژونداوتخت وتاج خطر تهدیدول.

www.libtool.com.cn

امیرجمله اورنګ زیب ته‌چی‌هغه‌وخت په دولت آباد ، ددکن مرکزکی و اودګولکهنډې څخه د۱۶ ــ۱۵ ورځو په منزل فاصله‌لری ، ولیکل اوپدی یی‌هم وپوهاوه چی دګولکهندی پادشاه غواړي چی‌دی‌اودده کورنی تباه‌کړی . سره دهغه‌توړلو مهموخدمتونو چی‌په هغو باندی‌توڑل‌خبردی‌چی امیرجمله دده لپاره وکړل مګرهغه ونه لیدلی‌شول . دغه بی‌عدالتی اوبی‌شکری‌دی (امیرجمله) تشویقوی چی اورنګ زیب ته ددی خواهش سره مراجعه وکړی ، ترڅو یی دحمایی‌لاندی ونیسی .

که چیرې‌اورنګ زیب دده (امیرجمله) مشورې‌آوری اواعتماد وربادندی کوی ، نوهغه (امیرجمله) به دګولکهنډې‌باد شاهی اوبادشاه دواړه دده (اورنګ) په لاس‌ورکړی .ددی کار ترسره کول به ډیرآسان وی. دەاورنګ زیب‌ته‌ولیکل چی‌هغه دی ۵ ، ٤ زره انتخابی سپاره دخپل لښکرڅخه بیل اود ګولکهنډې خواته‌دې‌په بیره روان شی ، اوپه لاری ئی دا آوازې‌خپری کړی چی‌دی دشاجهان سفیردی اودمهمو کارونو لپاره غواړی دبهاګ‌نګر بادشاه‌ته‌ځان وورسوي . لومړی دبیر(۷) ، کوم ته چی‌باید مراجعه‌وشی ، اوبیاهغه‌باد شاه‌ته‌خبررسوی . زما متحد اونما ینده اوپه ټوله معنی ماته وفاداردی . یوازی کوشش وکړه چی زر روان‌شی.زه به داسی‌چل وکړم ، چی تاسی‌لپاره به دبهاګ نګردیوالونو‌ته‌راورسم ،

اوهیڅ به‌ونه پیژندل‌شم‌کله ، چی بادشاه دعادت له‌مخی دسفیرانو څخه دمکتوب اخستلو لپاره په خپله راوځی تاسی کولای‌شئ چی په آسانه اول‌دی ونیسئ او بیاد ده کورنی‌اوورورسته په خپل فکردعغوی‌سره‌معامله وکړئ . دده‌کورچی‌په بهاکٹ نگر کی دی اوپه کوم کی چی‌دی اوسی ، نـه دکلادیوالونه لری ، نه خندق او نه استحکامات . ده‌داهم زیاتوله چی امیرجامه به ددی اقدام ټول مصرفونه په خپله غاړه واخلی ، اوشاهزاده ته یی‌دلبنکرکشي په نوم مصرف پـه ورځ کې ۵۰ زره روپی ومنلی ، چی دټول سفرمصرف تقریباً ۲۵ زروایکوته رسیږی .

www.libtool.com.cn

اورنگ‌ زیب فقط دهمداسی‌فرصت په‌انتظارو ، اوپه عملی‌کولوکی‌یی‌ډیل ونه‌کړ. لاس‌په‌لاس روان او اقدام یـی داسی تر سره‌کړچی ، بهاکٹ‌نگرته‌په نه پیژندونکی جامه‌کی دشاه جهان دسفیرپه نوم یی‌ځان ورساوه ، دګولکهندی بادشاه تـه خبر ورکړ شواودی دبدل سفیر لیدلو لپاره باغ‌ته راووت چی دهغی‌له مخی په احترام سره سفیروویني ، ولی دابدبخت دښمن ته ور روان‌و. دجوړ شوی‌پلان له مخی لس دولس گرجستانی غلامان ددې لپاره‌تیارشوی‌وو ، چی بادشاه‌و نیسی ، اما یوامیرچی‌پدې‌وضع پوه و ، هغه‌دزړه سوی له مخی داحال تحمل نـکړ ، اگرچی دی هم دامیرجمله دطرفدارانو څخه و ، چیغه ئـی پورته‌کړه « اعلیحضرته ! آیـا تاسویـی نه پیژنئ‌چی‌دا اورنگ‌ زیب دی ، منډه‌کړئ چی نیسی مو» بادشاه له‌ترسه لړزیده په منډه له باغه ووت ، هغه آس چی په‌لاس ورغی ور باندې سپور شو ، په ټول قوت سره یـی په یوه درنگ ځان دګولـکهندی‌عسکری کلاته ورساوه. دغه کلا دهغه باغ څخه دیوه میل‌ته زیاته فاصله نلری ، اورنگ زیب ولیدل چی پلان یـی شنډشو ، ولی واربی خطا نکړ ، اوپـدی هم پوهیده چی امیرجمله دخپلو لښکرو سره په‌ده (اورنگ‌ زیب) باندی حمله نه‌کوی ، نوفوراً‌یـی دشاهی‌کورونیو ټول ښکلی اوقیمتی‌شیان چی‌هلته په لاس ورتلل ، دځان سره واخیستل. باد شاه ته یی‌دوه

ښځی ورولیږلی (داکارپه ټول هندوستان کی په ډیر مقدس صورت مراعات کیږي)
او بیایی دهغه عسکري کلاپه محاصره پیل وکړ، ولی دکلا محاصرې کم زیات دوې میاشتی دوام وکړ. ددې کار علت دا وچی اورنګ سره دمحاصرې ماتولو لازمي وسله نه وه موجوده. په همدې وخت کی اورنګ زیب ته دشاه جهان امر راورسید چی دمحاصرې څخه لاس واخلي او بیرته دکن ته راستون شي. پداسی حال کی چی کلا دخوراکي لوازمو له درکه په بدحال کی وه ولی اورنګزیب دفرمان مطابق مجبور شو محاصره شوې کلا خوشی کړي. اورنګ زیب پدې ښه پوهیده چی داد دارا او بیګم صاحب کارونه دي چی شاه جهان یی دې ډول امر ته مجبور کړی دی. ځکه دوی پوهیدلي چی که چیرې اورنګ زیب داکار ترسره کړي لا به قوي شي. اورنګ زیب په جوته د نارضایتی هیڅ ډول نښی له ځانه ښکاره نکړې او دومره یی وویل چی دشاه جهان امرونه باید اجراشي.

اورنګ زیب اګرچی بیرته راستون شو، ولی ده په ارامه سره وکولای شول چی ډیره لویه اندازه پیسی دلښکر کشی، دلارې دمصارفو دجبران په نوم لاس ته راوړي. اورنګ زیب حتی خپل زوی سلطان محمود ته دپادشاه لورو کړه او پادشاه هم داوعده ورکړه چی دخپل مرګ نه وروسته سلطان محمود په خپل ځای وټاکي. لاس په لاس یي سلطان محمود ته درام ګیر (۱۸) کلا او دهغه شاو خوا ځمکی په تویانه (جهیز) کی ورکړې. ددې نه علاوه اورنګ زیب دپادشاه نه داوعده هم واخسته چی لدې وروسته به دنقرایی سکو په یوه مخ دشاه جهان مهر او په بل مخ به دده مهر لګیږي. دا اجازه یی هم ورڅخه واخسته چه امیر جمله ته دخپلی ټولی توپخانی، عسکرو، دارایی او کورنی سره له هغه ځایه دوتو امرور کړي.

دې دوو لویو کسانو (اورنګ زیب او امیر جمله) په لنډه موده کی ګډلوی فعالیتونه شروع کړل. په لارکی اورنګ زیب او امیر جمله بادیر محاصره او فتح کړ

چې د بیجا پور د محکمو او مهمو کلا گانو څخه گټل کیده . لدې ځایه دولت آباد ته روان شول او هلته دومره سره ملگري شول چې اورنگ زیب او امیر جمله به که په ورځ کی دوه ځلی سره نه وای لیدلي ژوندیي نه شو کولای . ددوی اتحاد د کاروني پر مختگ لپاره زښت ډیر کومک کاوه اود اورنگ زیب دامپراتوری لپاره یې دبنسټ تیږه کښیښوده .

www.libtool.com.cn

دغه عالیجاه خپل کار و نه پداسی ماهرانه صورت سره بنا کړل چې شاه جهان څو واره دربار ته ورروغوښت . امیر جمله بالاخره دلویو قیمتي سوغاتونو سره اگرې ته روان او دخپلو خدمتونو پیشنهادئي شاه جهان ته وړاندې کړ . امیر جمله شاه جهان د گولکهنډی بیجاپور (۱۹) پادشاهانو او هم د ی دپرتگالیانو په مقابل کی جنگ ته ولمساوه . ددې لپاره یې اول پرغټ الماس چه دقیمت له مخه بې ساری ته درلود (۲۰) ، شاه جهان ته تقدیم او دایي هم ورته وپوهول چه د گولکهنډی تیزې د کندهار دغرونو د تشولو څوخوکو څخه زیاتی قیمت بهادي . (۲۱) (دغه وخت کی شاه جهان د کندهار دنیولو ترتیبات نیول ) او بایدد گولکهنډی خراته نظامي عملیات متوجه کړي او هندوستان د کومارین دفاعي پوړې فتح کړي .

ددې خبرې کول ډیر مشکل دي چې آیا واقعاً شاه جهان دامیر جمله الماسو رو ند کړی و ، یا داچې دی لکه چې ځینی یي ممکنه بولی ددې لپاره چې دارا په لوموني کی راونیسی پوځ یې دتیارسی په حال اعلان کړ . دارا شکوه په څرگنده سره نوره هم ځان قوي کاوه او ځان ته یې داجرأت ور کاوه چې دشاه جهان وزیر سعداله خان توهین کړي . سعداله خان په شاه جهان ډیر گران واودی دهند په تاریخ کی تر ټولو زیات لوی سیاسي سړی بلل کیده . په آخر کی دارا داامرور کړ چې دی مسموم کړي . د دې کار علت دا وچې سعداله ددارا حمایه نه کوله اوسلطان شجاع خواته یي تمایل زیات و . یاممکن لدې نه چې سعداله خان ډیرقوي ورته ښکاریده فکریي کاوه

چې دشاه‌جهان دمرګ نه وروسته به دتاج وتخت سرنوشت په خپل لاس کې واخلي
یاداچې سعدالله خان په خپله پارسیبان نه بلکه دهند و . په دربار کې يې ډېر حاسدان
لرل او هغوی دااوازې خپرولې چې ګویا سعدالله خان دهند په مختلفو برخو کې
دپټانانو ( پښتنو ) ډېر ټولګي ساتلي او هغوی ته ښه معاش ورکوي او دمبادا لپاره
بالکل آماده دي . داځکه چې دی ( سعدالله‌خان ) په خپله دپادشاهي نیت لري زوی
په‌تخت کښېنوي .په‌هرصورت چې مغل له‌هنده‌وشړي او تخت بیرته‌پښتنو ته‌را و ګرځوي.
دسعدالله ښځه هم پښتنه وه .

www.libtool.com.cn

په هرصورت علت چې هرشی وي خوشاه‌جهان فیصله وکړه چې پوځ دامیر
جمله تر قومندانی لاندې دکن ته‌وراستوي . دارادې اقدام په‌تاوان باندې پرهیده.
داهم ورته جوته وه چې دکن ته‌پوځ استول دامعنی لري‌چې اورنګ زیب‌لاقوي‌شي.
لذې صببه يې ددې اقدام په مقابل کې سخت مخالفت کاوه او ټول کوشش
يې دې ټکي ته متوجه کړی و ، چې دلبنکر کشی مخه‌ونیسي . آماداراچی‌دشاه‌جهان
ټینګار ولیده په زړه اونه‌زړه يې د خپل پلار فیصلې سره‌موافقه وکړه، آماپه‌دې‌شرط
چې اورنګ زیب په دولت آباد کې تش دحاکم چارې اجراکـړي‌اوپـه عسکري
معاملو کې دقومانداني او مداخلې څخه لاس واخلي . دپوځ قوماندانی امیر جمله په
غاړه واخلي خوپه‌دې شرط چې خپله ټوله کورنۍ په دربار کې داعتما دلپاره‌ډیرغمل
په صورت پرېږ دی .

امیر جمله پوازې دشاه‌جهان دخواهش په‌اساس‌دې شرط سره‌موافقه‌وکړه‌چې
د اراپه‌مقابل کې د ګذشت‌نه کار واخلي.له‌بلې‌خو اشاه‌جهان امیرجمله‌ته‌داوعده‌ورکړه‌چې
لزموده وروسته به په‌ده پسې ښځه اوماشومان ورولیږي. امیرجمله‌دموافقې‌نه وروسته
يې معطلې دکن ته په اورنګ‌زیب پسې دمضبوط پوځ‌سره روان شو. دبیجاپور پـه
ځمکه ورننوت اودهغه هیواد دټینګې کلا کالیاتي (۲۲)محاصره‌یې شروع کړه .

هغه وخت چې شاجهان سخت ناجوړه شو د هندوستان ټول کارونه تقریباً په همدا وضع کې پراته وو. دلته به د شاجهان د ناجوړی په باره کې زیاتې خبرې نه کړو دومره باید ووایم چې دې ناوړه ناروغۍ څه ډېر اسه او با کلن پرداته نور څه نه www.libtool.com.cn
پریښودل تش داچې هغه باید خپله ټوله قوه وساتی نه داچې پدې کارونو باندې یې ولگوي. (۲۳) دې ناروغۍ وار له واره په ټول هندوستان کې خطر او اضطراب خپور کړ. دهیواد په مرکزونو ډیلي او اگرې کې دارا قوی پوځ ټول کړ همدا ډول سلطان شجاع په بنگال اورنگ زیب په دکن اومراد بخش په گجرات کې . ټول څلور واړه ورونه په ځانونو باندې خپل متحدین او ملگري را ټول وي څلور واړه لیکونه استوي وعدې ورکوي اود سیسی جوړوي. دارا د دوی دلیکونو څخه ځینی لاس ته راوړل هغه یې شاه جهان ته وښودل او د دوی دلیکونو په استناد یې لوي شور پور ته کړ .

د دارا خور بیگم صاحب هم موقع دلاسه ورنکړه شاه جهان یې د نو او ورو نو په مقابل کې لمساوه. ولی شاه جهان په دارا باندې بارونه کاوه او پدې ویریده چې مسموم به یې کړي .

شاه جهان امرو کړ چې په هغو خوراکی موادو باندې چې دلته راوړل کیږي سخت کنترول ولگوي . حتی ویل کیږي چې شاه جهان ددې موضوع په باره کې او رنگ زیب ته ولیکل . کله چې دارا پدې خبر شو نو نور یې و نه کړای شول چه دتهدیدو نو قهراو غضب او موتی و نیسی .

هر څه چې په خوله ورتللل و یل به یې . دیلی خواته دشاه جهان ناجوړي غزیده او دا آوازې پورته شوې چې شاه جهان مړ شو.

په دې بار کې لاس په لاس بې نظمی شروع شوه . دیو خوور څو لپاره دکانونه وتړل شول څلور واړو شاهزادگانو په جوړته او جدی توگه تیاری نیولی. هریوه خپله قوه پخوله. که رښتیا وویل شی دوی بی اساسه جنگ ته تیاري نه نیولی. دوی ټول پدې

پوهیدل چې ترحم ته باید انتظار و نه باسي. ددوی لپاره دمرګ یافتحې، بادشاه کیدو یامرګ ته تسلیمیدوسوا لونه مخ ته وو. دوی، پدی هم پوهیدل، هغه څوك چې فاتح راووځي، دنورو ورونو څخه به بیلیږي، لکه څرنګه چې ددوی پلار شاه جهان په خپل وخت کې دخپلو ټولو ورونو سره رفتار وکړ.

www.libtool.com.cn

سلطان شجاع چې خورا لویې خزانې یې په شته من بنګال کې ټولې کړې وې، هلته یې دهغه ولایت ځینې راجګان او کلیساوې لوټ کړې او په زیاته لویـه پیمانه پیسې ملې دنورو څخه خپل جیب ته کړې وې، دټولو ورونو نه دلوی لوی پوځ سره داګری په لوری راروان شو. دی دپارسیانو امیرانو دحمایې په تمه وه، ځکه چې ددوی مذهب یې قبول کړی و.

شجاع په پوره زړه ورتوب مخ ورانديې په حرکت کې وه په لوړه؛ بهٔ یـې ویل چې شاه جهان دارامسموم کړاو مړشو اودی اوس دخپل پلار دقصاص اخستلو لپاره هغه لورې ته روان دی یاپه بل عبارت دی غواړی چې دارانه تخت ونیسي. شا جهان مجبور کړای شو، چې سلطان شجاع ته ولیکي چې دی دااجازه نه ورکوی چې نوره مخ په وړاندې راشي. دده ناجوړې ډیره سپکه ده او صحت یې مخ په ښه کیدو دی. اما څرنګه چې سلطان شجاع په دربار کې ملګری لرل اودایی تائیدوله چې د شاه جهان ناروغی دجوړیدو نه ده، بناپدې سلطان شجاع مخ په وړاندې راته؛ ځان یې داسې پوهاوه چې ګویا شاجهان مړدی. که فرضاً ژوندی هم وی، دی غواړی چې دهغه په حضور مشرف شي ، پښې یې مچ او نصیحتونه یې واوری.

په سلطان شجاع پسې لاس په لاس تقریباً په یوه وخت کې اورنګ زیب هم ددکن څخه حرکت وکړ. لوی شورېې پورته کړ. اورنګ ته هم شاه جهان امروکړ چې رانه شي او دارا هم په تهدیده آمیزه امر کې حصه واخیسته. امــااورنګ زیب هماغسې تظاهر کاوه، لکه سلطان شجاع، اودده په شان ځواب ورکوی. مګر دایی

ليدل چې دده مالي وضع چندان ټينګه نه ده او هغه عسکر چې دده په خانګړی اختیار کې دي، لږه تنخواه اخلی. اورنګ زیب د چالاکی په دوې لاری جوړی کړی، او دواړه چلونه یې په ډیر ماهرانه صورت سره اجرا کړل. یو چل یې د مراد بخش لپاره او بل یې دامیر جمله لپاره. مراد بخش ته اورنګ زیب په غوره الفاظو لیك ولیکه او په هغه کې ئې اطمینان ورکړ، چې دی د مراد بخش رښتینی او صمیمی ملګری دی. په خپله د تاج او تخت چندان دعوی هم نه کوی، او ټول ژوندیې د فقیر پشان تیراوه. مګر دار انا لایق سړی دی، مملکت نه شی اداره کولای، کافردی، بت پرست دی، او ټول لږی امیران یې کټی نه شی. سلطان شجاع را فضی او همدا ډول دهند وسنان دښمن دی. دی دی لیاقت نلری چې تاج یې په سروی او یا په بل عبارت سره مراد بخش یوازینی سړی دی چې واقعاً د تاج او تخت مناسب دی. په دربار کــې دده لپاره انتظار ایستل کیږی، ټول دربارته دده شجاعت پوره پوره معلوم دی. ټول به په ده پسی ولاړوی، تر کومه پورې چې خبره په اورنګ زیب پورې اړه لری، هغه داده چــې که چیرې مراد بخش ده ته دارهده ورکوی، چې خپلې امپراتوري په وخت کې به اورنګ زیب ته دا اجازه ورکوی، چې چیرته په کوم کونج کې دژوندتر آخره پورې د خدای دعبادت لپاره شرایط ورته برابروی، نو په دی شرط حاضر دی، چې دده ملګری شي او په مشوروکې ورسره کومکی شی. په ملګروکې کومك ورسره وکړم، په وریا ټول خپل پوځ دده په اختیارکې پریږدي، چې د دارا او سلطان شجاع په مقابل کې له هغه نه کار واخلی. اوس لاس پـــه لاس ده ته (مراد بخش تــه) سل زره روپــی (چې تقریباً پنځوس زره ایکی تری جریږی) ورلیږل کیږی، او خواهش کوم چې دار وپسی په ملګرتیا کی دګروپشان واخلی. دی دامشوره ورکوی چې زر د سورت کلا فتح کړی، لــکه خـــزانګه چـــی ده ته خرګنده ده هلته د بادشاه خزانه پــرته ده (٢٤).

www.libtool.com.cn

مراد بخش چې چندان قوي او دولتمن نه و په ډیره خوشحالۍ سره یې د اورنګ زیب پیشنهاد او دهغه سل زره روپۍ ومنلې . ده داورنګ مکتوب ته ولوته وښود . مراد بخش داکار ددې لپاره وکړ چې له بوې خوا ځرانان جنګ ته تشویق کړي چې دده ملاتړو کړي د بلې خوا داویو تجارانو څخه کرمه اندازه پیسې چې پخوا یې په ډیر تینګار سره ډېر په ډول غوښتلې د مکتوب ښودلو نه وروسته په ډیره خوشحالۍ سره ورکړي . مرادبخش په جدي توګه ځان خلکو ته بادشاه ښیلو ته ولوته یې کوټي کوټي وعدې ورکولې ، بالاخره یې وکولای شول چې برابر پوځ مجهز او دهغه څخه یې درې زره عسکر دشاه عباس تر قوماندانۍ لاندې اګرچې بیزک و دسورات کلا نیولو لپاره تعین کړل . اورنګ زیب خپل مشر زوی سلطان محمود چې دګوالکهنډې بادشاه زوم و امیر جمله ته چې لاتر اوسه دکالبیانې عسکري چوڼۍ په محاصره بخت وور واستوه.

www.libtool.com.cn

ددې کارنه د اورنګ مقصد داو چې سلطان محمود امیر جمله دولت آباد ته داورنګ زیب لیدلو لپاره په ورتګ راضي کړي پدې بهانه چې اورنګ زیب غواړي ده ته فوق العاده مهم خبرونه ووايي . آما ځرنګه چې امیر جمله داورنګ زیب په نیت ښهٔ پوهیده نود ورتګ څخه یې انکار وکړ او په ځرګنده یې ورته ووبل چې شاه جهان لاتر اوسه مړ نه دی پدې باره کې پوره معلومات لري ، ددې نه پرته دده ټوله کورنۍ په اګره کې د دارا په لاس کې ده ، پدې اساس دی نه شي کولای چې اورنګ زیب سره مرسته وکړي او ځان دده طرفدار اعلان کړي . سلطان محمود دولت آباد ته راستون شو هیڅ یې دلاسه ونه شول اوهم دامیر جمله څخه ډیر خوابدی و.

اورنګ زیب دامیر جمله په ځواب باندې او تر نه شو . دا ځل یې بیاده ته خپل دوهم زوی سلطان معظم ور واستوه سلطان معظم دخپل پلار لیک امیر جمله ته ورکړ او په دومره هوښیارۍ ، دوستۍ او نرمۍ سره یې امیر جمله پر اګیر کړ چې

نوري‌ی د تینګکار قدرت نه درلود . د کالیاني په محاصره یې بیره والګوله او محاصره
چپاتو ته‌یې دجزیی شرایط وړاندې کړل او بیا په خپله د سلطان معظم او خپل پوځ
سره په تیز مارش د دولت‌ناباد خوانه روان شو .

www.libtool.com.cn

کله چې امیر جمله دولت‌آباد ته راورسید ، داورنګ‌زیب دنوازش یارانونه
ورباندې شروع شول . د بابا او باباجي ته یې په بل نوم ته یاد وو او په سل ګونو
ګرانو به‌یې په غیږکې نیولی وې . بیایې لږ څنګ ته کړ او ورته یې وویل چې د
رارسیدلی باوري معلوماتو له‌مخې ، دا چې دده (امیر جمله) خیل خانه په دربارکې
د دارا ترڅنګ ده توده ته نه ښایې چې دخپلې خیل خانې ژوند په خطرکې واچوې
او په جوته سره داورنګ‌زیب په ګټه کوم اقدام ته لاس تیرکړي آما هیڅ
داسې مشکل نشته چې‌هغه دې دځینو چالاکیو په مرسته حل نه شي. «اجازه راکړئ
اورنګ‌زیب خپلو خبروته دوام ورکړ ، چې‌تاسوته دهغه‌پلان پیشنهاد وړاندې کړم
کوم چې ممکن په لومړي سرکی تاسوته عجب ښکاره شي ، ځکه‌چې‌تاسو دخپلې‌ښځې
او ماشومانو خطر ویروي کوم چې دیر غمل په توګه هلته‌پرتي شوي دي. تاسو تـه
داسې لارونښیم ، چې ستا دخیل خانې پوره مصئونیت تضمین کړي. هغه لار داده
چې زه به تاسو په تظاهري صورت سره بندي او بندي‌خانې ته به مورواچوم. بې له
شکه تول به پدې بارو وکړي چې داکار جدي دی. ځکه خوګټ به‌حتی داتصور ونه
کړي چې تاسو غوندې سړی پدې خوښ دی چې په بندي خانه کې ځان قید کـړي
پدې موقع کې به‌زه وکولای‌شم چې ستاسو دپوځ او توپخانې دیوې برخـې څخه
استفاده وکړم : تاسو داهم کولای‌شی‌ء چې یوه اندازه پیسې ماته‌قرض راکړی‌دلـکه
څرنګه چې تاسوپه خپله‌اکثره‌وخت دکومکټ خبرې کولی. ددې تولولارو‌داستعمال
په مرسته ماته ښکاري چې زه کولای شم بخت‌ازمایي وکړم ، اوهم به‌مونـږ په ګډه
سره دلارو چارو سنجولو لپاره فکر کړای وی چې څه باید وشي. ددې‌نه علاوه‌که
تاسې اجازه راکړی‌ء چې زه تاسو ددولت آباد عسکري چوني ته‌واستوم اوهلته به

تاسی په ټوله معنی دځان وا کمن وی هلته به زماز وی سلطان معظم یاسلطان محمـود ستاسو پیره داري کوي نو کار به لا نوره هم دواقعیت شکل ونیسی. زه فکر نه کوم چی دارا به پدې باره کی څه ویلی وای او بیاپه کوم دلیل به هغه (دارا) ستاسو سنځه او ماشومان تینګوي؟ ».

www.libtool.com.cn

ممکن یا هغه قسم له مخی وي چی امیرجمله اورنګزیب ته په دوستـي کی ورکړی و، یا دهغه لویو وعدو له مخی وي امیر جمله ته ورکړشوې، یا ددې له مخې وې چی سلطان محمود په ټولو معنی مسلح ځنګ ته ولاړو، او په تروشه تندده یې امیرجمله ته کنټل پدې وجه چې دسلطان معظم خبره یې قبوله او دا یې غوښتل چی دده سره دولت آبادته ولاړشو (کله چی امیرجمله رانووت سلطان محمود حتی ښه داسې پورته کړه چې ګویا ګذارته ځان برابروي) امرجمله ددې سره موافقه وکـړه چی اورنګ زیب ټول خواهشونه قبول کړي. دده پلانونه یې دقید په شکله ومنل.

داچی اورنګزیب لږ ځنګ ته شودده د توپخانې لوی آمر په ډیرجدیت سره امیرجمله ته ورنږدې او داورنګزیب دنوم نه یې امرورته وکړ چی په ده پسی روان او په هغه کوټه کی یې کاپ کړچی اعتباري پیره ورنه چاپیره وه . ټول عسکرچـی اورنګزیب ترلاس لاندې و، لاس پلاس یې کوټه محاصره کړه. داچی دا میرجملـه دقید آوازه لږه خپره شوه په همغه ساعت شورش شروع شو. ټول هغه څوک چی دامیر جمله سره راغلي و، دې خبرې حیران کړل، ولی بیایی هم دانیت وکړ چـی امیر جمله خلاص او دوسلی سره را خواره شول چی بندې خانه ماته او د پیرې نه یې راوباسي . ددې کار سر ته رسول آسان و ، ځکه اورنګ زیب ددې دول عکس العمل پیش بینی نه وه کړې چی زیاته قوه ورته متوجه کړي له بلی خواتش د امیر جمله نوم کولای شول چي ټول په لږ زه راولی ، ولی په همدغه موقع کي دریاکاری نه کار وانخستل شو. اغتشاش وار له واره دامیرجمله دپوځ لویو منصبدارانو له خوا

په جملې تشریحاتو سره داورنګ زیب او دده دزامنو په حضور کې چې په جدي فعالیت لګیا، کله یوه کله بل سره خبرې کولې، غلي کېږي شو. بالاخره هغو وعدو او سوغاتونو هم کار کاوه چې داورنګ زیب له خواشندل کېدل . په نتیجه کې دامیر جمله ټول پوځ او حتی دشاجهان دلښکرزیانه برخه چې اوضاعو په حیرت کې اچولي وه او لار ښوونکي یې نه درلود، ټول داورنګ زیب په لورې را تیرشول . دې خبرچې شاه جهان مړشو اویا دمرګ په حالت کې دی هم دخلکو په افکار وزیات تاثیر درلود . همدا دول داوعده چې دپوځیانو معاش به اضافه شي ارحتی لاس په لاس به د درو میاشتو معاش په پیشکي ورکړل ورکړشي هم ددېر کسانو په افکارو مؤثره واقع شوه . په مجرد ددې چې اورنګ زیب دامیر جمله ټوله نقلیه ارحتی دده اوښان اوخیمې لاس ته کړل لاس په لاس یې دصورت محاصرې لپاره پوځ ته کوچ ورکړ اودهغه فتحې لپاره یې زروسایل برابرکړل ، ځکه چې مراد بخش هلته په ډېرو مشکلاتو اخته و . دهغه دپوځ بهترینه برخه پدې محاصره لګیاوه ، مګرپه محاصره کې یې داسې مقاومت ولید چې دهغه انتظار یې نه درلود . آماد پوځ کښې دخو ورځو تنګ ته ورو رسته اورنګ خبر شو چې دصورت ګورنر عسکري چوڼۍ محاصره کوونکوته ورتسلیم کړه . اورنګ زیب اول مراد بخش ته مبارکي واستوله ارهم یې دامیرجمله ټوله قیصه ورته وایکله . دایې هم ورته ولیکل چې دی (اورنګ زیب) اوس پوره قوی شوی دی اودد بار سره هم ټینګ ارتباط لري. اوس په هیج شي کې نمیکړ تیاته احساسوي اوهم مخامخ برامپور (۲۵) اوا ګرې ته روان دی . دده انتظار باسی اوهلیه ده چې دی (مرادبخش) پېره وکړي .

رښتیا داده چې مرادبخش دسورت په عسکري چوڼۍ کې دومره پیسې پیدا نکړې خومره ته چې یې انتظار یست. ممکن هلته واقعاً دومره پیسې نه وې دکومو په باره کې چې خبرې کیدې یا داچې په خپله ګورنر ددې پیسو زیاته برخه ګوتوته



www.libtool.com.cn

کړي وه ، لکه څرنګه چی ځینو ویل . ولی هغه څه چی مراد بخش ته هلته ګوتوته ورغلي‌و، دامرسته یی ورسره وکړه چی اول یی دخپل پوځ معاش ور باندي پري کړ، بیایی هغوعسکرو ته چی تش دسورت دخزانو په توم په محاصره کی ورسره ملګري شوي وو ، ور کړي .

www.libtool.com.cn

حقیقت داوچي دمراد بخش لپاره هیڅ داسي وجهه نه وه موجوده چی په هغه باندي د سورت دعسکري چوڼی په فتحی باندی وویاړي . ځکه چی دي چوڼی واقعي استحکامات نه درلودل . ددي نه پرته محاصره تریوي میاشتی‌پوري‌وځنډیده که چیري هالنډ یانودسورنګ‌الوځولونه کارنه وي اخستی، چی دهغه په مرسته یی دچوڼی د دیوال لویه برخه والو ځوله او په چوڼی کی دننه کسان ډیرو ویرول اومجبور شول چی چوڼی ورتسلیمه کړي، نومراد بخش په پخپله هیڅکله نه وای فتح کړی . دسورت فتحی مراد بخش سره دامرسته وکړه چی هرلوري ته یی دده دلویی انګازي پورته کړي چی‌مراد بخش لغم وواهه ، سرنګ یی‌په کي کښیښود (دي کار هندیان په تعجب کی‌واچول‌ځکه تراوسه پوري دوی ددي کارسره بلد نه وو) او هلته یی زیاته لویه خزانه پیدا کړه .

باوجود ددي ټولو انګازو، لومړ یو کامیابیوداورنګ زیب خصوصی‌لیکونه اووهلدي چی مرادبخش ته ورکول کیدی شاهباس چه پوه هوښیار اوډیر چالاک انسان و اودخپل باادار دګټوټینګ ساتندوی‌و داخبره نه ښوله چی مراد بخش دي اورنګ زیب سره ډیرنږدي شي، اوهم یی اورنګ زیب ته دورتګ بیره ونکړه داکوشش‌یی وکړچی مراد بخش داورنګ زیب سره تش په خبرو مصروف کړي اوامکان ورته برابر کړي چی په اګرې باندي یوازي ورشي او ترهغی پوري به دشاه جهان دناجوړی په‌باره کی هم پوره معلومات‌راورسيږي، اووبه لیدل شی‌چی کاروڼه څنګه کیږي . دا امکان به هم موجود وي چه سورت محکم کړي . ځکه

دصورت پراخه ځمکه بهترینه نکته وه چي په هغه کي بايد دخپلو عايداتو سره تسلط ټینګه کړي . دا هم ممکنه وه چي يوځه وخت وروسته له هغه ځايه براميور هم لاس ته روالي . ځکه چي سورت دبراميور نيولولپاره ددروازي مثال درلود .

www.libtool.com.cn

آما داورنګ زيب پرله‌پسي ډاډ ګیرني ، مکتوبونه ، دمرادبخش دپوځ او توپخانې اوپيسو نمکړ تيا ، پاك اوساده زړه ، دامپراتورۍ فوق‌العاده خراهش ، دې ټولو فکرونو دی دیته را کش کړ چي احمد آباد پنبار څخه ووځي ، ګو جرات پرېږدي ، غرسمه ونیسي ، په بیړه داورنګ زيب سره دملاقات ځای ته چي هلته دوه درې ورځې دمرادبخش په انتظار وځاں وروسوي. دداور وپوځونو ديوځايكيدو په مناسبت دخوشحالي جشن ونیول شو . شاهزاده ګانو يوبل سره وليدل اورنګ زيب مراد بخش ته په زړګونو وعدې ورکولې اوپه زړګونو کراتويې دخپلې دوستی نه غورې کولی . بیایې له سره په پوره اطمینان سره داخبره ورته وکړه چي دی (اورنګ زيب) هيڅکله دامپراتورۍ شوق په سرکي نه ګرځوی اوده وجود تش ددې لپاره دی چي ددارايعني ددوی مشترك دښمن په مقابل کي دمرادبخش ملاتړ وکړی او هغه په تخت باندې يې کښينوي کوم چي دده لپاره انتظار باسي . ددې معلوماتو دوستي اوډاډ ګیرني نه وروسته دواړه پوځونه مخ په وړاندې وخوځيدل ولې بیاهم په ټوله لارکي اورنګ دمراد بخش په حضور دخپلې دوستي اووفاداری نه خبرې کولې اوکله چي به اورنګ زيب دمراد بخش سره مخامخ کیده نوهغه ته به يې د «حضرت» يعني اعليحضرت لقب ورکاوه . په نتيجه کي مراد بخش په ټوله معنی په دې متيقن شو چي اورنګ زيب واقعاً ددوستي داحساس له مخې مراد بخش سره کار کوي اورنګ زيب په ډیر اخلاص سره دخپلې وفاداری اواحترام نه خبرې کولې . اما که لږ څه دمخه دګولکهنډی پیښوته نظرواچول شي اودا په نظرکي ونیسي چي

د گولکهنډي سلطنت نيول څومره دخطر سره تړلي و، نوځکه به څوک دا باور وکړي چې اورنګ زيب په دومره آساني سره ديته حاضر شي چې دي دفقيري په جامه کې ژوندو کړي او بيا بالاخره پدې جامه کې مړشي.
www.libtool.com.cn

دواړ وپوځونو داسې زبردسته قوه جوړه کړه چې دربار کې نه يوازې دارا بلکه پخپله شاه جهان په تعجب کې واچوه. شاه جهان ته داورنګ زيب دوربيني پوهه، تېينګار اودمراد بخش زړورتوب ښه معلوم وو، او پدې ښه پوهيده چې دې شغلې څخه به داسې اورجوړشي چې دده کول به ډير ګران وي. شاه جهان زر زر اورنګ زيب اومراد بخش ته پرله پسې ليکونه آستوي او ليکې چې دده صحت مخ په جوړيدودی او بايدهر يوخپلو صوبوته وګرځي. دی (شاه جهان) ددوی سره موافق دی اوخه چې تراوسه تيرشوي دي هغه ټول به هير کړي. شاه جهان ليکونه بيا هم ددوی دوړاندې راتګ مانع کيدای نه شي. ځکه چې دوی ښه پوهيدل دشاه جهان نا جوړي دعلاج وړنه ده اوزياتو خلکو دشاه جهان ناجوړي غير قابل علاج بلله په هر صورت دوی (اورنګ زيب اومراد بخش) داويل (ممکن پدې تينګه عقيده لرله) چې دا مکتونه ددارا له خوا ر دشاه جهان په نوم ليکل کيږي. شاه جهان مړشو يا دمرګ په حالت کې دې بيا هم که چيرې ژوندی وي نو دوی غواړي چې دده (شاه جهان) پښې ښکول کړي او ددارا له پنجو راخلاص کړي. شاه جهان څه کولای شول؟ دې کم بخت امپراتور ليدل چې خپل زامن يې امر نه مني. هره ګړی داخبر ورته رسيده چې دوی (اورنګ زيب اومراد بخش) په ډيره بيړه سره داګرې په لوری په خپل پوځونو سره رانږدې کيږي.

بلې خوا نا جوړه شاه جهان دهغه دارا قبضه کې دی چې دجګړې دوينو بوی له پنجونه پورته کيږي، دجګړې لپاره تياری نيسي اودټولو علامونه په جوته ښکاري چې خپلو وروڼوته تګ شين دی. پداسې آخري وخت کې شاه جهان څه کولای

شول؟ مجبور وچی دارا شکوه‌ته خپله خزانه ورکړي اوهغه هردول چی زړه وي له هغه کار واخلی . شاه‌جهان مجبور دی چی خپل نـږدې عسکری لوی منصبداران ځان ته راوبولي ، کوم چي داراشکوه‌یی نه خوښیږي اوامرورته وکړي چی د دارا په طرفداري دزامنو په مقابل کی وجنگیږي ،دهغه چاپه مقابل کی چی‌شاه‌جهان تـه

www.libtool.com.cn

ددارا شکوه نه ډیر گران دی‌دوی باید لاس په لاس دسطان‌شجاع مخی تـه پوځ ورواستوي ځکه چی شجاع نسبت نوروته په مخ راغی اوهمدا ډول بـل پوځ دا اورنگ‌زریب‌اومراد بخش مقابلی تـه‌ورواستوي . ځکه دوی هم رانـږدې کیږي دسلطان شجاع په‌مقابل کی د پوځ قوماندان ددارا شکوه زوی سلیمان شکوه ۲۵ مکلن شاهزاده‌وټاکل شوکوم چی ډیره ښکلی ځوانی ، هوښیار ، دښه سلوک څښتن مهربان ، میړنی‌اوټولو نه زیات په شاه‌جهان باندې گران اوټوله هستی‌یی پده باندی شندلـه اوحتی دافـکر کـاوه چی ددارا شکوه پـه‌ځـای سلیمان شـکوه دځـان ولی‌عهدوټاکي.

شاه جهان پدې هلیه چی سلطان شجاع بیرته خپل صوبـی بنگال ته واستوي ځکه شاه‌جهان پدې ویریده چی مباداجنگ په نتیجه کی به‌یی کوم یوزوي‌ناوانی شي خاص ددې مقصد لپاره‌یی یوتینگ راجه جی‌سنگ (۲۶)دسلیمان شکوه سر ملگری کړ داراجه په خپل وخت کی دهندوستان دټولو راجگانو څخه قوي ،دولتمن اوهم په ټوله امپراتوری کی دراجگانو په ډله‌کی‌دده نه چټک راجه ه و.

جی سنگ ته په پټه‌کی د امرورکړ شوچی دجگړې ته پوره ډده وکړي په هره وسیله چی‌وي باید کوشش وکړي چی‌دسلطان شجاع په مقابل کی دگذشت نه کار واخلی اوخپله قوه بې مناسب وخت‌ته پریږدي یعني کله چی دی جوړشی ددې قوې څخه به‌داورنگ زیب اومراد بخش دپوځونو په مقابل کی استفاده وکـړی اوپه هغه به غالب شي.

اما ځلمی شاهزاده سلیمان شکوه چې دځوانۍ انرژی او شجاعت نه ډک و، فقط دیوې داسې کارنامې په انتظار وچې په هغه باندې یې د نورو تولو څخه جوت فرق وشي .

www.libtool.com.cn

سلطان شجاع پدې ویریده چې اورنګ زیب به اول دجنګ میدان ته ورګډ شي ،جنګ به وګټي اووده نــه مخکـې بــه دامپراتــورۍ پــایتختونــه اګــره او ډهلي قبضه کړي .

بناپدې دلیل جي سنګ سره نور دا قدرت پاتې نه شو چې دجګړې مخنیوی وکړي ،داچې پوځونو سره ولیدل لاس په لاس دحملې لپاره تیاری شروع شوه لږ وخت وروسته دلومړي ځل لپاره دتوپونو ډزې د هر کلي پشان یو بل طرف ته مبادله شوې زه نه غواړم چې دغه نښته مفصله ولیکم که داکار کوم نوله یوې خوا به لیکــنه اوږده شي اوله بلې خوا به چندان مزه نا که هم نه وي وړاندې به مونــږ مجبور وو ، چې په نورو لویو جنګونو مفصل وغزیږ ودکوموله مخې چې کولای شو ددې نښتې په باره کې هم پوره قضاوت وکړو . دابه بالکل بس وي که چیرې ووایم چې لومړی نښته د دواړو له خوا ډیره سخته او بې رحمانه وه . بالاخره سلیمان شکوه پداسې حرارت او انرژي سره حمله وکړه چې دسلطان شجاع پوځ کې یې بې نظمي راوسته او مجبور شو چې شاته ولاړشي او بیایې نوپه منډه پیل وکړ . که چیرې جي سنګ او پټان دلیل خان (۲۷) چې یوله اولودرجو سپهه سالارانو څخه ګڼل کیده ډیر زیات زړو راودجې سنګ له نږدې ترینو ماګرو څخه و اوتل یې دده په خوښه کار کـاوه غوښتلای چې د زړه له کومې سلیمان شکوه سره مرسته وکړي نو دا امکان موجودو چې دسلطان شجاع پوځ تباه او خپله به هم بندي لاس ته ورغلی وای.آما دراجه په پلان کې داسې نه و . ځکه چې داکار په خپله شاه جهان نه غوښته او ددې عکس ته د شاه جهان له خوا هدایت ورکړ شوی و . داهم باید وویل شي چې جي سنګ

ډېـر زيـات بـاريک بينه سياستمدار و دايي نه غوښتل چې دشاهزاده يعنې دخپل ولي نعمت زوی په وينو لاسو ته سره کړي.

سلطان شجاع عقب نشيني ته پوره وخت درلود او حتی په جنګ کې يې ډېر www.libtool.com.cn کسان له لاسه ورنکړل اما دا چې دجنګ په ميدان کې يې خوتو پونه پاتې شـول او هغه دسليمان شکوه لاس ته ورغلل ، دې پېښې په دربار کې همغه ساعت دا آوازه خپره کړه چې شجاع په قطعي ډول ماتې وخوړه . دې واقعې دسليمان شکوه پوزيشن ډېر ټينګ او په مقابل کې د سلطان شجاع حيثيت دټولو په نظر کې ډېر را ټيټ کړ دا پېښه ددې باعث شوه چې دسلطان شجاع اعتبار د ايرانيانو په نظر کې هم ډېر کم کړي ، کوم چې پخوا دده سره پوره سيمپاتي لرله. دسلطان شجاع دڅوورځو تعقيب په وخت کې سلمان شکوه ته د دربار نه هر وخت دا خبر رسيده چې اورنګ زيب او مراد بخش په ډېره چټکۍ سره رانږدې کېږي نو دا فيصله يې وکړه چې د سلطان شجاع تعقيب پرېږدي . سليمان شکوه پدې ښه پوهيده چې دده پلار داراشکوه بې احتياط سړی دی او په دربار کې دده زيات دښمنان لري نو دايې غوره کړه چې ژر اګـرې ته راستون شي .[لکه څنګه چې ښکاريده دارا بايد همدلته داورنګـ زيب او مراد بخش مخې ته ورو تللای وای . ددې نه بله غوره فيصله يې نه شـوای کولای .څکه پدې کې هيڅ شک نه وکه چيرې سليمان شکوه په موقع هلته رسيدلی وای اورنګ به فتح نه وای ګټلی . حتی دا فکر کېږي چې اورنګ زيب به جنګ ته غاړه نه وای ايښې . پدې سبب چې د قوا و تناسب رت فرق درلود . ولـی دا را شکوه بدبخت ددې موقع انتظار و نه يوست.

دا ټولی پېښې چې تر اوسه پورې وشوې ټولی دالله آباد په شاوخوا کې وې په کوم ځای کې چې جمنا او ګنګا سره ګډيږي . په اګره کې وضع بلکل بـل ډول وه . دې خبرې چې اورنګ زيب د برامپور سره د درياب څخه تير شو او دهغـه ځای دغرونو ټولی سختی درې يې ووهلی ، دربار په تعجب کې واچوه . لاس په

لاس یی خو تولګیه عسکرد اورنګ زیب مخې ته وروليږل چې د یوګیناس (۲۸) دریاب څخه یی د پورې وتو مخه ونیسي او په عین وخت کې نور پوځونه دجنګ لپاره تیار یدل .

www.libtool.com.cn

ددې مقصد لپاره دوه قوماندانان چې تر ټولوقوي او بانفوذه امیران و ، وټاکل شول . یوله دوی څخه کاظم خان (۲۹) مشهور سپه‌سالار وچې دشاه جهان نږدې وفادار ملګری اما داراشکوه ته یی چندان ډېره نه لګیده دخپلې خوښې مخالف هلته روان کړای شو . دده تګ نش ددې لپاره وچې شاه جهان خوشحاله کړي کوم چې د دارا په پنجوکې یی لیده . دوهم سړی جیسامسنګ (۳۰) ډېرقوي راجه وچې دجې سنګ څخه په هیڅ صورت کم نه و . جیسامسنګ دراجه رانی زوم وچې اکبر پادشاه په وخت کې یی ژوند کاوه او دومره په زور کې وچې دهند د راجګانو امپراتوري پاله .

د دوی درواندونه مخ کې دارا شکوه دوی ته دخپلې دوستې اظهار وکړ قیمتي لوی سوغاتونه یی هریوته ورکړل ، آما ددوی دتګ نه مخ کې شاه‌جهان پدې بریالی شو چې په پټه کې دوی ته هغه څه ووایی کوم چې جې‌سنګ ته هدایت ورکړ شوی وکله چې دسلطان شجاع مقابلې ته سلیمان شکوه سره روان و .

همدا سبب وچې دوی داورنګ زیب او مراد بخش مخې ته دتګ په وخت کې خو ځلې ددوی مخ نیوي لپاره سپاره وانستول او دا به ورته وبل کیدل چې دمخې نه لرې شي . ولې دا ټول کوششونه عبث شول . کوم کسان چې به دوی داورنګ زیب مخې ته ورلیږل بیرته نه راتلل . پوځ په ډېره چټکې سره مخ په وړاندې روان و . دټاکلې مودې نه مخ کې چې دوی یی په انتظار و ، دریاب نه لږ څه لرې د اورنګ زیب او مراد بخش پوځونه ولیدل شول .

څنگه چه داپېښې ددوبې په سخته گرمۍ کې وه او ددریاب نه هم په گودر کې تیریدل ممکن و ، نو کاظم خان او راجه وار له واره جنگ ته تیاری و نیوله . داورنگ زیب په نیت پوه شول چې دی غواړي حمله ورباندې وکړي . ولې داچې داورنگ زیب اومراد بخش ټول پوځ لا نه رسیدلی ، د توپونو ځوږزي یې تش ددې لپاره ورباندې وکړې چې د کاظم خان او راجه توجه بل لوري ته وگرځوي . اورنگ زیب پدې ویریده چې دوی ددریاب څخه راتیر نه شي ، چې پدې صورت کې به ددوی مخه نه یرازې داوبو نه بنده کړي بلکه داموقع به هم تړې واخلي چې پ، ځ یې لږ استراحت وکړي او د جنگ لپاره ښه موقعیت ونیسي .

په رښتیا چې په پوځ کې پوره بې نظمي گډه شوه دلارې تنگ او گرمۍ نه داسې سفړي شوي وو کهچیرې په همغه اول وخت کې حمله ورباندې شوې وای او دابو څخه هم لرې کړی شوي وای بې شکه بې له سخته مقاومته به یې شکست کړی وای . زه پدې اوله نښته کې حاضر نه وم مگر څرنگه چې ټولو یل اولږ وروسته پخپله فرانسویانو چې داورنگ زیب په پوځ کې دتوپونو رهنمایي په غاړه اخیستې وه داخبره هم تایید وله . ددار اشکوه قوا ونش پدې کفایت وکړچې ددریاب غاړې سره ځای ونیسي ترڅو دور کړ شوي امرله مخې داورنگ زیب دپورې کیدو مانع شي . اورنگ زیب خپل پوځ ته تش ۲ ـــ ۳ ورځې استراحت ورکړ او دپورې کیدو لپاره یې آماده کړ . اورنگ زیب ټول وخت داکوشش کاوه چې دمقابل طرف توجه بل لوري ته وگرځوي . لادینه وروسته یې ټوله قوه په کار و اچوله کومه چې په ډیره ښه ځای کې موقعیت نیولي و . پوځ ته یې دتوپخانې ترحمایې لاندې دپورې و تو امرور کړ . کاظم خان او راجه هم خپله توپخانه په کار و اچوله . پدې کوشش کې چې دښمن ته داموقع ورنکړي چې ددریاب څخه ورپورې شي نښته په اول کې ډیره توده او سخته وه . جیسامسنگ فوق العاده شجاعت ښکاره کاوه اما کاظم خان اگرچې

دیر زړور او ښه سالارو ، پدې موقع کې یې کوم زړور توب ونه ښود ځینو حتی دی
په خیانت باندې تومتی کاوه ، ځینو وړ پسی ویل چی کاظم خان دښمنی د توپونو مردکی
او داروپټ کړل ځکه ددوودروواړونونه وروسته مردکی او باروت خلاص شول . په
www.libtool.com.cn
هر صورت خبره چی هر ډول وي وي به ، مګر نښته لکه څنګه چی مامخ کی وویل
ډیره سخته او د دریاب ته په پورې وتو باندی کلکه مسابقه روانه وه .

ددریاب په مجراکی غټ غټ کمرونه پراته وو چی پورې وتل ی ډیر
ګرانول . ددریاب غاړه هم په ځینو ځایونو کی لوړه ژوره وه . آما مراد بخش
جرأت سره او بوته ځان وروغورځاوه او د دومره زړورتوب نه یې کار واخیست
چی مخ ته دریدل یې ناممکن کړل او په ده پسی د یوخ زیاته برخه هم پورې شوه .
کاظم خان عقب نیشنې وکړه او جیسامسنګ په خپله دسخت خطر سره مخامخ شو . ځکه
مجبور وچی ددښمنانو ټول فشار یوازې په غاړه واخلی . که چیرې دده دراجپوتانو
بی درکه سر زوري او زړورتوب نه وای ، کوم چی زیاتر یې دده په څنګ کی په
قتل ورسیدل ، دی به یوازې په تش میدان دښمن ته پاتی شوی وای .

دهغه خطر په باره کی چی ده ته پدې نښته کی مخامخ شولدې ځای یه تصور
کولای شو ، کله چی دی ایله ددښمنانو څخه خلاص شو نو خپل کورلمه راستون شو
او دایې ونه غوښتل چی اګرې ته بیرته ولاړشي . د ۷ ـ ۸ زرو راجپوتانو څخه چی
ده دځان سره جنګ ته بوولی وتش ۵ ـ ٦ سوه ژوندي ورپاتی شول . (۳۱)

دغه راجپوتان چی دراجه له نوم څخه یې اصل شروع کیږي یا به بل عبارت
دارجه زامن بلل کیږي نسل په نسل ددوی مصروفیت په جنګی کارونو کې دی .
هغه راجګان چی په دوی امر چلوي ، پدې شرط ځمکې ورکوي چی دراجه په امر
باید هر وخت جنګ ته تیار وي . کیدای شي چی دوی ته بت پرسته اشراف وویل
شی . آما که چیرې راجګانو دوی ته ځمکې په میراثی ډول ورکولای راجپوتان زښت

دیر اپین خوري . زه پدې تعجب کې یم چې دوی داپین دومره غټ کنډونه څنګه نغري . آما خبره داده چې دوی د کوچنیتوب څخه ورسره عادت کیږي . د جنګ په وخت کې یې اندازه دوه چنده کوي . دغه دوادوی جنګ ته تشویقوي یابه بل

www.libtool.com.cn

عبارت سره نیشه کیږي اوبیا په نیشه کې دهیڅ خطر احساس نه‌شي کولای . په جنګ کې داسې حملې کوي لکه وحشي حیوانات . پدې پوهیږې چې دجنګ‌ته په شاه‌منډه وهل څه معنی لري ، اوپدې ترتیب ترڅو چې جنګ کې راجه ولاړوي دوی مخ ورڅخه نه ګرځوي . دغه په پښو کې ستېږی ددوي عیب دادی چې لږ یې نظمه دی . زړورتوب یې پوره زیات دی . ددوی لپاره لوی خوندپدې کې دی چې‌هین دنیشې په حال کې دجنګ دمخه یوبل ښکلوي ، په غیږ کې سره نیسي ، ته به وای چې ټول مرګ ته روان دي اوپه آخري دقیقه کې یوله بل‌سره خدای پاماني کوی . دهمدې کبله اګرچې مغل مسلمان او دبت پرستانو دښمن دی ، ولې بیاهم په خپل خنګ کې زیات شمیر راجګان په خپله نوکرۍ کې ساتي ، دنوروامیرانوسره یې مساوي بولي او د دوی خدمتونو څخه داسې استفاده کوي لکه دمسلمانانو څخه .

دلته زه نه شم کولای چې راني اور هغه سخته پذیرایي مفصله ونه لیکم چې دماتې او تیښتې نه وروسته یې خپل میره جیسامسنګ ته جوړه کړه . چې درانۍ لورته خبر راغی چې جیسامسنګ رانږدې شو ، دده دجنګ دمیدان په پښو باندې ورته وویل شول چې په کوم زړوتوب سره جنګیده اوڅنګه دده شاو خواتش ۴ ـ ۵ سوه کسان پاتې شول اونوریې داقدرت نه دراود چې دښمن ته ځان ټینګ کړي ، مجبور شوچې په شاولاړشي . ددې په ځای چې ښځه‌یې دمیړه مخ ته خوك ورولیږی، هغه ته دادې کیرنه ورکړی ، لاس په لاس یې وچ امروکړ چې د کلا دروازې وتړی اوداپست راپرې نږدي . ځکه دانه غواړی چې هغه بیا وګوري . دلوی رانۍ زوم باید دومره پست نه وای . دی باید پدې پوه شوی

واى چي دد امى شريفى كورنى سره دوستي كولدى مجبوروى چي دهغه شجاعت اونوم وساتى . لنده داچې دى ياباید مړواى ياېريالى . يوه ګړى وروسته يې نوى نوې سود اوې فكرته ورغلى دا امر وركوى چي اوروورته بل كړي چې ځان وسوزوي . خلك دروغ وايې ميړه يې مړدى . ځكه بل ډول امكان نلرى . لږوخت وروسته بياخپلى فيصلى ته تغير وركوى . غضب يې پمى آخلى ، ميړه ته كوټى كوټى ښكنځلى كوى . لنډه داچې پدې قهراووسوسه كې يې ۸ ــ ۹ ورځې تيرې كړې ، بيا يې همدافيصلهنه شواى كولاي چي ميړه را پريږدي كه يه . ترڅوموريې را نغله اولږه ډاډ ګېرنه يې ورنكړه . موريې وعده وركړه چې تش داچې لږ استراحت وكړي له سره به نوى پوځ برابروي اوداورنګ زيب مقابلىته به ورځي په هر څومره قيمت چې ورته تاميزې خپل نوم به له سره دروي . ددې پيښى نه كولاى شئ چې ددې ملك دښځو ميړانه تصور كړئ . داهم زياتول غواړم چې ماپه خپلو سترګو ځينى ژوندى ښځې دميړه دمړګ نه وروسته دسوځولو په حالت كې ليدلى دي . زه داهم تاسوته وايم چې دلته داجتماعي افكارو غلطو عقيدو ، عاداتو اودننګ دمفهوم اومعنىنه بل هيڅ محكم شىنه شته .

دارا چې دايوګينس لهپيښو څخه خبرشو دومره قهر واخست كه چيرې په همدې وخت كې كاظم خان لاس ته ورغلى واى حتماً به يې سروهلى واى . دارا په امير جمله باندې هم ډير په قهر شو ځكه چې دى يې دټولو بدبختيولومړى سبب ګڼاڼه ځكه چې امير جمله اورنګ زيب ته پوځ ، پيسى اوتو بخانه وركړل . دارا دافيصله وكړه چې دامير جمله زوى محمد اميرخان مړ ، ښځه اولونه يې مخامخ كنچنى خانى ته واستوي . دارا به بې شكه دقهر په وخت كې دا كار كړى واى خو كه چيرې شاه جهان دچلاكى اونرمى نه كار نه واى اخيستى اودى يې پدې نه واي متيقن كړى چې اميرجمله دامى پست كارتهملانهشراى تړلاى ځكه چې

اورنګ زیب ته یې ددوستي دومره احساس په زړه کې نه ساته چې دهغه لپاره خپله
خپل خانه دمرګ سره مخامخ کړي . دې کې شك نشته چې اورنګ زیب به پــه
خپلو چلاکیو امیر جمله غلولی وي او هغه په لومه کې لویدلی دی

www.libtool.com.cn

دې لومړی نښتې او فتحې داورنګ زیب اومرادبخش، ددوی دپو ځونو
روحیه دومره اوچته کړه چې سرلدغه نیتي نه بې ځانونه نه مانید رنګی او په هرعمل
کې بریالي وبلل ددې دپاره چې دخپلو پوځونو روحیه نوره هم پــورته بــوځي
نواورنګ زیب په داسې غورو پیل وکړ چې دې ددارا په پوځ کې (۳۰) زره وفادار
طرفدار مغل ژلری . لکه څنګه چې وروسته څرګنده شوه دې غورو تریوې اندازې
پورې حقیقت هم پیدا کړ . دمراد بخش زیات کوشش پدې کې وچې جګړه په مخ
بوځي آما اورنګ زیب دده دتلوار په مقابل کې ویل چې پوځ باید ډیروخت
دهمدې ښکلي دریاب په غاړه ساونیسي او په دغه وخت کې به دی (اورنګ زیب)
خپلو ټولو دوستانوته لیکونه واستوی، ددربار وضع اوحالات په معلوم کړي اوبیابه
دا ګړي خواته دخوورځو سیالی نه وروسته پوځ ته حرکت ورکړی. دوی ډیر
ورو ورو پرمخ تلل ټولی خواوې یې په ډیر دقت سره مطالعه کولی چې دهرشي
لپاره په خپل وخت کې ترتیبات ونیسي .

شاه جهان داورنګ زیب او مرادبخش تیت لیده پدې هم پوره پوهیده
چې دوی بیرته په هیڅ ډول سره نه ګرځي . نو په سختو مشکلاتو کې پاتې شونه
پوهیده چه څه فیصله وکړي دډیرې غمجنې ورځې پیش بینی یې کوله . غوښتل
یې چې دسختې جګړې مخه ونیسي دکومې لپاره چې دده دستر ګو وړاندې دارا په
ډیره بیړه تیاري نیوله . آماده څنګه کولای شول چې دجګړې مخه ونیسي ؟ دی
دناجوړی نه وروسته لاتراوسه پوره ضعیف و، پوهیده چې په ټوله معنی ددارا په
پنجو کې لویدلی دی . لکه څرنګه چې مادمخه وویل چې شاه جهان چندان اعتماد
نه شو کولای، دی مجبور وچې دهرڅه سره موافقه وکړي. څه چې دارا غوښتل

هغه ويني. د دولت ټوله قوه او نور وسايل هغه ته ورکړی او بيا ټولو عسکري منصبدارانو ته دا امر ورکړي چې ددارا متابعت وکړی. په لـړزه مؤده کی ټـول مسلح شول. نه پوهيږم چې آيا هندوستان به کله داسې مضبوطه اردو ليدلی وي که يه ؟
www.libtool.com.cn
فکر کوم چې پدې اردو کی تقريباً سل زره سپاره ، شل زره پلی ، ۸۰ توپونه و . ددې نه پرته په اردو کی لوی شمير خدمتکاران ، دوکانداران هم شامل وو ، چې دلښکر يانو او حيواناتو لپاره خوراکی مواد برابروی . کله چې مورخين ددرو سوو څلور سوو زرو لښکرو په باره کی خبرې کوي نوزماپه فکر دغه پلټنو کسان هم پکی شميري .

ددارا پوځ دمضبوطوالي او چټکی له مخی دومره قوي و ، چې داورنګ زيب دوځ غونډې دوه درې نور پوځونه تباه کولای شول چې شميريې ايله ۳۵ نه تر ۴۰ زر پورې رسيده . بله داچه داورنګ زيب لښکريان دکال دسختی ګرمی او زده مزله اوسختو لارونه بالـکل ستړي شوي وو .

دتوپخانی شميريې ددارا په نسبت هم ډيرلږو . سره ددې ټولو د دارا دپوځ په فتحه باندی باورنه درلود. ځکه ټول پدې پوهيدل چې دلوړو اميرانو زياتره برخه دارا ته په کرکه سره ګوري. هغه عسکرچې دارا په هغو باندی اعتماد کولی شو د سليمان شکوه په پوځ کې و. پدې سبب ددارا مخلصانو په هغه جمله کی حتی په خپله شاه جهان ده ته دا اخطار ور کاوه چې دجګړې نه ډډه وکړي. شاه جهان باوجــود دخپلی کمزوری داراته دا پيشنهاد وکر چې دی به خپله دپوځ په سر کی داورنګ زيب مقابلی ته ورشی. دده ورنګ به بې شکه دسولی او د شاه جهان د ګټو لپاره زيات امکانات برابر کړی وای. ځکه چې اورنګ زيب اومراد بخش به هيڅکله ځان ته اجرأت نه وای ورکړای چې دخپل پلار په مقابل کی وجنګيږي.

بیاهم که دوی دې کارته ملاتړلی وای نو نتیجه به دهغوی مانې وه. دچا سو نو تناسب ډیرفرق درلود. ټول لوی امیران دشاه جهان دومره وفادار وو که چیرې دی‌بی داردوپه سر کی لیدلای وای بی‌شکه په ډیر قوت سره به دده په طرفداری جنګیدلی وای. حتی داورنګ‌زیب او مراد بخش د پوځ په لویو منصب‌داراو باندی
www.libtool.com.cn
شاه جهان ډیر ګران واو احترام‌یی کاوه. ځکه چی ددوی زیات شمیر د منصب له پلوه دده مرهون وواوټول پوځ په اصطلاح سره دده اولاد ګڼل کیده. داورنګ زیب او مراد بخش دپوځ په منځ کی به هیچا دا زړه‌نه‌وای کړی چی دشاه جهان په مقابل کی توره راوباسی.

ددې نه‌پرته داراته داسې مشورې ورکړای شوې: «که‌چیرې دی نه غواړې چی د دوی په خبر وعمل وکړې نو باید کم له کمه بیړه ونکړی. جنګې‌عملیات‌وځنډوی ترهغه وخته پورې چی دده زوی سلیمان شکوه راورسیږي کوم چی په ډیره بیړه سره راروان دی ترڅو د هغه سره جوړه یی. دا هم ښه مشوره وه ځکه چی شاهزاده په ټولو باندی ګران و، له بلی خوا دی فاتح راستون شو. لکه څنګه چی ما مخ کی وویل ددارا ټول وفادار عسکر د سلیمان شکوه سره وو. ولی دارانه غوښتل چی حتی یوه خبره او پیشنهاد واوری. ده یوازې دافکر کاوه چی زر جنګ شروع کړې اوپه خپله داورنګ‌زیب په‌مقابل کی وجنګیږي. ممکن داکار د ځانګړي نوم او ګټو لپاره بد نه‌وای ولې شرط دا دی که‌ده په‌خپل سرنوشت باندی کنترول درلودلای او کولای‌شوای چی په پوره بریالیتوب‌سره‌خپل پلانونه ترسره‌کړي. تاسی وګورئ دمثال په ډول دده دافکار و لار کومه‌وه. حتی ده په‌ځان باندی داقدرت نه درلود چه دخپلو افکارو څخه ځینی پټ کړي.

دارا خپل ځان ته دهغه واکمن په سترګه کتل چې شاهجهان په خپلو پنځو کې سانې او کولای شي چې دخپلې خوښې مطابق دهغه سره رفتار وکړي. دده په تصرف کې د شاهجهان ټولې خزانې او پوځونه وو کیدای شول چې سلطان شجاع په نیم
www.libtool.com.cn
مړي حساب کړي او دانوره دوه ورونه خو دده په حساب په خپله دارا ته ځانونه او خپلې کمزورې، ستړي شوي پوځونه په لاس کې ورکوي. که چېرې دې میدان وګټي دوی نه شي کولای چې دده نه ځانونه وغوروي. او دې بهرنی دارا به لاس په لاس د ټولو کارونو مطلق واکمن شي، د کومو فیصلې ته چې دې تږی ناست دی. هیڅوك به دازړه ونه کړای شي چې دده مخې ته راشي یادده نه تخت وتاج واخلي. که چېرې شاهجهان د اردو قوماندانۍ په غاړه واخلي ټول کارونه به خپله فیصله شي. ورونه خپلو صوبو ته ستانه شي شاه جهان چې مخ په جوړ یدو دی بیابه د امپراتورۍ واګې په لاس کې واخلي. لنډه داچې ټول کارونه به پخوانۍ حالت ته وګرځي. که چېرې دې (دارا) سلیمان شکوه ته انتظار و باسي ممکن ددې موقع څخه شاه جهان استفاده وکړي او دده په ضد کوم پلانونه ترتیب کړي یاممکن داورنګ زیب سره لار پیدا کړي. که چېرې هغه وخت دجنګ میدان وهم ګټي دده کار ناکامۍ به لوی نه وي په هرصورت هغه پرستیژ چې سلیمان شکوه ګټلې دی دجګړې ټول افتخار اونوم به دده (سلیمان شکوه) په نوم ختم شي. ددې نه ورسته چې دا ټول افتخار او کامیابۍ یې هم په نصیب شي خصوصاً داچې دشاهجهان په مینه او دوستي تکیه وکړي او بله داچې دامیرانو زیات شمیر دده سره خاصه علاقه لري دا ټول ممکن ددې سبب شي چې سلیمان شکوه کوم اقدام ته لاس تیر کړي. داهم باید جوت شي چې آیا سلیمان شکوه دخپل پلار په نسبت د کوم احترام او ګذشت نه هم کار اخلي که نه؟ آیا دده خودخواهي به دې کومې خواته کش کړي.

دې خيالونه دارا دې ته راکشاوه‌چې د ټولو مخلصانو او دوستانو مشورې ونه مني او خپل فکر مخ ته ولاړشي. دارا لاس په لاس اردوته دحرکت امرورکړ او خپل پلار شاه جهان ته دخدای پاماني لپاره راغی کوم‌چې داګرې په‌عسکرې چونۍ
www.libtool.com.cn
کې پروت‌وه مهربان بوډا ډېرو ژړل. زوی‌یې په غیزکې ونیوو مګر بیایې په ډېر ټینګه سره داسې وویل: « ښه دارا داچې ته‌غواړې ټول کار ونه‌ستاپه‌خوښه ترسره شي نوځه خدای دمل ولی زما خبره ټینګه واوره: که چیرې په‌جنګ کې مات‌شې بیا هیڅکله مخ راښکاره نکړې ». دې خبرو په دارا باندې‌چندان تأثیرونکړ زرووت په آس‌باندې‌سپورشو د چمبل دریاب ګودر ته چې‌داګرې‌نه‌شل‌میله فاصله‌لرې د نیولو لپاره روان شو. همدلته دارا ځان‌محکم او د دښمن دراتلو په انتظـار شـو . اما چالاکه اوباریک بینه فقیر اورنګ زیب چې‌دجاسوسانواوخبررسوونکو شیمیرېې کم نه و، دټولوحالاتو څخه‌یې ځان خبرکړ . دی پدې‌هم پوهیده چې‌دې ګودرنه پورې وتل دګران دي په‌کراره‌یې ځان تکیه کړ داییره‌یې نـه‌کوله چې هلته زرځان ورسوي . اورنګ زیب ګودرته نژدې پداسې ځای‌کې موقع ونیوله چې دهغه ځای څخه‌ددارا د کمپونه لیدل کیدل. ولې اورنګ زیب څه‌چل شروع کړ.اورنګ‌زیب دیوه باغی‌راجه شیمپت سره دخبرو ولار پیداکره. هغه ته‌یې درانه سوغاتونه اوډیرې وعدې ورکړې ، فقط پدې مقصد چې هغه اورنګ زیب تـه دخپلې خاورې نـه‌د تیریدو اجازه وروری‌چې‌زرځای ته‌ورسیږي هغه‌ځای‌ته‌چې‌ده په فکرد هغه‌ته تیریدل په آسانی‌سره امکان لری‌شیمپت اورنګ زیب ته داوعده ورکړه چې په خپله خاوره کې به یې دلارې اوځنګلونه په تریدوکې مرسته وکړی . اورنګ زیب په هغه شپه دپوځ خیمې جمع بوځه یې‌ددښمن غلولولپاره پریښوې نوریې شپه ورځ داسې په بیړه سره لاروهله توځو داراخبریده اورنګ زیب دخپل پوځ سره د دریاب څخه پورې وتلی و. دارا مجبور شوچې‌د دریاب غاړه پریږدی ټول استحکامات ترک

کړی او دښمن په تعقیب پسی روان شی. اورنګ زیب په چټک مارش دا ګرې لوري ته روان و، پدې مقصد چې دجهنا در یاب غاړې ته ځان ورسوي هلته بې تکلیفه او آرامی سره ځان محکم او دارا ته انتظار وباسي. پدې ځای کی چې کمپونه ودرول شول دا ګرې څخه پنځه میله لیرې و. پـه ووخت دا ځای پـه سمان ګرسره یاد یـده

www.libtool.com.cn

او اوسنی نوم یې فتح آباد دی. پوخه وخت ور وسته دارا هم دهمدې در یاب غاړې تـه نژدې دا ګرې او اورنګ زیب دپوځونو ترمنځ کمپونه ولګول. درې څلور ورځې پوځونه یو دبل په مقابل کی ولاړ و، جنګ ته یې لاس نه تیراوه. پدې پوځ کی شاه جهان ځوځکه دارا ته لیکونه واستول چې سلیمان شکوه رانژدې شو، دهغه انتظار باید وباسي بیره په کار نه. دهٔ دې باید اګرې ته را نژدې شي او سم موقعیت غوره کـړي او ښه استحکامات برابر کړي، تر هغه به سلیمان شکوه هم را ورسي. آماده او اپلارته دا سی ځواب ورکړ: «درې ورځی به لانه وې تیرې شوي چې دده مخ ته اورنګ زیب او مراد بخش لاس تړلي ودروم او داسی معامله به ورسره وکړم کومه چې دده (دارا) خوښه وي. دارا نور انتظار ونه یوست. فورآیي دپوځ پهدرولو پیل وکړ او جګړې ته دهغه په آماده کولو لګیاشو. (۱)

دارا امرو کړ چې ټول توپونه په اول قطار کی ودروي، یو بل په زنځیر سره وتړي، تر څو کولای شي دسپارو مخه بند کړی دتوپونوشاته یې دکوچنیو اوښانو زیات تعداد ودرول.

داوښانو په شابانډی یې مخ خواته یو دول وړه وسله وتړله. ددې وسلی لویوالی دموشکت (چکماک توپک) نه دوه واره زیات دی. (فقط لـکه زمونـږ دغوړځولو ماشینو نه چې دبار کشي بیړی په منځ کی یې تړو) سپور کولای شي چې دغـه وسله داوښ په شاد که اوتشه کړي بې لدې چې داوښ نه ځمکی ته را کوزشي. داوښانو شاته هم دموشکتونو (چکماکی توپکو) زیات شمیر ودرول شول. دار دو پاتی برخه

چې زیاتره برخه یې سپاره او تشکیلوله په توره ، غشو او کلچان(؟) سره مجهز وو. (مثل زیاتره د جنګ لپاره همدا ډول جنګي وسله استعمالوي) سپین پوسته خارجیان مسلمانان لکه: ایرانیان، ترکان، عرب او ازبکان. درانه چوپو تانو ځنځنوي وسله توره او

www.libtool.com.cn

پولو پیکاهم استعمالوي . ددې تولو لښکریانو څخه درې دستې جوړې شوې ښي جناح کلیل الله خان ته وسپارل شو، چې ددیر شو زرو مغلو قوماندانی یې په غاړه وه کلیل الله خان لوی بخشي او تاکل شو . په اصطلاح د ټولو سپارو عمومي آمرچي داعهده پخوا دانشمند خان ته چې زما آغـادی حواله وه . دانشمند خان په خپله خوښه سره ددې عهدې څخه استعفا وکړه ځکه چې په دارا باندې ښه نه لګېده سبب یې دا وچې دانشمند خان د دارا په مخ کې د ټولو نه زیات هر وخت دشاه جهان حمایه کوله . همدا وجهه وه چې دوی یې سره لرې کړل . دانشمندخان ښه پوهیده چې کـه چیرې دی په خپله استعفا ورنکړي دارا بـه یې په خپل سرله کـاره برطرف کړي .دکینې جناح قوماندانی رستم خان دهني ته چې دیر مشهور زړو امیردی دراجه چاتر یسال او راجه ارم سنګ روتلی(۳۳) په ملګرتیاورو سپارل شوه اورنګ زیب او مراد بخش هم تقریباً پدې ترتیب سره خپل پوځونه دورل .ولی دپوځ په منځ کې ځینو امیرانو چې په ښی اوکینې جناح کې عملیات اجرا کړل یوځوتوپونه یې: دمبادا لپاره پټ کړل . ځکه چې ویل کیږي دادامیر جمله له چالونو څخه و، او دابدچل هم وه . ایا نو وپوځی تاتیکونو وجود نه درلود ؟ بان یوډول بم دي چې لاسي بم ته ډیر ورته دی دابمونه یې په لکړ وپورې وتړل(۳٤) اومثاله خوانه یې په سپارو رغور ځوی. ددې بم انفلاق نـه آسـونـه ډیـر ویر یږی کله کـله یـی زخمی کوی همدا بـاید رویل شي چـې دوارد وچتکتیا زښته ډیره ده او سپاره په فـوق العاده سرعت سره غشـي ولـي یوصپور کولای شي چې دیـوه مرشکننیر ددوودرود زو په مقابل کې شپږواره پـه دښمن غشي ور وغورځوي، دسپارې اردو صفونه ډیر ټینګ او دیره علیحده قوماندان له

خواکنترول کیږی . خصوصاً هغه وخت چی سپاره تورو ته لاس تیروی . مګرپه عمومی صورت سره لکه څنګه چی وروسته به یی بیانکړم زمونږ دمجهزي اردو پښان قاطع رول نه لوبوی .

www.libtool.com.cn

کله چی ټول پوځونه یودبل په‌مقابل کی ودرول‌شول نوددوارو خواوڅخه دتوپونو باړ شروع شو . ددي نښتي زیاتره برخه دتوپونو په ډزوشروع کیږي . بیا ورپسی دغیشو ویشتل شروع شول . پدي وخت کی داسی سخته شیګره ( باران ) شروع شوه چی حتی جګړه ودرول شوه . کله چی شیګره غلي شوه نوبیاله سنګره دتوپونو ډزي پیل شوي . په‌همدغه‌وخت کی دارا په یوه‌ز بردست صیلونی پیل باندی ښکاره شو . ده امر ورکړ چی جګړه په ټولو جبهو کی شروع کړي او په خپله دسپاو ډیوي لوی دستی په منځ کي ددښمن په سپارو باندي‌وروخوځیدل.ددښمن‌سپارو په ډیره‌میړانه سره مقاومت کاوه ددارا شاو خوا ډیر کسان یی ووژل . داورنګ زیب سپارونه یوازي دداراپه دسته کی چی دهغی قوماندانی یی پخپله په غاړه اخستی وه ګډوډي راوسته ، بلکه ټول هغه سپاره چی‌په دارا پسي روان وو‌بی نظمه کړل . آما کله چی پوځ لیده چی دارا دپخواپشان په پیل باندی ناست ولی ، نه غواړي چی شاته راشي بلکه همدغه اشاره ورکوي چی ورپسی مخ په وړاندي‌رخوځیږي ، ګډوډي هم له منځه ولاړه . پخوا له هغه چی دارا دښمن ته پوره ورنږدې شي ، دتوپونو ډرهم باړ وربا ندی را خوشی شو . بیایی د ده پوځ کی لویه بی نظمي راوسته . ډیریی مجبور کړل چی عقب نشینی وکړي . ولی ددارا روحیه همغسی ټینګه وه . ځان یی کلک نیولی و ، خپل سرباران یی جنګ ته تشویقول او ټول وخت یی په لاس همدا اشاره ورکوله چی دی تعقیب کړي دارا په بیړه په‌مخ روان و ، وخت‌یی له لاسه نه ورکاوه ، دتوپونو صف یی مات کړ ، زنځیرونه یی‌وشلول ، توپونه یی له هغه نه خلاص کړل ددښمن‌په کمپ ورګډ شو ، ار بناو ، پیلاتو او هرڅه‌چی دده

په منځ کې ولاړو په ټینګه پیل وکړ . د دغه سپاه ولپاره یې چې په دې پسې روان و بهترینه لار خلاصه کړه . پدې وخت کې د دښمن سپارو سره ټه ګرمه نښته شروع شوه .
د هغه او د غه خوانه د غشیو باران شروع . په خپله دارا هم غشي ویشتل . اما که رښتیا

www.libtool.com.cn

وویل شي دې ټولو غشو کوم مهم تأثیر نه درلود . د دې په ځای چې په هدف ولګي ، لس چنده یې هوا ته الوځي یا په ځمکه کې ماتیږي .

د غشو لومړي باړنه وروسته د دښمن پوځونه سره نژدې کیږي او بالاخره خبره تورو ته ورسیده . په صفونه سره ګډیږي ، تن په تن نښته شروع شوه ، او دواړه خواوې په ـــه شدت سره جنګیږي . دارا بیا هم په خپل پیل پاندې ناست دی . ځوانان جنګ تــه تشویقوي ، چغې وهي او هرې خواته په لاس اشاره کوي ، بالاخره دی په خپلــه په دومره جدیت او زړورتوب سره پرمخ ځي چې د دښمن سپاره تمام شاته غورځوي ، مجبوروي یې چې عقب نیشني وکړي ، او منډې ته مجبور شول .

اورنګ زیب هم د هغه ځای نه لږ څه لرې په پیل پاندې سپور دی . دا لویه ګډوډي او بې نظمي یې په سترګو ولیده ، په ټوله انرژي سره یې دا کوشش کاوه چې بې نظمي ورکه او وضع برابره کړي ، آما بې فایدې . اورنګ زیب د خپلو سپارو بهترین ټولګی مخ ته کړ ، پدې هڅه چې د دارا د حملې مخنیوی وکړي . آماله لږه وروسته دا ټولګی هم عقب نشیني ته مجبور شو ، زښته ډیره ګډوډي پکې راغــله اورنګ زیب بیا هم نهایي کوشش کاوه چې د ګډوډۍ لاره بنده کړي . زه غواړم چې ستاسو توجه د اورنګ زیب زړورتوب او جدیت ته راواګرځوم ده لیدل چې د ټول پوځ په منځ کې سخته بې نظمي راغلې وه . عقب نشیني ته مجبور کړشوي وو ، د ده شاوخواته د زرو کسانو څخه زیات نه وو پاتې شوي ، تراوسه یې ځانونه کلک کړي وو . (ځینو مانه ویل چې د اورنګ زیب شاوخوا د پنځو سو کسانو څخه زیات نه وو ) ده دارا هم لیده چې باوجود د لارې د مشکلاتو ، او لوږو او ... او په ځینو ځایو کې

لوی کنډي ورته مخ‌ته وې مگر بیاهم کوشش کوي چې په ده باندې ورشي . اورنګ زیب
داټول حالات لیدل ولې بیاهم ده خپله میړانه له لاسه ورنکړه . د ترس ، تېښتې ، عقب
نشینۍ هیڅ فکر ورسره نه و . ټینګ ولاړ و ، د خپله عسکرلو بو آمرینو چې ده ګرد
www.libtool.com.cn
چاپېره ولاړ وو نوموړه یې .پرله‌پسې په‌خوله اخستل . او داسې چیغې یې هغوی‌ته وهلې :
« دلیران » دې ټکې ــ دامعنې ورکوله چې هغوي ته به یې ویل « زړورشئ » اي
زما مهربانو ملګرو ــ « خدای خوشته دی » منده څه ګټه کوي آیا تاسې نه‌وینئ چې
زمونږ د کن چیرې دی؟ ( خدای خوشته خدای‌خوشته ! ) ددې لپاره چې ده په‌جدیت
کښې څوک شک ونکړي چې دی ( اورنګ زیب ) به وتښتي ده د ټولو په مخ کې
داامرورکړچې فورایې دپیل پښو ته دربل ورواچوي . پدې اثنا کې دارا په ربښتیا
سره کوشش کاوه چې مستقیماً په اورنګ زیب ورشي . اګرچې اورنګ زیب
لاتر اوسه پوره لیرې و ، دبلې خوانه دلارې مشکلات دداراامانع کیدل .غونډۍ او
درې لاتر اوسه دسپارو څخه ډکې وې اګرچې دپوره بې نظمۍ حالت کې وې ،
ولې بیاهم دوی کولای شول چې تر یوې ښې اندازې پورې مقاومت وکړی . ولې
بــاوجــود ددې کــه داراخپلو عمــلیاتــوتــه دوام ورکــړی وای ، کولای‌یې
شول چې ځان ته فتحه تامــین کــړي عاقــبت پــه خــپله ګــټه حــل کــړي او
دارا به‌بې شکه په‌ټولو موانعو بریالی شوی وای. اورنګ زیب‌چې ګرد چاپېره‌یې
دومره زیات شمیر سربازان‌نه وو پاتې شوی ، هیڅکله به‌یې داقدرت نه‌وای پیداکړی
چې د دارانه ماتیدونکی اردو فشاروزغمی. امادارا‌ونه‌کولای‌شول‌چې‌دخپلې برترۍ
نه استفاده وکړي . وګوري کوم شی د دارا د خوشبختي مانع اوداورنګ‌زیب
دخلاصون‌سبب شو .

دارا ولیدل‌چې ده پوځ په کیڼ جناح کې لویه ګډوډي راغله ، ده ته داخبر
ورکړ شوچې رستم‌خان اوراجه چاتر بسال ووژل شول ، رام‌سنګ روتلې ډیرپه مخ

ولاړ، ددښمن صفونه یې وشلول ، ځان ته یې لو یه لار خلاصه کړه مګر اوس له هری خوا محاصره شوی او په رتبه خطر کی دی. ټولو پښو دارا مجبور کړ چې دخپل نیت یعني په اورنګ زیب باندې دمخامخ ورتګ نه لاس په لاس صرف نظر وکړي. دی کیڼ جناح ته راستون سخته نښته شروع شوه . ولی په نتیجه کښی دارا بریالی شو ، ټول یې دخپل مخ ته وغورځول او په دښمن یې پوره پریشانی راوسته. بیاهم پدې وخت کی ده پرله پسی څه ناڅه مقاومت لیده کوم چی دده دځنډیدو سبب کیده. رام سنګ روتلی په فوق العاده میړانه سره جنګیده. ده مرادبخش زخمی کړ او هغه ته دومره نژدی ورغی چي دده دپیل دتنګو نو په پری کړلو یی پیل وکړه چی مرابخش ځمکی ته راوغورځوي. اما دده شجاعت او بخت رام سنګ ته داموقع ورنکړه چې خپل نیت ترسره کړی. انسان به هیځکله په دومره زړه ورتوب سره نه وي جنګیدلی لکه چی مرادبخش په دغه ورځ جنګیده. زخم له یوې خوا رام سنګ او راجپوتانو له خوا فشار دبلی خواچې په جنون آمیزه صورت سره ئې په ده باندې حملی کولی ، بیاهم ددې باعث نه شوې چی مراد بخش وویروي ، یایی یو قدم عقب نیشنی ته مجبور کړی. ګوره بخت ته چی دمراد بخش سره څنګه مرسته کوي اودی ددې موقع څخه څنګه استفاده کوي. مرادبخش اګرچی زیات پام دیته کاوه چې خپل آته کلن زوی چی په زین ورسره ناست و، په دال پټ کړی ولی بیاهم په همدې موقع یې رام سنګ غشی ته برابر کړ په ځمکه ئې راچپه او مړیی کړ .

داراته ډیر زر دا خبرهم ورسیده ، مګر په همدغه وخت کی ده ته خبر ورسول شوچې مراد بخش په ډیر خطر کی دی. راجپوتان په رتبه جوش راغلی دي لکه لیوان جنګیزي چې دخپل بادار راجه قصاص واخلی. دارا، اګرچې پوهیده چې له هری خوا مرادبخش ته ورتګ دلارې له کبله ډیر مشکل دی. بل په لاره کی پرله پسی واره وړاه ټولګی مخ ته ورځي ، کوم چی دده په مقابل کی مقاومت کاوه باوجود ددی



www.libtool.com.cn

موانعو دافیصلهٔیی وکړه چې په مرادبخش ورشي البته دا تر ټولو ښه پلان و. خپله غلطي یې په خپله اصلاح کړه چې اول یې په اورنګزیب حمله ونکړه. مګر د دې بد قسمت هغه رټ سخت خیانت ته ګوري چې انسان به یې تصور ونکړای شي او یا به یې مثال ډیر لږ پیداشي. دا خیانت د دارا دمرګ او کلي تباهي علت شو.
www.libtool.com.cn

په همدغه وخت کې چې دارا کیڼ جناح کې په ډیره سختۍ او کامیابۍ سره جنګیده، کلیل الله خان چې دښي جناح د ۳۰ زرو سپارو مغلو قوماندان او یوازې ئې کولای شول چې داورنګزیب ټول پوځ پوپنا کړي، لیرې ولاړو، لاسونه ئې د صلیب غوندې په سینه ایښې و، ته به وای چې ده په جګړه کې هیڅ برخه نه ده اخیستې هیڅ سپاره ته ئې دا اجازه نه ورکوله چې حتی یوغشی په دښمن ورشي کړي. دا ټول په دې بهانه چې دوی دذخیرې کور پوس تشکیلوي، په دې نوم چې ده ته امر شوی دی چې د روستیني ضرورت په وخت کې جګړې ته ور داخل شي. آما حقیقي علت چې ده زړه کې پټ ساته هغه داوچې دا را یووخت پخوا کلیل الله خان سپک کړی و او امریې ورکړی ووچې دی څو پښې په سرووهي دده خیانت به بیاهم دومره رول نه لوبا وه که چیرې دغه پست په دې کفایت کړي واي چې خپل قهرتش په نه ګدون سره محدود کړي. دارا به سره د دې هم د جګړې نه فاتح راوتلی واي. آما دده دقصاص تنده تر کومه پورې ورسیده. دی د خپل محاز نه څنګ ته شواو د یوه محدودشمیر په ملګرتیا په آخري قوت د دارا خواته ځان نږدې کړ. په همدې وخت کې کله چې دارا په مرادبخش باندې حملې ته ځان برابر وه هغه پهلوړ آواز سره چیغه کړه. ددوی ترمنځ فاصله دسرې دآواز په اندازه وه. کلیل الله خان پهلوړ آوازسره وویل: «مبارک باد» (حضرت سلامت باد) ستاسو اعلیحضرت دې جوړ اوسالم وي. تاسو فتحه وګټله. «الحمدلله!» او خدایا! تاسو څه کوئ دارا په پیل باندې سپور و. کلیل الله خان په چیغو کې خبروته داسې

دوام ورکړ : «آیا دا کفایت نه کوي چې تاسو دومره زیات وخت خپل ژوند خطر سره مخامخ کړ خدای نه خواسته که چیرې یوه غیشو څخه ستا و په تټر او یا سناسو په وجود لګیدلی وای مونږ به اوس څه کولای . آیا پدې پوځ کې خاینان لږ دي څه د خدای په نوم سره پیل نه راکوز شه په آس سپور شه تا سو خوویني چې د دې فراریانو خونش تعقیب په کار دی داسې یې نه پریږد وچې په آسانی سره ځانونه خلاص کړي » که چیرې دارا شعور او ځیر کتوب درلودلای وار له واره به یې فریب کشف کړی وای . فوراً به پوه شوی وای چې که فرضاً دپیل څخه کوزشي نتیجه به څه وي ؟ ټول پوځ دده نه سترګی نه اخلي ده به لاس په لاس امر کړی وای چې ددې جاسوس خاین سر ووهی . ده هغه وخت هر څه کولای شول؟ مګر مهربان شاهزاده جاسوس ته تسلیم شو او ځان یې په خپل لاس په خوړ والفاظو روند کړ . ده هغې مشورې ته غوږ ونیوچې دصمیمت او حقیقت یوه ذره پکې نه وه .د پیل نه راکوز په آس سپور شو ، او خیانت پوه شو ، او په خپله غلطی یې اعتراف وکړ . داراها خوا د یخوا ګوري ، لټوی یې پوښتنه یې کوي ، چې هغه خایین څه شو؟ چیرې ولاړه دی غواړي چې کلیل الله خان ووژنی، ولی خایین اوس لیرې دی فرصت له لاسه وتلی دی . تاسو به باور وکړئ که نه ، کله چې دار دوله سترګونه دارا ورک شو کوم چې په پیل باندی ناست و ، ټول پدی فکر چې دا اووژل شو داسې هیبت په اردو کې ګډ شو چې هر یوه فقط دا فکر کاوه چې څنګه ځان خلاص کړي او داورنګ زیب دلاس نه ځان بچ کړي . نور به سړی څه ووایی. ټول تښتی یوې خوا بلې خوا خپریږی دا څنګه آنی غریب وعجیب تغییر؟ هغه څو ک چې همدا څو دقیقی دمخه غالب و اوس مغلوب ښکاري اوتش دځان خلاصولو په غرض د جګړې د ګړ نه ځان باسي. نیتجه دا کیږي چې اورنګ زیب تش دپنځلسو دقیقو لپاره زیات په پیل باندی ځان تکیه کړ او دهندوستان تاج آخلی. وای دا چې یوه لحظه د

www.libtool.com.cn

مخه پخوا له هغه چې لازم و دپیل څخه کوز شو دتخت نه غور ځول کیږي اونړی دبدبخترینو شاهزادگانو څخه ګرځی . قسمت خپل کار و کړ چې دجګړې مخه او دلرې امپراتــوری آینده یې په یوې جزیي واقعې پورې وتړله .

www.libtool.com.cn

دغه بې اندازې لوی او تعجب اور پوځونه کله کله انسان په تعجب کې اچوي آما که پهدوی کې ویره او ترس غلبه وکړي آیا کیدای شي چې ددوی دهشت مخه ونیول شي؟ دأبولوی دریاب چې بندمات کړی حتماً به د شاو چوا توول پتې لاندې کړی . دمخ نیوی چاره یې نشته بې لدې ددې پوځونو لدنــه چې دقوي نظم او کنترول لاندې نه وی زیا تره دمیزو رموته ورته وی . زه زیاتره فــکر کوم چې ګ، چیرې پــدې هیواد کې دفلوراند دپخوانو پوځونو څخه فقط ۲۵ زره کسه دشاهزاده کوندی یاد تیورینا (۳۵) صاحب ترقوماندانۍ لاندې پیداشوی وای دوی به دغه توول پوځونه مات کړي وای با وجود ددې چې شمیر کې زښت ډیر دی.

لدې کبله زه اوس دهغو لس زرو یونانیانو په نکل کې دتعجب او نه منلو هیڅ شی نه وینم. همدا دول هغه څه چې دیونانی سکندر د ( ۵۰ ) زرو سرباز انو او ددار یاد ۷سوو زرو عسکرو ترمنځ پیښ شول هم دتعجب ورنه دی کوشش وکړئ چې لومړی فشار وزغمی ه داکار به ستاسو دپاره بالکل مشکل نه وی وروسته به دوی بلــکل هګ پګ وی . یادا چې ددوی دپوځ پــه یوه برخه باندې حمله وکــړئ لکه څنګه چې داکار یونانی سکندر وکړ. که چیری داحمله دوی ته مشکل وی، نور نو یقین وکړئ چې خبره فیصله ده پاتې دهشت وهلې به تیښتې ته مخه کوی

اورنګ زیب چې ددې نا څاپی بریالتوب نه پوره زړ ورشوی و. تــو له میرانه، چالاکی ، نرمی او داسې نور وسایل یې ددې لپاره په کار راچول چې ددې مساعدې موقع نه لاس ته راغلي توول چانسو نه ځان ته راو ګرځوی کلیل خان منلی ده ته راغی دخپل ځان او پوځ خدمتونه یې هغه ته غرض کړل اورنګزیب کلیل الله خان

ته ديركوږودانې وواېه اوهغه ته‌يې بې شماره وعدې ورکړې مګرددې سره ديوه چالاک انسان په‌صفت اورنګ زيب دهغه پيشنهاد قبول نکړ.لاس په لاس‌يې دځان سره مرادبخش ته وروست . تاسې فکرکولای شئ چې مراد بخش کليل الله خان په څومره خوشحالې سره په خلاصه غيږ ومانه .اورنګ زيب مراد بخش ته دده دهغې بې سارې ميړانې اوشجاعت په وجهې چې جګړې په وخت کې يې ښکاره کړې‌وو ، مبارکي ورکړه تولو فتحه يې دمراد بخش په نوم ختموله دکليل الله‌خان په منځ کې اورنګ زيب مرادبخش‌ته‌دلوی امپراتور خطاب کاوه اوځانيې داسې ښکاره کاوه لکه دمراد بخش تابع او وفاداره مزدور. په عين حال کې‌اورنګ زيب شپه ورځ کار کوی، ټولوامپراتوته ليکونه استوی نن يوه سباته بله، ځان ته تکياوی برابر وی .داورنګ زيب ماماشايسته خان چې يووخت دارا توهين کړی واو دهغه نه پخلا کيدونکې دښمن و ، هم‌دخپل‌خوريې لپاره لارې چارې برابروی څنګه چې دی په‌ټول هندوستان کې ادبی باريکی کی‌جوت سړی و ، نوپه خلپودسيسوسره يې د اورنګ‌زيب لپاره ديرې لارې پيداکړې ده‌کوشش کاوه چې په‌هرځای کې د دارا په مقابل کې دسيسه جوړه کړی .مګرداباید وويل شي چې داورنګ‌زيب چالاکې تظاهر اوغوړ ووعدوهم مثال نه درلود چاته وعدې ورکوی چاته سوغاتونه هرڅه چې‌وايي‌دهرشې په باره کې چې‌خبرې کوي‌داټولې نه دځانله خوانه‌بلکه دمراد بخش په نوم کوی.دې‌غوارې‌فقيرانه ژوند ته دوام ورکړی کوم کاوونه چې‌ا رنګ زيب کوی هغه دمراد بخش دامر په اساس دی . دی دځانه اختيارنلری‌څکه مراد بخش غواړې چې امپراتورشي .

اوس به راشو داراکم بخت حال به وګورو هغه داګرې خواته دنا اميدی په حالت کې مندې وهی دايې هم نه شوای کولای چه شاه جهان ته ورشي . دشاه جهاز تينګی خبرې يې

په یادوی چې دجګړې دشروع نه یې پخوا داسې ورته ویلي و: «دارا! دا په یاد ولره که چیرې ماتې وکړې ګوره چې ماته را نشې.» مهربان بوډا بیا هم خپل وفادار خواجه پټ دارا ته ورواستوه چې هغه ته داد ورکړي او پدې متیقن کړي چې دارا د پخوا په شان په شاه جهان ګران دی. دده له غمه سره پوره همدردي ښکاره کوي او دا هم ورته ووایې چې د نا امید کیدو وخت تر اوسه لا لیرې دی. ځکه چې دی د سلیمان شکوه سره ښه اردو لری. دی باید ډیلی ته ولاړ شي، هلته به سرکاری طبیلو کې په زرګونو ښه آسونه پیدا کړي. هلته به د عسکری چوڼی ګورته امر ورکړای شي چې ده ته (دارا) ته پیسې او پیلان ورکړی دارا باید حتی الامکان دا کوشش ونکړي چې چیرې لیرې لاړ شي. شاه جهان به دده په پرله پسې لیکونه استوی. دی (شاه جهان) کولای شي چې کارونو ته سر و صورت ورکړی او اورنګ زیب په سزا ورسوی.

ماته خاسکو ویل چې دارا پدغه وخت کې دومره پریشان او نا امیده وه چې ده حتی ونه کولای شول خپل پلار شاه جهان ته دهغه دخواجه په لاس یو ټکی ځواب واستوی، او نه یې دا کولای شول چې خپل کوم نماینده شاه جهان تـه واستوی. تش یې بیګم صاحب ته څو کسه سپاره ولیږل او په خپله په نیمه شپه کې دخپلې ښځې لونړو او لمسې (سپاه شکوه) او تقریباً درې څلور و نورو کسانو په بدرګه روان شو، دارا به دډیلې په لار چې هلته روان وپریږدو، دیته به راشو چې د اورنګ زیب کارونه په اګره کې ووینو چې هلته په څومره چالاکۍ سره چارې پرمخ بیایې. اورنګ زیب پدې باندې ښه پوهیده چې دارا او دده طرفدارانو لا تر اوسه د سلیمان شکوه په فاتحه اردو باندې پوره زړه تړلی دی نو لدې کبله پدې کوشش کې شو چې دا اردو ځان ته را وګرځوی یا یې کم له کمه د فعالیت نه وباسي. ددې مطلب لپاره اورنګ زیب جی سنګ او دلیل خان ته پرله پسې خطونه استوی او پدې یې متقینوی چې ددارا طرفدارانو اوس هیڅ تکیه نشته دارا جګړه بایلوده، ټولو په میدان

خوشی کړ، یوازې بې له پوځه ډیلي ته وتښتید . ولی بیاهم نه شی کولای چې دده اورنګ زیب دلاس نه ځان وغړوی . هرلوري ته یې امرونه استولی دی چې هغه ونیسي . دشاه جهان په هکله دومره باید وویل شی چې دجوړ تیایې هیڅ هیله نشته . اورنګ زیب دوی ته داپیشنهاد کوی چې په جدی توګه فکر وکړی چې څنګه مخ ته ګام واخلي . کهچیرې دوی دهوښیار نو پشان‌غواړی چې داورنګ زیب په نیکمرغی پسی لاړشی اودده رښتینی ملګری شی نوبه سلیمان شکوه ونیسي او هغه ته به یې راولي .

جي سنګ په رتو مشکلاتو کي بندپاتی شوی و . دی نه پوهیده څه وکړی . لاتراوسه د دارا او شاه جهان نه سخت ویریده . اردې ته هم رټ ویریده چې دشاهزاده په وینو لاسونه سره کړی . پدې هم ښه پوهیده چې وړاندې وی یا وروسته ددې عمل پوښتنه به دده نه کیږی . حتی هغه اورنګ زیب چې اوس دا مشوره ورکوی په همدې کار به یې ورڅ وربده کړی . ددې نه پرته جی سنګ پوهیده چې سلیمان شکوه رټ زړوردی دا اجازه به چاته ورنکړی چې په ده لاسونه کیږدی مرګ به غوره کړی نه بند .

دادی وبه ګورو چې بالاخره دلیل‌خان سره جی سنګ چې دده ډیر نږدې ملګری او دوست وڅنګه مشوره وکړه . دواړو په خپل منځ کی قسمو نه وخوړل چې یوبل ته به هیڅکاله خیانت ونکړی بیانو مخامخ دسلیمان شکوه خیمې تــه چــی هلته دجــی سنګ پــه انتــظار ناست و او څو واره یې په ده پسې سړي ورلیږلی وو، جی سنګ ورروان شو . سلیمان شکوه دخپل پــلار داراشکوه له شکست نه خبر شوی وه، جی‌سنګ‌سلیمان‌شکوه ته‌په ډاګه‌داورنګ زیب دمکتو بونو په باره کي‌وویل او هغه یې ټول ورښکاره کړل په کومو کی چې دجی‌سنګ نه دسلیمان شکوه دنیولو خواهش کیږي او که نه عاقبت به‌یی په خطر کی وي .راجه

دسلیمان شکوه توجه دیته راوړ ګرځوله چی اوس پدې شرایطو کی پــه دلیل خــان داودخان اوهمدا ډول دپوځ په بل سري باندی اعتماد په کار نه دي . ځکه ددې ډول اعتماد لپاره تضمین په منځ کی نشته . دی (جي سنګ) دملګري پشان دامشوره ور کوي چی سلیمان شکوه زر تر ژره دسرینګر غرونو ته ځان ورسوي او داکار به دخطر نه دو تو لپاره ښه چاره وي. دهغه هیواد راجه په داسی ځای کی واقع دی چی دښمن ورتګ امکان نلري . په هغه ځای کی به ده ته داورنګ زیب نه هیڅ ډول خطرونه رسیږي. دهغه ځای هیواد راجه به دي په خلاصه غیږ استقبال کړي وروسته به وایل شی چی کارونه څه ډول شکل غوره کوي . دهغه ځای دغرونو څخه هر وخت چی لازمه وګڼل شی په دښمن باندې راکوزیدای شی .

ځلمی شاهزاده ده له خبرو پوه شو چی سر له اوسه په راجه باندی باید اعتماد ونکړي او دخطر سره مخامخ دی . سلیمان شکوه پوهیده چی دلیل خان په کلی طور سره راجه ته تسلیم دی ده ته څرګنده شوه چی اوس مجبور دی دامشوره ومني . بنا پدې شاهزاده لاس په لاس امر وکړ چی د ده خزانه دغرونو خواته پــه لارې حرکت وکړي؛ ځینې زیاتو وفادارو کسانو لکه منصبدارانو، سیدانو اونورو داخپله وظیفه وګڼله چی په سلیمان شکوه پسی روان شی نور پاتی کسان چه ددې پیښی نه په تعجب کی وو ، نه پوهیدل چی کوم لوري ته ولاړ شي هغه راجه سره پاتی شول .

اما دټولونه لویه پستي اودانسانیت نه لري بی رحمی داوه چی دغه قوي راجه او دلیل خان دخپلی خزانه په دوی پسی سړي ولیږل چی دسلیمان شکوه په هغه لــږ ټولګي باندي حمله وکړي . دنورو شیانو په جمله کی یی دسلیمان شکوه پیل هــم ونیو چی په طلایي روپیو باندی بار و . دې حملو دسلیمان شکوه په هغه کوچني ټولګی کی چی په ده پسی روان وسخته ګډوډي راوسته . داکار ددې سبب شو چی ځینو کسانو شاهزاده په میدان خرشی پریښود . بیر ته راوګرځیدل او هم یی دشاږخــوا



www.libtool.com.cn

بز گرانو ته داجرائت ورکړ چې په سلیمان شکوه حملې شروع کړي . کالي تـرې چور کړي اوځینی ووژني .

ددې شاوخوا حملو سره سره سلیمان شکوه وکولای شول چې دخپلې ښځې www.libtool.com.cn اوماشومانو سره غرونو ته ځان ورسوي دسرینگر راجه په ډیره‌نرمی او ټولومعمولو احترامونو سره سلیمان شکوه استقبال کړ اودا ډاډیې ورکړ چې شاهزاده دلته‌پداسی آمان کی دی لکه دی چی ددې ځای واکداروي . دی به دشاهزاده‌حمایه‌وکړي او هم به دخپل طاقت مطابق دهغه سره مرسته وکړي ( ۳٦ )

پدې وخت کی په اگره کی خه پیښی وشوې .

دسمان گرنیتی نه درې ځلور ورځی وروسته اورنگ زیب دمراد بخش‌په ملگرتیا دواړه مخامخ دښاردروازې ته چی باغ کی واقع وه ور روان شول . دغه ځای دعسکري چوڼی نه تقریبا دیوه میل په اندازه لرې دی . دهغه ځای نه‌اورنگ زیب یوچالاك خواجه چی په هغه با ندی یی نسبت نوروته زیات‌باور درلودشاه‌جهان ته‌وراستو وچی هغه‌ته داورنگ زیب احترامونه ورسوي اوورته عرض کړي چی‌دی خپل پلار شاه‌جهان ته وفادار اومطیع دی اوضمنا داهم ورته ووایی چی پیښبو شوو واقعو باندې رڼ خپه دی . د دارا تو طیئو دی مجبور کړ چی خبره دې ځـای ته ورسوي . او داچې ستاسو اعلیحضرت د روغتیاښه زیری ماته‌راورسـیدزه یې اندازې نه زیات‌خوشحاله کړم . دی (اورنگ زیب )تش ددې لپاره راغلی دی چی د شاه جهان څخه هدایات واخلي او بس :

شاه جهان د اورنگ زیب د خواجه په مخ کی دخپل زوي اورنگ زیب د رفتار او دده دمتابعت په نسبت زیاته خوښی ښکاره کړه . اگرچی دی په ټوله معنی پوهیده چی کار بالکل بل‌شکل غوره کړی دی. شاه جهان ته‌د اورنگ زیب چالاکی او مرموز خصلت او هم دهغه دتاج وتخت پتېه ارزو ښه څرگنده وه . شاه جهان

پوهیده چې باید هیڅکله دده په غوږ وخبرو باور ونکړي ولې باوجود ددې ، ده په خپله ځان غلولو له ورکړ . ددې په ځای چې په ماهرانه ډول په کارلاس پورې کړې دخپل نفوذ او سلطنت نه استفاده وکړي په هر ځای کی خلکو ته ځان وښیـــي او په ټولو ښاروکی وگرځي ټول امیران جمع کړي . (اوتر اوسه وخت له وخته نه و
www.libtool.com.cn
تیر شوی ) شاه جهان کوښښ کوي چې داورنگ زیب نه په چالاکی کی مخ ته شی کوم چې دهرې شیطانی ماستړ وهغه په لومه کی بند کړي ، په کومه کی چې وروسته په خپله خښیږي . دی او رنگ زیب ته خواجه ورلیږي اودهغه په خوله دا خبرې ورته کوي چې شاه جهان په ټوله معنی ددارا رفتار اوحرکت وینی او د هغه نالایقت هم ورته معلوم دی ، آما د اورنگ زیب په هکله هر وخت خوشبین دی او دی باید د پلار په مینه اوعشق کی شک رانه وړي. په پای کی شاه جهان خواهش ترخواهش کوي چې اورنگ زیب په ډیره لنډه موده کی خپل پلار شاه جهان ته ورشی ، ددې لپاره چې دموجوده بی نظمی او گډوډی دلیرې کولو په باره کی دهغه سره خبرې وکړي او هم د ده دلیدورت تږی دی چې په مخ یی ښکل کړي .

اورنگ زیب هم دخپلی خوانه پدې ښه پوهیده چې دشاه جهان په خبرو باید باور ونکړي . خصوصا ده ته دا ښه معلومه وه چې دده سرسخته دښمنه بیگم صاحب شپه ورځ دشاه جهان سره په څنگ کی ده او په ده باندې بی شکه تاثیر لري . اورنگ زیب ویریده چې که چیرې چو نی ته ورننوځی هلته په ونیول شی او په نتیجه کی به ټول کارونه دده دهیلی او توقع عکس رابرسیره شی . ویل کیږي چې همدا ډول پلان جوړ شوی و او ددې مقصد لپاره چاغی چاغی تا تارې مجهزې شـوې وې کومی چې په حرم سرای کی خدمت کوي . دغه تاتارې باید په اورنگ زیب باندی ورغورځیدلی وای په مجرد ددې چې دی ور داخل شوی وای .

اصلي خبره چې هر ډول وي وي به ، مګر اورنګ زیب دانه غوښتل چې خپل ژوند په خطر کې واچوي . ده په عین وخت کې دا آوازه خپره کړه چې نن یا سبا به شاه جهان ته ورشي . آما کله چې به تیاکلي ورځ راتلله هغه به یې شاته غور ځوله وخت یې ځنډاوه او په دا پوهېدل ګران و چې اورنګ زیب کله شاه جهان ته ورځي.

www.libtool.com.cn

اورنګ زیب دپخوا پشان . پټو تپوطیئو و ته دوام ورکاوه او دپوهیو امیرانو نظریې ځان ته معلومولې . بالاخره کله چې یې دخپلو پلانو نو لپاره ټول ضــروري وسایل تیار کړل ټول خلک په ناڅاپي ډول خبر شول چې اورنګ زیب خپل مشر زوي سلطان محمود شاه جهان ته دخبرور کولو په نوم چوني ته ور واستوه . سلطان په ډیر زړور توب او تشبشکارانه ډول په هغه پیره باندې چې په دروازه کې د رول شوي وه ورو غور ځیده ، په جرائت سره یې هغوي یوه کونج ته کړل ځان ته ئي لار خلاصه کړه. پدې وخت کې هغه زیات شمیر خالک چې مخ کې هلته تیار درول شوي وو دچوني منځ ته ور ننوتل . پدې ترتیب سره یې دچوني دیوالونه په خپل کنترول کې راوستل . دې کار هیڅوك دومره ا یان نکړل لکه پخپله شاه جهان. ځکه دی پوه شو چې پخپله لومه کې ګیر شو ، کومه چې داورنګ زیب لپا ره یې اچولې وه. ده ته جوته شوه چې په خپله بندي او اورنګ زیب چوني محاصره کړه .

وائي چې شاه جهان دسلطان محمود دنظرې معلومولو لپاره فوراً سړی ور واستول او په قرآن یې قسم وخوړ چې که چیرې دی (سلطان محمود) دشاه جهان سره وفادار پاتې شي تاج وتخت به ورکړي. سلطان محمود یې لاس په لاس دننه خپل استوګنځي ته راوباله او پدې یې داډه کاوه چې موقع له لاسه ونه باسي. پدې ترتیب سره کولای شي چې هم دخدای رضا حاصله او هم ابدي افتخار ځان ته وګټي. تر ابده پورې به خلك په خولو کې داخبره ګرځوي چې سلطان محمود خپل نیکه شاه جهان له بنده خلاص کړ. رښتیا هم که چیرې سلطان محــمود دا زړ ورتــوب

کړی وای، شاه جهان به بېرته راوتلی وای خلکوته به یې ځان ورښودلی او جنګ ته به ئې لاس تیر کړی وای. ټول بانفوذه امیران به بې شکه په ده پسې روان شوی وای. اورنګ زیب به داجرئت نه وای پیداکړی چې مستقیماً دخپل پلار په مقابل کې وجنګیږي. پرته لدینه هغه به داخطر احساس کړی وای چې ممکن نه تنها لوی امیران حتی مرادبخش به یې ملاتړ ونکړي.
www.libtool.com.cn

دشاه جهان تر ټولو لویه سهوه پدې کې وه چې د داراله ماتې او تیښتې نه وروسته دی دچونې خخه چې هلته دبندي پشان پروت وونه ووت. آما داسې کسان ما ولیدل چې هغوي دشاه جهان داکار معقول باله. داسوال دسیاسیو نوپه منځ کې دتود بحث لاندې نیول شوی و. زیاترو دوړاندې نظریې طرفداري کوله. دمثال په توګه داسې ویل کیدل: دتعجب خبره داده چې تقریباً هیڅکله څوك پیښې هغه دول نه مطالعه کوي لکه څنګه چې هغه واقعیت لري. کله کله زیات بې معنی او چټې اقدامونه په کامیابۍ سره ختمیږي نو لدې وجهې نه ټول هغه تائیدوي. که چیرې شاه جهان موقع موندلی وای چې خپل پلانونه ترسره کړي نو ټولو به دده په جهان کې دلومړي لمبر هوښیار اوزبردست سیاست مدار نو. ورکوه آماداچې شاه جهان اوس په بند کې ولوید، نو دمهربان بوډانوم ورکول کیږي او بیاورپسې ویل کیږی چې دبیګم صاحب یعنې هغې ښځې لاس ته ئې ځان تسلیم کړی ؤ چې دخود خواهۍ او هوس نه ئې سترګی ړندې شوې وې.

بیګم صاحب پدې فکرچې اورنګ زیب به شاه جهان ته ورشي دهغه سره به وګوري. داپدې معنی چې مرغۍ به پخپله پنجرې ته ورننوځي. یاداچې اورنګزیب به کم له کمه هیڅکله داکوښښ ونکړي چې چونې ونیسي او حتی داقدرت به هم پیدا نکړي چې هغه محاصره کړي.

دې ډول کسانو په کلــکه سره داخبره تایدوله چې تر ټولو ښتې غلطـــي داده
چې سلطان محمود ونه کولای شول ددې طلایي موقع څخه استفاده وکړي اوددې
نیکمرغه او نادره عمل په مرسته ځان ته تاج وتخت تضمین کړي. ددې په ځان چې
www.libtool.com.cn
وروسته ګوالیار ته منده واخلي او هلته مړشي. لازمه خو داده چې ده دیوه لوي حاکم
پشان دقانون او عدالت په نوم خپل نیکه شاه جهان ازاد کړی وای .

په هرصورت خبره چې هرډول وي، مګر سلطان محمود ( ممکن دی لدینــه
ویریدلی وي چې شاه جهان به یې غلط کړي او که دننه ورشي په خپله به په لومه کې
ولویږي، یا داچې داجرئت یې ونکړ چې دخپل پلار اورنګ زیب اعتمــاد په ځان
باندي سات کړي) حتی ونه غوښتل چې ده ته دوړاندې شو و پیشنهادونو په باره کې
یوه دقیقه غور وکړي، اویاهغه واوري. سلطان محمود دشاه جهان ارامګاه ته دننوتو نه
انکار وکړ، په ډیره سره وضع یې ځواب ورکړ چې ده ته دخپل پلار اورنګ زیب
له خوا دا اجازه نه ده ورکړ شوي چې شاه جهان ته دننه ورشي. دی باید دچا و نی
دټولو کونجیو سره اورنګ زیب ته ورستون شي . دا ددې لپاره چې پلار مې په تمامه
معنی بې خطره دلته راشي او داعلیحضرت پښې ښکل کړي . تقریباً دوه ورځې تیرې
شوې ولې شاه جهان دافیصله نه شو ای کولای چې کونجي سلطان محمود ته ورکړي و،
دخپلو نفرو سره یوځای خلك په پیره ولاړ وړ له پسې خواره واره کیږي او نــورنو په
هیچاتکیه نه شي کولای، هغه وخت یې سلطان محمود ته کونجي ورکړي اوامرئې
ورته وکړ چې اورنګ زیب ته ئې ور ورسوي چې اوس دشاه جهان لیدوته راشي.
ځکــه دی غواړي چې ځنې زښت ډیر مهم شیان اورنګ زیب تــه ورایــــی . آمــا
شاه جهان په خپله ښه پــو هیـــده چې اورنګ زیب دومـــره احمــق نـــه دی چې
دا ډول نــه بــخښونــکــی غلطــی وکــړی . بــرعــکس اورنګــ زیــب دا
وخت خپل یوخواجه دچوني قوماندان تعین کړ اوهغه لاس په لاس شاه جهان بیګم

صاحب او خونوره ښځې دهغه چوني په‌یوه داسې لیرې کونج کې بندیان کړل چې دخو در وازو څخه لارور تیریده او هلته دوی دچاسره نه‌خبرې کولای‌شوې‌او نه‌یې چاته څه لیکلای شول حتی دخپلې کوټې څخه بې اجازې نه‌شول وتلای.

www.libtool.com.cn

پدې وخت کې اورنګ‌زیب شاه جهان ته یوه خط ولیکه. مخ کې لدینه چې دهغه سرو ترې په مکتوب کښې اورنګ زیب ته په سخته وچه لهجه سره داسې‌ولیکل «د ټولو اسنادو له مخې چې ماته څرګند دي، باوجود دهغه لوې اعتماد او احترام په اساس چې شاه جهان یې اورنګ زیب ته کوي او داراته برعکس په رټ نفـرت ګوري بیاهم ما داراته په طلايي روپیو دوه بارشوي پیلان ور واستول چې دهغه په مرسته جنګ له سره شروع کړي. که رښتیا وویل‌شي نو دارا شاه‌جهان دآزادي‌نه بې برخې کړنه اورنګ‌زیب. شاه جهان باید دهغه دارا څخه‌خوابدې وي چې‌ټولو بد بختیو اساس شو. که چیرې دارانه رای نو اورنګ زیب به په هغه لومړی ورځ شاه جهان ته حاضر شوی ولی. ټول هغه شیان چې په حقیقت کې‌دیوه‌محترم او ګران زوی له پلار نه‌غوارې‌هغه به‌یې په‌ځای کړی وای. اورنګ زیب دا زاری کوي‌چې پلاریې وبخښې او (اورنګ زیب)په خپله فوراً راشي‌دآرامګاه‌در وازې‌به‌خلاصې کړي» مادې لیک په‌هغه وا وریدل چې په رښتیاهم په هغه شپه چـــې دارا ولاړ، شاه جهان په طلايي روپیو بار شوي دوه پیلان هغه‌ته وراستول. اما روښن‌آرابیګمې دا موقع پیدا کړه چې دهغه نه اورنګ زیب خبر کړي. همدا ډول ددې لـــه خـــوا اورنګ زیب‌ته‌خبر ورسیدلی وچې تاتارې دده‌به‌ضد‌مجهزې‌شوي دي که‌چیرې دی شاه جهان ته راشي هغوي به په ده باندې ناڅاپي حمله‌وکړي.داورنګ‌زیب لاس ته حتی دشاه جهان څو خطونه‌چې ددارا سره مبادله شوي وو، هم ورغلي وو.

ځینو داویل چې ګویا داټولې خبرې رښتیانه دي. هغه لیکونه چـې اورنګ زیب خلکوته ښودل دآتش یوه وسیله وه چې دهغه په مرسته یې غــوښتل دخلــکو

ستر گونه خاورې ور ودرروي . اورنگ زیب خپل کوښښونه مشروع کړي او ټول گناه د شاه جهان او دارا په غاړه ور وو اچوي چې په نتیجه کې اورنگ زیب جگړې ته مجبور کړای شو. دا ټول داسې شیان دي چې دهغوی څېړنه او تر آخر پورې تشریح ډیر مشکل دی. په هر صورت حقیقت چې هر ډول وي وي به مگر کله چې ټولو شاه جهان په بند کې
www.libtool.com.cn
ولید تقریباً ټول امیران مجبور شول چې اورنگ زیب او مراد بخش ته د تعظیم لپاره ورشي. د دې ورتگ داسې یې ساری حالت منبود چې حتی یو هم دامیرانو نه شوای کولای چې د ورتگ نه پښه ونیسي یادخپل امپراطور شاه جهان په گټه یو گام اوچت کړي، کوم چې دوی یې له خاورو پورته کړي وو، لویې ته یې رسولي وو حتی ځني یې دغلامي څخه دامیری درجې ته رسولي وو، داډول کسان په دربار کې ډیر دي چې د دربار له خوا دستمنې او یانوم ونشان مانې ته خیزول شوي دي. داهم رښتیا ده چې ځنی کسان لکه د مثال په ډول دانشمندان او داسې نورو ونه غوښتل چې دغه یاهغه ډله پورې ځانونه وتړي . اما زیاتره یې داورنگزیب لورې ته راتیر شول .

په عین وخت کې داهم باید زیاته کړای شي لکه څرنگه چې مامخ کې هم وویل چې دوی دې کار ته مجبور کړای شول. دهند وضع دفرانسې اویا نورو عیسوي هیواد نو سره بالکل فرق لري. هلته عالي شانه کسان ځانگړي لوي جایدادونه لري چې د هغه نه زیات عایداد لاس ته ورځي او داعایدات دوی ته دا امکان برابروي چې یې له درباری معاشه تریوه وخته پورې د دوی ژوند تامین کړي. په هند کې امیران او عالی شانه کسان یوازې مستمري معاش لري لکه څرنگه چې مامخ کې اشاره ورته وکړه امپراتور کولای شي چې هره گړی د دوي نه دامستمری معاش قطع کړي پداسې حالاتو کې دغه امیران او عالی شانه کسان لاس په لاس خوارې ته راگرځي. د دوی سره بیانه څوك راشه درشه کوي . ته به وای چې داکسان هیڅکله دنوم خاوندان نه وو، اونه به دوی ته څوك بیایوه تینگه په قرض ورکړي .

کله چې اورنګ زیب د شاه جهان او امیرانو د خطر نه څخه خلاص شو او د بیت المال نه یې په هغه اندازه پیسې واخستې څومره چې یې په کار وې. ور پسې یې خپل ماما شایسته خان د بنګال ګورنر تعین کړ او دی د مراد بخش سره یوځای د دارا په تعقیب پسې رواڼ شو. په هغه ورځ چې پوځ باید دا ګرې نه رټلای وای د مراد بخش نږدې ملګري خصوصاً د هغه خواجه شاه عباس پوهیده چې د اورنګ زیب دغه پوچې مهربانۍ او حسن استقبال بې له تیګې نه بل شی نه دی. مراد بخش ته خبر ورکړ شو چې دی امپراتور دی. تول یې د اورنګ زیب په شمول د اعلیحضرت په نوم یادوي نو لازمه داده چې دارا شکوه په تعقیب پسې یوازې واېږي او په خپله د نورو قواو سره اګرې یا ډیلي ته نږدې پاتې شي. که چیرې ده پدې مشوره باندې عمل کړی وای په لږ مشکل سره به یې بې شکه اورنګ زیب له پښو غورځولای وای. اما د هغه له پښو غورځول ډېر سخت و، ځکه چې د بخت ستوری یې رټ ځلیده. مراد بخش د هغه په وعده وفاداری او په قران خوړلو په تول معنی اعتماد کوي درا ره د لښکر سره وخوځیدل او یوځای په ډیلي ور روان شول.

کله چې دوی ماتوري ته راورسیدل دا ځای د اګرې څخه د درو څلورو ورځو مزله په اندازه لیرې دی. د مراد بخش ملګرو نور هم زیات معلومات لاس ته راوړل، بیا له سره پدې کرښې کې شول چې د مراد بخش توجه دې موضوع ته راوګرځوي او پدې یې متیقن کړي چې اورنګ زیب په زړه کې پټ هدف نه ګرځوي او د هغه په عملي کیدو به بې شکه د مراد بخش روځ وریده کړي. ملګرو د ده ته وویل چې دوی ته د تولو خوا وڅخه خبر ورکړ شوی دی چې خاص پدې ورځ په هیڅ صورت سره د اورنګ زیب خیمې ته ورنشي. له تولو بهتره به داوي چې د اورنګ زیب مخه ونیول شي هر څومره چې مراد بخش ته وویل شول د هغو تولو سره سره ده هیچا ته

غوز نه نیو د تولو صمیمی مشورو اوریدولپاره یی غوزونه کاږه وو. ددې لپاره چې اورنګ زیب ته یی دخپلې دوستی اوصیمیت اظهار کړی وی په همدغه ما ښام په ډیره خوشحالی سره دهغه ځای ته وروان شو هلته د ما ښامی دوډی لپاره ټاټی شو اورنګ زیب چی د درو څلورو صمیمی نظامی منصبدارانو سره دمرادبخش په انتظار وو هغه یی په غیږ کی ونیو، چاپلوسانه خبرې یی دمرادبخش په ادرس دوه چنده کړې. مهربانی اواحترام تردې اندازې پورې چې دهغه مخ یی په دستمال پاکوه چی ګرد اوخولې ورڅخه لیرې کړې هره ګړی به دامپراتور اواعلیحضرت القاب هغه ته ورکول کیدل. پدې ضمن کی ډوډی را ورل شوه خوراک شروع شو او مجلس تود یږې خبرې په عادي ډول دهرې خوانه کیږي په آخر کی د شیرازي شرابو یولوی بوتل یوځو دکابلي شرابو بوتلونه مخته کیښودل شول چی په نیشه پیل وکړي اورنګ زیب دمسلمان په عنوان چی دشرابو څخه رټه کړ که ښکار کوي اونه غواړې چی خپله مسلمانی خرابه کړي ډیره خوشحالی سره دمیز څخه جګ شواو بیانی په ډیر لطف سره مرادبخش او نور قوماندانو سره چی لاپخوا آماده اوپوهول شوي ووشراب خوری ته دعوت اوخپله د استراحت په بهانه له خیمی څخه ووځی مرادبخش چی په شرابورت مین اوشراب یی هم زیات خوښ وو، نوداندازې نه زیات یی وڅښل انده داچی په نیشه کی ویده شو. اورنګ زیب همداشی له خدایه غوښت. دمرادبخش سره راغلی نوکران پدې نوم چی هغه آرام ته پرېږدې سملاسی له هغه ځایه وویستل شول د مرادبخش څخه توره، ډال، خنجر اونوره وسله واخستل شوه.

لږوخت وروسته اورنګ زیب پدې نوم چی مرادبخش ویښ کړي خیمی ته راننووت په رټه بی ادبی سره ئی مرادبخش په پښه ټیله کړ. کله چی مرادبخش سترګی خلا صولی اورنګ زیب داننډې، ولی تعجب اورې خبرې شروع کړې:

(داخه شی دي؟ څومره شرم او بې حیایي ؟ اعلیحضرت دومره متانت نـلري چې داسې نیشی څخه ډډه و کړي.خلک به زما او ستا په باره کې څه وايي؟ دغه مردار شرابي له دغه ځایه و باسئ ، پښې اولاسونه ئې وتړئ ، او کوټه کې ئې کلپ کړئ ترڅو چې په حال نه وي راغلی . امر عملي شو.

www.libtool.com.cn

مرادبخش اوس بې فایدې چیغې وهې او خلک مرستې ته راغواړي .پنځه شپږ کسه ور باندې راوغورځیدل پښې او لاسونه یې زولنې ورواچولې . دمرادبخش کسان چې هلته حاضر وو پدې کارخبر شول غالمغال یې پورته کړ. غوښتل یې چې په زور سره کوټې ته ورننوځي او هغه را خلاص کړي مگر دمراد بخش دلوېـو منصبدارنو څخه لـکه الله قلي چې دتوپخانې قومأندانی ئې په غاړه وه لا پخوا اخستل شوی و. دنورو په تهد يد ئې پیل وکړ هغوی یې مجبور کړلي چې دهغه ځایه لیرې شي په ټوله اردو کې لاس په لاس نمایندهګان خپاره کیږي چې دلومړی خطرناکې مرحلې مخه ونیسي.دغه نمایندګان نور و ته داد ور کوي چې هیڅ شی نه دي پیښ شوي ځکه دوی دپیښې په ځای کې حاضر وو. مراد بخش رټ نیشه شو ، ټول رته په هغه جمـله کـې اورنګ زیب ته ئې په ښکنځلو پیل وکړ. پداسې حالت کې چې هغه رټ نیشه او په قهر و ، دالازمه وګڼل شوه چې په کوټه کې یې کلپ کړي. سباسهار کله چې په حال راشي راوبه ځي. له بلې خوا په همدغه شپه کې ټولو لویو قوماندانانو او دپوځ منصبدارانو ته سوغاتونه ور خواوره شول. فورآیې تنخواه جګه شوه ، ډیرې وعدې وکړای شوې. دهمدې موقع راتګ ته لادپخوانه ټول په انتظار وو او دنې پیښې پوره پیش بین وو. دا هیڅ دتعجب ځای نه وچې سبا ته تقریباً ټول غلي شول په دوهمه شپه ئې دغه غریب شاهزاده په ډولۍ کې (دغه ډولۍ چې دیوې کوچنې کوټې شکل لري په پیل باندې ئې باروي او عموماً په هغه کې ښځې وري ) بندي کړ. بیایې مخامخ دډیلي سلیمګر ته چې یوه زړه وړه کلا او دریاب په منځ کې پرته ده نقل کړ. (۳۷)

پدې ترتيب سره کله چې تول، پرته له خواجه شاه عباس څخه چې رټ خپه وه آرامه شول، اورنګزيب‌د مراد بخش تول پوځ دخپل پوځ سره يوځای کړ اوپه داراپسې روان‌شو. داراپه ډير تيزۍ سره دلاهور خواته روان‌و، پدې‌فکرچې هلته په‌ځان محکم اوخپل طرفداران په هلته ځان ته راجلب کړي . ولی‌اورنګزيب

www.libtool.com.cn

هغه په دومره چټکتيا سره تعقيباوه چې هيڅ کاريې هلته دلاسه ونه شو. دارامجبور شوچې دلاهورڅخه صرف نظروکړي‌اودملتان (۳۸) خواته مخه کړي . آماهلته‌يې هم څه دلاسه ونه شول ځکه چې اورنګ زيب باوجود دسختې ګرمی شپه و ورځ ورپسې روان و اودومره چټک روان‌و، چې کله کله به‌يې دپوځ دبيداری لپاره تقريباً دوه درې ليو (۳۹) — (د ۹ څخه تر۱۳ کيلو متره ) دنورو څخه په مخ کې روان‌و. زياتره به مجبور کيده چې لارکې د نورو پشان مرداري خسا اوبه وڅښي، په وچه ډوډۍ قناعت وکړي، دونولاندې ويده شي . اريا کله چې به‌يې داردو رسيدوته انتظار يوست په همدې وخت کې به تې دسرلاندي دساده عسکروپشان‌دال دبالښت په ځای ايښې و .

داورنګ زيب دداسې چټک تګ له کبله‌دارامجبور شوچې ملتان هم‌خوشی کړي، پدې ويره چې دهغه سره هلته مخامخ نه شي، ځکه داورنګ‌زيب دمقابلې طاقت يې په ځان کې نه ليده .

ددې ځای سياسيون ددې موضوع په باره کې مختلفی نظريې څرګندوي. دمثال په ډول ويل کيږي چې که چيرې‌داراچې دلاهور څخه‌ووت دکابل سلطنت لورې ته تللی‌وای اوهلته يې ځان پټ کړی‌وای لکه څنګه چې همدا ډول مشوره هم ورکړای شوه نوهلته به يې لس زره سربازان موندلی وای کوم چې دپښتنو، ايرانيانو اوازبکو په مقابل‌دصوبې‌ساتنې لپاره هلته ساتل کيدل او دهغه‌ځای ګورنر (صوبه دار ) محبت‌خان‌چې دهندوستان له قوي‌ترينواو ترټولوقديمی اميرانوڅخه‌و

او هیڅکله داورنګ زیب له هواخواهانو څخه هم نه و ، چی دده طرفداري ئی کړي وای. پرته لدینه دا ، په دایران آواز بکستان دروازوته ورنږدي شوی وای . دې کار دېرامکان درلود ځکه چی ده سره پسی ورسره وی. نود کابل صوبې تـوله اردو محبت خان سره به دده په لوري راتیرشوی وای. ده به کولای شول چی نه یوازې دازبکستان بلـکه دایران څخه مرسته وغواړي لـکه څنګه چی په خپل وخت کی همایون دا کاروکړ . کـله چی فرید خان دپټانانو ( پښتنو ) پادشاه (٤٠) د همایون څخه تاج اوتخت راونیو نوموړی دایرافیېو څخه کومک وغوښت اوددوي په مرسته بیاپه تخت کښیناست . ولی دارا رتنی کم بختی پسی اخیستی و. دښنی مشورې اوریدلو لپاره بی غوږونه کانه شوي وو. په مقابل کی دارا دسند خواته روانشو ، اودتاتا باکار (٤١)په چړنی بی حمله وکړه . داچړنی دېره محکمه اومشهور سنګر دی چی دسند د باب په منځ کی پرته ده . کله چی اورنګ زیب ولید ، چی داراسند لورې ته روان شو نوری لازمه ونه ګڼله چی تعقیب ئی کړي . پدې ډېرخوښ شوچی دکابل لاری غوره نکړه اورنګ زیب پدې کفایت وکړچی د دارا په تعقیب پسی خپل رضاعـی ورور میربابا د ۷ــ ۸ زر وعسکرو سره واستوي اوخپله بیرته راستون شو اورنګزیب ددې نه ویریده چی مبادا په اګره کی کوم پیښه راپورته نه شي له بلی خوا لدینه ویریده چی ممکن ځینی قوی راجګان لـکه : جی سنګ ، جیسامسنګ دشاه جهان دازادولـو کوښښ وکړي ، یاداچی سلیمان شکوه د سرینګر راجه سره یوځای دغرونـو څخه راکوزشی ، یاداچی سلطان شجاع به بیخي اګرې ته رانږدې شی . دادی وګورئ په همدې برخه کی څه ورپیښ شول .

کله چی اورنګ زیب دملتان څخه لاهورته په ډېره چټکیتاسره پرمخ زور کاوه په همدې وخت کی هغه ولیدل چی مخی ته ئی راجه جی سنګ دخلورو پنځو زرو وسله والو اجپوتانو سره وروان دی. اردو وررسته اورنګ زیب مخ کی ځی. دی



www.libtool.com.cn

پوهیده چی دغه راجه دشاه جهان بی اندازي صمیمی دی. پدې ویریده چی جی سنگك ددې موقع څخه استفاده ونکړی او کومی کودتا ته لاس ونه کړی، پاشاه جهان دبند څخه خلاص نه کړی. پدې موقع کی دشاه جهان له بنده ایستل فوق العاده آسان کار و. په حقیقت کی دانه وه معلومه چی آیا راجه په ښتیا هم داسی نیت درلود او که نه؟ راجه په بی ساری چټکتیا سره داورنگك زیب مخی ته ور روان و، ولی اورنگك زیب دده په باره کی یو ټکی معلومات نه درلود ار حتی فکرئی کاوه چی جی سنگك لاتر اوسه په ډهلی کی دي. آما ناسی وگورئ چی ثبات، زړور توب او کلکوالی څه معنی لري.

اورنگك زیب دجی سنگك دلیدو څخه هیڅ تشویش ښکاره نکړ او همداسی مخامخ بی له ویرې په هغه ور روان شو. دلیرې څخه ئی چی هغه ولید په لاس یی اشاره ورته وکړه چه ژر ورنږدې شی او داسی یی چیغه کړه: «سلامت باشید راجه جی! سلامت باشید باباجی» هغه ته یی دپلار نوم او دراجه گانو دسردار لقب ورکاوه کله چی جی سنگك لږ ورنږدې شو هغه ته ئی داسی وویل: «ماپه یی صبری سره ستا انتظار یوست تول کارونه خلاص شول. دا امر وبوله، ځکه بالکل یوازې په میدان پاتی شو. په هغه پسی می میر بابا ولیږه... دی اوس ځان نه شی غرولی» ددې لپاره چی راجه ته ئی خپل بی اندازي لطف ښکاره کړې وي دارله واره یی دخپلی غاړې څخه دمرغلرو امیل خلاص او هغه یی دراجه په غاړه کی واچوه.

اورنگك زیب کوښښ کاوه چی جی سنگك دځان څخه لرې کړي مگر په هیڅ صورت یی دځان څخه خپه هم نکړي، نو اورنگك زیب هغه ته داسی وویل «روانیږه! ییره کوه چی لاهور ته دځان ورسوي زما پوځ دلارې له مزله نه رټ ستړی شوی دی. ځه حرکت کړه او هلته زما انتظار باسه. زه ددینه ویریږم چی ممکن هلته کومه خبره پیښه شي. زه تا دښار گورنر تاکم ارتول واك ستا په لاس کی در

کوم. هغه څه چې تا دسلیمان شکوه سره وکړل زه ددې خدمتونو ښت ډیر مشکور یم دلیل خان دې چیرې پریښود؟زه به هغه په خپله سزا ورسوم. ښه کوه. سلامت اوسې په مخه ښه»

www.libtool.com.cn

داراچی ته تا بکارته راغی نو دچونی قوماندانی ئې دخپل یوه زړ وره هوښیار او چالاك خواجه په لاس کې ورکړه همدلته ئې ډیرمضبوط لښکرچی دپټانانو (پښتنو) او سیدانو څخه تشکیل کړی ود(پرنگیانو)توپخاني لوي تعداد هم ورسره و، پرتگالیان انگریزان، فرانسویان او جرمنیان چې د دارالویو وعد ولیونی کړي و وتوول دده سره پیوسط شول. د داراله قرله که چیرې امپراتور شوی وای مونږ (پرنگیان) بــه خومره چې غښه وتوول به لوی امیران شوي وای.

دارا دخپلی خزانې زیاته برخه همدلته پریښوه لاتر اوسه یې په طلا او نقره کې هیڅ کمبودي نه احساسوله. دلته فقط دڅو ورځو په نیت راغلی و، نورنود دوو، دروږ زروکسانو سره دسیند په جریان ښکته دسند خواته په چټك سرعت سره روان شو دراجه کاچی تولو ځمکو څخه تیرشواو گجرات ته راغی او داحمد آباد درواز وته ئې ځان راور ساوه. دهغه ځای قوماندان داورنگ زیب خسر شاه‌نوازخان دخپل مضبوط پوځ سره دهر ډول مقابل لپاره تیار و. آما ممکن‌المدینه‌چی شاه‌نوازخان بې خبره گور شویا داچی دمړنتوب نه یې کاروانه‌خیست.(شاه نواز خان دما تاشــي سوداگرانو دقدیمی کورنی څخه و. دهته باید هیڅکله دیره سرباز په سترگه نه وای کتل شوې دی دامی اسان وچی زیاتره ژوند ئې دعیش سره تیرلی وډیر مهربان او نرم سړی و

په هر صورت خبره داده چې ده د دارا په مقابل کې نه یوازې مقاومــت ونکړ، بلکه هغه یې ځان ته په ډیر احترام سره ور بلولو او بیایې دهغه سره په ډیره چالاکی سره خبرې شروع کړې دارا دخپلی کم عقلی له مخی چې دهغه سره تــل

ملګري وه په شاه‌نوازخان دومره اعتماد وکړ چې خپل ټول پلانونه يې دغه ته يو په يو په ګوته کړل. ټول هغه ليکونه چې د جيسامسنګ او نورو زياتو ملګرو څخه ورته راغلي وو او په هغه کې ليکل شوي وو چې دوی غواړي د دارا په لوري راتير شي شاه نواز خان ته ورښکاره کړل. له بلې خوا څخه ټولو ملګرو دارا ته څه په خوله اوڅه په ليکونو کې دا رليکل چې شاه‌نواز خان د اعتماد وړ سړی نه دی او خامخا به خيانت ته لاس تير کړي.

www.libtool.com.cn

ددې کارنه د ټولو څخه زيات په خپله اورنګ زيب په تعجب کې ولويد. هغه پوهيده چې دارا په احمد آباد کې، دې پدې هم پوهيده چې ده سره زياتې پيسې ورسره دي. ټول هغه ملګري او يانور زيات تعداد کسان چې دارو نګ زيب څخه ازرده دي حتماً به دارا سره يوځاي شي.

دارا چې ډېر مره ليرې دی، هلته به دده مقابلې ته ورتګ هم دخطر څخه خالي نه وي ځکه ددغه ځاى يعنې اګرې او شاه‌جهان څخه دومره ليرې کيدل او بيا د هغه ځای دداسې قوي راجګانو لــکه چې سنګ اوجيسامسنګ د تواوځمکو څخه‌تير يدل دهغه ځاى دکږو وږ ولارو لمدول څه اسانه خبره نه ده. له‌بلې خوا پدې‌هم‌پوهيده چې سلطان شجاع دلوى پوځ سره راروان دى او دادی الله آباد ته راورسيده . دسرينګر راجه دسليمان‌شکره سره يوځاى داتيارى نيسى چې دغرونو څخه را کوزشي. سې تر لو فکرو او اورنګ زيب په زياتومشکلاتو کې اچولى وه نه پوهيده چې کوم لوري‌ته حرکت‌وکړي‌بالاخره‌هغه دافيصله وکړه چې لاس پــه لاس دا راهلــه دشاه نواز خان سره ارامه پريږدي او دټولونه اول ضروري کارونو ته‌يعنى سلطان شجاع ته متوجه شي ،کوم چې دالله آبادته‌دګاګه‌د ياب څخه راپورې‌شو . سلطان شجاع همدلته ديوه واره زاره کلي سره چې کاجوي (٤٢) نوميزي ديره لــوی ډنډ په غاره سنګر واچوو.

اورنګ زیب هم مقابلی ته راو خو ځید او دسلطان شجاع ځخه یونیم لیـــو
لیرې دیوه کوچني سیلاب پهغاړه داګرېله خوانهخیمی ودرولی . ددواړو پوځونو
په منځ کی ډیره ښکلی همواره ځمکه پرته وه او دجګړې لپاره ډیره برابره وه .
www.libtool.com.cn
داچی اورنګ زیب دلته راورسید ، په سبایی جنګ ته ملاوتـــړ له او په
شجاع یی حمله وکړه . اورنګ زیب خپل بارګیر د سیلاب په پورې غاړه پریښود
هغه کوښښونه چی ده دشجاع دماتی لپاره په کاراچول غیرقابل تصوروو . امیرجمله
ددکن بندیهم پدې ورځ راورسید . دی اوس د دارا ځخههم نه ویریده ځکه خیل
خانه یی دخطر ځخه وتلی وه خپل ټول قوت شجاعت اوچالاکی یی په کار واچول
آما ځنګه چی شجاع ډیر ښه ځان محکم کړی وښه توپخانه یی په لاس کی وه خپل
پوځ یی ډیرښه ددښمن په مقابل کی درولی و ښا پدې دلیلونواورنګ زیب نهشوای
کولای چی ددښمن جناح وشلوی ، یایی عقب پشنی ته مجبور کړي ، یایی کم له
کمه داو بو ځخه لرې کړي . ولی ټول کوښښونه بی فایدې وو . په خپله اورنګ
زیب مجبورشو چیځو ځله په شا راشي او سختومشکلاتو کی بند ؤ . سلطان شجاع
نه غوښتل چی په اواره کی ډیر زیات په مخ ولاړ شی یا داګټور ستراتژیکی ځای
له لاسه ورکړي . ډیر کوښښ یی دا وچی له همدغه ځایه دځان ځخه دفاع وکړي
ګومه چی ډیره معقوله هم وه . سلطان شجاع دا پیش بیني کوله چی اورنګ زیب
ډیر وخت دلته ځان نه شی ټینګولی . بالاخره به مجبور شی چی بیرته هغه سیلاب
ته ورستون شي . ځکه رته ګرمي وه او په همدې موقع کی به یی دشالهخواپسی وهی
اورنګ زیب هم ددې موقع پیش بینی کوله رلی په همدغه وخت کی یو بل نـــوی
مشکل پیدا شو .

اورنګ زیب ته چا خبر ورکړ چی راجه جیمامسنګ چی دتظاهر لپاره ده
سره ملګری شوی و دده په ټولګیو حمله وکړه خزانه اوباردارحیوانات لـــوټوي

دې خبر اورنګ زیب په تعجب کې واچوه او هم په همدغه وخت کې ده دخپل پوځ په منځ کې ګډوډي احساس وله. تردې اندازې چې زیاتو کسانو تیښتې ته پښې وکړې.

اما ددې سره سره اورنګ زیب ځان له لاسه ورنکړ او پدې پوه شو چې www.libtool.com.cn که چیرې په شاو ګرځي ددې خطر شته چې هر څه له لاسه ورکړي . د دارا د جګړې په شان اورنګ زیب دا فیصله وکړه چې د دښمن فشار وزغمي ، په میړانه سره و دریږي او هیڅ شي ته توجه ونه ګرځوي . مګر په پوځ کې ګډوډي لا زیاتیدله سلطان شجاع پدې تمه چې ددې چاس څخه پوره استفاده وکړي ، نو ددښمن په پوځ یې حملو ته لا زور ورکړ . داورنګ زیب دپیل رهنما کوونکي په غشي ووژل شو . اوس دی په خپله پیل رهنمایي کوي ، تر څو چې بل رهنما ورله راغی په اورنګ زیب دغیشو باران اوریده . ده هم بې له ستړتیا په دښمن غشي ووغورځول پیل د ترس نه په شا راځي ، اورنګ زیب پداسي غریبانه وضع کې بند شوی و ، چې ایله په پښو ولاړ دی . او دا کوښښ کوي چې ځمکې ته راټوپ کړي . پداسې اضطرابي حالت کې اورنګ زیب څه کړی وای ؟ دامیر جمله غونډې سړی کوم چې اورنګ زیب ته نږدې ولاړو ، بې اندازې شجاعت او میړانه یې ښکاره کوله اوپه میرنتوب کې ئې بې ساری نوم درلود او دده څخه اساساً داتوقع هم نه کیده ولی بیاهم ده اورنګ زیب ته لاس پورته کړ اودایې په چیغه سره وویل : « دکن ته ! دکن ته ! دکن چیرې دی ؟ » داسې ښکاریده چې بالکل وروستی لحظه ده . ویل کیدای شول چې اورنګ زیب په همدغه دقیقه کې خپلو اوږ وتالوله ځانـه څخه وغورځاوه حتی داتصور کول مشکل وچې اورنګ زیب به وکړلای شي ژوندی ځان خلاص کړي . آماده بخت دهغه تصورنه چې کیدای شوای هم قوي و . سلطان شجاع باید ماتې وکړی او دارا پـه شان په تیښته ځان دمرګ نه بچ کړي . دا دتقدیر غوښتنه وه چې اورنګ زیب باید فاتح شي ، په ټولو باندې غالب او دهند واکمن شي .

دسمانگر جگړه به په یادراوړو چې ، هلته یوې جزیي پېښې داراتباه کـړ دهغه ځای خیانت پښان دلته سلطان‌شجاع تباه کړ . سلطان شجاع داوړومنصبدارانو څخه چې الله وردي خان نومیده دځینو په قول اخستل شوي و ، دهمداسې چالاکې نه استفاده وکړه لکه څنگه چې کلیل‌الله خان ددارا په هکله په کارواچوله . رښتیا داده ځینی فکر کوي چې داللهوردي خان کار د بدنیت څخه‌نه و ، بلکه‌دچاپلوسی له کبله و . کله چې هغه داورنگ زیب پوځ کی گډوډي ولیده نوالله وردي خان سلطان شجاع ته دمبارك باد کلمی سر کړې ، کومی چې په خپل وخت کی کلیل‌الله خان داراته له خولی بادولی .

اللهوردي خان سلطان شجاع ته زاري کوي چې نور دخطر سره‌ځان مخامخ نکړي چې ،په پیل باندی کښینی : « راکوزشه ! د خدای په نوم ! تاته زاري کوم چې په آس سپورشه تاته خدای دهند امپراتوري درکړه راځه چې فراریان پسی تعقیب کړو ، چې اورنگزیب خلاص نه شي . » داورنگزیب زیر دست قسمت ته گوري چې دجریان مخه یی بلی خواته وگرځوله سلطان شجاع په زیرکي کی‌د مراد بخش څخه کوم توپیر نلري . ده همغه اشتباه وکړه چې دارایی مرتکب شوی و . دخپل پیل څخه لاپوره راکوز شوي نه‌و ، چې دپوځ له سترگو څخه‌غائب‌شو. په پوځ کی پریشاني گډه شوه ټول پدې‌فکر چې خیانت خپل کار وکړ . شجاع‌هم پابندي شو . ددارااردوپښان دشجاع پوځ هم تیت شو . په پوځ کی داسی لویه گډوډي اوبی نظمي راغله چې دسلطان شجاع لپاره‌دځان‌خلاصول‌په‌رښتیا خوشبختي گڼل کیده .

جیسامسنگ چې دغه خبرواووریده اوپوه‌شوچې دلته‌نورپاتی کیدل بی‌خطره نه‌دي نوپه هغه څه چې لاس ته راغلی وواکتفاوکړه اوپه تیزمارش‌سره‌داگرې‌لورې ته ولاړ چې دهغه ځایه خپلی منطقی ته ځان ورسوي . اگره‌کی داواز‌ې‌خپرې‌شوې



www.libtool.com.cn

ړې چې اورنګ زیب جنګ کې ماتې وکړه . دی او امیر جمله دواړه ونیول شوو او سلطان شجاع ئې د جنګ د بندیانو په صفت دځان سره راوړي . د اورنګ زیب دطرفدارانو په منځ کې نا امیدي تر دې اندازې پورې رسیدلې وه چې حتی ښایسته خان دښار ګورنر او د اورنګ زیب ماما کله چې دښار دروازې سره جیسامسنګ ولیده او دهغه دخیانت په باره کې یې هم پوره معلومات درلود نو ځان یې دمړو په جمله کې حساب په لاس یې دزهرو پیاله ور ته کړه چې ځان مسموم کړي . ویل کیږي چې ښایسته خان به په رښتیا هم زهر په سرا ړولي وای که چیرې خلکو د ده مانع شوي نه وای .

www.libtool.com.cn

اودزهرو پیالې یې نه وای ترې نیولې . داسې تصور کیږي چې که چیرې جیسامسنګ هوښیار وای او دا زړه یې کړی وای چې لږ څه په اګره کې ځان ټینګ کړي نو کولای شول دا کوښښ وکړي چې څه په وعدو او څه په تهدیدونو سره دیته زمینه برابره کړي چې شاه جهان دبنده را خلاص کړي . دشاه جهان دخلاصولو لپاره دیره ښه موقع وه . دتعجب خبره داده چې په دوونو وورځو کې ټوله اګره پدې عقیده شوه چې اورنګ زیب کلې ماتې وخوړه آماجې سامسنګ ته چې دپښو واقعت معلوم وداقدرت ور سره نه وو چې نور په اګره کې ځان ټینګ کړي او یا کوم عمل ته لاس تیر کړي . هغه تښ دومره وکړل چې د ښار منځ څخه تیر شي او په بیړه سره یې ځان خپلې منطقې ته ورساوه .

اورنګ زیب چې تنها داګرې له خوا په خوف کې و ، او ویریده چې ممکن جی سامسنګ د شاه جهان په ګټه کوم کار ته لاس تیر کړي نو په همدې وجهه دخپل پوځ سره اګرې ته راستون شو .

دسلطان شجاع په تعقیب پسې یې زیات وخت ضایع نه کړ . دځینې ضروري کارونو لپاره هلته تلل شو ، تر څو دده و کولای شول چې دهرې خوا نه ځان محفوظ کړي . پدې وخت کې ده ته خبر راغی چې سلطان شجاع دتیښتې په وخت کې . زیات کسان له لاسه ورکړل ځکه زیات تعقیب یې و نه شو په سلطان شجاع پسې داهم ویل

کیدل چې دی ډیر دولتمن ارسخي‌دی، دراجاګانو په ملکونو کی ډیر کسان اوزیاتی قواوې را ټولوي اودده قواوې دګانګه په کیڼه اوښي‌غاړې پرتی دي په الله آباد کی چی دبنګال په نیولو کی دستراتژیکی نقطه نظره زښت ډیر مهم او مشهور دی ځان محکموي .

www.libtool.com.cn

اورنګ زیب پدې‌وخت کی دوونفروته یعنی امیر جمله اوخپل مشرزوي سلطان محمود ته چی دده سره په ځنګ کی واقع وو او واقعاً دده لپاره مفید هم‌وو توجه راګرځوي . دی پدې پوهیده ځوك چې دخپل واکمن‌لپاره لوی خدمتونه وکړی نونتیجه یې داوی چی داډول کسان زیاتره یې حیا کیږي اوفکرکوی چی واکمن باید ددغه دخدمتونو مرهون وي اودخپل خدمت په مقابل کی حتی‌هیڅ ډول سوغات نه وینی ، چی دهغه احسان اداکړای شی . اورنګ زیب داهم لیدل چی سلطان محمود ډیر زیات ځان آزاد احساسوی ، ورځ په و ځ بې غرور اوتکبر زیاتیږي ، دهغی ورځی نه وروسته چی ده داګرې چونی ونیوه پدې کار سره یې دشاه جهان ټول پلانونه چی هغی په باره کی یې فکرکولای شو وران‌کړل .

اورنګ زیب ته دامیرجمله زیرکی، قدرت، تحمل اوشجاعت ښه ځرګندوو دهغه زیاته بدایی شهرت ، دده رول چی دټولومشکلاتوحل کولو لپاه یی دکونجی مثال‌د لرد، اوپه هندکی‌یی دچالاکی مهارت له پلوه ساری نه درلود هم‌په سترګو لیدل. اورنګ زیب پدې کی شك نه کا ه چی‌امیرجمله به هم لکه سلطان محمود پدې حال پاتی نه شي‌اوبالاخره به دخپلی بر ستنی ځخه ډیښی اوزدې کړی . ولی اورنګ زیب هروخت کولای شول چی دخپل کار لپاره چاره پیداکړی . دوی دواړه یې پداسی تاکتیك سره دځان ځخه لیرې کړل چی دغ اوهغه ته هیڅ ډول شکایت پاتی نه شو . اورنګ زیب دیوه قوی پوځ په سرکی امیرجمله او سلطان محمود دسلطان شجاع مقابلی ته وتیا کل ولی په پټه کی یې

امیر جمله ته دا اشاره هم ورسوله چی دبنګال ګور نري دهند په تولو صو بونو کی بهترینه ګورنري ده چی هغه به ده ته دژوند ترآخره پوري
www.libtool.com.cn
ور کړای شي اودده دمرګ نه وروسته به دهغه زوی لاس ته ورشي . دابه دهغه احسان په مقابل کي وي چی امیرجمله داورنګ زیب سره وکړ . البته دابه داحسان اداکولو ابتداوی . پوازې امیر جمله کولای شی چی دسلطان شجاع بیخ او بنیاد وباسی . کله چی امیر جمله داکار ترسره کړ نو اورنګ زیب به یې میرالا مرا ( داپه هندوستان کی تر تولو لویه رتبه ده) مقرر کړي . سلطان محمودته یې پوازې دومره وویل . «دایادولره ته زما په زامنو کی مشر یې او دخپل خان لپاره به جنګیزې تا تراوسه زیات لوي کارونه وکړل ولی داتولی کارنامې به هیڅ ارزښت ونلري که چیرې سلطان شجاع چی زمونږ لوی اوتر تولو قوی دښمن دي ونه نیسی . زه دخدای نه هیله لرم چی نور پاتی کارو نه په اسانۍ سره ترسره کړې» . اورنګ زیب پدې نعمتونو سره سلطان محمود او امیر جمله رخصت اودواړوته ئی قیمتی واسکتونه بارشوی ، اسونه او پیلان بخش کړل . درخصت په وخت کی اورنګ زیب یې له شدته امیر جمله پدې متقین کړ چی خپل پوازنی زوی محمد امیر خان دده دتسلی اوتربیې لپاره یابه بل عبارت دیرغمل په توګه پریږدي . سلطان محمود یې پدې راضی کړ چی خپل ماندینه دګالکنډ باد شاه لورپدې بهانی په اګره کی پریږدی چی هغه دپوځ زحمت اومزلونه نه شی تحمل کولاي .

سلطان شجاع هروخت په دې ویره کی و ، چی ممکن دده په مقابل کی دکوز بنګال را جګان پورته کړای شي ، کومو چی دی ډیر په تنګ کړی و ، آمادتولونه زیات دی ددې نه ویریده چي ممکن سرو کار یې دامیر جمله سره شی . فقط داچی دامیرجمله دتیاکل کیدو خبر سلطان شجاع ته راورسید په همغه ساعت یې خیمی تولی کړې ، پدې یره کي شوچی بنګال ته به یې لار بنده کړي اوامیر جمله به دګانګه

څخه دالله آبادنه کوز یا پاس په کومه بل ځای کی پورې وځی ، سلطان شجاع بنارس اوپاټنی ته تیرشو دهغه ځای نه مونګرته ولاړ . داوړوکی ښار عموماً دبنګال دسلطنت دراوزه بلل کیږی. داښار یوې درې ته ورته دی چه دهغه ځای دغرونو او ځنګلونو په منځ کی پروت دی . شجاع ته دغه ځای مناسب ښکاریده چی هلته ځان محکم کړي. ددې لپاره چی ددښمن څخه پوره بـی خطره شي نوامرئـی ورکړ چی د ښار نه ګیر د چاپیره ترغره او دریابه پوری خندق وکینی ( څوکاله وروسته چی دهغه ځای نه تیریدم مادغه خندق ولید .) او بیاپه پوره اراده سره همدلته دامیر جمله انتظار وباسی .

ولی دسلطان شجاع لپاره دډیر تعجب خبره داوه کله چی ده ته خبرورکړ شوچی دامیرجمله پوځ په کراره سره دګانګه دریاب په اوږ دوکی ښکته راځی اما په خپله امیرجمله دپوځ سره نشته . ممکن داخبره تش دخلـکودغلولونپاره خپریده داهم ویل کیدل چی امیرجمله اوسلطان محمود دواړه دغرونو را جګانودراجلبولو لپاره دپوځ څخه بیل شول ، کوم چی دګانګه په ښی غاړه پراته وو اودوی دمنطقو څخه په عسکری لباس کی تریزې چی ځانونه راج محل (۴۳) ته ورسوې او دهغه ځایه دسلطان شجاع لاره بنده کړي شجاع ددې خبرې په اوریدو سره ځان مجبور باله چی لاس په لاس جوړ کړی سنګر ترك کړی ، دګانګه په مسیر اوږده لاره دتولو کز لیچو سره په رتبه چټکتیا سره لنډه کړي اوخو ورځی مخکی دامیر جمله څخه راج محل ته ځان را ورسوی. شجاع همدلته راورسید اوخپل سنګرونه بـی سنه محکم کړل .



www.libtool.com.cn

دشجاع دمونګر څخه دتګ له کبله امیر جمله هم کیښه خوا ونیوه د ګانګ په درو کې په سختو خرابو لارو روان شو ، ددې لپاره چې هلته دخپل پوځ چې د دریاب په میسرد درنې توپخاني او بار ګیر سره ورروان دی انتظار وباسي . کله چې پوځ ور ورسید، نولاس په لاس په شجاع باندې دحملې په غرض وروخوځید . سلطان شجاع دامیرجمله په مقابل کې تقریباً پنځه شپږ ورځې ښه مقاومت وکړ، ولې ده لیدل چې دامیرجمله توپونه بې وقفې دده سنګرونه چې څو ورځې مخکښې یې دشګو له دو ختو اوکاڼو څخه جوړ کړي وو ورو ورو انوي پدې هم پوهیده چې پدې ځای کې به دده لپاره ځان تینګول که ددې موسم شیګرې هم ورسره ملګرې شي ډېر سخت وي بناپدې وجه یې شپه کې پوځ له دغه ځایه وکوچاوه او درملوي توپونه یې دښمن ته په همدې ځان ورپاتې شول . امیرجمله دالازمه ونه ګڼله چې دشپې له خوا دښمن پسې تعقیب کړي پدې خاطر چې مبادا په کومه جوړه شوې کمینه‌ی (محاصره) ولویږي .دغه تعقیب یې تر سهاره پورې وځنډاوه ولې خوشبختانه دسلطان شجاع لپاره په سهار کې داسې شیګره شروع شوه چې درې ورځې یې پسې پرله دوام وکړ امیرجمله ددې شیګړو له کبله نه یوازې دښمن تعقیب نه کړای شو ، بلکه مجبورشو چې ژمی هم دلته تیر کړي . دشیګړو له مخې چې پدې منطقه کې فوق العاده ګڼې وې څلور ومیاشتو په موده کې (جولای ، اګست ، ستمبر ، اکتوبر) لارې بالکل دتګ راتګ نه لویږي. پدې وخت کې نور پوځ ته دا امکان نه پیداکیږي چې توپخانې او بار ګیر سره په لاره وحرکت وکړي .

ددې موسم شیګړو سلطان شجاع ته داموقع برابر کړه چې د دښمن څخه ځان لرې کړي او په خپله رضا سره دځان لپاره موقع غوره کړي او هم خپل پوځ محکم کړي. ده ته دا امکان هم پیداشو چې د کوز بنګال څخه خو توپونه ځان سره یوسي همدا ډول ځنې پرتګالیان چې دلته دځمکې دښه والي په نسبت را کوچیدلي وو هم

دځان سره وملګري کړل. دا باید وویل شي چې سلطان شجاع د هغه پرتګالیانو میشونرانو (روحانیونو) چې پدې صوبه کې اوسیدل زیاتــه غم خوري کولــه. دوی ته یې

www.libtool.com.cn

دوعدې ورکولی چې تول به شته من کړي اوداموقع به هم ورته برابره کړي چې هر ځای کې په هراندازه چې غواړی په خپله رضا سره کلیساوې جـوړې کړی. دې میشونرانو یــې شکه دا قدرت درلود چې سلطان شجاع ته شاندارو خدمتونــوو کړی ځکه دبنګال په سلطنت کې دپرنګیانو (پرتګالیانو او مخلوط طونژاد ونو) شمیر د ۸ـ۹ زرو کورونو څخه کم نه و.

دسلطان محمود غرور او تکبر ته ، مخکې دلایل راوړل. هغه ممکن په خپل سر کې ځانته دخیال دنیا جوړ وله. داغوښتنه ئې کوله چې دټول پوځ قوماندانــې به ده ته وسپارل شي. امیر جمله باندې دهغه اوامر اکړی او کله کله به ئې ډیر غرور سره داخبرې له خولې وتلې چې ، دتخت وتاج په نیولو کې اور نګ زیب بایددسطلان محمود نهایته مرهون وی. امیرجمله ته یې په رټ سپک نظر او تهدید سره کتل. ددې کارونو په نتیجه کې دپلار او زوی ترمنځ روابط خراب شول ، ترڅو بالاخره سلطان محمود پدې پوه شو چې پلار دده رفتار څخه بالـکل نا راضه او حتی پدې وویریده چې ممکن امیر جمله تــه د ده د بندی کــولــو امــرور کــړی. ددې .

ویرې له کبله دیوه کوچنی ګروپ سره د امیرجمله څخه بیل او سطان شجاع ته ورغی. سلطان شجاع سلطان مخموه ته غټې غټې وعدې ورکولې ، قسمونه یې خوړل چې د سلطان محمود سره به بالکل وفادار وی. ولی ددې ټولو وعدو او قسمونو سره سره سلطان شجاع په سلطان محمود اعتماد نه شو کولای. پدې چرت کې وچې دا دامیر جمله دچالونو څخه یو چال دی. دهغه اعمال به یې په پټه کې تعقیبول او هغه یې د پوځ دمهم وظیفو قوماندانــی نه ورکوله. دې کار دسلطان محمود ارزو چې سلطان شجاع سره پاتې شي بالکل مړه کړه. دڅو میاشتونه وروسته په سلطان محمود دومره

ځای تنګ‌شو چې حتی نه پوهیده چیرې ولاړشي. بالاخره دافیصله یې وکړه چې سلطان شجاع ترك بیرته امیر جمله‌ته ورستون شي.

امیرجمله سلطان محمود قبول او دا اطمینان یې ورکړچې دی به اورنګ زیب ته دسلطان محمود په هکله دښه نیت نه ولیکي او دا به‌هم ورته زیاته کړی چې امیر جمله به په ټولو امکاناتو سره داکوښښ وکړی چې دسلطان محمود لپاره داسې شرایط برابر کړی چې تیر شوی اعمال اوخبرې ئې هیرې شي.

www.libtool.com.cn

دلته ددې خبرې یادونه دځان وظیفه بولم، لکه څنګه چې ماته ځینو ویل د سلطان محمود داټول ماجرا جریانه حرکات داورنګ زیب دهغه لمسون اوتوطیوله مخې وو ، چې د هغو په اساس اورنګ زیب دیته هم تیار وچې دخپل زوی ژوند په خطر کې واچوی ولی سلطان‌شجاع له منځه ورك کړی . په هرصورت حقیقت پټ‌دی. ولی اورنګ‌زیب دخپل زوی په عمل باندی سخت خوابدی ښکاریده هغه‌ته یې رټ سخت لیکونه واستول. په هغوی کی سلطان محمود ته امر شوی وچې دهلی ته ورستون شي. اما اورنګ زیب په پټه کی دا ترتیبات ونیول چې سلطان محمود ته دا موقع ورنکړی چې دهلي ته راورسیږی. دی لا دګانګه څخه نه‌و پورې شوې چې هلته خلك مخ ته ورواستول‌شول.سلطان‌محمود‌یې ونیو او دمراد بخش پشان ئې په‌انبار کی کلپ کړ. بیایې نوګوالیارته یووړ. لکه څنګه چې فکر کیږی. دهغه ځای نه وتل دتصورنه لرې خبره ده دسلطان محمود په بندی کولو سره اورنګ زیب دیوه لوی مشکل څخه ځان خلاص کړ، مګر په‌عین‌وخت کی دوهم زوی سلطان معظم‌یې هم دیته متوجه کړ چې حکومت کول‌دومره‌باریك کار دی چې پادشاهان باید خپلی سیوری ته په‌حسد سره وګوری. دی‌هم‌که چیری معقول حرکت ونکړی د ورور حال به یې وی او دا فکر باید ونکړی چې‌اورنګ زیب به داسې اعمالو ته موقع ورکوی، لکه‌څنګه‌چې شاه جهاز دخپل پلار جهان ګیر

په هکله وکړل. پهضمن کی مونږ باید دا ووایو چی که چیرې سلطان معظم د خپل پلار اورنګ زیب په باره کی خپله رویه بدله کړي نو اورنګزیب تــه دشاك لپاره هیڅ ډول وجهه نه پیدا کیږی . حتی غلام به دومره مطیع نه وی لکه سلطان معظم. په خپله اورنګ زیب هیڅوخت ځانته دا اجازه نه ورکوله چی تردی اندازې پورې دانسانی خود خواهی نه ووځی. هیڅکله یــی دومره فقیرانه وضــع نــه درلــوده لکه دده دغه زوی سلطان معظم. ماډیره هوښیار کسان ولیدل چی دهغولــه قــوله د سلطان معظم داټول کارونه بی هدفه نه بولی، بلکه دده دغه باریك بینانه اومرمــوز سیاست همغه شان دی لکه دده پلار اورنګ زیب سیاست چی مونږ ولید. دابه آینده وښیي اوس مونږ مخ ته ځو (٤٤).

ترڅو په بنګال کی دا پیښی تمامیدې سلطان شجاع په ټول قوت دامیرجمله پهمقابل کیجنګیده ټول وخت دګانګه دیوې غاړې نهبلی تهدیوه کانال او دیوه دریاب څخهبل تهپورې کیده (دلته ټول ملك دریا بونو، کانالونو ټوټه ټوټه کــړي دی) دا وخت اورنګ زیب اګرې ته نژدې سنګر اچولی و.

اورنګ زیب په ګوالیار کی دمرادبخش دلیدونه وروسته ډیلي ته راغــي نو داوخت یی دلته په خرګنده اوربښتینی ډول دامیرا تو په صفت کارونه په لاس کی قبضه کړل. ده زیات چرت پدې کی واهه چی په څــه ډول داراونیسی . دې کــار لــکه څنګه چی ما مخکی اشاره ورته وکړه د اورنګ زیب لپاره ډیــر مشکــلات وراندې کول . ولی داورنګ زیب لوړوتالو، مهارت چالاکیو داراپه لاس کــی ورکړل . دادی وګورئ راکار څنګه وشو:

جی سامسنګ چی خپلی منطقی ته راورسید اود کاجوي په نښته کی په لــوټ ئی هم اکتفا وکړه نورنودقوي اردوپه برابر ولولګیاشوه ده ضمناً داراته ولیکل چی دی باید زرترزره اګرې ته رانږدې شی اوهلته به جی سامسنګ هم په لاره کی



www.libtool.com.cn

ورسره ملگري شي . دارا هم پدې وخت کی پوره قـوي اردو برابـره کـړې وه
د اگر چی دلته دومره باید وویل شی چی دا اردو د ارزالوخخه تشکیل شوې وه» او
www.libtool.com.cn
پدې ئمه چی که چیرې دارا د اگرې خوانه وروخوځیزي دده زیات پخواني ملگري
چیرجې سنگ هم ورسره وویني حتماً به په ده راتول شی . پدې ئمه ئی فورآاحمد
آباد ترك کړ اوپه چټکتیا سره اجمیر (٤٥) ته روان شو .

دغه ځای داگرې څخه د ٧ـــ٨ ورځو په مزله لیرې دی. ولی جی سامسنگ
خپله وعده په ځای نکړه په عوض کی جی سنگ په کار کی ورودانگل چی، جی-
سامسنگ داورنگ زیب سره پخلا کړي . جی سنگ پدې فکرچی که چیرې دی په
په ټوله معنی پدې موفق نه شی چی جی سامسنگ داورنگ زیب دوستي تـه راکش
کړي نوکم له کمه، داخوبه وکړای شی چی دهغه پلانونه ورشنډ کړي . دجی سنگ
په نظر دجي سامسنگ حرکتونه نه یوازی په خپله دجي سامسنگ لپاره خطرناك بلـل
کیدل بلـکه پدې هم ویریده چی ممکن دده کارونه په نورو راجگانو کی هم اضطراب
راپور ته کړي . جی سنگ ځوځله پرله پسې جی سامسنگ ته لیکونه واستول اوده یوه
داسې خطر پیش بیني یې ورته کوله چی دهغی مخی ته په خـپله جـی سامسنگ ور
روان دی لـکه دکومی په مقابل کی چی دارا ور روان و. دا به ښه وی چي جی -
سامسنگ دخپلی آینده په باره کی په خپله فکروکړي. که چیرې دی په خپله ځـان
هلاکت ته ورکوي نو اورنگ زیب به دده دغه عمل هیڅکله ونه بخښی. جی سنگ
هم بالاخره دجی سامسنگ په شان راجه دی او باید د راجگانو په وینو ارسرنـوشت
باندې هم غور وکړي. که چیرې دی (جی سامسنگ ) پدې خیال وي چی راجگان
به ځان ته راجلب کړي نودې داهم باید په نظر کی ونیسی چی ددې عمل به مخالف
کسان هم پیداشي. لنده داچی دا کار په ټولو هندوانو پورې اړه لري نه یوازې په
جی سامسنگ پورې. دی باید دخپل ځان خطر له نظره ونه باسی. که چیرې اوریوځل

ولگيد نودهغه وژل به بيا ناممکن وی. که چيرې دی دا وغوارې چې دارا په خپله دخپلې لارې خلاصولوته پريږدي نو پدې کار به اورنګزيب دده تول ګذشته هيره اوهغه څه چې ده لوټ کړي دي وربخښش کړي اوهم به لاس په لاس ده ته (جي سامسنګ) دګجرات اداره هم په لاس کې ورکړی . دغه خبره به دده لپاره زښته ډيره ګټوره وی. ځکه چې دغه ولايت دده منطقې سره نږدې دی. دی کولای شی چې هلته خپل پاتی ژوند څومره چې دده رضاوی په ارامی خوشحالی او پوره امنيت کې تير کړی. ددې وعدې ضمانت به په خپله جی سنګ په غاړه آخلی . ددې ټولو وعدواو تهديدونو په نتيجه کې جی سنګ وکولای شول چې جی سامسنګ متيقين کړي او خپلې منطقې ته ئې راوګرځوي . پدغه وخت کې اورنګزيب دخپلې اردو سره اجمير ته و خوځيد او د دارا په مقابل کې يې سنګر واچوه . دغه کم بخت شاهزاده چې دهرچاله خوا غلول کيده اوټولې لارې يې پرمخ تړل شوې وې څه کولای شول ؟ دی اوس دافکر کوي چې دخپل ټول پوځ سره روغ سلامت بيرته احمد آباد ته ستون شي . ولی ددې فکر عملي کول اوس ناممکن دی . ددې لپاره چې احمد آباد ته بيرته ورسيږي بايد داوړي په سخته ګرمی کې يې پنځه ديرش ورځې مزل کړای وای . پدې موده کې به حتماً داوبو له خوا په تکليف شوی وای . بله داچې داپنځه ديرش ورځې مزل بايد دمغو راجګانو په منطقو کې شوی وای چې دجی سامسنګ ملګري يامتحدين وو . او دارا پدې وپريده چې داسفری پوځ به بيرته پده پسی هيڅکله ولاړنه شي .

دارا بالاخره ځان سره دافيصله وکړه چې پريږده دلته مړشي . د پوځونو په منځ کې د قواوتناسب اګرچې نشته ولی بياهم دموجوده خطر سره سره بياهم جګړه شروع کړي . خبره داده چې ددارا دلاسه څه کيدای شول ؟ دی نه يوازې ټولو په



www.libtool.com.cn

میدان خوشی کړ ، بلکه هغه شاه نوازخان چی دارارت اعتماد ور باندی کاوه دده ټول پلانونه تکی په تکی اورنګ زیب ته ورسول . اګرچی شاه نوازخان دښمنتی په سر کی ووژل شو . ځینو ماته وېل چی شاه نوازخان ددارا دلاسه ووژل شو . ځینو وېل چی داورنګ زیب په پوځ کی ددارا طرفدارانو چی دارا ته پټ خطونه استولیوو ، شاه‌نوازخان وواژه . دوی دجګړي په وخت کی شاه‌نوازخان ته ځانونه را ورسول هغه یی مړ کړ . ځکه لارېنه و پریدل چی دی به اورنګ زیب ته دهغو لیکونو په باره کی ووایی چی دوی دارا ته ورلیږلی وو . داوربیانت هم تصورته نږدې دي . ولی آیا شاه‌نوازخان وژل ددارا لپاره څه ګټه وکړه ؟ ده باید لا پخوا دملګرو مشوره ته غوږ نیولای وای نه په شاه نوازخان باور کول . دسهارپه ۹ بجو نښته شروع‌شوه — ددارا توپخانی چی‌په غونډی کی ښه‌موقعیت‌غوره کړی و ، ښه کار کاوه ولی څنګه چی ویل کیږي توپونو تشی ګولی ویشتلی . تردې اندازې پورې چی ټولو دده په حق کی خیانت وکړ . ددې نښتی په باره کی مفصلو خبروته ضرورت نشته دومره باید وویل شي چی دانښته نه بلکه ماتی وه ، بوازې دابه ووایم څنګه چی نښته شروع شوه فوراً ددارا څنګ سره چی‌سنګ پیداشو داخبریسی‌ور کړ چې که‌چیرې‌نه‌غواړي په بندکی ولویږي نو باید لاس په لاس میدان پریږدي منډه کړي . غریب شاهزاده حیرت وهلی مجبور وچی تیښتې‌ته‌مخه‌وکړي . ولی په دومره بیړه اوپریشانی‌سره‌چی حتی دبارترلوموقع یی پیدانکړه . دځان ښځی او ټبر خلاصول‌اسان‌کارنه‌و . پدې کی شک نشته که چیرې‌چی سنګ ازه بیړه کړی وای دارابه هیڅکله دځان خلاصولـو موقع نه وای پیداکړې . آماجی سنګ تل دشاهی خاندان په هکله احترام کاوه . یاداچی ممکن هغه ډیر باریک بین سیاست مدارو . دخپلی آینده په باره کی یی رت ژورفکر کاوه . نه یی غوښتل چی دشاهزاده په وینو لاسونه سره اوپدې ترتیب سره ځان دخطرسره مخامخ کړي . کم بخت شاهزاده ټول‌وترك کړ . دده په رکاب کی



www.libtool.com.cn

د دوزرو کسانو څخه زيات پاتې نه شول. مجبور شو چې داوړي په سخته ګرمۍ کې بې له خميو او بار ګيره دراجګانو ټولي هغه منطقې چې داجمير نه تر احمد آباده پورې پرتې وې لنډې کړي. د دغه منطقو بزګران (کولي)(٤٦) د هند په ټولو او سيدونکو کې تر ټولو بې رحمه او لوټ ګران دي. دوی شپه ورځ دارا تعقيباوه، لوټيا وه يې. هغه عسکر چې د عمومي ټولګي څخه به دوه سوه قدمه لرې پاتې شول نور يې نود ژوند څخه بايد لاس مينځلي وی. که چيرې څوك به څو قدمه پاتې شو او د بزګرانو غوښتنې (بايد ټول کالي يې هغوي ته وراچولي وای) سره به يې مقاومت وکړ لاس په لاس به يې واژه. د دې ټولو مشکلاتو او سختيو سره سره دارا و کولای شول هغه ځای ته ځان ورسوي چې د احمد آباد څخه ديوې ورځې مزله په اندازه لرې و. دی پدې تمه چې دوه ورځې وروسته به ښار ته ورننوځي د استراحت نه وروسته به بياله سره د پوځ په ټولولو کې زيار وباسي. ولې ناکامي کم بختان او مغاويان پسې تعقيبوي.

هغه ګورنر چې دارا په خپل لاس د احمد آباد په عسکري چوڼۍ کې ټاکلی و، داورنګ زيب نه ليك واخيست او په هغه کې له يوې خوا سخت تهديدونه، او د بلې خوانه زياتې وعدې ورکړ شوې وې. ګورنر ميړانه دلاسه ورکړه. په ډيره پستۍ سره يې ځان په وسوسه کې واچوه. ده دارا ته وليکل چې چوڼۍ ته نږدې رانشي. که چيرې راشي دروازې به يې په مخ وتړل شي او ټول به دده په مقابل کې وسله په لاس واخلي. درې څلور ورځې د دې پيښې نه مامخکې په تصادفي ډول شاهزاده وليد هغه زه مجبور کړم چې ده سره و لاړ شم. ځکه هغه يل طبيب نه در لود. د هغې ورځې نه مخ کې چې ده ته داغمجن خبر ورکړ شو شاهزاده د ومره مهربان و، چې زه يې خپل کاروان سرای ته د ننه بوتلم. لدې ويرې نه چې ممکن کولي (بزګران) مې د شپې مړ کړي. پدې خبره حتی باور کول سخت



www.libtool.com.cn

دي. په هندوستان کې اشراف دخپلو ښځو په باره کې دا نشي تحمل کولای چې پردی سړی دې هغوی ووینې. دشاهزاده ښځوته زه دومره نژدې وم چې تش پر دودوی له پردیو څخه پټولی. غریبی هم تر دې اندازې پورې چې حتی زړه خیمه هم هلته نه وه. دلته ما په ضمن کې داخبره ددې لپاره په مفصل ډول وکړه چې کم له کمه پدې ترتیب سره وکولای شم دده حالت ترسیم کړم، چې کاریې ترکومې اندازې پورې ورسید.

کله چې دده ښځو دغه غمجن خبرونه وا وریدل (ښه‌مې یا دي چه سهار وختي و) په چیغو سرشوې په دومره نا امیدی سره ئې ژړل چې حتی زما دستر گونه اوښکې توې شوې. مونږ ټول په تعجب کې پاتې شو یو بل ته مو ورد ږه کتل، ولی هیڅوك نـه پوهیده چې څه کولای شي؟ په همدغه وخت کې دارا په ناڅاپي ډول راننوت. کله بل ته مخ اړوې حتي ساده عسکرته یې دعجز په ستر گه کتل. دی وینې چې ټول حیرت وهلی دي او ټول غواړي چې دا را په میدان تش لاسونه پریږدي. عاقبت به یـې څه وي چیرته ولاړ شي؟ بې له څنده په لارې بایدروان شي. تاسې ددې وړې پېښې نه تصـور کولای شئ چې د دارا کارونه کومې اندازې ته ورسیدل. مادرې قوي گجراتـي غوښکي لرل چې زما باربې وړ. یوه شپه مخکې یو مړشو. بل ایله سیلوې څکوله اودریم هم له پښو غور ځیدلی و (ځکه دغه درې ورځې چې زه د دارا سره وم په هغه غیر قابل تحمل گرمی او دوړو کې) مجبور وو چې شپه او ورځ مزل وکـړو. دا را اگرچې هر څومره خبرې کولې امرونه ئې وړ کول ولی بیا هم ددې ټولو امرونو سره سره دا قدرت پاتې نه شو چې دخپل ځان خپلې یوې ښځې لپاره چې پښه یې زخمـي شوې وه او یازما لپاره کوم یو غوښکی، اوښ، آس یا بل کوم ډنگـر پیدا کـړي.

خوشبختانه دهمدې وجهې نه دی مجبور وچې ما هلته پریږدي. مگر کـه رښتیا ووایـم دبیلتون په په وخت کې یې ستر گې له اوښکو ډکې شو. دارا سره څلور پنځه سپاره دوه بار شوي پیلان (دځینو په قول په طلا او نقره باندې بار شوي وو.) دا را بله چاره



www.libtool.com.cn

نه‌لري مجبور دی تا تابکار خواته روانشی. اگرچی‌دې کار امکان درلود ځکه هغه سره یوورړ تعداد کسان پاتی‌شوي وو اوپه مخ کی عظیمی شگلنی دبنتی پرتی وې‌چی په زیاتره برخو کی ئی د خښناك او به پیدا کیږي اوداوړی په سخته گرمی کی باید له هغه څخه تیرشوی وای. هغه څوك چی په دارا پسی روان وو زیات یی، حتی په‌هغه جمله کی دوه ښځی‌په لاره کی داوبودنشتوالی، خرابوالی، ستومانتیا اوخوراك دخرابی له کبله مړې، او یاپه لاره کی دکولیانو (بزگرانو) دخوا چور شول. ددې ټولو مشکلاتو او سختیو سره‌سره‌دا را دامیړانه‌وکړه چي ځان‌یی راجه‌کاجی منطقی ته ورساوه. دی کم بخت ولی پخپله مړنه شو؟ دغه راجه په اول کی داراپه ډیره خوشحالی سره استقبال کړ. داوعده‌یی وکړه چی په ټول طاقت سره به دهغه مرسته وکړي، ولی پدې شرط چی دارا دمرستی په مقابل کی دهغه راجه زوی ته خپله لور ور کړي. داځل بیاجی سنگ وکولای شول چی کاجی هم ترخپل تاثیرلاندی راولی لکه څنگه چی په‌خپل وخت کی یی جی سامسنگ داورنگ زیب لوری ته رواړ وه نارا لیدل چی ددغه وحشی دوستی لاس په‌لاس مخ‌په سریږ وشوه‌اوپوهیده چی نور دلته پاتی کیدل دخطرنه خالی نه‌دي نو‌پدې سبب فوراً د تاتا بکار خواته په‌لارو خوځید.

داچی زه څنگه دکولیانو (بزگرانو) داړه مارانو یا ددارا څخه لیـرې‌شوم، ماپه څه‌صورت وکولای شول دخپل ځان په باره کی دهغوی مینه جلب کړم، پـه کوم چل‌می دخپلی وړې خزانـی زیاته برخه خلاصه کړه، دخپل طبابت په‌مرسته‌می څنگه دهغوی سره دوستی شوه، بیا داچی دره نو کران او گاډی وان څنگه‌ویریدل اوپه تشویش کی وو، قسمونه یی خوړل چی زه په نړی کی‌تر ټولو مشهور طبیب یم، یا داچی د دارا کسانو دتگ په وخت کی څنگه زه خپه او زما ټول شیان ئی د ځان سره واخستل، ۸،۷ ورځی‌ئی وځندولم بالاخره د کولیانو (بزگراتو) مهربانی

حتی چی زما دتنګ په وخت کی یو غوځکی راته بخښش کړ، ترهغه ځایه پورې یی
بدرګه کړو چی له هغه ځایه داحمد آباد برجونه لیدل کیدل ، ددې وړاندنیو ټولو
خبرو په بار کی مفصل غږیدل لازم نه بولم. بالاخره څوورځی وروسته مـی ځان
www.libtool.com.cn
ډیلي ته راورساوه هلته تصادفی دیوه امیر سره مخامخ شوم چی ډیلي څخه را ستنیده
په لاره کی ځای په ځای زمونږ مخ ته د دارا دپوځ دمړو پیلانو، اوښانو ، غوښیکو،
آسو نو جسدونه راتلل ولی داته داهم نه غواړم چی داشیان مفصل ولیکل شی.

پدغه وخت کی چی دارا تا تابکار ته خوځیزي په بنګال کی دسلطان شجاع سره
جګړه روانه ده او داتکل شوې مودې څخه لاپسی اوږ دیږي.سلطان شجاع دامیر
جمله په مقابل کی نهایی کوښښونه او ټول وسایل په کار اچوي.مګردده کوښښونه
اورنګ زیب نه متأثروي. ځکه هغه پوهیږي چی دبنګال نه تراګرې پورې ډیره
اوږده لار منځ کی پرته ده بله داچی دامیر جمله په شجاعت او زیرکي هم ډاډه‌دی
داورنګ زیب لپاره دتشویش ټکی سلیمان شکوه دی چی تقریبا داګرې څنډې سره
پروت و.(داګرې نه‌دسرینګر غرونو پورې تقریبا ۸ ورځی منزل کیږي)اورنګ‌زیب
نه پوهیږي چی په کوم چال سره دسلیمان شکوه ټغر ټول کړي.دا اوازې خپریږي
چی سلیمان شکوه دراجه سره یوځای دغرونو څخه راکوزیږي .دا اوازې لا زیات
اورنګ زیب په تشویش کی اچوي.په چالاکی او فریب سره دسلیمان شکوه دهغه
ځای نه رایستل فوق‌العاده مشکل و. راځئ دا وګورو چی بالاخره اورنګ زیب
څنګه وکولای شول چی سلیمان شکوه مات کړي.

اورنګ زیب راجه جی سامسنګ مجبور کړ چی سرینګر راجه ته لیـک
واستوي او په هغه کی دسلیمان شکوه دتسلیم په مقابل کی هر ډول بې شماره وعدې
ور کړي،او په عین حال کی داهم ورته ولیکل شی چی که چیرې دسر زوری کار
اخلي نو اورنګ‌زیب به یی په سره پرې‌نږدي.مقصدداچی هم وعدې او هم تهدید شي.

دسرینگر راجه په خواب کی لیکی: چی دتولی دارایی تباهي به قبوله کړي ولی داهستی نه شی منلای. اورنگ زیب چی دسرینگر دراجه جدیت ولید نوریی

www.libtool.com.cn

صبرونه شو، فوراً یی هغی خواته پوځ و استلوه دغرونـو بیـخ ته راځـی داستحکامی مهندسانو زیات شمیرلی دلارې په ارته کولو اونورو موانعو له منځه وړلو په غرض په کار واچول، ولی دسرینگر راجه لپاره داورنگ زیب کوښښونه دتشویش وړنه و. په هغه منطقه کی چی دغه راجه اوسیزي دویرې هیڅ دلیل نشته اورنگ زیب که هر څومره کمرونه چپه کول ولي بیاهم لکه څنګه چی مامخکی وویل دهغه غرونو او درو څخه دپوځ تیرول ناممکن و. دهغه ځای دغرونو څخه پوازې په گاڼو غورځولو کیدای شول چی د درو هندستانو نو قوارې توټه توټه کړي. اورنگ زیب بالاخره مجبور شو بی له کومی نتیجی بیرته راستون شی.

پدې وخت کی دارا په ټاټا بکار کی خپلی چوڼی ته رانږدې. دچوڼـی نه ددوو ورځو مزله په اندازه لرې وچی هغه ته دمیربابا له خواد چوڼی د محاصره کیدو خبرراغی چوڼـی داوږدې محاصرې په نتیجه کی نهایی افلاس ته رسیدلی وه وروسته ما دخپلو فرانسویانو او نورو پرنگیانو څخه چی هلته حاضر وو، اوریدل چی یوپونډ وریژې یا غوښه دیوه لیو څخه زیات قیمت درلود. دخوراکي مـوادو نرخ له مخی دنورو شیانو او جنگی مهماتو بیه اټکل کیدلای شوه. ددې مشکلاتـو باوجود دچوڼی گورنر ځان ټینگ کړی واووخت په وخت به یی له چوڼی څخه په دښمن حملی کولی او دښمن یی سخت په تشویش کی اچولی و. گورنرد دارا په هکله فوق العاده وفاداري ساتله. په عمل کی یی پوره شجاعت او احتیاط نه کار اخسیت. دجنرال میربابا په تهدید ونو کوښښونو او رنگ زیب په وعدو پورې به یی خـنـدل.

ځوموده ورو سته هغو پرنګیانو او فرانسویانو چې هلته حاضر وویل: کله چې ګورنرد دارا دنږدې کیدو خبرو اوریده شجاعت یې دوه چنده کړ. دعسکرو
www.libtool.com.cn
روحیه داسې ژوندی شوه چې ټولو له یوه سره په دښمن باندی حملې ته په بې ساري ډول زوروړ کړ. دوی فقط پدې فکر چې په هر قیمت وي محاصره ماته او دارا ته درانټوتو لار خلاصه کړي. ګورنر ددښمن کمپ ته ددې لپاره جاسوسان واستول چې هلته د دارا درانږدې کیدو آوازې خپرې کړي. دمیربابا په پوځ کې داسې ترس خپور شو چې نږدې و ټول پوځ یې تیت وپرک شي.

اویا د دارا په لوري ورتیر شي. د دارا راتګ ته ټول په انتظار و ولې دارا را نغی دارا داسې بدبختی پسې اخیستی و چې په هیڅ کار او اقدام کې ده ته تالو او قسمت ونه خندل. دی پدې چرت چې ددې واره تولګی په مرسته چې ده سره ورسره دي دمحاصرې ما تول ناممکن دي بناپدې دانیت یې وکړ چې سینـد څخه پورې شي مخامخ ایران ته ځان ورسوی. اګر چې ددې آرزوتر سره کول هم زښت ډیر مشکل و. ځکه په مخ کې ډیرې لوړې وچې بې او بودښتې پرتې وې. ددې ته چې تیر شی نو د ټول سرحد په امتداد پټانان او نورو اړه راجګان اوسیزي چې بالـکل آزاد دي. دوی، نه دپارس حکم مني اونه دمغلو، ولی د دارا ښځې دی دیته پرې نه ښود چې پارس ته ولاړ شی. داکار دده دښځې په عقیده د دوی دشاهـی خاندان دعظمت اولویی مخالف و آیا دارا غواړي چې دده ښځه او لور دپارس دپادشاه مینځې شی؟ دا سوال د دارا ښځې دخپل میړه څخه کاوه. د دارا ښځې ویل چې مرګ بهتر دی نه بې عزتی. داسی ویل کیږي کله چې همایون پارس ته پناه یو وړه ښځه ئې دپارس دباد شاه مینځه شوه.

ددې مشکلاتو په وخت کی دارا ته دا فکر و ـځی چې هلته نږدې یو مقتدر پټان (پښتون) جیون خان (۴۷) او سیزي چې ده دوه ځله دمرګ څخه خلاص کړی

و . يوځل هغه وخت چې شاهجهان دجيون خان دپرله پسې بغاوتو په نتيجه کې امر وکړ، چې په ده باندې پيل وخيژوي . ولې دارادې له مرګ څخه خلاص کړ . دارا فيصله وکړه چې دغه پخواني اشناته ورشي . پدې تمه چې د هغه نه مرسته وغواړي او دهغه په مرسته وکولای شي ، دتاتابکار محاصره ماته کړي ، او بيا دهغه ځای په خپله خزانه واخلي ، د کندهار له لارې د کابل سلطنت ته ځان ورسوي . د کابل سلطنت صوبه دار محبت خان وچې دپير زرورو . دهغه ځای په خلکو کې يې زيات محبوبيت درلود. دامقام ده ته ددارا په برکت ورکړ شوی و ، او ده ته دارا ډيره تمه درلوده .

www.fibtool.com.cn

ددارالمسی سپاشکوه اگرچې لاتر اوسه کوچنی زلمی و ، اما کله چې دخپل نيکه دارا په نيت پوه شو ، دهغه پښتو ته وروغورځيد ، دخدای په نوم يې زاری ورته کولې چې ددغه پټان منطقې ته ورنشي . ددارا ښځې هم ده ته دا ثابتوله چې دغه پټان داعتماد وړ نه دی او حتماً به يې اورنګزيب ته په لاس کې ورکړي. دارا بايد پدې تينګار ونکړي چې دتاتا بکار محاصره ماته کړي . اوس دامهمه ده چې کابل ته دځان رسولو کوښښ وکړي . داکار ممکن دی ، ځکه مير بابا اوس نه شي کولای چې محاصره پريږدي. پدې حيله چې ددارا مخه کابل ته بنده کړي . دارا خپلې بدبختی پسې اخيستی و . ټولې مشورې يې رد کړې ، دهيچا خبرو ته يې غوږ نه نيو . ده داويل چې کابل ته تيريدل مشکل اوخطرناک دي . (رښتيا هم داسې وه) هغه کسان چې دارا سره روان وو ، ټولو داويل چې جيون خان به داسې سړی نه وی چې ددارا د ټولو نيکيو په مقابل کې داسې خيانت ته لاس وغزوي. څوك چې بې لارې مشورې او مخالفت ته غوږ نيسي دا به ئې حال وي ، هغه ته ورروان شو . دارا پدې باندې ټينګ ايمان درلود ، چې بې له جيون خان څخه په بل چا باور کول لازم نه دي. جيون خان اول پدې خيال چې دارا سره ډير کسان ورسره دي ، هغه يې په خلاصه غيږ استقبال کړ ،

اودلویی دوستی اظهاریې کاوه . دهغه عسکریې دخپلو عسکرو په منځ کی ځای او امریې و کړ، چی دوی سره ډیره ښه رویه وشی . په اعلی صورت سره یی خوراك اوڅښاك تهیه شي . اماداچی پوه شو چی دارا سره له ۲ـ ۳ سوه کسانو څخه زیات نور څوك نشته . ځان یې هغه ډول وښود ، لکه څنګه چی په واقعیت کی و. دامعلومه نه وه چی آیا جیون خان داورنګ زیب څخه ددارادنیولوپه باره کی کوم لیك واخیست ، یاداچی ددارا څوبار ګیره حیواناتو چی دآوازې له مخی په طلابار وو دده سترګی سرې کړې . په هرصورت واقعیت چی هرډول وي وي به ، آمایو سهارچی هیچاددې پیښی تصورنه شو کولای ، دغه کم بختان داستراحت په باره کي په فکر کولرلګیاوو ،ځانونه یی په پوره امنیت کی احساسول ، دغه ناڅوانه چی ترو له شپه یې دهرې خوانه وسله واله کسان مجهز کړي وو ، په دارا او سپاه شکوه باندې وروغورځیدل . هغه کسان چی ددارا په دفاع راپورته شول ، څوکـه یی ووژل . ترول بارګیرئی لاس ته کړ اوهم یې دښځو قیمتی زیورات تصاحب کړل له هغه وروسته یی ددارالاسونه وتړل اودپیل په شایی محکم وتاړه . دشاله خوایی جلادورسره کښیناوه او امرئی ورکړچی که چیرې څوك ددارا دخـلاصـولو کوښښ وکړي ، او یادی په خپله دخلاصیدو په هیله ځان وغورځوي ، نوسریی باید ووهی پدې وحشتناك حالت کی یې دارا هغه پوځ ته وروسپارلو چی تاتابکار یی محاصره کړی و . هلته یی جنرال میربابا ته وسپاره ، او بیانومیربابا دجیون خان په بدرګه دارا اول لاهورته او بیاله هغه ځایه ډهلي ته نقل کړ .

کله چی دارا دډهلی دروازوته راوړ شو ، اورنګ زیب پدې چرت کی ولویدچی اول یې دښارله منځه تیر او بیا ګوالیارته واستوي . آمـاځینو کسانـو اورنګ زیب ته دامشوره ورکوله چی دښارله منځه ددارا تیرول معقول نه دي ، ځکه کیدای شی چی مخالفین ددې موقع څخه استفاده وکړی او دده دخلاصون لپاره کوښښ

وكړي . او بالاخره دا كار په خپله د شاهي خاندان په مقابل كې هم بې عزتي ده . دوهمې
ډلي پدې باندې فشار اچولو چې دارا بايد دښار په منځ كې وګرځول شي ، خلك
وتر سولاى شي او داورنګ زيب نامحدود قدرت ټولو ته وښودل شي . ټول هغه
كسان چې لاتر اوسه د دارا د نيول كيد و خبر نه منې متيقين كړاى شي . د دارا په نيول
كيد و حتى لاتر اوسه ځيني اميران شك من و . ترڅو پدې ترتيب سره او رنګ زيب
وكولاى شي ټولې هغه رابطې او هيلې چې د دارا او دده ددوستانو په منځ كې موجودې
وې له بيخه وشلوي . لنده دا چې وروستى مشوره عملي شوه . دارايي دخپل
لمسي سره په پيل باندې سپور دشاله خوايې دجلاد په ځاى بهادر خان
ور سره كښيناوه ولى دا دسيلون او پيګو هغه عجيب ښكلى پيل نه وچې دارا
به پحوا د عادت له مخې په هغه باندې خلكو ته ځان ښكاره كاوه اوس نه هغه ښكلى
پيل وچې طلايي تيرسرى به يې په غاړه ، ښكلي رنګين نازك شالونه به ور باندې
غوړيدلي و په شابه يې دخامك دوزي لوي شالونه دسايه وان په صفت نصب و ،
چې دارا دګرمې څخه وساتي ، بلكه يوه زوړ ډنګر پيل ورلاندې و ، چې زړه شايد لې
كته وور باندې پرته وه او حتى په هغه ځاى باندې چې دارا ناست و بالكل لوڅ و . د
دارا په غاړه كې نه هغه لوي دمرغلرو اميل وچې شاهزادګان يې دعادت له مخې
په غاړو كې ګرځوي ، نه هغه قيمتي پټكى ، او نه هغه قيمت بها چپنې وې چې شاهي
خاندان او اشراف يې استعمالوي .

ددارا په اوزوزره سپينه چپنه پرته وه ، كشميرى ساده خيرن پټكي يې په سر و ،
كوم چې ساده نفر خدمت يې په سروى . سپا شكوه هم دخپل نيكه پشان جامې اغوستې
وې : په داسې تحقير آميزه جامه او وضع دوى ( نيكه او لمسى ) په ښار كې وګرځول
شول . بازار په ټولو كوڅو كې خلكو ته وښول شو . دا ټول ددې لپاره چې د خلكو شك
له زړونو لېرې كړي . زه د ځان په باره كې دومره وايم چې ماديوه نوي كښتار انتظار

درلود . دهغه چاچي دارايي په ښار کي‌ها خواديخوا گرځاوه راگرځاره ژړور توب ته په تعجب کي تالي وم . دټولونه دتعجب خبره داده چي داراد گرځوا واوښودلو په وخت کي په هغه اندازه چي لازمه وه نه محافظه کيده . دارا دعامو خلکو په منځ
www.libtool.com.cn
کښي ډير گرانښت درلود . او پادې وخت کي داراد اورنگ زيب داستبداد اوبې رحمي نه په لوړه سره چيغي وهلي . همدايي ويل چي اورنگ‌زيب خپل پلار ، وروړ مراد بخش او بالاخره خپل زوی سلطان محمود په ځجر وکي‌واچول . مادمباداپيښو لپاره ښي لياري نيولي‌وی. په ښه قوي آس باندې سپور وم . ددوو هوښيار ونوکرانو په ملگرتياتر ټولو لوي اوگڼ بازارته چي دهغه ځاي څخه دارابايد تيرشوی واي ورغلم . ولي هيڅ داسي ځوان پيدا نشو چي توري ته لاس کړي . يوازې څوکسو فقيرانو او دهغوي سره يو کوچني شمير بزگرو جيون خان ته چي دداراپه بدرگه کي وليد . په ښکنځلو پيل وکړ . اوپه کانويي وويشت . که ښتيادرته و وايم نودخلکو دډيروالي له کبله سراچي اود کانو ماتيدل . ټولو ژړل چيغي اوزاري يي کولي . جيون خان ته يي ښکنځلي کولې اولعتونه‌يي ور باندې ويل . ټولو ښځو اونرانو ، لويو اووړو ( دهندوانو ډيرنازک زړونه دی )اوښکي تويولي ، ددارا سره‌يي لويه همدردي ښکاره کوله . آما هيڅا داجرائت نه کاوه‌چي توره له مرتې اوباسي وروسته له هغه چي داراپه ټول ښار کي وگرځول شو ، نو بيادهغه‌په‌خپل حيدرآباد نومي باغ کښي ځاي ورکړ شو .

اورنگ‌زيب ته وويل شول چي دښارڅخه دداراد تيريدو په وخت کي ټولو خلکو ژړل ، او ديوه بې ساری شورش اوبې نظمي احساس کيده . ددې خبرې اوريدو په اساس لاس په لاس له سره غونډه جوړه شوه چي ددارا په مرنوشت غورو کړي . دوی نه پوهيدل چي دپخوانۍ فيصلي په اساس يي گواليار ته وليږي يا دامنيت دساتلو لپاره دگواليارنه صرف نظر

وکړي او دلته يې روژني . ځینو کسانو لکه دانشمندخان دا نظريه ور کړه چې د کلک نظارت لاندې دارا ګواليارته واستوي او دا سزايي بس ده . دانشمندخان اگر چې د دارا پخواني دښمن و ولې بيا هم ده د ګواليار په سزا ټينگار کاوه . روشن ارآ بيگمې د خپل نفرت کينې په اساس چې دا راته يې زړه کې ساتل اورنگ زيب دې لمساوه چې دلته يې مر کړي . ددې کار لپاره يې دا دليل راوړ ، چې ګواليارته د دارا نقلول بې خطره نه دي . ددارا ډېرو سرسختو دښمنانـــو لکه کفيل الله خان ، شايسته خان اوخصوصاً حکيم داود هم دروشن آرابيگمې نظريه تاييدوله . حکيم داود يو چاپلوس طبيب و ، چې دپارس څخه دلته راتښتيدلی و . کله چې امير شو پخواني نوم يې بدل کړ او په ځاي دتقرب خان نوم اختيار کړ . دغه بې حيا او مضرانسان دډېرکو کالون په منځ کې پورته شو او داسې يې وويل : «سلطنت د ساتنې لـــپاره دارا فوراً بايد ووژل شي . د دارا مرګ لدې کبله هم ضروري چې هغه دمسلماني نه وګرځيد کافر ، بت پرست او بې دينه شو دی ( تقرب خان ) د دارا دقتل ګناه په غاړه اخلي » . رښتيا هم حکيم داود د دارا دقتل ګناه په غاړه واخيسته . لږ وخت وروسته دی په خپله د قهر اوغضب پنجې ته ګير شو او ديو پست انسان په صورت ددهغه سره معامله وشوه او په بدترين حال ووژل شو .

اورنګ زيب بالاخره دوهمې مشورې ته تسليم شو او امريې وکړ چې دارا دلته مرکړي او سپاه شکوه ګواليارته واستوي . دارا شکوه دوژلو کار يوه غلام ته چې ناظر خان نوميده وسپارل شو . دغه غلام شاه جهان تربيه کړی و . خلـــک وايي چې يو وخت دارا دغه غلام ډېر سخت وهلی ؤ .

دغه جلاد د دړو څلور وکسانو په ملګر تيا ، چې هغوي هم کټ مټ د ناظر خان په شان و د دارا شکوه ته راغلل . دارا شکوه پدې وخت کې دخپل لمسي سره د چنو په ايشولو لګياو .

دارا شکوه په چا باندې باور نه شو کولای ، ځکه چې د مسمومیت څخه ویریده نو لدې سببه یې هرڅه په خپله ځان ته پخول . کله چې دارا دلیرې ته ناظـر خان ولیده خپل لمسي سپاه شکوه ته یې داسې چیغه کړه : «زمنه ! دادی زمونږ دوژلــو لپاره راغلل»

www.libtool.com.cn

دارا شکوه زر دا شېزې کوچنی چاړه چې فقط همدا دتیرې وسلې له جملې څخه دوی ته وړ پریښودل شوې وه لاس ته کړه .

دجلادانو څخه یو کس زر په سپاه شکوه وروغورځید . پاتې نور جلادان د دارا شکوه په پښو اولاسونو پورې ونښتل • هغه یې په ځمکه راچپه کړ تر هغې پورې یې تینګ نیولی وترڅو ناظر خان د دارا شکوه سر پرې کړ . دده سر یې بیاژر اورنګ زیب لپاره چونې ته یوور. اورنګ زیب امر وکړچې د دارشکوه سر د دوه ی سره یوځای راوړي . اورنګ زیب دستمال واخیست د داراشکوه سر یې سه له وینو پاک کړ کله چې پدې متقین شو چې دا د دارا شکوه سردی نو بیا یې په ژړا پــیل وکړ او دا جملې یې ویلې :

«اخ بدبخت ! زما له مخې د دارا شکوه سر لرې کړئ او دهمایون په مقبره کې یې ښخ کړئ » . ماښام یې د دارا شکوه لور خپل حرامسرای ته راوغوښتله او بیا یې دشاه جهان او بیګم صاحب په غوښتنه هغوي ته وروا ستوله. د داراشکوه ښځې لا پخوا دخپل میړه دقتل نه ځان په خپله مړ کړ . هلته یې زهر وخښل . ځکه هغې دخپل میړه او ځان آینده پیش بینې کولای شوه. سپاه شکوه ګوالیار ته یو ړل شو. څو ورځې وروسته بالاخره اورنګ زیب جیون خان خپل مجلس ته را وغوښت اول یې هغه ته مختلف قیمتی سوغاتونه ورکړل بیا یې رخصت کړ آ مګر کله چې خپلې منطقې ته نژدې شو هلته په خپل قصاص ورسید ، په ځنګله کې ووژل شو . دغه بې رحمه نه پوهیده چې شاهان اګرچې دخپلو منافعو دساتلو په غرض دادول قتلونه کوي آما باوجود ددې هغوی ته په کرکه سره ګوري .

زروي پاوروسته داهم کولای شي هغوکسانوته چې دشاهانو په مرګ کې
برخه اخلي سزاهم ورکړي . اورنګ زيب ددار اشکوه دمرګ نه پخوا مجبورشو
چې دتا تابکار ګورنــرته ولیکي چې چونی www.libtook.com.cn داورنګ زيب قواوته تسلیم کــړي .
دوړا ندې شوو شر طونو څخه یوداشرط و چې دتاتابکار ګورنرژوند به په آمان کې
وي . آمادغه غریب کم بخت خواجه سره دخپلو لږ شمیر کسانو لاهورته درسیدو
په وخت کې دلاهور ګورنر کليل الله خان له لاسه ټول ووژل شول. ددرې دمرګ
لپاره دابهانه وتراشل شوه چې ګویا دوی غوښتل په پټه سره سلیمان شکوه ته ځانونه
وررورسوي ، اوبله داچې دچونی دتخلیې شرایط هغوی په ځای نه کړل .

دتا تا بکار ګورنر د چونی نه تسلیمدو په وخت کې کله چې ووت نو زمونږ
پرنګیانوته یې کوم چې دده سره بدرګه شوي وو ، دطلایې روپیو په شنډلو ډیل
نه کاوه داپدې بهانه چې دي دهلی ته ګویا داورنګ زیب لیدوته ورروان دی .
اوهغه (اورنګ زیب) په خپله دده دلیدلو زیات خواهش لري اوغواړي دغه میړنی
اوزړوره انسان چې درمره زیات وخت یې دخپلې چونی نه حمایه کوله وویني .

ددار اشکوه دکورنۍ وروستي سړی سلیمان شکوه پاتي شو اودهغه راپستنه
دسرینګر غرونو څخه آسانه خبره نه وه . پدې شرط که دهغه ځای راجه دلومړي ځل
په شان دسلیمان شکوه سره ټینګ ولاړوای . ولې دراجه چې سنګ سره دسرینګر
راجه پټې خبرې داورنګ زيب وعدې اوتهدیدونه ، دارا شکوه قتل دسرینګرراجه
شاوخواونورو راجګانو خیانت ، کوم چې دینه تیارشوي وو چې داورنګ زیب په
امر اوجنګي لــګښت په هغه باندې حمله وکړي داټول عوامل ددې سبب شول چې
دسرینګر راجه وفاداري دسلیمان شکوه سره متزلزله کړي او دغه دارن حامي دیته
حاضرشوچې اورنګ زیب دټولوغوښتنو سره موافقه وکړي . سلیمان شکوه چې
ددې توطئو څخه خبرشو نوپه پټه سره یې دهغه ځاي په کلپو غرونو اوځنګلو نو کې

دلري تبت خواته دتبتي لار ونيوله . واى دسرينګر راجه زوى فوراً مغه تعقيب اوامريـى وکړچي دغرونو څخه کمرونه وربا ندي را وغورځوى . په نتيجه کي دغه کم بخت غريب شاهزاده زخمي او ونيول شوه ډيلي ته راوستل شوه په سليم کي بندي شو، په کوم ځاى کي چي دلومړي ځل لپاره مراد بخش بندي شوى و .

www.libtool.com.cn

ددې لپاره چي اورنګ زيب تول پدې متيقن کړي چي داهمغه سليمان شکوه دى . داواريـى بيا همغه ترتيب چي ددارا شکوه په مقابل کي نيولي و ، امريى ور کړچي سليمان شکوه دربارته دټولو درباريانو حضورته راولي. مخ کي لدينه چي سليمان شکوه دربارتـه را ننباسي دپښو څخه يـى زولنـى ورننځلي ، آما پـه لاسونـوکــى تـکړي چي طلا يـى رنګ درلـود پـريښو دي . دغــه ښکلي دنګ ځوان دربارته راننوت دده په ليدوسره ډيروااميرانوونه کولاى شول چي خپلې اوښکي ودروي . همدا ډول ددرباري اشرافو ښځوته چي دپردې شاته دسليمان شکوه دليدواجازه ورکړى شوې وه، دده په ليدوکوکي وهلي اورنګ زيب داسي ځان ښود، ته به واى چي دسليمان شکوه په غمجنه اوبدقسمته ورځ سخت رټخپه دى. ده سليمان شکوه ته په خوږ واونرموالفاظو سره مخ راوړوه اوبيا داسي ډاډ ګيرنه يى پيل وکړ: « ته بايد دهيڅ شي څخه ونه ويريږې . ستاسره به ډيره ښه رويه وشي. اميدبايد له لاسه و نکړي، خداى لوى دى. ماکه ستاپلار وواژه دليل يـې داوه چي هغه کافراو بې دينه شوى وه ». اورنګ زيب چي دخپلو خبرو څخه خلاص شو نو سليمان شکوه هغه ته سلام وکړ. دوطن دعاداتو سره سم دواړه لاسونه ئي ترځمکي پورې ټيټ بيايې دواړه لاسونه دسرنه دومره جګ کړل خومره چي يى جګولاى شول . په همدې وخت کي يى اورنګ زيب ته په ټينګ اوازه سره وويل چي که چيرې دافيصله شوي وي چي ماته پولست راکړي نوزه دپادشاه نه داخواهش کوم چي بى له ډيله لاس په لاس مى ووژني . اورنګ زيب دټولوحاضرينوپه مخ کي سليمان شکوه

ته داقول ورکړ چې ده‌ته به پولست نه ور کول کیږي او دی باید لدې درکه بالکل
خاطرجمع او بې غمه وي . داورنګ زیب دخبرونه وروسته سلیمان شکوه بې‌اسلام
وکړ. لدې خبروڅخه وروسته اورنګ‌زیب دسلیمان‌شکوه څخه دهغه پیل په باره کې
پوښتنې وکړي چې دسرینګر څخه د ده دتیښتې په وخت کې په لار کې تري ژغولی
شو. دغه پیل په طلاو بار و . دې سوالونو ته دځوابه نو ور کولو نه وروسته سلیمان
شکوه وایستل شو او یوه ورځ پس بې دنورو سره یوځای ګوالیارته نقل کړ .

www.khpolol.com.cn

پولست یو ډول شربت دی ، ګوالیار هغو محبوسوشاهزادګانو ته
ور کول کیږي چې د هغوي دسرپرې کونه نه غواړي. داشربت داسې جوړیږي :-
لومړی خشخاش دشپې له خوا په اوبو کښې‌یز دي. سهار هغه لنده شوي خشخاش سیلوي
او به تري باسي. بیادډې ار بولو یه پیاله په تش نس دسهار له خوا ډندي ته خوراك نه
ورکوي. دغه عمل سړی مجبور وي چې دنګرشي ورو ورو یې ضعیفوي اوعقل د
سړي څخه آخلي ، اوپه نتیجه کې په ناخاپې ډول مري . دپولست له تاثیره سړی
کمښېزي اوځان نیم ویده احساسوي . ویل کیږي چې اورنګ زیب په‌همدې‌ترتیب
سره سپاه شکوه ، سلیمان شکوه . ست کړل .

آمامراد بخش په بل ولې‌سخت بې رحمانه‌صورت سره ووژل‌شو. اورنګ‌
زیب لیدل اګرچې مراد بخش په جیل کې دی مګر باوجود ددې تول خلک دهغه
سره مینه لري. دهغه په نوم یوه خوابله خوا شعرونه خپروي په هغه کې دمرادبخش
شجاعت او مرتبوب ستاینل کیږي دې کار اورنګ زیب سخت‌په‌تشویش کې واچوه.
فکر یې کاوه چې که چیرې مراد بخش د نورو پشان په پولست سره مړ هم کړي ،
ولې خلك به دافکر کوي چې هغه ژوندی دی‌اوده د نوم څخه به دشورشونولپاره
استفاده کوي . دادی و ګورئ اورنګ زیب دده دمرګ لپاره څه ډول تهمت
جوړ کړه .

هغه وخت چې مراد بخش په احمد آباد کې د جګړې لپاره تیاري نیوله، هلته یې یو ډیر دولتمن سید ددې لپاره مړ کړ چې د هغه دارایي لاس ته کړي. هلته یې د خلکو څخه پور و ته اخستل او یا به یې بډایان سوداګران مجبورول چې ده ته پیسې ور کړي. دغه ټول کسان دربار ته په شکایت سره راغلل او د عدالت غوښتنه یې کوله. د سید زامنو غوښتل چې د دوی د پلار په مرګ باندې مراد بخش په قصاص ور سوي. د دربار په مجلس کې حتی یوه امیر هم د مراد بخش د قصاص په هکله مخالفت ونه کړ. داځکه چې د اسیدان وو او ټولو امیرانو سیدانو ته ډیر د احترام په سترګه کتل. د بلې خوانه د دربار ټول امیران د اورنګ زیب په نیت پوهیدل چې ټش یې د مراد بخش لپاره بهانه لټوله او د عدالت په نوم یې غوښتل چې د مراد بخش کار ور فیصله کړي. د همدې کبله یې له ځنډه د هغه سید د مرګ په بهانه مراد بخش په مرګ محکوم شو. د سید زامن لاس په لاس د لاز مر هدایاتو سره ګوالیار ته روان شول. نور نو د اورنګ زیب په پښبه کې له سلطان شجاع نه پرته بل اغزی نه شو پاتې کوم چې لا تر اوسه یې په بنګال کې ځان ټینګ کړی وه. آما بالاخره سلطان شجاع مجبور وچې د اورنګ زیب قوت او بخت په مقابل کې عقب نشینې وکړي. ده په مقابل کې د امیر جمله تقویې لپاره اورنګ زیب دومره قوه ور واستوله چې په نتیجه کې د سلطان شجاع ټولې لارې د ګانګ دریاب په دواړو غاړو او هغو جزیرو کې چې دغه دریاب یې په خپله مجری کې بحر ته د تویدو په وخت کې تشکیلوي بندې کړې. سلطان شجاع مجبور شو چې د بنګال ورومتی ښار ډاکې ته چې د بحر په غاړه پروت دی وتښتي، او همدلته ده د تراژیکه ژوند ابتدأ شروع شوه.

شاهزاده سلطان شجاع بېرې نه در لودلې چې بحر ته یې ګډې کړي، نور نه پوهیده چې چیرې ولاړ شي. له همدې کبله مجبور شو چې خپل مشر زوي سلطان بیك (بېرني یې سلطان بانك لیکی) د اراکان یا موګه(۸۰) بت پرست بادشاه ته ور واستوي

او خواهش ترې کوي ، چې سلطان شجاع ته په خپل هیواد کې تر یوه وخته پورې پناه ور کړي ، او په عین وخت کې دیوې بېړۍ خواهش هم ترې و کړي چې دهغه په مرسته مو کو ته دبادونو په موسم کې ځان ورباندې ورسوي .

ځکه دی غواړي چې دهغه ځای نه مکې ته ولاړشي ، او له مکې نه وروسته ترکیې او یا پارس ته ځان تیر کړي . دارا کان بادشاه سلطان بیګ ته په ځواب کې وویل چې سلطان شجاع به دده دستر ګو تور میلمه وي ، او هرڅومره چې ئې قدرت ورسیږي په هغه اندازه به دسلطان شجاع سره مرسته و کړي .

سلطان بیګ دزیات شمیر ګالیپاسانو یادهغه ځای په اصطلاح دبادشاه پواو ګالیر سره چې دپرنګیانو په لاس اداره کیږي ( زمامقصد دلته هغه سپین پوستکی پرنګیان او نور ارذاله عیسویان دي چې دهغه ځای دبادشاه نو کري کوي . ه ټول کوز بنګال کې یې له داړه ماری او چور نه په بل شغل او مصروفیت نه پوهیږي ) راستون شو . پدې بېړۍ کې سلطان شجاع دخپلو دروزامنو ، لوڼو ، ښځی او نورو ورسره کسانو سره سپور شو . په لومړۍ مرحله کې دارا کان بادشاه ددوي ښه هر کلی و کړ ټول هغه شیان چې پدې هیواد کې ددوی دژوند لپاره ضروری و ، دبادشاه له خوا دوی ته ور کړل شول . سلطان شجاع دارا کان بادشاه څخه بېړۍ مفته نه غوښتله ، ځکه لاتر اوسه ده سره طلایي روپۍ ، نقره او نورې قیمتي ډبرې پوره زیاتې وې . حتی تر ډېرې اندازې پورې داحدس وهل کیږي چې همدغه دارائي دسلطان شجاع دتباهۍ سبب شوه او یا ممکن دنورو حلتونو په څنګ کې بهدا هم یو مبب شوی وي . داړول بادشاهان هیڅکله رښتیني ځوانمردی نه لري . ددوی لپاره وعده او قول دبادخوارك په شان بی ارزښته شی دی . کوم شی چې تر ټولو زیات ددوی لپاره مهم دی ، هغه دوی ځانګړې آنی ګټې دي . دوی هیڅکله دافکر نه کوي ، چې ددوی تکبر او خشونت به دنورو لپاره

کومې بدبختۍ د ځان سره راوړي.

سلطان شجاع پدې ټینګار کوي چې بادشاه باید ده د وعدې سره سم بېرې ورکړي. بادشاه داشکایت کوي چې سلطان نه غواړي ددهملاقات ته ورشي او نتیجه دا کیږي چې دبادشاه وضع ورو ورو سره کیږي او کار په خپل ځای تپال ولاړ دی.

www.libtool.com.cn

زه نه پوهیږم چې سلطان شجاع ولې دبادشاه دملاقات څخه ډډه کوله. ممکن هغه ته ورتګ یې دځان لپاره سپکاوی باله؛ یادا چې ممکن ویریده او پدې فکر چې که چیرې بادشاه ته ورشي؛ دی به بندي او دارایي به یې ضبط کړي، او یا به یې دامیر جمله پهلاس کې ورکړي، کوم چې داورنګ زیب له خوا یې داراکان بادشاه ته دسلطان شجاع دنیولو په مقابل کې دزیاتو پیسو او نورو شیانو وعدې ورکولې. حقیقت چې هر ډول وي به، ولې سلطان شجاع نه غوښتل چې دغه بادشاه ته ورشي او پدې یې کفایت وکړ؛ چې دهغه دربارته خپل مشر زوی سلطان بیګ ور واستوي. سلطان بیګ چې دبادشاه کورته رانږدې شو، او غوښتل یې چې خلکو ته خپله میړانه او سخاوت وښیي، نو په لار یې دطلایي روپیو په شندلو پیل وکړ. او بیا کله چې دبادشاه حضورته ورغی هغه ته یې زښت ډیر قیمتي زیورات چې قیمت بهاغمې پکې لګیدلي وو، د سوغات په توګه وړاندې کړل. هغه داخواهش تری کاوه دبېړی ورکولو وعده ژر په ځای کړي. اما سوغاتونو او خواهشونو ګټه ته درلودله. برعکس پنځه ورځې وروسته داراکان بادشاه سلطان شجاع ته خپل سړي رالیږي، او خواهش ترې کوي چې دخپلو لوڼو څخه یوه هغه (داراکان بادشاه) ته واده کړي. سلطان شجاع داهم نه شي منلای چې دخپلو لوڼو څخه یوه هغه ته واده کړي، او داهم وینې چې که چیرې انکار کوي نودې وحشي سره به څه کوي. دبادونو موسم مخ په ختمیدو دی. د کاروانو پای به څه وي؟ بالاخره کومه فیصله باید وکړي؟ آیا د کوم زړور ګام امکان

شته دی؟ دادی هغه حیرانو ونکی اقدام چی دمطلقی نا امیدی په حال که یی انسان ترلاس لاندې نیسی. آما نه دمعقولیت له مخی. دار اکان پادشاه اگرچی پهخپله بت پرست دی ، ولی دده په سلطنت کی دیر مسلمانان اوسیږي چی ځنی یی دلته راتښتیدلی
www.libtool.com.cn
دی آما زیاته برخه یی هغه غلامان دي چی ددې پرتګیانو له لاسه کوموته چی مامخکی اشاره وکړه نیول شوی دي. سلطان شجاع په پټه سره سره یوشمیر له دغو مسلمانانو څخه ځان ته راجلب او ۲ ــ ۳ سوه نور هغه مسلمانان وو چی دبنګال څخه ده سره راغلي وو. شجاع غوښتل چی په ناڅاپی ډول ددې وحشی په کور حمله وکړی ، ټوله وسله په کار واچوی له یوه مخی ټول سټ او په همغه ساعت خپل ځان ددار اکان بادشاه اعلان کړي .

دغه اقدام اگرچی دمجبوریت له مخی و نه دمعقولیت له رویه ولي دهغـو زیـاتـو معلومـاتـو له مـخی چـی د هـغه ځـای د زیـاتـو مسلمـانـانـو پـرتګالیـانـو اوهـالندیـانـو له خـوا مـاته راکول کـیدل کـیدای شـوه چی داکار تر سره شوی وای . مگر یوه ورځ مخکی کله چی بایډ حمله شـوی وای ، دغه توطئه کشف شوه . ددې توطئی کشف دسلطان شجاع لپاره دمرگ او تباهی معنی لرله . ولی سلطان شجاع داکوشش وکړ چی دپیگوله لارې په تیښته ځان خلاص کړي . مگر ددې لارې څخه ځان خلاصول هیڅ امکان نه درلوده ځکه چی په مخکی داسی لوی گڼ ځنگلونه اوکلپ غرونه پراته دي چی هلته لار پیدا کـول ناممکن دي . له بلی خوا په دهپسی لاس په لاس سپاره زلیزل شول چی تعقیـب یی کړي او په همغه ورځ پسی ورسیدل . پدې کې شک نشته چی سلطان شجاع په بی ساري میړانه او شجاعت سره دځان څخه دفاع کوله او دومره زیات شمیروحشیان یی سټ کړل چی په هغه شمیر باور کول گرانو ، ولی د تعقیب کوونکو شمیر دومره

زیات و، چی تقریباً له هرې خوا وربانديې راچاپیر شول . سلطان شجاع بالاخره مجبور شو چی د جنګ میدان خوشی کړي .

www.libtool.com.cn

سلطان بیګ چی دخپل پلار سلطان شجاع څخه څو قدمه پرمخ تللی و هم د ځان څخه یی د زمري پشان دفاع کوله . دهرې خوا څخه د برې وربانډی راغور ځول کیدې. په پای کی په یوه تیزه بانډی زخمی شو او پههمدې وخت کی ددښمن څو کسو وربانډی حمله وکړه وییی نیو او دخپلو دو وکوچینو وررڼو خویند و او مور سره یی بندي بوتلل . دسلطان شجاع په باره کی دومره ویل کیږي چی دی د خپلی یوې ښځی یوه خواخه او دوونورو کسانو سره دغره سرته ځان ورساوه. هلته یی سر دیوې تیزې په ګوزار سره زخمی شو او په ځمکه ولوید ، ولی ژریی پورته کړ خواجه یی سر په خپل پټکی وتاړه او توول په ځنګله کی پټ شول .

ما دده په باره کی د درو څلورو کسانو څخه چی هلته حاضر وو مختلف نقلونه واوریدل . ځینو وویل چی سلطان شجاع یی دنورو مړوو منځ کی پیداکړ، ولی مخ یی پوره درست نه پیژندل کیده . ما د هالندي فکتوري (تجارتی موسسی ) دآمر مکتوب هم ولید چی دا پورتنی خبرهیی تایید وله . ولی ددې سره سره بیاهم مشکله ده چی دسلطان شجاع دژوندا ومرګ په باره کی وروستی فیصله وشي . همدا عدم معلومات کله کله ددې باعث کیږي چی دلته په دهلی کی اضطراري حالت شروع شي .کله به دا آوازه خپره شوه چیشجاع د ګولکهندې او بیجا پور بادشاهانو سره یو نظامی ترون تشکیل او دا دی مسلیپاتم ته راغی . کله به ویل کیدل چی شجاع د سورت په شاوخوا کی ددوو بیړیو چی سره بیرغونه وربانډی ولاړوه ممکن چی دپیګو او دسیام پادشاه له خوا ورکړې شوې وې تیر شو . ځینو نور به بیا دا خبرې کولی چی شجاع په پارس ، شیراز او یا کندهار کی دی . دکابل په سلطنت بانډیدحملی لپاره یی پوره تیاري نیولی ده . یوه ورځ په خپله اورنګزیب

ممکن د تېرو کړو او یا بل فکر نه مخې دا خبره چې سلطان شجاع بالاخره حاجي او سیاح شو . د ده مقصد همدا وچې وواېي سلطان شجاع مکې ته ورسېد . اوس هم زیات شمېر خلک پدې خیال دي ، چې سلطان شجاع د کوهستاني نو په ځنې پارس ته راستون شو او له هغه ځایه یې زیاتې پیسې ځان سره راوړې دي . ولې ددې ټولو اوازو بې اساسي توب د هالنډ یانو د مکتوبونو څخه جوتېږي . ددې نه پرته د سلطان شجاع د یوه خواجه‌سره چې زه د بنګال څخه مسلیپاټم ته ولاړم ، همدا ډول د شجاع د توپخانې لوي آمر چې د ګولکنډې پادشاه په نوکرۍ کې ما ولیده دواړو ویل چې سلطـان شجـاع وژل شوی دی ، آما د زیاتـو معلوماتـو را کولـو څخه یې ډډه کوله . بالاخره زمونږ پرنګیان سوداګرچې په همدې ورځو کې د پارس او اصفهان څخه ډهلی ته راغلي دي ، هلته یې د سلطان شجاع په باره کې هیڅ معلومات نه درلودل . بله دا چې ما ته وویل شول چې دده د ماتې نه یوه موده وروسته د سلطـان شجاع توره ، خنجر او ډال ومونډل شول . پدې ترتیب سره دا باید تصور شي چې کـه څېرې سلطان شجاع هلته د نښتې په ډګر کې نه وی وژل شوی ، نـوروسته به دا ړه ما رانو یا د پړانګانو یا د وحشي پېلانو له لاسه چې د هغه ځای ځنګلونه وربانـدې ډک دي وژل شوی وی.

په هرصورت حقیقت چې هرډول وی وي به ، وله لدینه وروسته دده ټوله خیل خانه ښځې او ماشومان جیل ته وا چول شول او په ډېره ناوړه ډول رویه ورسره کېده . څه موده وروسته ټول د جیل نه خـلاص شول او ددوی په مقابـل کې رویه هـم نـرمه شوه .

دارا کان بادشاه امرو کړ چې د سلطان شجاع مشره لور هغه ته راولي او بیا یې ځان ته واده کړه . پدې وخت کې د سلطان بیګ او دده مسلمانانو نوکرانو د کومو په باره کې چې ما مخکې خبرې وکړې سر ته دا فکر راغی چې د لومړي ځـل په شان

بیا توطئه جوړه کړي، ولی دتوطئی دعملی کیدو نه مخکی د توطئو گرانو شخصیتونو کس

چی لږ نشه و، ددتاکلی وخت نه پخوا یی عملیات پیل کړل. پدې باره کی خلکو ماته

www.libtool.com.cn

په زرگونو افسانی ویلی . دا نه پوهیدل کیږي چی دچا خبره صحی ومنی. مگر دټولو

نه فقط دا باوری خبره ده چی ددې توطئی په اساس دارا کان بادشاه دپخوا شخصه لا

زیات وحشی او بی رحمه شو. هغه امر وکړ چی دسلطان شجاع کم بخت کورنـی

له یوه سره له تیغه تیره کړي، چی یو هم په ژوندو کی پاتی نه شي. پدې جمله کی د

سلطان شجاع مشره لورچی بادشاه ځان ته واده کړې وه باوجود ددې چی حامله هم

وه ووژل شوه دسلطان بیگ او ورونو سرونه یی په ډیره بی رحمی سره پرې کړل

اوبنځی یی په یوه کوټه کی بند او هلته یی دلوږې مرې کړې .

دغه جگړې چی دخلورو ورونو په منځ کی دتخت وتاج او قدرت لاس ته

راوستلو په ارزو کی شروع شوې داسی پاتی ته ورسیدې. دغو جگړو چی ٥ـ٦ کاله

یعنی تقریباً ١٦٥٥ څخه تر ١٦٦٠ یا ١٦٦١ کال پورې یی دوام وکړ اورنگ زیب یی

ددې قوې په سر کی ودراوه .

www.libtool.com.cn

# دهغوخاصو پیښوپه باره کی

## نکل چی د ٥ــ٦ کلونو جگړونه وروسته دمغلوپه دولت کی منـځ تــه را غلــی دي .

دجگړې نه وروسته تاتارو، ازبکانو فیصله وکړه چی اورنګ زیب ته خپل صفیران راواستوي. کله چی اورنګ زیب لاشاهزاده و، دوی په دې هیواد کی جنگیدل. اورنګ‌زیب‌دشاه جهان له خواهغه‌هیواد ته دیوه کومکي‌تولگي‌قوماندانی ورسپارل شوې وه، کوم‌چی دسمرقندخان دبلخ دخان په مقابل کی ورخخه‌خواهش کړی و. تاتارانو د اورنګ زیب استقامت او شجاعت وستایل، ولی بیاهــم دوي خیال کاوه چی اورنګ زیب ددوی څخه ناوړه خاطرې ځــان سره راوړي دي ، ځکه کله چی اورنګ زیب تقریباً دبلخ ښار ( د دښمن پایتخت ) نیولی وپدې وخت کی دواړه خانان یعنی دسمرقند اوبلخ خانان سره پخـلاشول او اورنګ زیب یــی مجبور کړ چی له هغه ځایه خپلی قواوې وباسي . خانان پدې وویریدل چــی ممکن ددې موقع څخه اورنګ زیب استفاده وکړي او د دواړو خانانو ملـکونه تسخیــر

کړي ، لکه څنګه چې په خپل وخت کې اکبر بادشاه د کشمیر سلطنت تقریباً په همدې ترتیب سره خپل کړ . (٤٩)

www.libtool.com.cn

لدینه پرته دې دوارو خانانو د هندوستان په باره کې او کومې پیښې چې هلته په دربار کې د شاهزادګانو په منځ کې روانې وې ، همدارنګه داورنګ زیب جګړو ، بخت او بریالیتوب په هکله هم پوره معلومات لرل ، او دا نتیجه یې اخستله چې اګرچې شاه جهان تراوسه لاژوندی دی ، ولې د هندوستان واکمن په واقعیت کې اورنګزیب دی او همدا یوازینی سړی دی ، چې باید د هندوستان د واکمن په صفت وپیژندل شي.
لنده دا چې ممکن یادوي داورنګ زیب د حق په جانبه قهر نه ویریدل او یادوی خپل ذاتـی بخــل اوپست همتــی دینه را پـا رولــی وو ، چـی داورنګ زیــب نــه سوغاتونه ګوتوته کړي.په هر صورت واقعیت چې چه هر ډول وي وي به ولــی دوارو خانانو په یوه وخت کې داورنګ زیب دربارته خپل سفیران پدې مقصــد واستول ،چې لومړی هغه ته دتاج و تخت «مبارکي» ور کړي او په عین وخت کــې دخپلو خدمتونو پیشنهاد هم اورنګ زیب ته وړاندې کړي. اورنګ زیب پدې ښه پوهیده چې دجګړې نه وروسته ددې خانانو دخدمت پیشنهاد دوخت نه تیره خبره ده. دا چې اوس دغه خانان دخدمت پیشنهادکوي ، یاویرې پسې اخستي دي اویاتمی مجبور کړي دي.ددې سره سره بیا هم اورنګ زیب داز بکو سفیران په احترام سره ومنل. څرنګه چې اورنګ زیب ته دسفیرانو دورتګ په وخت کې زه هلته حاضر وم نو کولای شم چې دغه صحنه ډیره ښه مفصله ولیکم.

سفیران چې داورنګ حضورته راوستل شول دهغه په لیدویې سلام یــا دهندوستان دعنعنې سره سم سجده وکړه درې واره یې لاسونه په تندي کیښــول او

بیایی درې واره تندی په ځمکه ولګول. لدې وروسته دغه سفیران اورنګزیب ته دومره ورنژدې شول چې کولای یې شول په آسانی سره اورنګزیب ته مکتوبونه ور کړي، ولی اورنګزیب په خپله مکتوبونه وانخیستل، بلکه هغه ئی دامیر دلاس نه واخستل. خلاص شوی مکتوبونه چی اورنګزیب ته وړاندې شول په هغه دقیقه

www.libfocl.com.cn

یی په پوره توجه سره ولوستل؛ بیایی امروکړ چی هرسفیر ته فوراً خاملك دوزي شوې کرتی، پټکی او ګلدوزي کمربندونه د تحفی په ډول ور کړي. دی سوغات ته عموماً «سروپا» ویل کیږي .

د «سروپا» معنی داده چی ګویا مکملی جامی دي چې دسرنه تر پښو پورې سری پکی پټیږي؛ وروسته اورنګزیب امر وکړچی ددې سفیرانو سوغاتونه را میدان ته کړي. ددوی په سوغاتونو کی دغه شیان شامل وو: خودانی داصیلولاجوردو صندوقچی، میاګي اوښان، ډیر ښکلی آسونه (تاتاري آسونه دومره ښکلی نه دي ولی کمال یی ډیر زیات دی) خونوراوښان چی په امبروتو، منو، خربوزو، باروو. (دغه میوې په ډیلي کی ګرد کال موجودې وې او عموماً دازبکستان څخه دلته راځی)، خونور اوښان په وچومیوو باروو، لکه بخاري آلوچی؛ زرد آلو، مویز، بی زړوانګور، دوه ډوله تور اوسپین انګور هم ورکی شامل وو، چی ډیرې غټی غټی دانی لري او ډیر خوازه دي. داټول شیان یی اورنګزیب ته د تحفی په صورت وړاندې کړل

ولی اورنګزیب ددی خانانو دسوغاتونه چندان خوښی ښکاره نکړه، بلکه زیات وخت یی د هغه ځای دمیوپه خوزښت، ښکلا، ندرت او همدا ډول دهغه ځای داوښانو، آسونوپه صفت باندی خبرې کولی. بیائی خو دقیقی وروسته دسمرقند له سفیر سره دا کاډیمی (۵) او د هغه هیواد دحاصلخیزی په باره کی چی بیخی ساری نه لري مجلس وکړ. اورنګزیب دامستراحت په نوم سفیران رخصت کړل

او هیله یې څرګنده کړه چې دی به د دوی په راتلونکو ملاقاتونو سره لاخوشحاله شي. دواړه سفیران د دربار څخه ووتل او پدې ډیر راضي وو چې اورنګزیب سره یې لیدل کتل وکړل. دوتو په وخت کښې ئې حتمي (هندي سلام) له یاده و ووت.

www.libtool.com.cn

هندي سلام اګر چې دغلامي خصوصیات لري، ولې دوی په دې خبره نه شول چې اورنګزیب مستقیماً ددوی څخه مکتوبونه تسلیم نکړل. زه فکر کوم چې که چیرې اورنګزیب ددې سفیرانو څخه دځمکې ښکلولو او یا بل کوم پست کار تر سره کړلو خواهش کړی وای، دوی به بې له ځنډه اجرا کړی وای، مګر خبره داده که چیرې دغو سفیرانو غوښتي وای چې دخپل وطن په رقم اورنګ زیب

سلام ورکړي او یا یې په خپل لاس دهغه مکتوبونو تسلیمول غوښتلي وای، په هرته صورت دې کوشش به دوی لپاره کومه ګټه نه هم درلودلای. داډول حق تش دبادشاه سفیر لپاره حاصل او حتی داډول مهرباني دپارسي بادشاه سفیر لپاره په زیاتو مشکلاتو حاصلیږي. دبلخ او سمرقند سفیرانو اګر چې وطن ته ډیره بیړ کوله، ولې بیا هم په ډیلي کې دڅلورو نه زیاتي میاشتې ډیل شول. دوی هم دلته ډیر خپه وو، ځینې یې ناجوړه او حتی یو څو کسه ئي هلته د ګرمي، هندي عاداتو او اقلیم سره دعدم توافق په اثر مړه شول. ممکن ددوی مرګ ددې کبله وی چې دوی زښت ډیر ... خلاك دي.

کومې پیسې چې دوی ته د روزانه لګښت په نوم ورکول کیدې، زیاته برخه یې ذخیره کولي او په دومره تشنګي او بخل سره یې شپې ورځې تیرولې چې په هیڅ صورت سره سفیرانو لپاره مناسبه څه، بلکه د کرکې وړ وی. ددی سره سره بیا هم دوی په زیاتو عزتونو سره رخصت کړای شول. اورنګزیب دتولو امیرانو په حضور کې هر یو ته بیل بل «سروپا» ورکړل او هم ئې امر وکړ چې هر سفیر ته دلاری خرڅ په نوم اته زره روپۍ ورکړای شي، چې په سرې سر (۲) زره ایکې رسیدې.

او ښکلي زيب دسفيرانو ، خانانو لپاره هم ښکلي (مروپا) زيات قيمتي ز ... تي

توتي ، ډيره اندازه نازکي کتاني پارچي ، طلايي نقره اي خطداره و ... پيښميني توتي

څو تختي نخي قالين ، دوه ګران مرصع خنجرونه چي قيمتي غمي پکي لګيدلي و و

دسوغات په نوم واستول . له هغه وخته چي دوی ډيلي ته راغلي وو ماديې واره دوی سره

www.libtool.com.cn

ديوه ازبک طبيب په مرسته چي زما دملګرو څخه دی ملاقات وکړ . دا غربيان

چي دوي څخه د خپلو هيوادونو دخصوصياتو په باره کي پوښتني وکړم ، آماده داسي

جاهلانو سره مخامخ شوم چي دخپل هيواد دسرحدونه يې حتی نه پيژندل او هم يې تا اوپه

هکله چي څوکاله پخوايي چين فتح کړ هيڅ معلومات رانکړ . (۵۱) . لنډه دا چي

دوی داسي شي ماته و نه شو ويلاي چي په هغه باندي زه پخوانه دم خبر . زما کنجکاوي

تردي حده پوري وه چي پوازي دتازه معلوماتو اخستلو په غرض يوه ورځ دغرمي

ډوډی لپاره دوی سر پاتي شوم . دي کار البته چندان مشکلات نه لرل . ځکه دوی

داسي خلک دي چي خاص تشويفات نه پيژني . دغه غرمي ډوډي زما لپاره خيرخاني

شي وه . ځکه ډوډی ليوه سره داس له غربنی څخه جوړه شوي وه . ماډوډي

څخه انکار ونکړ . راګو تقريبا خونډ ورو . ضروري هم وه څان داسي وښيم چي

ګوندي پاي غربنه باندي چي ډيري سرور کوي زما ډيره خوښه شوه . د ډوډی خوړلو

په وخت کی بالکل چو په چوپتيا وه . دوی پوازي پاي اګيا ود چي شګه د

پولاونه دکث موتي په خوله نباسي . دوی دقاشقو او پنجو په استعمال نه پوهيږي .

کله چي دآس غوښه ددوي خيټو کي تاورا تاوشوه نو شعريې چالانه شو . دوی

زيات کشش پاي تکی ، وچي ماته دخپلو خلکو دغشيو ويشتلو مهارت او کاليني

زغملو اندازه دنړی دنورو اولسونو زياته ثابته کړي او هم يې ويل چي ددوی لښکري

دهندوستان دلښکرو څخه اوږدې دی او کولای شی چي غشي دغوشکي با آس له نس

څخه تيري کړي .

لدې خبرونه وروسته يې بيادخپلو ښځو قوت ارميراني په باره کې نکل شروع کړ . ددی تفصیل او ستاینلو له مخې دنانار وښځی دقوت اومړ نتوب له پلوه دا مازانگو * څخه هم برتري لري . دری ماته دیوڅو حیرانوونکو پیښو په باره کې خبرې شروع کړې چې يوه له هغو څخه داده . آما کاشکی ماکولای شوای په هغه ډول چې دوی په خوږ والفاظو ماته نکل کاوه ، ماهم په هغه صورت سره لوستوونکو ته لیکلی وای . دوی ویل کله چې اررنگ زیب ددوی په وطن کې په فتوحاتو بخت و دهندي سپرويو ټولگی چې ۲۵ — ۳۰ تنوته رسیده په یوه کوچنی کلی باندې حمله وکړه . دمل اوحیواناتو په لرټ یې پیل وکړ . دکلی او سپدونکي چې ځرك په مخ ورتلل پابه يې تړل اوپابه‌يې غلامۍ ته راګرځول . په‌دې وخت کې یوې مهربانۍ بوډۍ هغوی ته وویل . « زامنو دومره ظلم مه کوئ زمالور اورس‌دلته نشته ولې زرراځي دلیوني کارونه پرېږدئ لدې ځایه ژر ځانونه لرې کړئ . که چیرې هغه راشي او ستاسو سره مخامخ شي ټول به ستړی کړي . دې ټولگې دبوډۍ په مشورې پوري وخندل اولوټ ته یې دوام ورکړ .لوټ شوي مالونه یې بار اوبوډۍ یې هم د ځان سره لاس تړلې روانه کړه . آما دهغه کلي څخه لانیم میل نه وو لرې شوي چې دبوډۍ لورښکاره شوه . بوډۍ په شامخ اوږ ولوځپله لور یې دآسونوپه گرد کې پیژندله او دخوشحالۍ نه یې په زوره چغه پورته کړه . دغه مېړنی تاتاره چې آس باندې سپره وه ، توره لینده اوډال یې ځنگ ته پراته وو ، دلرې‌یې هندي ټولگې ته زغ کړ چې که چیرې لوټ شوی شیان بیرته کلي ته راوړي نوزه وعده درکوم چې ژوند به‌مو په آمان کې وي او په ارامۍ کې به بیرته خپل ځای ته ستانه شئ . دبوډۍ دلور خبرو دبوډۍ خبرو په شان په‌داره مارانو تأثیرونکړ . آما کله چې دغې تاتارې

---

* — اما زانگی دلرغونی یونان‌په افسانو کې جنگی ښځی دي چې‌دتوری‌بحیری په غاړه اوسیدی اودهغه ځای نه یې‌په گاونډ یوهیوادونو حملې کولې . ( پښتو مترجم )



www.libtool.com.cn

په لوټ ګرو خو غشي راخوشي کول تول په تعجب کې پاتې شول . غشي دلو تګرو پښو ته نژدې په ځمکه ښخ شول . دوی هم په بدل کې په هغه باندی غشي وروشړل او ډالونه یې لاس ته کړل . ولې دوی يوه هم ونه شواي کولای چې غشي ده ـ غې نږدې وروړسوي . تاتارې دهندوانو په غشیو اولیندوپورې وخندل . تاتارې دخپلې فوق العاده اوږدې کلکې لیندې دقوت په مرسته نیمايي په غشیو سټ کړل او پاتې کسان یې په توره ووژل .

www.libtool.com.cn

دتاتار وسفیران لادډیلی شخه نه ووتلی ، چې اورنګ سخت ناجوړه شو . دسختی اونه شلیدونکی تبی له کبله به کله کله یې هوښه شو . ژبه یې دومره فاج شوی وه چې تقریبا دخبر و کولو قدرت یې ورځخه اخیستی و . طبیبان دده دعلاج څخه نا امیده وواووېل یې چې بس دجوړښت هیله یې نشته . روشن آر ابیګم په پټه کې پدې کوشش کې شوه چې داورنګ زیب دمرګ نیته لار انزدې کړي . حتی دا آوازه خپره شوه چې دګجرات ګورنر راجه جی سامسنګ دشاه جهان ازاد ولولپاره دمرکز په لو ې په بیړه را روان دي . محبت خان چې بالاخره د اورنګ زیب تابع شوی و هم دکابل صوبه پرې ښودہ لاهور ته یې ځان را ورساوه . ـ ۳ ـ ٤ زره سپاره و . سره او غواړي چې شاه جهان آزاد کړي . همدا ډول خواجه اعتبار خان چې شاه جهان په چوڼی کې تر نظارت لاندې ساتی هم غواړي چې شاه جهان له بنده راخلاص کړي .

مونزایدل چې شنګه دیوې خوانه سلطان معظم تو طیئی جوړ ولی او کوشش یې کاوه چې په ډول ډول وعدو اوقولونو سره دامیرانو طرفداری ځان ته جلب کړي . خبره دې اندازې ته ورسیده چې یوشپه سلطان معظم په بدلو جامو کې دراجه جی سامسنګ په اورې روان شوچې دهغه څخه همکاري وغواړي . دبلې خوانه مونږ داهم لیدل چې روشن آرا بیګم دتوپخانی لوی آمر فدای خان او نورو امیرانو په ملګرتیا ځوان

شاهزاده سلطان اکبر په گټه توطیئو جوړ وي. سلطان اکبر داورنګ زیب دریم زوی دی عمریی د۸۰۷ کاونو څخه زیات نه دی.

په عین وخت کې دوارو رقیبانو ویل چې د دوی مقصد د شاه‌جهان آزادول دي او بس. خلك پدې ټمه چې شاه جهان به د جیل څخه آزاد کړای شي. اما حقیقت دادی چې حتی یو امیر او ویلمو ژیدي باره کې دزړه له کومي فکر نه کاوه. رقیبانو دلوکه په خوله دشاه‌جهان دآزادولو آوازې خپرولی نو دا ټول فقط ددې لپاره وې چې دخان کریډت لوړ بوځي. له بلې خوا دوی لدې نه ویریدل چې ممکن د اعتبار خان په کوششونو یادولې پټې توطئې په مرسته شاه جهان دجیل نه راخلاص او فورا به دلښکر په ټولولو پیل وکړي.

رښتیا خبره داده چې دټولو امیرانو په منځ کې پرته لدې چې سامسنګ او محبت خانه چې دوی هم دخپلې آرزو لپاره چندان کار ونکړ بل هیچا نه غوښتل چې شاه‌جهان دې دجیل نه راخلاص شي او بیادې په تخت کښیني. آیادې دوو کسانو یعنې جې سامسنګ او محبت‌خان په خپل وخت کې دشاه‌جهان مخالف نه و؟ په هر صورت خبره داده چې شاه جهان په لویره ناځوانمردۍ سره په میدان خوشې کړای شو. دوی ښه پوهیدل چې که فرضا شاه جهان د جیل څخه را ووځي نو لیوني پرانګ ته به ورته وي او په ده به څوك باور وکړای شي. هغه اعتبار خان چې شاه جهان یې سخت په جیل کې ساته څه شي ته امید واره و؟ که چیرې په کوم تصادف سره شاه جهان د جیل نه راوتلی وای زه فکر کوم چې بالکل به یوازې په میدان پاتې شوی وای. اورنګ زیب اګرچې بې اندازې ډیر ناجوړه و، ولې بیا هم هغه کارونه یې په خپل لاس کنترولول. دیته ښه متوجه و چې شاه جهان باید په جیل کې تنګ وساتي. اورنګ زیب سره ددې چې سلطان معظم ته دا مشوره ورکړه چې که فرضاً دی مړشي دموقع نه استفاده کړي لاس په لاس دې دشاه جهان په مخ د جیل دروازې

خلاص کړي . مګر بیاهم ددې مشورې سره سره ده داعتبار خان‌سره‌پر له‌پسی مکاتبه چلوله. پنځمه ورځ چې دا دده دناجوړی شدیده مرحله وه اورنګ زیب امروکـړ چې‌دی دامیرانو مجلس ته ور وړي. ددې کار نه داورنګ زیب مقصددارچـی که څوك پدې فکر وي چې ګویامړشو اول دهغوی سرته سدروالی، دوهم داچې دهغه تصادف مخه ونیسی چې دهغه په مرسته شاه جهان کولای شول د جیل څخه ځان را خلاص کړي. په ۷ او ۹ روځ یې دپورتنی مقصد له مخی مجلس ته‌ور وړ په۱۳ ورځ چې دبی هوشی نه لږ راپه حال شو او په‌تول ښار کی دا آوازه لویدلی وه چې اورنګ‌زیب مړشو، فورا یې دره درې لوی امیران اوچی سنګ ځان ته را بلـل ده، کارنه داورنګ زیب مقصدهم داوه چې دوی‌ته وښیی‌چی‌دی لاتر اوسه‌ژوندی دی.ده‌امر وکړچی‌هغه کښینوي، قلم‌او کاغذور کړي‌ار اعتبار خان‌ته‌امرولیکی اوهم‌هغه لوي مهرچی‌ده‌ر وشن‌آر ابیګم‌ته‌دساتنی‌لپاره‌ور کړی وراوړی. دغه مهرپه‌یوه کوچنی کښوره‌کی‌ساتل کیده‌چی‌دهغې کخوری‌پرخوله‌باندی‌بل مهرلګیدلی و، اوهغه‌اورنګ‌زیب دځانه سره ساته چې روشن‌ار ابیګم له هغ څخه دخپلواغراضو لپاره استفاده ونکړي.

په‌همدې وخت کی زه دخپل آغاخنګ سره ولاړوم. اورنګ زیب ته‌یـی دتولوپیښو په باره کی‌معلومات ورکول . ما په ستر ګولیدل‌چی اورنګ زیب څنګه آسمان ته لاسونه پورته کړل اوویل یی (داخنګه تینګه اراده اوڅنګه مرتوب ! اورنګ زیبه !خدای به تاد نورولو یو کارونو لپاره وساتی .دی نه غواړي چې ته مړشی. )

رښتیاهم چې‌لدې نه وروسته یی خوب مخ په ښه کیدوشو.

کله چې دده صحت لږ ښه غوندي شولاس پرلاس یی‌داکوشش شروع کړ چی‌شاه‌جهان اوبیګم صاحب څخه ددارا شکوه اور ر اخلاصه اوخپل‌دریـم زوی سلطان اکبر ته یې واده کړی اوپدې ترتیب سره‌خپل زوي راده نه ځان یې غمنکړي

دډغې شاهزادګۍ واده په دسلطان اکبر سره دامعنی لرله چې اورنګ زیب خپل دریم زوی ته دنور وزامنو په مقابل کې دتاج او تخت حقوق وحق تضمین کړل. سلطان اکبر اګر چې تر اوسه پېخې کوچنی و، ولې دسلطان چه دربار کې یې دیرزیات نفوذ او خپلوان درلودل ځکه نو اورنګزیب خاص لدې کبله سلطان اکبر دتاج او تخت لپاره وټاکه سلطان اکبر دشاه نوازخان دلور زوی او دده په رګو نو کې دماشات دلرغونو شاهانو وینه چلېده آماسلطان محمود ارسلطان معظم درانی یاد رانجه دلور زامن وو. دغه پادشاهان اګرچې په خپله مسلمانان دي ولې بیاهم په ډېره خوشحالی سره دبت پرستانو له لوري سره فقط دد ولتي سیاست له مخې یا ممکن ددوي دبې ساري ښکلا له وجهې نه وادونه کوی داورنګ زیب داپلان ناکامه شو. تاسي به باور ونکړئ چې شاه جهان او بیګم صاحب په خومره غرور او متکبر سره داورنګ زیب غوښتنه رد کړه په خپله شاهزادګی ددې ویرې نه چې ممکن وبی نه بېښتوي خوشې روځې یې په بې ساري غم او خپګان کې تیر کړي او دائي په څرګنده ورته وویل چې ددې خون خورا (اورنګ زیب چې ددې پلار یې وواژه) زوي سره واده کولو نه مرګ سل ځلي بهتر ګڼي. اورنګ زیب دا هم ونه شواي کولای چې شاجهان څخه قیمتي ډیرې دامتو تاج (کوه نور) دتزین کار خلاصو او لپاره واخلي (۵۲) شاه جهان په تکبر سره داسې ځواب ورکړ. بهتره به داوي چې دتاج دتزین کارونه پریږ دي او په عوض کې ددولت کارونه دپخوانه بهتر کړي تاج په ارامه پریږده دقیمتي ډبر وپه باره کې خبرې هم زښتي شوې. که چیرې بیاپلډې باره کې او رنګ زیب غږ پورته کړ په ښتک به یې په خاورو بدلې کړم.)

هالنډ یا نونه غوښتل چې اورنګ زیب ته خپل سفیر رواستوي. ددې کار لپاره په سورت کې دهالنډ یانو دتجارتی مرکز آمر ښاغلی ادریکان (۵۳) چې ډیر هوښیار، پاک نفسه او هم دخپلو ملګرو دپوره اعتماد ورسره وانتخاب شو اورنګ زیب اګرچې دتظاهر له مخې ټینګ مسلمان او داسې ځان ښیي چې ګویا فرنګیانو او

عیسویانو ته دنفرت اوتوهین په سترگه گوري ولی بیاهم ده دغه سفیر ډیره مهربانی او احترام سره ومانه اوحتی داهیله یی ترې وکړه چې دی اورنگ زیب ته دخپل وطنی سلام نه ورو سته دهندوانو پشان سلام هم وکړي . دهالنډیانو دسفیر مکتوب دیره امیر په لاس اوزنگ زیب ته وړاندې شو. ولی هالنډ یانو داد ځان لپاره تحقیرونه بالله ځکه عین په همدې ډول دازبکانو دسفیرانو سره هم معامله شوې وه. الدي مراسمو نه وروسته وپوهول شو چې اوس کولای شي خپل سوغاتونه راوړي. دهالنډیانوسوغاتونه چې اورنگ زیب ته یی راوړي وددغوشیانو څخه جوړ شوي و: زیاته اندازه شنه سره نازک ټوکران ، پوړ څولوې هنداري زیات شمیر جاپاني ، چینایي ښکلي مصنوعات چې دهغه په منځ کی تخت روان هم شامل و ، چې ټول لید ونکی یی په تعجب کی واچول .دهالنډیانو سفیر غوښتل چې ژر بیرته ستون شی ولی ډیر وځنډول شو مثل زیاتره خارجی سفیران ډیروخت ځان سره ځنډوي اوداسی فکر کوي چې په دربار کی دخارجی سفیرانو زیاته موده پاتې کیدنه ددربار دبدبې سره مرسته کوی . ددې سره دې دازبکانو سفیرانو په نسبت ژر رخصت کړای شو . دهالنډ سفیر لپاره دا کار لویه خوشبختی گڼل کیده ځکه دده سکرتر هلته مړاو پاتې ورسره کسانو پــه ناجوړی پیل وکړ کله چې اورنگ زیب دی رخصتاوه امریی وکړ چې نور نــوي خاسکه دزيي شوي کالي ورواغوندي اویوجوړ یی جنرال گورنر بتاری ته دسفیر په لاس ورواستوله ار دهغه سره یی یو په قیمتی غمیږ مرصع خنجر اویـــو ډیر دلطف نه ډک مکتوب هم ملـگري کړل .

هالنډیانو دخپل سفیر استولو اصلي مقصد داو ، چې امپراتور دې خپله مستقیماً ددې سره معرفي شي . ددې معرفي نه ئې داتمه وه چې له یوی خوا خپل اعتبار لوړ اوله بــلي خوا په ساحلی بنادرونو اوهغو ځایونو کی چې ددوی تجارتی موسسي واقع دي دهغه ځایونو په گورنرانو باندی ویره واچوي. ترڅو دوی ونه کولای شي په خپل صلاحیت سره

دهالنډیانو دتجارت مانع او یا یې خوابدي کړي بل یې د هغو ځایونو گورنرانز پېدې هم وپوهول چې ددوی سره کار دداسې قوي سره دی، چې کولای شي مستقیماً امپراتور ته ددوی نه شکایت وکړي . دریمه داچې دوی غوښتل امپراتور ته داهم وښیي چې دهالنډیانو سره تجارت پخپله ده ته ډیره زیاته گټه رسوي لدې وجهې نه دوی اورنگ زیب ته دهغو مواد و یواوز دلست چې دوی په هندوستان کې اخیستې و وهم وښود داورنگ زیب توجه یې دیته هم را وگرځوله چې هر کال (زیات مقدار) طلانقره دځان سره دده امپراتوری ته راوړي اماهالنډیانو هغو پسو اندازه چې دوی یې ځای دمسو قلعی، قرنفل ، مرچو، پلپلو اونورو مواد څخه لاړ تار اوړي ښکاره نکړه .

تقریبا په همدې وخت کې یوله امیرانو څخه چې هم په عمر او هم په نفوذ کې له نورو امیرانو څخه زیات، و، یوه ورځ یې داورنگ زیب توجه دیته راوگرځوله چې که چیرې دي په همدې ډول هرې لوې او وړې پیښې لپاره دومره زیاته توجه کوي او کار هم داندازې نه زیات دی کیدای شي چې داعصابو دفشار په نتیجه کې یې صحت خراب شي .اورنگ زیب دهمدې خبرو اوریدو په وخت کې بل خنگ ته مخ را وگرځاوه اودخپل دربار دامیرانو څخه یوه تعلیم یافته او هوښیار امیر سره کې خبرې شروع کړې .خرنگه چې دهغه و یلموژ زوی طبیب اوزما ملگری و، دخپل پلار له خولې یې داورنگ زیب خبرې ټکي په ټکي ماته داسې وکړې : (تاسې پوهان آیادې سره موفقه ائ که نه چې په ځینو وختونو کې بادشاهان دخپلو رعیتو دساتنې لپاره خپل ژوند په خطر کې واچوي ددوی دحمایې لپاره توره په لاس ځان قربانې ته ور کړي ،ولې دغه نازدانه نه غواړی چې زه په خپلو اعصابو زیات فشار واچوم دخپل ژوند بې خوبه شپې داجتماعی هوسایې لپاره وقف کړم ماته ښکاری دی زما دسلامتی له کبله غواړی مایوازې او یوازې دعیش اوعشرت خواته متوجه کړي ترڅو د مملکت ټول کارو نه دکوم یوه وحشي په لاس کې

ور کړم آبادي نه پوهېږي چې زه بادشاه زاده محض د مملکت د آبادۍ لپاره زېږېدلی يم او يوادغه تاج و تخت تقدير ماته را په غاړه کړل. په دې صورت کې زه نه يوازې دځان لپاره بلکه دخلکو د هوسايي لپاره هم پيدا شوی يم چې خپلو رعيتو ته ارام او خوشبخته ژوند برابر کړم البته دا کار به هم دلوی خدای د رضا او هم د بادشاه دامنيت لپاره ضروري وي دی دخپلو مشورو پای ته ورسي چې کله چيرې د حکومت والي دوحشيانو په لاس کې ور شي کومې بدبختۍ به تر پراو يزيږي. آبادي پوهيږي چې نه چې زمونږ لوی سعدي داسې په زړه ورتوب سره ويلي دي: (رباشاهانو؟ يادانوم له ځانه ايسته کړئ يادګار هنر پيدا کړئ) څه ولاړ شه خپل وطندار ته ووايه چې زه هميشه خپل کار و نه په پوره غور سره تعقيبوم. دا زما دوظيفې عادي کار و نه دي ولې دي بايد دومره پوره شي چې خپلې برستنې سره څنګه پښې غزول په کار دي ؟ زمونږ د تولو په خته کې بې کاري ، بده ژوند ته تمايل او تنبلي اخشل شوی ، دې بده پدې پوهيږي نور و مشور چيانو ته ضرورت نشته زمونږ بنځې هم داکولای شي چې زمونږ اکثر دعيش او بې کاره ژوند خواته ور وښويوي ».

پدې وخت کې يوه پيښه منځ ته راغله چې په ډيلي خصوصاً حرمسرای کې يې زيات غال مغال پورته کړ او زيات کسان يې پدې متيقن کړل چې خسيان (خواجه ګان) کولای شي ، د نورو سالمو نارينا و پشان مين شي . دا د ګان چې په حرامسرای کې يوله لويو خواجه ګانو څخه وځانته يې کور آباد کړ ارزياتره شپې به يې هلته تيرولې. دخپل ګاونډي هند ومېرزا په خور باندې چې ښکلې وه مين شو . دغه عشقي داستان تقريباً ډير سره اوږد شو ، ولې هيڅوک يې په شک کې نه اچول ځکه چې دعشقي داستان قهرمان يو خسي او بله ښځه نه بلکه ميرمن وه . آماده عاشقانو په منځ کې مينه داسې بې ساري حد ته ورسيده چې نور نو ګاونډيانو په ميرزا باندې ملنډې شروع کړې . دې ملنډو ته ميرزا

www.libtool.com.cn

باندې داسې بدتأثیر کاره چې څوځله یې خپله‌خور او خواجه په مرگ سره تهدید کړل ، چې که‌چیرې دوی نور هم خپلو روابطو ته‌ادامه ورکړي هغه‌به‌له هرې وسیلې څخه ددوی مقابل کې کار واخلي . پدې ترتیب سره میرزا یوه‌شپه خپله خور چې د خواجه سره په یوه کټ کې پرته وه و نیوه . خواجه یې په خنجر تپی او خپله خور نزدې وه چې مړه کړي . دحرمسرای ټولې ښځې او خواجه گان پدې نظریه کې سره متحد شول چې دغه خواجه غرغره کړي . اورنگ زیب ددوی کوششونو ته توجه نه‌کوله او تش یې پدې قناعت وکړ چې هغه مسلماني ته راوگرځوي . آمادا بایسد وویل شي چې دغه بدقسمته خواجه نه‌شو کولای دزیات وخت لپاره دحرامسرای دقوي خواجه گانو له قهر و غضب نه ځان پټ کړي . ځکه لکه‌څنگه‌چې دلته‌عموماً ویل کیږي چې حیوانات‌دخسی کولو نه وروسته‌لارام او مطیع شي امااانسانان‌برعکس دېځوانه‌لازیات بې‌رحمه‌فاسدبداخلاقه زیاتره‌یې متکبره او بې حوصله کیږي . کله کله ددغو خواجه گانو څخه ډیر زړور ، وفادار او بې‌درکه‌میړني‌او سخي‌انسانان راوځي .

ویل کیږي چې تقریباً په همدې وخت کې دروښن آرا بیگم اورنگ زیب ترمنځ ددوستی‌فضا لدې سببه‌خړه پړه کیږي چې هغې ( رروښن آرابیگم ) گویا خو ځلې په پټه‌سره حرامسرای ته نارینه رانیستل . دغه نارینه ونیول‌شول ، اورنگ زیب ته راوستل شول ، اما څرنگه چې دې کارتش‌دشک‌بنه‌درلودلوا رنګ زیب روښن آرابیگمې ته خپل خپگاز جوړت نه‌کړ ، او نه‌یې دغو نیولوشویو بدبختانو تــه داسې بې رحمه سزاوتاکله لکه شاه جهان چې سزاوار کوله . ددې پېښې په باره کې ماته یوې زړې پرتگالي میڼځې چې زیاته موده په دربار کې‌اوسیده ، په‌ازادانه‌ډول حرمسرای ته ننوتلای شوه وویل چې روښن آرابیگم څوروځې سر په سر دهغه ځوان څخه تول هغه شیان لاس ته کړل چې هغه یې په اجراکووقادر و ، بیادې خو کسه ښځې‌مؤظفې کړې چې دغه ځوان دباغ دلارې روغ رمټ دې ته ورتیر

کړي . ولې نه پوهیږم چې د دوی ونیول شوي یادنیول کیدونه وویریدې یابل کوم علت موجود و . لنډ داچې دوی وتښتیدي او ځوان په باغ کې لار ورکه کړه ، نه پوهیده چې کومې خواته ووځي . بالاخره دغه ځوان ولیدل شو اورنګ زیب ته یې راوست . اورنګ زیب دغه ځوان څخه زیاتې پوښتنې وکړې . ولې ده ټولو په مقابل کې یوازې داځواب ورکاوه چې دی ، باغ ته ددیوال نه راوښت اوبس .

اورنګ زیب امر وکړ چې ځوان دهغې لارې چې باغ ته راننوتلی دی بیرته په هغه لاروباسي اما خواجه ګانوپه خپل سر دغه ځوان د دیوال نه وغورځاوه . د دوهم سړي په هکله هم دغې پرتګالي مینځې ماته رویل چې دی یې په باغ کې پیدا کړ ، آماده یدې اقرار وکړ چې د دروازې دلارې ته باغ ته راننوت . دده په باره کې هم اورنګ زیب امر صادر کړ چې په همغه لاربې بیرته وباسي. ولې بایډ خواجه ګانوته سزا ورکړي . ځکه دا کار نه یوازې د پاد شاه دناموس اپاره بد کتل دي دده ( اورنګ زیب)ځانګړې امنیت هم په خطر کې اچوي.

ددې پیښو څخه څه موده وروسته دیلی ته تقریبا په یوه وخت کې پنځه سفیران راورسیدل. لومړی د مکې د حاکم سفیرو . ده د ځان سره عربي آسونه . جاروګاني چې په هغه کې دمکې لوی جومات دبرج عکس کندل شوی راوړي وو. مسلمانان دې ځای ته خاص احترام لري او دبیت‌الله په نوم یې یاد وی چې د خدای کور معني ورکوي او یدې عقیده دي چې دالوړ معبد دی‌چې یو وخت د خدای کور او بیایې ابراهیم پیغمبرته بخشش کړ.

دوهم دیمن بادشاه سفیر او دریم دبصرې سردار سفیرودوی اورنګ‌زیب ته‌عربی آسونه په سوغات کې راوستلی و. دوه نور دحبشي‌پادشاه سفیرانوو . درو لومړیو سفیرانوته اورنګ‌زیب ډیر لږه توجه وکړه.ددوی ظاهري وضع‌دومره‌فلاکت باره وه چې خپله ظاهری وضعې د دوی ارزو بیانوله. هغه‌داچې‌په لږاوناچیزسوغات

www.libtool.com.cn

سره داورنګ زیب ښخه ډیرې پیسې لاس ته کړې. د بلی خوا دوی د ځان سره آسونه او نور شیان دسفیرانو په نوم بی محصوله دځان سره وار دکړل چی دلته یی خرڅ او په هغه باندی هندی مالونه بیرته بی ګمرګه ځان سره یوسي. آمادحبشی سفیرانو په یا ه کی باید ډیرې خبرې وکړو. څکه چی دوی دپوره توجه وړ دي دحبشی بادشاه چی دهند له کودتاو څخه خبرشونوویی غوښتل چی هندوستان دخپل هیواد لهخصوصیاتو آشنا، او ځان له هره پلوه دهندوستان خلکو ته لوی وښیی ددې مقصد لپاره یی هغه هیوادته شانداره سفارت واستوه. زه نه پوهیږم چی داتشه بده آوازه ده او که حقیقت لري چی بادشاه هم دنورو پشان غوښتل چی د اورنګ زیب څخه سوغاتو نه ګوتوته کړي. دادی وګوری چی دغی حبرانوونکی سفارت لپاره څه ډول ترتیبات ونیول شول: دحبشی بادشاه دسفارت چار و ترسره کولو لپاره دوه کسه غوره کړل چی ددې په دربار کی یی دنفوذ او استعد د له مخی دنورو درباریانو سره جوت فرق درلود اوپهدې متیقن وچی ددې ماموریت اجرا کولو لپا ه دوی په ټوله معنی مساعد دي. دحبشی بادشاه دسفیرانو لومړی سړی یو مسلمان تاجر وچی څو کاله پخو ماپه موکو (دځای نوم دی) کی ولیده. کله چی زه هغه وخت دمصر نه دتګ په وخت کی دسرې بحیرې څخه تردیدم.

دغه سوداګر دخپل پادشاه په لارښودنه دلته راغلی وچی زیات شمیر مریان خرڅ او په عوض کی یی هندي مالونه واخلی. پدې ډول دغه افریقایی عیسوي مذهبه بادشاه خپل تجارت کوي. دوهم سفیر یوعیسوی ارمنی سوداګرو، چی په الیپا کی زیږیدلی اوهم یی هلته واده کړی و. دغه ارمنی سوداګر پهحبشه کی په میورات[1] سره مشهور و. ده سره هم زه په موکو کښې مخامخ شوم او هغه دخپلی کوټی نیمایی برخه یی ماته خوشی کړه. دهماته ډیرې ګټورې مشورې راکولی اوهغه ما د مخه په خپل داستان کی یاد کړي دي.

1 دمیورات نه ممکن مقصد مراد وی. (مترجم)



www.libtool.com.cn

همدې میورات زه دخپل اومړی نیت څخه چې حبشي ته باید تللی وای منع کولم .
دی هر کال دخپل بادشاه په غوښتنه لکه هغه بل مسلمان دي هیواد ته راتله او ځــان
سره یې هغه سوغاتونه راوړل چې هر کال دشرقي هند کمپنی انگریزانو او هالنډیانو
لویو ماءورینو ته استول او هم یې هغه تحفې ځان سره راوړلې چې دده بادشاه تــه
ور کول کیدې .
www.libtool.com.cn
ددې لپاره چه دحبشي بادشاه سفیران دهندوستان دربارته په دبدبه اوشان و
شوکت کې ورغلي و ی نودوی یې په زیاتو تحفو کې ونغړل . بــادشاه دوی تــه
دیرش (۳۰) مریان ( هلکان اوجلې ) ورکړل چې په موکوکې یې خرڅ کړي او
لدې د. که دپاتی لارې مصرف لپاره په کافي اندازه پیسې ځان ته برابرې کړې.
دغه په خپله یو حیرانوونکي سوغات و ، ځکه چې داډول مریان په موکوکې
عموماً په ، وسط ډول هریوپه ۲۵ ایکوخرڅیدل باید ي ددوی په جیبونو کې زیاتــې
پیسې جمع کیدې . ددې نه پرته بادشاه دډیلي لوی مغل لپاره دسوغات په تــو گه۲۵
غوره مریان ورکړل . په هغه ډله کې نه یا لس تنه داسې دلزعمر ځوانان موجودوو ،
چې دخسي کولو لپاره بالکل آماده وو.
ددې سوغات په باره کې قضاوت نوررته پریږدم چې دیوه عیسوی مذهبــه
بادشاه له خوا مسلمان بادشاه ته را استول شوی و. دبلې خوا دحبشي عیسویت زمونږ
عیسویت سره جوت توپیر لری . دی بادشاه دخپلو سفیرانو په لاس مغلي بادشاه ته
۱۵ آسونه چې دعربي آسونوسره مساوی بلل کیږی ، یو کوچنی کچرچې یوخاص
نوع دی او پوستکی یې ماولیده او دنادراتو څخه شمیرل کیږی. دغه پوستکــی د
خطونو دښکلا تنظیم له مخې نه دپړانگ پوستکی ، نه همدې خطداره ور ښمینه الاشه
او نه بل شی په نفاست کې و. سره سیالی کولای شي . ددغې نه پرته دپیل دوه داسي
ښاغونه ددوی دخبرو له مخې چې یو دیرقوی سړی کولای شول چې یوغاښ یو وار
په متې له ځمکې څخه پورته کړی ، هم ورسره ملگری کړل . دسوغات ددوستۍ

شي دغوڅکې ښکرو ، چې ځيبت (٥٤) ( يو ډول شراب دی ) څخه ډك شوی و. دغه ښکر هم بې اندازې لوی اوغټ و. کله چې دوی ډيلي ته راورسيدل ماددې ښکر سوی وکوت اوقطريې د نيم فوټ څخه زيات راته ښکاره شو.

www.libtool.com.cn

کله چې دسوغات لپاره ټول شيان په شاهانه ډول تيار شول سفيران دحبشي پايتخت نه دهندوستان په نيت را روان شول . دحبشي پايتخت ګوندير نه چې د دومبي په ولايت کې واقع دی په ډيره خرابه اوسخته لارحرکت راوکړ. ترڅو بې لول ته چې اوس يوغير مسکون بحری بندر دی اودموکوپه مقابل باب المندب ته نژدې پروت دی راورسيدل . په لار کې اوه مياشتې وربانده تيرې شوې . ددې علتونو په باره کې چې دوی ولې معمولي تجارتي لاره دخپل تګ لپاره غوره کړه ، کومه چې دار کيکا پورې دخلويښتو ورځو نه زيات مزل نه غواړي زه به روسته خبرې وکړم. کله چې دوی په بې لول کې وو ، اوغوښتل يې چې ددې ځای نه دماسو وا جزيرې ته ورپورې شي چې هلته دترکيې سلطان لښکر هم پروت دی او له دغه ځای نه دموکو په بارورنګې بيړۍ کښې دسرې بحرې نه پورې وتي وايې ډير وځنډيدل . په نتيجه کښې ددوی دمريانو زيانه برخه هلته مړه شول . ځکه چې ډيرې دځنډيدو په سبب دحبشي سفيرانو نه شوای کولای چې دخوراك لپاره لازم مواد پيدا کړي . کله چې موکوته ورغلل دحبشي امپراتوار دامرله مخې دوی بايد خپل مال نه خرڅ ، چې ځان لپاره يې دلارې خوری برابر کړی وای ، ولې ددوی بدبختي ته ګوره چې په دغه کال کې دمريانو قيمت بې اندازې تيټ شوی و . آما بياهم دوی دمريانو خرلونه پوره اندازه پيسې جيب ته کړې اومخ په وراندې وخوځيدل . دوی په هندي بارورونګې بيړۍ کې سپاره شول چې سورت ته ځان ورسوي . بحري سفير نسبتاً بدنه و . دوی اګر چې په بحر کې د پنځه ويشتو ورځو څخه زيات پاتې نه شول ولی بيا هم ممکن لدې کبله

چې خوراکي مواد یې په زیاته اندازه ځان سره نه واخیستی یا نور علتونـه مخ ته راغلل خو په نتیجه کې څو آسونه څو مریان او هغه کچر چې د نادراتو څخه و مړه شول . اما پوستکي یې د تباه کېدونه خلاص کړ . کله چې دوی صورت ته راورسیدل یوه مشهور بیجاپوري داړه مار چې سیواجي (۵۵) نومیده په ښار حمله وکړه د سفیرانو د کور سره یې ټول ښار چور او وسوزاوه .

سفیرانو په منتې وکولای شول چې د مکتوبونو څخه پرته یو څو مریـان چې مریضان وو یا ممکن سیواجي ونه کړای شول چې هغه ونیسي ، خپل کالي ، د کچر پوستکي چې د سیواجي توجه یې جلب نکړه ( زه فکر کوم چې سیواجي ددې پوستکي په ارزش بالکل نه پوهیده ) ، دغو شکي اشیاوو چې دځی بت نه خالي و ، بنا پـدي سیواجي هیڅ عرض ور باندې ونکړ ، خلاص کړل . دې سفیرانو دخپلې بدبختـي په باره کې ډېره مبالغه کوله . اما بې رحمه بت پرسته هندوانو چې د دوی حال لیده چې په کوم بدحال راغلي دي ، چې نه یې کالي درلودل ، نه خوراکي مـواد ، نه پیسې ، ، او نه د سفارت سند چې په ډیلي کې یې ورښکاره کړي وای . د دوی په باره کې داسې خبرې شروع کړې ، چې په صورت کې د سیواجي داړه مارنه ژوند خلاصول د دوی لپاره تر ټولو لویه نیکمرغي ده . ځکه سیواجي دوی سره دا مرسته هم وکړه چې دوی یې د هغه خوار او بې قیمته سوغات راوړلو څخه خلاص کړل سیواجي دوی لپاره دا بهانه برابره کړه چې ځانونه په مفلسۍ واچوي . چې بـت او یو څو مریان چې د دوی ځانګړي مال وخرخ کړل ، او هم د صورت ګورنرنه یې دا خواهش وکړ ، چې دوی ته د خرڅ ورځولپاره د خوراکي شیان ورکړي او بالاخره دلاري د خرخ په نوم هم څه مقدار پیسې ترې وغواړي چې د هغه په مرسته ځانونه ډیلي ته ورسوي .



www.libtool.com.cn

ادریکان دهالنډ تجارتي موسسی آمر چی زما ملګری و د ارمني میورات ته زما لپاره معرفي خط ورکړی و او هغه په ډهاکې کې ماته راکړ. میورات پدې نه پوهیده چی په موکوی کې زه د ده میلمه وم. داډېره دخوشحالی لیدنه وه، کله چی مونږ سره وپیژندل. ځکه چی ۵–٦ کاله مونږ یوبل نه وولیدلی. ماهغه په اخلاص سره په غیږ کې ونیوا او د هر ډول مرستی وعدې ورکړه. په دربارکې اګرچی ماپیژندګلوي درلوده ولی بیاهم ماونه کولای شول چی هغوي سره لازمه مرسته وکړم ځکه دوي سره د کچر پوستکي ار غوځکي تش لښکر څخه نور هیڅ شي نه وو. ټولو لیدل چی دغه سفیران دښار په کوڅو کې د عربو کوچیو پشان پلی هاخوا دیخوا ګرځیدل پرته زماله آسه او یو بل آس چی دوی په کرایه نیولی و، بل هیڅ ژوندی سرې ور سره نه و، او په ښکنګ یې ۷–۸ مریان تلل چی هغه هم لوڅ وو، په تن کې یې بې له یوي معمولي رنجي نه چی تش بې ددوی فرض پټ ول او بل یو اوز دڅادر چی په اوزه یې تاوکړي وو، ترهینو پورې ځوړندوو او د باراني کار یې رڅخه اخیست نورڅه په ځان کې نه و. زما کوششونه ددوی لپاره ټول بې ګټې وو، ځکه چې د ګدایانو په سترګه ورته کتل کیدل او هیڅ دا نه غوښتل چی دوی ته د سفیرانو په نظر وګوري.

ماخپل آغا دانشمندان خان ته د حبشي بادشاه شان و شوکت ډیر لوړ معرفي کړ اوده هم زماله خبرو سره علاقه ښکاره کوله. ځکه چی دده رسمي وظیفه د خارجي کارونو سره تړلې وه. زما د کوششونو په مرسته د حبشي سفیران اورنګ زیب ومنل د دوی مکتوب واخیست او امریې وکړ چی دوی ته سروپا (تحفه) ورکړي، په سروپا کې خامک دوزي کرتي و ښمن کالي، ګلدارې شوی د غاړې دستمال یا کمربند، پټکي راتلل او هم یې د دوی خرڅ ورکړ. دوی یې ډیر ژر رخصت کړل آما دا باید ووېل شي چی ددوی احترام او نمانځنه ددوی د توقع نه لوړه وه. کله چی اورنګزیب

دغه سفیران رخصتول هر یوه ته یې بیاله سره نوې تحفې ور کړې. له سروپانه پرته دوی ته یې شپږ(٦) زره روپۍ هم بخشش کړې چې درې زره ایکۍ ترې جوړیږي.

اورنګ زیب ددوی پـادشـاه ته ددوی په لاس ډیـر قیمتـی سـوغاتـونه www.libtool.com.cn

واستول. په سوغات کې دغه لاندې شیان شامل وو: دوه لوی نقره یي دوربینـونه چې طلایي او به ور کړ شوې وې، یوه جوړه نقره یي تلۍ (دموزیك الهده)، یو قیمتي مرصع خنجر چې تقریباً دطلایي او نقره یي روپیوله مخې به یې شل زره فرانـکه قیمت درلود. دادومره قیمتي سوغات یوازې ددې لپاره و، چې اورنګ زیـب غوښتل دحبشي پادشاه ته داسې نادره او بې ساری قیمتي سوغات ورولیږي چې په حبشه کې نه پیدا کیږي.

اورنګ زیب پدې ښه پوهیده چې دغه پیسې چې دهٔ دحبشي سفیرانو ته بخشش ور کړې، دهندوستان څخه نه وتې. ځکه دغه سفیران به خامخا پدې روپیو بانـدې هندي مالونه اخلې. رښتیا هم چې دوی دغه مقدار پیسې په هندي نخي ناز کو تو کرانو باندې ماتې کړې. (بادشاه ـ ملکې او د دوی یوازیني قانونـي زوی او ولیـعهد ته یې کمیسونه او تو کران وربانده واخیستل).

الاچه یاوریښمین نقره یي یا طلایي خطدار تو کران چې دهغه څخه کمیسونه اوپرتو گونه ګنډي. انګلیسي ښه سره تو کران چې دهغوڅخه بادشاه ته دوی عربي کرتي ورو ګنډې او داسې نور زیاته اندازه ارزانه تو کران دحرمسرای او هغو کوچنیانو لپاره چې دبادشاه څخه زیږیدلي دي واخستل. پدې ترتیب سره تولې پیسې داسـې مصرف شوې، او کوم مال چې وربانده اخستل شوی و، تول یې بې محصوله ځان سره یوور.

دمیورات سره زما تولیه درستي په دروهیلو باندی ولاړه وه. په آخر کې زه
په خپلو ټولو مرستو؛ منلو تر ړوچې دده لپاره مې وهلی وي پښیمانه شوم . میورات
خپله وعده په ځای نکړه چې دپنځوسو روپیو په مقابل کې دوعدې په اساس خپل
www.libtool.com.cn
کوچنی زوی چې ډیر ښکلی ، نری و نه او دنورو حبشیانو پشان یې پلنه پزه ، پلندې شونډې نه
لرلې په ماخرڅ کړې وای. ماته وویل شول چې دی دخپل زوی په مقابل کې
درې سوه(۳۰۰) روپی غواړي. ددې باوجود زه حاضروم چې هغه واخلم. دا ټول
فقط ددې نادر نوم لپاره چې پلار خپل زوی په ماباندی خرڅ کړ.

دوهم داچې میورات دهغه بل مسلمان پشان اورنګزیب ته داوعده ورکړه
چې په مجرد دګرځیدو به په خپل بادشاه باندی فشار واچوي چې په حبشه کې هغه
لرغوني جومات چې پرتګالیانو وران کړی و، له سره ترمیم او آباد کړي. داجومات
دکوم یوه شیخ یادرویش دمقبرې لپاره جوړشوی و، چې هغه دمکی نه خاص داسلام
دین دتبلیغ لپاره حبشی ته راغلی او هم دلته یې زیات موفقیت هم په برخه شوی و.

سفیرانو دجوماتو دترمیم په نوم دوه زره روپی هم داورنګ زیب نه لاس
ته کړې. دغه جومات هغه وخت پرتګالیانو وران کړچې دوی دنوي کاتولیکـــی
مذهبه بادشاه په غوښتنه حبشی ته دمسلمان په مقابل کـی دمرستـی په نـــوم
را ننوتی وو.

دریم داچې سفیرانو دخپل بادشاه لپاره داورنګزیب نه قران او نور آته
مذهبی کتابونه وغوښتل. خومره چې زمایادیږي دغه آته مذهبی کتـابونه داسلام
اساسات بیانوي. دسفیرانو اوبیاپه خپله دحبشی بادشاه عمل دیوه عیسوی مذهبـه
انسان په صفت ماته ډیر سپك ښکاره شو، اوزه یې په هغه څه باندی متیقن کړم چې
ماته په موکو کی دحبشی دعیسویت په باره کی ویل شوی وو. هلته ماته ویل شوي وو
چې په حبشه کی عیسویت بالکل بل ډول دی او له هغه نه داسلام سخت بوی خیږي.

بله داچې هلته دمسلمانانو شمیر په ډیره چټکتیا سره مخ په زیاتیدودی . خصوصاً د هغه وخت نه راپدېخوا ( پدې باره کې دمخه هم یوڅه معلومات لیکلي و) چې ملکه مورد بادشاه دمرګ نه وروسته هغه پرتګالیان چې هلته ورننوتلي وو څه سخت اوپاتې هغه پادري سره چې پرتګالیانو دګواښخه ځان سره راوستلي وو دحبشې نه ویستل.

www.libtool.com.cn

کله چې دوی لا په ډیلي کې وزما آغا دانشمند خان دزیاتو معلوماتولپاره دوی زما په حضورځان ته راوبلل چې دهغوی دحکومت ، اداري طرز ، پوځي قدرت ، خصوصاً دنیل دریاب دسرچینو په باب کې معلومات لاس ته کړي ، چې حبشیان یې ایابیل بولي . دوی دنیل په باره کې په دومره اطمینان سره خبرې کولې ته بهوای چې اوریدونکي ددوی په خبروکې هیڅ شک نه کوي . په خپله میورات اویو مغل چې دده سره دحبشې نه یوځای راغلي و ، ویل چې د نیل دسرچینو په باره کې معلومات عین هغه معلو ماتو سره سرخوري ، کوم چې دوی په موکو کې حاصل کړي و . دوی ویل چې دنیل سرچینې داکاروانونه له هیواد څخه راوځي چې هلته بالکل دجوش اوبو په شان له دووچینو څخه چې څنګ په څنګ واقع دي را خوټیږي . هلته نسبتاً لویه دریاچه جوړوي چې اوږدوالی یې له دیر شوترڅلوریښتو قدمونوپورې رسیږي. نیل دچینونه دروانیدوپه وخت کې هلته نسبتاً لوی ، سیندته ورته وي او بیا په کې وخت په وخت لوی واړه سیندونه ورسره ملګري کیږي ، کوم چې دنیل دلویې سبب ګرځي. دوی زیاتوله چې نیل په خپل مسیر کې یوې لوې جزیرې تشکیل نه وروسته دڅو لویوابشارونوڅخه تیریږي. په اخرکې یوې لویې دریاچې ته ورګډیږي ، اوپدې وخت کښې زیاتې حاصلخېزې جزیرې تشکیلوي ( داټول به البته ډیرپه زړه پورې وای خو که چیرې رښتیا وای) چې په هغه کې زیات نهنګان ، بحري خوسکي شته چې بې له خولې بل سوری نه لري ، اودخولې لارې نه ټول مدفوعات اجرا کوي. دغه دریاچه ، د دومبیا په هیواد کې پرته ده چې ګوندیر څخه د درو ورځو په مزله او

دنیل دمصرچینونه څلور پنځه ورځی منزل ورکیږي . بالاخره نیل ددغی لوی دریاچی
څخه وځی او دیوه لوی مست سیند شکل غوره کوي اوپه لاره کی نورسیندونه هم
ورسره ګډیږي . خصوصاً دبارانونو په موسم کی چی هلته ورته دی ددوهمی خور
یعنی جولای په میاشت کی بالکل منظم شکل غوره کوي . لدي نه وروسته نیل د
فرنګانو پادشاه پایتخت سونار څخه، تیریږي چی داهیوادحبشی پادشاه ته جزیه ورکوي
اوله هغه ځایه دمصراوار وځمکوته و۔داخلیږي .

سفیرانو دموقع نه داستفادي په غرض دخپل پادشاه او دهغه پوځی قوت پـه
باره کی دومره مبالغه کوله چی داندازي نه وتلی وه . ولی مغل ددي ټولو خبرو
سره موافقه نه کوله . ددوی په غیاب کی یی ویل چی ده دحبشی پادشاه پوځ ــ دوه
ځله په لښکرکشی کی ولید . اوده ته دنړی دحقیر ترینو پوځونو څخه ښکاره شو .

دي سفیرانو دخپل هیواد نورو مختلفو خصوصیاتو په باره کی ماته نکلونـــه
کول چی ماپه خپلو یاد داشتونو کی لیکلي دي . زه به کوشش وکرم چی په مناسب
وخت کی خپل یاد داشتونه ترتیب کرم . اوس‌لاس په‌لاس‌غوارم ددروڅلور وپیښو
په باره کی تاسوسره خبري وکرم چی دمیورات څخه می‌دهغوی‌په‌باره کی معلومات
حاصل کړی دی . زه دغه پیښی دیوه عیسوي مذهبه پادشاه لپاره‌بالکل حیرانوونکی
بولم . ده ماته ویل چی په حبشه کی دغسی سړی په مشکله پیدا کیږي چی دقانـونی
ښځی نه پرته نوري ښځی ونه لري اوخپله یی هم پدي اعتراف کاوه چی‌دقانونی
ښځی نه پرته دوي نوري هم لري . ده ویل چی‌په‌حبشه کی‌ښځی دهندستان‌دمسلمانانو
یابت پرستانو ښځو پشان ستر نه کوي .

دعامو نارینا وښځی ، پیغلی مینځی شپه ورځ زیاتره په یوه کوټه کی دپردیو
سړیو سره ناستی وي بی لدي‌چی‌خلک پدي‌باندي کوم ننګ وکړي .

که چیرې زه حبشي ته ورغلی وای ، ترټولو لومړی به یې مجبور کړی وای چې هلته واده وکړم ، لکه څنګه چې کاله پخوا ئې یوار وپایې چې ځان ئې په یونانی طبیب سره مشهور کړی و ، مجبور کړ چې هلته واده وکړی . دی اګرچې روحانی و ، ولی ده ته دامشو ، ورکول کېده چې خپله لور دخپل زوی سره واده کړی . دغه

www.libtool.com.cn

اتیا کلن بوډا یو ورځ پاچا ته خپل څلرویشت (۲٤) زامن معرفي کړل چې ټول دځوانی په عمر کی وو او کولای یې شول چې وسله په غاړه کړي . بادشاه پوښتنه وکړه چې دی نوراو لادونه لری که نه ؟ په ځواب کی ورته وویل شول چې دزامنو نه پرته څو لونه هم لري . بادشاه په قهر سره هغه وویست او ورته وویل یې : «ځه ورځه ! زړه غوځکیه ! ته باید شرم وکړې چې پلدې عمر کی دومره لږ زامن لري . آیا زما په بادشاهی کی دښځو کمی دی څه ؟ »

په خپله بادشاه داویاوو (۷۰) ښځه کم لونه زامن نه لرل . بادشاه امر وکړ چې زیات شمیر لنډي کوتک چې تقریباً دلاس امساته ورته وي ، خاص ددی لپاره جوړ کړي چې ده اولاد دهغې په ګرځولو سره په حرمسرای کی دمریانو او د حرمسرای دنورو کسانو له اولادونو څخه بیل کړي .

اورنګ زیب دوه ځله دغه سفیران ځان ته راوبلل . ده هم غوښتل چې زما دآغا دانشمند خان په شان لەدوی څخه ددوی دهیواد په باره کی خصوصاً داسلام په باره کی معلومات حاصل کړی . اورنګ زیب حتی خواهش څرګند کړ چې دکچر څرمن وګوري کومه چې نه پوهیږم ولی په چونی کی دمصبدار نوسره پرته وه . دې شي زه ډیر سخت خپه کړم ؛ سفیرانو غوښتل چې هغه ماته زماد خدمتونو په مقابل کی بخشش کړي . زمامقصد داو چې یوه ورځ به یې په اروپا کی کوم یو ډیر ګران دوست ته دسوغات په توګه وړاندې کړم . ما ټینګار وکړ چې سفیران دکچر څرمنی سره یو ځای دغوځکی ښکر هم اورنګ زیب ته وړاندې

کړي ، و لې هلته يوه مشکله خبره پيداشوه او هغه دا چې که چيرې اورنګ زيب ښکر ليدلی وای نو ممکن دا پوښتنه په يې کړې وای چې دوی په سورت کې د داړه مارانو څخه ښکر ښنګه خلاص کړ او څبت ( شراب ) ورک شول ؟ البته دې سوال به د سفيرانو وضع لا مشکله کړې وای .

www.libtool.com.cn

هغه وخت چې سفيران لا په دوبۍ کې وو ، اورنګ زيب په ګډه سره د خپل دربار لويو عالمانو سره مجلس تشکيل کړ ، چې خپل دريم زوی سلطان اکبر و ليعهد لپاره استاذ و ټاکی . پدې مجلس کې اورنګ زيب ته داجوته شوه چې سلطان اکبر د تحصيل ار زوددر بار زياتر ولويو اميرانو سره ورسره ده ، اورنګ زيب پدی هم پوهيده چې د شاهانو برتري دنورو څخه نه يوازې په لويی ، شان وشوکت کې وي بلکه په پوهه او ميرنتوب کې هم بايد وی . اورنګ زيب ته جوته وه چې ناوړه اداره د خلکو د ژوند خرابوالی او بالاخره داسيايي دولتونو دسقوط له هغو املو څخه مهم عامل دادای چې دمغولو شاهزادګان دښځو ، خواجګانو او يامريانو په منځ کې تربيه کيږی ، چې پستی ، چاپلوسی ، بې تميزي او تکبر دهغوي نه ورکيدونکې عادتونه وی . دغه شاهزادګان په پاخه عمر کې بادشاهان کيږي چې نه يې تحصيل کړی وی ، او نه د بادشاه کيدو په معنی او مرام پوهيږي . داسې حيرت وهلی وي ، ته به وای چې بالکل د بلې دنيا څخه راغلی دی ، يادکومې خمځي نه راووت . په هغه حرمسرای کې چې دوی تول ژوند تير کړی وی هرشی ته هوسيږی د هرچاپه خبره باور کوی ، دماشومانو پشان د هرشي څخه ويربږي ، يادليونی پشان له هيڅ شي ويره نه احساسوي ، په هر څه کې خپل طبيعی تمايلات او خيالات لټوی ، کوم چې دوی ته دخارج نه ورتزريق شوی وي . بنه يې شانداره ، باشکوه آمادغه شان وشوکت دومره بی معنی ، دومره کړکيچن ، دومره لږ واقعيت ته ورته وی چې په متی سره خپل وحشت و د ډره ماری باندې پرده اچوی او داسې څرګنديږي ، لکه د پوښتنې په وخت کې خراب زده سبق . کله کله دوی دومره

بی اندازې مؤدب شی ، چی هغه په خپله چټی او د کرکی وړوي ، یاد حافظانو پشان بی ستر گو شي ، بی رحمه حیوان ترې جوړ شي بی حده شراب خوری ته تسیلم شی ، عیش وعشرت ته دومره متمایل شي چی نه وخت پیژنی د خپل صحت دښمن شي ، دښکار او ساتیرئ په هوا او هوس کی خپله وظیفه او آینده داسی هیروي ، لکه وحشي حیوان چی د هیڅ شي غم نه خوري د سپو کلي گرځول دوی ته په ژوند کی مهم مشغولیت شي ، تردې اندازې چی د سپیو ژوند ته د هغو خلکو نه چی جبراً د دوی په ښکار کی منډې وهی په لوړ نظر گوري د خپل هوس تسکین لپاره نه د خلکولوږې غریبی ته ، او نه یماړه او گرمی ته نظر کوی ، چی خلک مرگ ته کشوی لنډه دا چی د دوی کوم لوړې ته توپ وهل فقط او فقط د دوی د طبیعی تمایلاتو او یا لاس په لاس په مغزو کی راپیدا شوی خیالونو د تشویق له امله وي . د وی د هغو مسئولیتونو نه چی پـه دولت پورې اړه لری زیاتره څنگ ته پاتې کیږي . د دولت داداري واگی د وزیرانـو په لاس کی ور کوي چی دوی هم په خپل وارد ټولونه اول په جهالت او هوس ته تکیه کوي . دوی د خپل هوس او جهالت په متروکه د مملکت چارې داسی اداره کوي چی له هره پلوه مسئون او خود مختاره وي . یادا چی د غه واکداران د مملکت د اداري چارې مور ، مینځی او خواجه گانو ته سپا ي چی دا په خپل وارتش د بی رحمه توطیئو لپاره ډیر ښه مساعد وي . چی پای کی کله دیوه هلاکت او کله د بل فرار وي . زیاتره حتـی وزیران او مشهور اشراف او یا ټول هغه څوك چی لنرجایداد هم لري ژوند یی د دوی دلاسه د سر گردانی سره تړلی وي .

د پور تنیو سفیرا و نه وروسته چی موږ د هغوی په باره کی خبرې وکړې د پارس سفیر سرحد ته د رسیدو خبر راغـی . پا رسیانو ، امیرانو چی مغل سره نوکرې کوي دا آوازه خپره کړه چی سفیر د ډیرو مهمو کارونو لپاره دې خواته راځي . هوښیار خلك د دوی د آوازې په رښتیا والی باندی سخت شکمن و . ځکه چی د پیښو وخت



www.libtool.com.cn

تیرشوي و ، او اوس زیاره امیران او پارسیان د هرڅه نه مخکې دخوشحالیو او د خپل قدرمدتمحبید په با ه که چرتونه وهل . دپارسیانو د آوازې له مخې کوم امیرچې دپارس مخې ته دموظبت لپاره لیږل شوی ودا وظیفه هم ور کړ شوې وه چې دداېسفیر اصلی مقصد څرګند کړي اوپدې مقصد او وظیفه کې باید په هیڅ شی صرفه ونکړي . او داهم ورته وپوهول شي چې د هندي عنعنې له مخې سفیران باید بادشاه ته پـه هندي اصول تعظیم وکړي او مکتوب هم بادشاه‌ته‌په‌دویم لاس ورتیر کړي . آ ا د دوی په خبروکی رښتیا دیرلږو ، او موږ ته‌وله‌لیدل چې اورنګ زیب ددوی‌تولو آواز و عکس دهغه ډیره اوچته پذیرایی وکړه .

www.libtool.com.cn

اورنګ زیب دسفیر دراتګ په ورځ تیول ممکنه تشریفات خرڅ کـړل . د هغو بازارونو څخه چې دی بایدتیر شوی وای ، تول سنګلې کړای شول دسړك پـه دواړو خواودوه‌میلوپه‌فاصله‌سپاره‌درول شوی وخو کسه امیران دموزیک په‌ملګرتیا دسفیر سره بدرګه تلـل کله‌چې سفیر د بادشاه قصرته ورننوت دتوپونو ډزې‌وشوې اورنګ زیب په ډېر ساري ملایمت سره هغه ومانه او پدې ډیر هیڅ پرواخرڅه نکړه چې سفیر دپارسیانو دعرف اوعادت په اساس ده ته تعظیم وکړ.په خپله‌اورنګ زیب مستقیماً دپاس بادشاه مکتوب دسفیر دلاسه واخیست اوحتی ددې‌لپاره چې‌دې مکتوبو نوته یـې په احترام کتلي وی ، هغه یـې په‌لاس نیولی دسرنه پورته جګ کړل . له هغه ور وسته چې خواجه دارنګ زیب سره دمکتوبونو پرانتلو کی مرسته‌وکړه‌تول یې په پوره دقت سره ولوستل نوبیایـی امروکړ چې سفیرته سروپا یعنی کرتی ،پتکې او دغاړې دسمال یاکمربند چې‌په طلایا نقره سره ګلدوزی شوی ور وړ کړی ، او داتول ده په حضور په سفیرته باندی ور واغوندی . دې کالیوتـه‌مغل سروپا وایـی چې معنی یې دسرنه ترپښو پورې پټول دی . الدې نه و وسته سفیر ته اشاره وشوه چې دی کولای شي اورنګ‌زیب ته‌خپل سوغاتونه وړاندې کړي.. پدې سوغات کی

غه شیان شامل وو: ۲۵ داسې ښکلي آسونه چې ماتراوسه په‌ستر گونه وو لیدلي او په هغه باندې خامك دوزي شوي زینونه پراته وو. په آسونو پسې داښانو وارراغي چې شل سره وو، ار تقریبا هریو واړه فیل ته ورته وو. د غه ارښان د توت له مخې بې ساري دي. په اوښانو پسې صندوقونه راوړل شول لکه څنګه چې ماته ویل کیدل دغه زیات شمیر صندوقونه دیوه زبر دست ګلابي شربت څخه ډك وو چې (بید مشك) نومیږي. دغه شربت د مشروباتو په ډله کې د قیمت له مخې ساري نه لري. دا هم ویل کیدل چې دا شربت قوت زیاتوي. پدې پسې ٦،٥ تختې قالیني راوړل شوې چې بې نهایته ښکلي او بې اندازې لوې وې. بیاشوداني زربفت را وړل شول چې ماپه بل ځای کې د نړدې نه و لیدل. دا زر بفت ډیر قیمتي او دوړو ګلانو نقاشي و باندې شوې وه چې د نفاست له مخې داسې کار په اروپا کې نه موندل کیږي. بیايې څلور داني چاقو ګان چې د مشهدي پولادو څخه جوړ شوي وو او څلور مرصع خنجرونه چې رت قیمت بهاغمي پکې لګیدلي و، د تحفې حاضرینو ته وړاندې کړل. بالاخره دایراقه سره منتخبو آسونو وار راغي چې د ټولو حاضرینو ډیر خوښ شول، او واقعا هم ډیر ښکلي او د ډیر قیمت وو. کوم توکران چې په آسونو باندې غوړول شوي وو، ټول خامك دوزي او په مرغلرو او ډیرې قیمتي فیروزې سره ښکلي کړ شوي و. اورنګ زیب په ډیر دقت سره سوغاتونو ته کتل او د هریوه سوغات په ښکلا او نادر توب به یې خوشحالي څرګندوله. ګړی په ګړی به یې د پارس میړانه او سخاوت په خوله یادول. لدې ټولو مراسمو څخه وروسته اورنګ زیب د پارس سفیر ته دلویو امیرانو په منځ کې داستوګنې ځای وټاکه او یوه لنډه موده یې د هغه سره د سفر د مشکلاتو په باره کې خبرې وکړې. درخصتیدو په وخت کې یې څو ځله دا خبره تکرار کړه چې سفیر باید سره ورځ دا ورنګ زیب لیدوته راشي. څلور پنځه میاشتې د پارس سفیر چې په ډیلي کې اوسیده دا ټول وخت د اورنګ زیب بادشاه په ځانګړې مصرف سره ساتل کیده. د ډیلي خه والویو امیرانو په وار سره هغوی په خپلو کورونو کې

www.libtool.com.cn

میلمه کاوه . بالاخره یې په ډیر عزت سره وطن ته رخصت کړ . داځل بیا اورنګ زیب دسفیر لپاره قیمتي سروپا بخشش کړل او هم یې نور زیات سوغاتونه هغه ته ورکړل اورنګ زیب تصمیم ونیوچي دپارس پادشاه لپاره دخپل مخصوص نماینده په وسیله سوغات واستوي او دا کاریې څه موده وروسته ترسره کړ .

www.libtool.com.cn

اګرچي اورنګ دپارس سفیرته ډیر عزتونه اونوازشونه ورکړل ، دکومو په باره کې چي ورانديې ماخبرې وکړې مګر داخبرې هم خپرېدې چي دپارس پادشاه په خپلو مکتوبو نوکې دشاه جهان دحبس او داراشکوه دمرګ په هکله اورنګ زیب په خپلو اعمالو سخت ملامتاوه او دا کار ونه یې دخپل ورور اوپلار په مقابل کې دمسلمان سره مناسب نه بلل . حتی دده لقب «عالم ګیر» ته چي اورنګ زیب غوښتل هغه په سکه کې چاپ کړي توهین کړی و وایې چي هغه ته یې په خپل مکتوب کې داسې لیکلي وو : «که چیرې ته په خپله هغه عالم وې نوبسم الله دادي تاته توره او آس درلیږم راځه چي سره مخامخ شو . » داکلمې تریوې اندازې پورې په خپله جنګ ته ددعوت معنی لري . ددې خبرې رښتیا والی ددوی وجدان ته پریږدم . آما دټولونه دتعجب خبره داده زماغوندې سړي چي په دربارکې دومره زیاته آشنایـــي لري په ژبه ښه پوهیږي اوهم دخپلې کچکاوی دتسکین لپاره خصوصاً ددربار دپېښوپه باره کښې په پیسوهم صرفه هیڅ نه کوی ولې بیاهم پدې موفق نه شي چي ددې خبرې واقعیت څرګند کړي . زمالپاره مشکله ده پدې باور وکړم چي دپارس پادشاه به دغه شیان لیکلي وي . زماپه نظر دغه خبرې تشوتوصیفونو نیمګړي نـــه دي خصوصاً هغه وخت چي خبره ددوی دځان دقیمت پـــه باره کې راشي او یا غواړي چي خپل جلال اوقدرت نورو ته وښیي . دهرڅه نه مخکې نه یوازې زه بلــکه نور هم پدې عقیده دي چي پارس به په مشکله سره دا قدرت پیداکړي چي

دهندستان په مقابل کی مخالف عمل ته لاس تیر کړی ، اودابه دپارس لپاره دبس نه هم بس وي ، که چیري هغه وکولای شي د هندستان ، په کندهاراودترکانوڅخه خپل سرحدونه وساتي . پارس هره ورځ داسی زړه ورلوی باریك بینه او چالا که شاه عباسان نه زیږوي چی وکولای شي په لږ تاوان سره لوی کارونه اجرا کړي . که چیری پارس داقدرت ځان کی لیده چی دهندوستان په مقابل کی مخالف گام اوچت کړي لکه ځنگه چی دوی یــی وایـي ، یایــی غوښتلاي چی دخپلی مسلمانی برتری اوخدای پرستی هندوستان ته وښیـی نوهغه وخت چی په هندوستان کی شروشور و ، دشاهزادگانو ترمنځ داخلی نښتي اوږده موده روانی وې ، بیانو پارس ولی لاس تر زنی ناست و ؟ لوبــی تهـیــی کتل چی دارا ، شاه جهان ، سلطان شجاع ممکن راشی . یادې ته منتظر وچی دکابل صوبه دار دوی ته دمرستی غوښتلولاس وراوږد کړي . بــی شکه هغه وخت پارس کولای شول په لږمصرف اومتوسط پوځ سره دهندستان تر ټولو ښه یعنی دکابل سلطنت آن ترسنده پوري حتی نورهم هغی خواته چی دابرخه دهندوستان مقدرات تاکی لاس ته کړي وای . خبره چی په هرصورت وی وي به ، مگرداسی ښکاری چی دپارس پادشاه په لیکونو کی نیشه داره جملی موجودي یاممکن سفیرویلی وی ، یایــی داسی حرکت کړی وي چی داورنگ زیب خوښی شوی نه وي . دپارس سفیر دتنگ نه دوه ورځی وروسته اورنگ زیب ددي آوازی خپرولو امرورکړچی سفیر دهغوآسونوچی ده تــه پــه سوغات کښی راوستلی وو دپښوږوپریکولو امرصادرکړ اوهم کله چی بیرته سرحد ته ورسید مجبوریــی کړ دځان سره راوستلی هندی مریان بیرته دې خوارا وشړي . رښتیاداده چی ده سره دهندي مریانو شمیر زښت ډیرو . اوداټول تــقریباً مفت دهغه لوزې په نتیجه کی لاس ته ورغلی ووچی دلته موجوده وه . دپارس دسفیر سره په ورسره کسانویــی داتــور لــگاوه چی گویا دوی دلتــه خوماشومان غــلا کــړل .

ددې تولو شيانو باوجود دا بايد وويل شي چې اورنګ زيب پدې خبرو باندی درمره ځان خپه نه ښکاره کاوه لکه په خپل وخت کې چې شاه جهان تهدلوی شاه عباس (۲۵)سفير راغلی و.

www.libtool.com.cn

کله چې پارسيان غواړی په هندوستانيانو باندی وخاندي نو دغه توکه دمثال په ډول بيانوي .شاه جهان ليدل چې دده نوازشونه او وعدې چې سفيرتهيې ورکولی نه يوازې ونه کولای شول چې دده غرور ورمات کړي بلکه ديته هم حاضر نه شو چې هغه ته په هندي ډول تعظيم وکړي.ددې لپاره چې شاهجهان حاضرينوتهد اوښيي چې ګويا دپارس سفير ده ته په هندي تعظيم وکړ نو داسی چال يې صفير ته مخ ته کړ: شاه جهانامر وکړ چې دده دپذيرايی مانۍ دانګړ ورې کړکۍ نه پرته نورې ټولی لوي دروازې وتړي .

ددې کړکۍ څخه سړی پهدومره تيټه ملاتيريدای شو چې هندي تعظيم خو څه کوي بلکه په ليدويې داګومان کيده چې ځمکه ښکلوی.داچال ددې مقصد لپاره جوړ شوی و چې خلك دا ووايی چې ګويا سفير ئې مجبور کړي چې دتعظيم کولو په وخت کی دهندوستانيانو څخه هم زيات سرټيټ کړ.کله چې سفير پدې چالاکۍ وپوهيده زريې کړکۍ ته شاور وګرځوله او پدې کوشش کی شوچې په شاور څخه تير شي. وايی چې شاهجهان دسفير پدې کار په قهر شواودهته يې وويل «ای بدبخت!ته نه وينی چې دخرونو غوجل ته ورننوتی».سفير لاسپهلاس پهځواب کې داسی ورتهوويل:«ددې کوچنی دروازی په ليدلو بهخوك دغوجلی فکرونکړي» پوه بله توکه همخلك داسی بيانوي.پوه ورځ شاه جهان چې دپارسدسفيرلهوچواو متکبرانه ځوابونو څخه زره شين شوی وبالاخره ئې داسی وويل:«اي بدبختهٔ! آيا شاه عباس په خپل دربار کی نور لايق او مناسب خلك نه لري چې ته نيم ليونی يې راوليږلی».سفير داسی ځواب ورکړ:«بی شکه چې هلته دشاه عباس په دربار کی

نومؤد په کسان زما په نسبت ډیر و، ولی څنګه چی پادشاه هغسی یی سفیر ورته رالیږلی دی.، داهم وایی چی یوه ورځ شاهجهان امر وکړ چی دده په حضور سفیر ته دغرمی ډوډی راوړي دادډ لپاره چی په کوم یوه شي سفیر ته خجالت ورکړي

www.libtool.com.cn

شاه جهان لیدل چی سفیر هډوکي چیچی نو په خنداکی یی ورته وویل: «اي بلچیجي (سفیر صاحب)چی هډوکی وچیچی سپیوته به څه پاتی شی؟سفیر بی له ځنډه په ځواب کی ورته وویل: «کشیري». یعنی ګډه ترکاري چه زیاتره یی عام خلک خوري سفیر لیدل چی شاهجهان ته هره ورځ داترکاري راوړي او په ډیر خوندیی خوړه یوه ورځ شاهجهان دده څخه پوښتنه وکړه چی نوی ډهلی دی خوښ شو که نه؟نوی ډهلی هغه وخت شاهجهان داـ فهان دمقابلي لپاره جوړ اوه. سفیر په جګځ آوازسره قسم یاد کړ او داسی یی وویل: (بالله چی اصفهان ډیلی ته نه رسیږي) شاهجهان دا خبره داسی ومنله چی ډهلی بهتر دي. آما په حقیقت کی سفیر غوښتل چی ددیلی په دوړ وباندی وخاندي چی غیر قابل تحمل وي یوه ورځ شاهجهان سفیر مجبور کړ چه دهندوستان او پارس دبادشاهانو دعظمت په هکله نظریه ښرکنده کړي.سفیر ورته وویل چی دهندوستان بادشاهان پنځلسیزې سپوږمی ته ورته دی آما دپارس بادشاهان یی نوي کوچنی سپوږمی سره تشبیه کړل. دا ځواب په لومړیو ښو دقیقو کی دشاهجهان ډیر خوښ شو ولی زر پوه شو چی تشبیه د هندوستان دبادشاهانو په ګټه نه وه. ځکه سفیر غوښتل چی ووایی دهندوستان بادشاهان مخ په زوال دي آما دپارس بادشاهان نوي سپوږمی په شان مخ په انکشاف دي.

هر څوك آزادي هر ډول یی چی زړه غواړي ددې پیغورونو او نیشډدارو خبرو په باره کی خپله نظریه ښکاره کړئ. دهوښیاري نښه یی وبولئ یا برعکس ولی زه به دسفیرانو لپاره چی سروکار یی دبادشاهانو سره دی، دبی ځایه ملنډو، اوغرور په ځاي، هغه غرور چی احترام او حیا ورسره ملګري وتي بهترو ګڼم. زه بـه دا

هیڅکله نه وه بولم چې دبادشاهانو سره په ملنډو وپیل شي. چې پای به یې داسې ري لکه دې سفیر سره چې شاهجهان عمل وکړ. ددې غرور او تمسخر په نتیجه کې
www.libtool.com.cn
دشاهجهان داسفیر دومره زښت شو، چې دلیونی نوم نه به یې په بل څه نه یاد اوه. شاهجهان یوه ورځ په پټه سره امر وکړ چې کله دغه سفیر په هغه تنګه اوږده کوڅه کې چې چوني ته راځي داخل شي، مست او قهر جن پیل ورباندې را خوش کړئ دسفیر خوشبختي ته ګوره چې دپالیکانه یې دپیل نه توپ کړ او بل داچې تکړه او چالاکه سړی ورسره و وچې پیل یې په شنډك باندې په غیشو ویشتو سره بیرته ګرځیدو ته مجبور کړ.

هغه وخت چې دپارس سفیر خپل وطن ته راستون شو، اورنګ زیب خپل استاذ ملاصالح ته حیرانوونکي میلمستیا جوړه کړه. داډیره مهمه تاریخي پیښه وه .(۵۷) بوډا صالح دشاه جهان په وخت کې هغې ځمکې او جایداد ته چې دغه باد شاه ورته بخشش کړي وه راکوچیدلی و، کله چې ملاصالح د خپل شاد ګر اورنګ زیب د جګونو خبري واوریدې، چې داراشکوه اونور تبول وروڼه یې مغلوب کړل اوپه خپله دهندوستان واکمن شو نوددې هم پډې هیله چې اورنګ زیب به خامخا دامیر منصب ورکړي، ډیلی ته راغی. داچې ډیلی ته راورسیده تولی لارې درکونه وسیلی حتی روشن آرابیګم یې په کار واچوله چې دده لپاره لاس پښې ووهي. پدې موده کې درې میاشتې تیرې شوې ولې اورنګ زیب داسې ځان ښایه چې ګویا ملاصالح یې بیخي لیدلی نه دی. بالاخره کله چې دملاصالح دزیاتو منډو ترړ راوړ په ستړ ګو کې دورننو تو ته اورنګ پزې ته راغی نوامر یې وکړ چې ملا صالح یوې ګوښې کوټې ته چې هلته حکیم الملك دانشمندخان اونورد ې خلږ کسه امیران چې دعالمیت دعوي لري ورسره وو، راولی. اورنګ زیب غوښتل چې بوډا رخصت اوځان تري خلاص کړي اودهغه سره یې تقریباً پاتې لهجه خبرې شروع کړې. زه تقریباً کلمه

ځکه وایم چې دهغو خبرو ټولې کلمې چې ددوی ترمنځ مبادله شوې ټکي په ټکي راوړل زما لپاره ناممکن دي. که فرضاً زه هلته حاضر هم وای لکه څنګه چې زما آغا دانشمندخان حاضرو، او بیایې ماته دمجلس خبرې نقلولې، ما به په هیڅ صورت سره دا قدرت نه درلود چې هغه ټکي په ټکي دلته ولیکم. ولې دومره په یقین سره ویلای شم چې دخبرو کوم مهم مطلب زما څخه نه دي پاتې شوي. نادی و ګورئ اورنګ زیب څپلې خبرې څنګه شروع کړې: «ملاجي ته زما څخه څه غواړې؟ آیاتا به دا سوچ وهلی وي چې زه تا دخپل دربار دلویو امیرانو په ډله کې ودروم. بې شکه داکار به عقل ته بالکل نږدې وای آماکه تاماته هغه ډول درس راکړی وای لکه څنګه چې لازمه وه. ځکه زه پدې عقیده یم که شاګرد ته څوك ښه درس ورکړي هغه ماشوم باید دخپل استاذ نه دومره ممنون وي لکه دخپل پلار نه او حتی لا زیات. ولې ستا هغه درسونه څه شول چې ماته دې راکول؟ تر ټولـو پخوا تاماته دا درس راکاوه چې فرنګستان یوه وړه جزیره ده او هلته تر ټولو لوی بادشاه اول پرتګالـی بادشاه و، بیا و پسې هالنډی او په هغه پسې انګریزی و. آماد نورو بادشاهانو په باره کې لکه دمثال په طور دفرانسې، اندونیزیا یا بادشاهان تاماته زمونږ دملك دوړو راجه ګانـو په شان تصویرول. زه دې پدې ډاډه کولم چې دهندوستان بادشاهان، دنړۍ دټولـو بادشاهانو څخه بې ساري او چت او واقعي بادشاهان دي، لکه همایون اکبر، جهانګیر او شاه جهان چې دنړۍ خوشبخته او لوي فاتحین هم دوی دي. او د پارس، ازبکستان، کاشغر، تاتارستان، کتای (چین) پیګیو، سیام، چین ماچین، بادشاهان ددوی دنوم په اخستلو لړ زیږي دا څومره حیرانوونکی جغرافیه وه! (۵۸)

تاماته باید دا درس راکړی وای چې دنړۍ دولتونه می څرنګه پیژندلي وای، ددوی قدرت ددوی سره دجګړې متیودونه، عادات، مذهبونه، اداري سیستمونه، او بالاخره ددوی غوښتنې او انترسونه دي ماته تشریح کړي وای. دجدي مطالعې په



www.libtool.com.cn

مرسته دي زماتوجه دې تېکې ته راگرځولې وه چې ددې دولتونو دتاريخ ابتداً انکشاف اوسقوط، لوى تغييرات اوکودتاوې دکومو تصادفاتو يا غلطيو په نتيجه کې منځ ته راغلې .

www.libtool.com.cn

ماله تانه په متې سره دخپلو اجدادو نومونه چې د ې دولت پرافتخاره بنياد گذاران دي زده کړ، آماتاداونه بنودل چې دوى څنګه و کولای شول دومره پرافتخاره فتحې وکړي . دتاريخ دغه پاڼه خو د دوى دژوند دتاريخ څخه بالکل بيله ده. تا غوښتل چې ماته عربى ژبه رازده کړې چې په هغه باندې لياك اولوست وکړاى شم زه ستا ډير مشکوريم چې دعربى ژبى زده کړې ته دې مجبور کړم. په دغه ژبه باندې مالسن ددولس کاله وخت ضايع کړ، محض ددې لپاره چې په دغه ژبه کښې کمال ته ورسيږم. ته به واى چې دبادشاه زوى لپاره داډيره ضرورى ده چې په دغه ژبه کې دگرامر دعلمي دړجې دعوا گير، ياد حقوقو ډاکترى اويا دنورو همسايه و ژبوژوري پوهى نه پرته، نه شي کولاى په آسانى سره ژوند وکړي .

ته به واى چې دماغونه ستري کيږي اوياد وچوغمجنو درسونو څخه لګه د لغاتو يادونى نه ذهنونه ضعيفيږي. داې هغه خبرې چې اورنګ زيب په ډيرقهر سره وکړي . اما يوشمير عالمانو ممکن لدې کبله چې دده دخبرو په خپرولو يې غوښتل هغه ته چاپلوسي وکړي، يادا چې هغه ملاته يې په زړه کې سخته کينه ګرځوله يابل کوم علت موجود دى دا اوازه خپره کړه چې اورنګ زيب دخپلو خبرو په منځ کې په بل شي لزځان مصروف اوبيايې خپلې خبرې داسې پسې اوږدې کړې : آيا ته پدې نه پوهيدې چې ماشوم دماشومتوب په موده کې دهغې نيکمرغي حافظي په مرسته چې هر کوچنى يې لرې کولاى شي په زرګونو قيمتي خبرې او پوهه ځان سره واخلي اوزيانه بې له دې چې يې دهمدې دورې ته دژوند تراخره پورې ځان سره ساتي اوبيا همدا پوهه يې

www.libtool.com.cn

دعقل په انکشاف او پخوالي کې کومک کوي اولویو هدفونو ته یې ورسموي. آیا په خپله مورنۍ ژبه کې قانون، نمانځونه، علوم او داسې نور شیان سړی کولای شي چه دعربي ژبې نه ښه زده کړي؟ تا زما پلار شاه جهان ته یاد و، کولو چې ماته فلسفه رازده کوي. زما ښه په یاد دي چې څو کاله دې زه په هغو بې معنی او پوچو پوښتنو سره بوخت کړم چې یوه ذره پوهې ته نه پکار یږي او نه په عادي ژوندکې هیڅکله زما پکار شي. تش خالي چټیات وو. دهغوی ښه تکې فقط دادي چې په مشکله سره یادیږي او بیا ژر هیریږي. دهغه فلسفي پوښتنو چې تاماته را زده کولې ګټه داده چې عقل پخوي او بالاخره دغیر قابل تحمل پولې ته ماغزه رسوي. زما لاپه یاد دي چې له هغه وروسته نه پوهیږم تاڅومره موده زه په خپله ښکلې فلسفه بوخت کړی رم دعلم څخه زما په حافظ کښې یوازې یو څو ټوچ بې معنی او نه پوهیدونکې د اره‌ما را نا مفهومونه پاتې شول چې ډیر ښه مستعد ذکاوتونه ویروي، دلارې څخه یې باسي، او بالاخره دپوهې مینه وژني. داکلمې فقط د دې لپاره جوړې شوې دي چې تاغوندې کسان په هغوی باندې خپله خود خواهي او جهالت پټ کړي، کوم چې غواړي مونږ په دې مطمئن کړي چې دوی ګویا په ټولو شیانو پوهیږي، او یوازې دادوی دي چې په دې مرموزو کلمو په اسرارو پوهیدلی شي. که چیرې تاماته دهغې فلسفې درس راکړی وای، کوم چې عقل سموي، فکر کولو ته یې مجبوروي او په غیر ارادي صورت سره سړی دیته راولي چې په برجسته او قضاوتونو قانع شي، که چیرې تاماته هغه اعلی نصیحتونه او پندونه راکړي وای، کوم چې د تقدیر د ضربې په مقابل کې دسړي روحیه لاقوي کوي او انسان نه ماتیدونکې تربیه کوي، چې هر وخت خپل استقامت ساتي او سړي ته دا مجال نه ورکوي چې دخوشحالۍ په وخت کې په احمقانه صورت ځان وپړسوي، او که بدبختي ورمخې ته شوه نو دمنلې او ژړا لاړو اخلي. که چیرې تا څنګه چې لازمه وه په جرائت سره ماته دادرس راکړی وای چې مونږ څوک

يوو ؟ د ټولو شيانو لومړی بنياد څه دی ؟ دا مرسته دې راسره کړې وای چې د نړۍ دعظمت په باره کې دې يو مناسب تصوير ماته رسم کړی وای او بيادې د دغه نظم داجزاو د حيرانوونکي حرکاتو په باره کې څه پوهه راکړې وای نوزه به د مکدوني سکندر څخه چې د خپل استاذ ارسطو منت بارو ، لا زيات احسانمند وای . زه به مجبور وای چې ستاله اندازې نه زيات احترام او نوازش مې کړی وای ، حتی د مکدوني سکندر څخه هم ډېر . آما ای پسته چاپلوسه د استاوظيفه نه وه چه دا دومره مهم حياتي پراپلمونه زماغوندې راتلوونکي واکمن ته تشريح کړی وای ؟ داستا وظيفه وه چې ماته دې

ښودلی وای چې د بادشاه او رعيت په منځ کې متقابله وجيبې کومې دي ؟ بادشاه په رعيتو څه حق لري او رعيت په بادشاه کوم حقوق لري ؟ آيا ته کُم له کمه مجبور نه وې د يته توجه وګرځوې چې يو وخت به توره په لاس د خپلو ورونو په مقابل په مرګ جنګيږم ؟ آيا په هندوستان کې د ټولو شاهزاده ګانو سرنوشت همداډول نه دی ؟ تا ولې د يته پام نه ګرځولو چې ماته دې د ښارونو د محاصره کولو درس راکړی وای يا داچې د دښمن د پوځ په مقابل کې څنګه جنګ بايد وشي . څومره ښه چې پلدې باره کې ما نورو څخه مشورې اخستلې . څه خپل کلي ته ولاړ شه چې نور څوك در باندې خبر نه شي چې ته څوك يې او يا به وروسته څه درسره وشي » . پلدې وخت کې

په نجوميانو باندې يو کوچنی غوندې طوفان راغی چې ماته ډېر د خندا وړ ښکاره شو . زياتره اسيايي خلك په نجوم باندې عقيده لري او تصور کوي چې په ځمکه باندې ټول کارونه هغه ډول سرته رسيږي څنګه چې اسمانونو کې ليکل شوي دي ( داد دوي معمولي اصطلاح ده ) . په ټولو شيانو کې دوی د نجوميانو څخه پوښتنې کوي. کله چې دوه پوځونه يو د بل په مقابل کې جګړې ته راوځي دوی تر هغه وخت پورې جګړې ته لاس نه تيروي ترڅو نجومي حساب نه وي برابر کړی چې آيا دغه نيټه د جنګ لپاره نيکمرغه ده که نه . تردې اندازې پورې چې د پوځ لوی قوماندان ټاکل ،

www.libtool.com.cn

سفیر استول ، نکاح تړل ، مسافرت کول ، مریی اخستل ، نوي کالي اغوستل او داسې نور لوي واړه کارونه د نجومی آغا د فیصلې پرته کول ناممکن دي . دغه عادتونه په خلکو باندې یو ډول غیر ممکنه محدودیت او تنګوالی راوالی چې زیاتره یې وحشتناك عواقب پېښوي . زه نه پوهېږم چې دغه عادتونه دومره زیاته موده ولې پاتې شوي دي ؟ نجومي باید په ټولو شیانو پوه شي څه پېښېږي . د لویو څخه نیولې آن تر جزوي کارونو پورې ټول باید اجرا کړي . دادي وګورئ ؟ چې یره ورځ د دربار ډېر ستر او مشهور نجومی په اوبو کې غرق شو . دې پېښې په دربار کې ډېر شور ماشور پورته کړ . د دوي د ( نجو ) اعتماد یې په دربار کې رټ ټیټ کړ . دې ټولو ته څر ګند وه ، چې بادشاه او د دربار امیرانو به په ده باندې فال کړئ . ټول ژوندې د نورو کسانو آینده پېښې بیني کړله . آماد خپلې بدمرغې پېښې بیني یې نه شوای کوله . څینو نورو معلومات لرنکو کسانو به ویل چې په فرنګستان کې چې هلته علوموښه انکشاف کړی دی ویلموژ یعنې اشرافو همدې نجومیانو ته په رټ شکک سره ګوري . کله کله دوی د شر لتانو په نوم یادوی ، او حتی پدې کې شکي دی چې آیا دغه علم واقعاً په کلکو علمی اساساتو بنادي که یه ؟ یاداچې دغه علم تش د نجومیانو د خیټو څخه راوتلی دی په پوچو عقیدو ولاړدی یه بل عبارت سره دغه علم ددې لپاره را ایستل شوي دي چې نجومیان ددې لپارې نه په خلکو خپل احترام ټینګک کړي او پدې متو و باندې د خپل اشرافیت مانۍ لا اوچتې کړي. دا ټولې خبرې چې یوې خوا بل خوا خپرېدلې د دري هیڅ نه خوښېدلې. ولې بیاهم پدوی یې دومره بداغېزه نه کوله لکه دغه ټوګه ډېر زر یې زیات شهرت پیدا کړ .

لوی شاه عباس د پارس بادشاه امر وکړ چې په خپل حرمسرای کې د باغچې یوه برخه کرچ او دنیا لګو لپاره تیاره کړي نیالګی راوړل شول ، باغوانانو هم دانیت وکړ چې سبا دغه نیالګی کېښنوی . ولې د دربار یو نجومی چې د ځان د شهرت



www.libtool.com.cn

په هکله یې بې اندازې پروپاگند کاوه ، وویل چې اول پال وکتل شي او دامعاومه کړی چې موقع مساعده ده که نه . شاه عباس دده خبرو سره موافقه وکړه . نجومی خپل سامان ځان سره واخیست کتابونه یې لاندې باندې کړل محاسبه یې برابره کړه او دې نتیجې ته راغی چې دکوم ستوري دوضعې له مخې فوراً نیالگی باید کښینول شي. دباغوانانو مشرچې دنجومی دمداخلې په باره کې یې حتی فکرنه کاوه پدې وخت کې کوم بل ځای ته تللی و . کاردهغه تر راتلو پورې معطل نه شو، بلکه فوراً دنیالگو لپاره ځایونه وکیندل شول . ددې لپاره چې خلکوته دا وښيي چې په خپله شاه عباس دنیالگو په لگولو کې برخه واخیسته شاه عباس هم په کار کې لاسونه په خاورو خړ کړل . ماښام چې لوی باغوان را ستون شو ویې لیدل چې نیالگی لگ شوی دی . پدې کار رټ خپه شو ځکه چې نیالگی لکه څنگه چې لازم وو نه وو لگ شوی . دمثال په ډول دزړ دالو نیالگی هلته کښینول شوی چې ده دمڼو لپاره په نظر کې نیولي و ، او امبروت ځای کې هغه ، کوم چې دبادامو لپاره تعین شوی و . مشر باغوان په نجومی سخت قهر شو لاس په لاس یې امر وکړ چې ټول نیالگی له یوه سره بیرته دځمکې نه وباسی . له سره یې بیا په یو ځای کیږدی ، په ویلیو باندې یې نم څښه خاوره واړوه چې سبا ته یې له سره کښینوی . ددې کارنه لاس په لاس نجومی خبر شو او هغه شاه عباس ته خبر یوور . شاه عباس زر مشر باغوان را وغوښت او په رټ قهر کې یې داپوښتنه تری وکړه چې ده څنگه داجرأت کاوه چې دشاه عباس په لاس کښینول شوي نیالگی بیرته وباسی ، ځکه چې پال فوق العاده اخستل شوی و . اوس به بیا هیڅکله درمره ښه پال څوك نه گوري . داټول کار باغوانه تاوران کړ . ساده باغوان څی لاتراوسه یې په سر کې دشیراز اعلی شرابو نشه گرځیده دستر گو کونج نه نجومی ته کتل په زمزمې او کنځلو کې یې هغه ته وویل : نجومی لعنتی تاپه رښتیا ښه پال کتلې و وچې نن سهار دغه نیالگی لکه او زما دیگر بیرته ویستل شي . ؛) شاه عباس ددې بحث اوریدو نه په خندا شو نجومی ته یې شاکره اولسه کوته یي ووت .

زه غواړم یوه دوې واقعې چې دشاه جهان په وخت کې پيښې شوې هم دلته اضافه کړم ، ځکه دغه دوه واقعې لږې نه پښيږي او دوی مونږ مجبوروي چې هغه لرغونو وحشي عاداتو ته پام وکړو کوم چې دهندوستان باد شاهان بهٔ يې دخپلو نوکرانو دمرګ نه وروسته دهغوی دمال او جايداد وارثان ګرځول .

www.libtool.com.cn

لومړی واقعه داسې پيښه شوه : نيك نام خان دشاه جهان په دربار کې د اميرانو له دلې څخه په ټولو کې دزياتې سابقې خاوند و ، او دخپلې اميری په موده کې چې تقريباً ۴۰ ، ۵۰ کاله کيږي لوی لوی ماموريتونه تير کړي و ، زيات مال او جايدات طلا او نقره يې لاس ته کړي وه . دغه ويلموږ خپل مرګ هم ليده او هغه بې معنی پوچ عاداتو ته يې هم ليدل چې دهغې له مخې دويلموږ واو اميرانو ښځې دميړه دمرګ نه وروسته رټې غريبی او مفلسی ته ګرځول کيدې. دا هم پيښيږي چې دخپل ميړه دمرګ نه وروسته مجبوره شي ديوه ډيرنا څيزه مستمرې معاش لپاره چې تش دمرګ نه ځان ور باندې خلاصولای شي ، سوال ته اړه شي. ماشومان يې دساده عسکر پشان د کوم يوه امير سره نوکري ونيسي. نيك نام خان په پټه سره ټوله خپله خزانه په کوندو ، ورندو ، يتيمانو وبشله او صندوقونه يې دماتو ټوټو ، زړو بوټونو ، هډوکو ، زړو رنجو څخه ډك ، بيا يې کلپ او مهر کړل . ټولو ته ئې وويل چې ددغه مال وارث شاه جهان دی . دده دمرګ نه وروسته صندوقونه بادشاه ته راوړای شول. دا وخت شاه جهان د ميرانو په مجلس کې ناست و . دشاه جهان په امر سره دټولو صندوقونو کلپونه خلاص شول او دغه حيرانوونکې خزانه ټولو وليده . شاه جهان دهغه په ليدو سره فوراً دځايه ولاړ شو او له مجلسه ووت.

دوهمه واقعه هم ډيره دخندا وړده. يو بلداى بنيان يعنې بت پرست سوداګر چې بې ساری سود خورو ، او ټول ژوندېي دبادشاه په نوکری کې تير کړی و مړشو. دده زوی دپلار دمرګ نه څو کاله وروسته دخپلې کونډې مور په څورو لوپيل

وکړ لههغې یې پیسې غوښتلې . داپوهیده چې زوی یې یوعیاش او بې لارې انسان دی نوپه همدې وجهه یې هغه ته لږې لږې پیسې وخت په وخت ور کولې ، آمـا دغه تاپوه ځوان خپلو فاسدوملګرو دېته تشویق کړ چې پادشاه ته دخپلې مورنه شکایت وکړي. دغه ځوان پادشاه ته ورغی خبرې ورکړ چې دپلارنه یې بې حساب مال او پیسې چې تقریباً دوو سوو زرو ایکوته رسیږي پاتې شوې. شاه جهان له خدایه بهانه غوښته چې دهغې په مرسته د دې سود خور مال او جایداد ګوتوته کړي نولاس په لاس یې په کونډه پسې سړی ولیږه او دا امریې وکړ چې دټولو امیرانو په حضور کې سل زره روپۍ شاه جهان او پنځوس زره کونډه خپل زوی عارض ته ورکړي . هم دائې هم امروکړ چې فوري یې له دربار ه وباسي. کونډه بوډۍ چې ددې دول بې رحمه فرمان او اوامرو سخته په تعجب کې اچولې وه او پادشاه حتي دیته حاضر نه دی چې دهغې بې وځلې دلایل واوري ، ځان یې لهلاسه ورنکړ په لوړو چیغو سره شوه او دایې ویل چې داغواړي پادشاه ته یوبل رازڅرګند کړي. لهلزغالمغالنهوروسته بیا بادشاه ته راوستل شوه کله چې دا پادشاه ته دومره نږدې شوه چې د دې آواز یې سنه اوریدلې شو نوپدې وخت کې یې دغه پهزړه پورې خبره داسې وکړه :

«حضرت دې سلامت وي. خدای دې ستاسو لویې تل ترتله وساتي. زه پدې پوهیږم چې زما زوی دځینو اساسونو له مخې داحق لری چـې زما څخه دخپل پلار مال او جایداد یوځه طلب کړي. ځکه چې بالاخره په هغه کې دخپل پلار او مور یعنې زمونږ وینې شتهدې. هغه زمونږ دمال او پیسو یوازینی وارث بلل کیږي ولې زه غواړم پدې پوهه شوم چې زما مرحوم میړه سره ستاسو اعلیحضرت په کوم رګښکې شامل دي ، چې دهغـه پـه مـال او جایـداد کـې ځـان حـق دار بـولـې ؟».
شاه جهان چې دغه بت پرست بنیان سـره دهندوستان بادشاه دوینـې دشـرکت خبرې واوریدې نوله خندانه شینشو او امریې وکړ چې دهغې څخه څه وانخلي .

زه نه غواړم چې نورې تولې واقعې چې دجګړې دختمیدونه وروسته یعنې تقریبا د ۱۶۶۰ کال څخه بیا زما دتلو پورې چې شپږ کاله کیږي تیرېشوې وې په مفصل ډول ولیکم . داهم ویلې شم چې ددې پیښې تفصیل به زما له اصلي مقصـد سره ډیر نژدې وای ، ځکه پدې صورت کـې به ما دا امکان پیدا کړی وای چـې لوستونکي دمغلو او هندوانو له روحیې سره ښه اشنا کړم .

www.libtool.com.cn

داکار به زه په بل ځای کې وکړم اما لاس په لاس غواړم چې پنځه شپـږ پیښې نوره هم دلته اضافه کړم . ځکه زه یقین لرم چې دا واقعې به زمادکتاب لوستونکو لپاره دزیاتې علاقې وړ وي . د ټولونه اول دشاه جهان په باره کې چې اورنګ زیب هغه داګـرې په چوڼـې کـې دبندي په حیث ساتلی دی په ټول دقت او احتیـاط سره مراقب دی ، ولې باوجود ددې اورنګ زیب د پخواپشان د شاه جهان ، بیګم صاحب او دده دښځو پرسونل ، سندرغاړو ، نڅګرو ، اشپزانو او نورو سره پوره هوسایي او عیش ته خوشې کړې دي . ددې پلوه شاه جهان په هیڅ شي کې نیمګړتیا نه لري . حتی داسې ملایان هم شته چې هغوې ته دشاه جهان دلیدلو کتلو اجازه هم شته . هغه ته قرآن لولي ( شاه جهان په بندکي سخت دین داره شو ) هرکله چې د شاه جهان زړه وشي په هره اندازه چې غواړي په هغه اندازه ده ته اورنګ زیـب ښکلې آسونه ، کورنی هوسی ، دجنګ لپاره رااستوي. دښکار مختلف مرغـان او تور په زړه پورې حیوانات محض ددې لپاره چې شاه جهان یې په لیدو خوښ شي هغه ورته راوستل کیږي ، ځکه چې داکارونه دده پخواهم خوښیدل . اورنګ زیب دخپل پلار شاه جهان په بې ساري غرور او قهر باندې چې حتی دبند په وخـت کې یې له لاسه ورنکړل غالب شو . په شاه جهان باندې دده بریالیتوب دهغه احتـرام او مؤدبانه لیکونو له مخې وچې هغه ته یې پرله پسې لیکل. دشاه جهان څخه یې دارا شکوه پشان مشورې غوښتې . شاه جهان ته یې زښته ډیره توجه کوله . پرله پسې یې هغه ته وړې وړې تحفې ورلیږلې . په نتیجه کې شاه جهان هم داورنګ زیب متواترو لیکونو

ته چې دحکومتي کارونو سره یې اړه درلوده د ځواب په لیکو پیل وکړ . تـر دې اندازې چې داحترام له مخې یې اورنګ زیب ته دخپلو قیمتي ګانو ځخه ځو دانې وروليږلې د کومو ځخه یې چې پخوا انکار کاوه او په دومره ټینګه سره یې اورنګ زیب ته ځواب ووکاوه چې که چیرې بیا د دې ګانو خواهش وکړي شاه جهـان به یې به څټک باندې میده میده او په خاورو به یې بدل کړي . شاه جهان د دارا شکوه لور اورنګ زیب ته وروليږله ، د کومې ځخه یې چې پخوا انکار کاوه . بالاخـره اورنګ زیب یې وبښه او همدابښخنه اورنګ زیب هم ډیره زیاته غوښتله .

www.libtool.com.cn

ولې ددې سره سره دا باید وویل شي چې اورنګ زیب هر وخت شاه جهان ته چاپلوسي نه کوله . برعکس هغه کله کله شاه جهان ته ډیر وچ ځوابونه ورکول کله چې به اورنګ زیب پدې وپوهیده چې دپلار مکتوبونه یې دخپل غرور او قدرت په باره کې خبرې کوې ، یادا چې هغه نه بې اندازې خشن او نیشــه داره وو . دا مکتوب چې د پوره باوري منبع ځخه لاس ته راغلی دی هم پدې باندې شاهــدي ورکوي . اورنګ زیب یوه ورځ خپل پلار شاه جهان ته خپل مکتوب پدې لاندې جملو سره ولیکه : «تاسې غواړئ چې زه هم باید زړو عاد تونو پیروي وکړم . ټول هغه کسان چې زمونږ سره نوکري کوي دهغوی میراث خور شم . دغه عنعنه چې امیریا بل کوم سوداګر لامړ شوی نه وي ولې مونږ دهغوی په صندوقونو باندې دمهرونو لګولو پیل وکړو ددوي مال جایدادضبط کړو ، کوشش کوو چې په بې ساری کنجکاوۍ سره لاس پورې کړو چې دهغه مربوط مال اوجایدادخرګند کړو ، دهغه نوکران او دوستان تراستبدادلاندې نیسو ، بندته یې ورغورځو ، فقط ددې لپاره چې دوی اقرار تـه مجبور کړو ، چې د تولو شیانو په باره کې مونږ ته معلومات راکړي ، او زمونـږ کنجکاوي دې حدته رسیږي چې یوه کنجکه هم نه پریږدو .

زه به دې سره موافقه وکړم چې پدې کار کې دسیاست یوه برخه شته ، ولې ددې ته انکار باید ونه شي چې پدې کار کې بې اندازې بې رحمي پرته ده ، او دا کار

زیاتره دعدالت نه لیرې وي که چیرې پوره رښتیا را باندې وایې نوموږ هره ورځ دهغسي معنا ملي وړیو، کومه چې ستا سره نیک نـام خان او دبـلهای هندو بـنیان کونډې وکړه».

www.libtool.com.cn

ددې نه علاوه ده داهم اضافه کوله : «ماته ښکاري ګله چې زه اوس پادشاه یم زه ستاسو په نظـرکې داسې متکبر درځم لـکه تـاسې چې دخلو یښت کـلنه دورې پادشاهي اوتجربې نه وروسته هغه ته رسیدلي وئ . تاسې پدې نه پوهیږئ چې ددې تاج دومره ګران سنګار څومره بې خوبه اوغمجنې شپې ځان سره راوړي . ایازه کولای شم د امیر تیمور دغه ډیرښه صفت هیر کړم چې په هغه باندې زموږ لوی غور نیکه اکبر په خپلو یاد داشتونو کې ډیر ټینګار کاره ، ترڅو موږ پوه شو چې هغه په کوم لوړ نظر و ګورو . آیا زموږ دغرور او افتخار لپاره کوم اساس او بنیاد شته دی» لـکه څرنګه چې تاسې پوهیږئ هغه لیکي : «کله چې تیمور بایزید(۵۹) بندی کړ په ورځ یـې امر وکړ چې ده ته یې ور ولي . تیمور دبایزید مخ تـه و کتل بیالـه خنداشین شو. بایزید په ځواب کې تیمور ته په رټ غرور اونفرت سره داسې وویل تیموره ! ته زما په بده ورځ مه خانده . ته پوهیږې که نه چې پادشاهي او امیراتوري خلـکوته خداي تعالی ور کوي . ممکن سبا تا ته هغه څه ورسیږي کوم چې نن ماتـه رسیدلي دي .» دبایزید دي خبرو ته تیمور په پوره فکر او احترام داسې ځواب ور کړ: «زه پدې باندې له تانه ښه پوهیږم چې پاد شاهي او امپراتوري خدای تعالی خلـکوته ور کوي . زه ستا په بدبختۍ هم نه خاندم . خداي دې ما له داسې خندا څخه وساتي ولی کله چې مادتامخ ته و کتل زماسرته یوفکر راغی ، هغه داچې دغه بـادشاهي او امپراتوري باید دخدای تعالي په مقابل کې اویاممکن په خپل ذات کې ډیر نـاڅیزه شی وی . آما دخندا خبرداده چې خدای تعالی داسې بد رنګو خلکوته لـکه زه چې په یوه پښه ګوډ او ته بدبخت چې په یوه سترګه ړوندیې بادشاهي ور کوي . »

تاسي غواړئ چي زه خپل ټول هغه کارونه چي د بادشاهی د ټینګیدو او پرمختګ لپاره ضروري او مهم بولم پریږدم. آیا د جګړو ارامي څخه زما یوازینـی مقصد دادی چي د خپلی امپراتوری لمن اړته کړم؟ زه بـه داومنم چي دا کـار دیوه لوی پادشاه شخصیت او شاهانه روحسره وړ او مناسب دی، او زه به دلوی تیمور له اولادي څخه نه شمیرل کیدم که چیری زما سره دا احساس نه وای او هغوي ته می میل نه درلو د لای ماته ښکاري چي زه لاس ترزنی نه یم ناست څکه زما پوځونه په بنګال او دکن کی کرار نه دي ناست. مګر پدې بایډ اقرار وکړ و چي لوی فاتحان هروخت لوی پادشاهان نه وي. ددې فاتحانو په منځ کی زیا تره غله ډیروي. لـکه څرنـګه چي مونـږئی وینو، د دوی لوی فتحی په خپله ټو ته کیـږي، دلنډې مودی نه وروسته سقوط کوي، لوی پادشاهان هغه دي چه لوی واجبات اجرا کری شی په خپلو رعیتو کی عدالت ټینګ کړي او داسی نور.»

دوهمه پیښه د امیر جمله سره تړلی ده. دا به هم عادلانه نه وي که چیرې ددې لوی انسان په باره کی ژبه ونیول شی. پدې هکـله یو څه باید ووایو چـی اورنګ زیب د جنګ نه وروسته هغه سره څه ډول ګوزاره کوله او وروستی شپې ورځي ئی څنګه تیرولی. دې لوی انسان په بنګال کی د سلطان شجـاع کار داسـی ورفیصله نکړ، لکه هغ جیون خان پټان چي دارا شکوه یی لاس تړلی دښمن تـه ورکړ. یا داچي لـکه دسرینګر راجه چي سلیمان شکوه یـی لاس تړلی اورنګ زیب ته تسلیم کړ. یاداچي لـکه سپه سالار او چالاکه سیاستمدار پشان سلطان شجاع دبحر خواته ورتنګ کړ. دی یـی مجبور کړ چي منډه کړي او دځان خلاصیدو موقع یـی ورکره. لدې ړ وسته یـی اورنګ زیب ته خپل خواجه و. واستوه او خواهش یـی ترې وکړ چي دده کورنی بنګال ته ورپریږدی. امیرجمله اورنګ زیب ته ولیکل! «کـله چي جنګ پای ته ورسید، دی ځان ستړی احساسوی او هیله لری چي ښځه

اوماشومان ده ته ورواستوی. دا به دده لپاره لویه ډاډ گیرنه وي که چیرې دژوند پاتې شپې ورځې دخپلواولادونو اوښځې سره یوځای تیرې کړي». ولې اورنګ زیب دومره ساده نه و چې د امیرجمله په پلانونو پوه نه شي. اورنګ زیب پوهیده چې امرجمله دسلطان شجاع فاتح څه ډول حیثیت اوشهرت غواړي. امیرجمله دیوه هوښیار میړني بلهای اودور اندیشه‌سړی په نوم پیژندل کیده. دبنګال سلطنت په هندوستان کې نه یوازې ترټولو ښه دی، بلکه په خپل ذات کښې ډیر لوی سلطنت دی. امیرجمله دیوه پاخه پوځ په سرکې ولاړ دی چې له یوې خوا هغه ته رټ احترام لري اوله بلې خوا دده نه سخت ویـریږي. ددې نه پرته اورنګ زیب ته ددېرپخوانه دده خود خواهي هم ښه معلومه ده، اوپوهیده چې که چیرې دده ځوی محمد امین خان دجنګ په موده کې اورنګ زیب سره دنظربند په صفت نه وای نوامیرجمله به حتماً دتاج دعوی کړې وای او بنګال کې به یې ځان دآزاد واکمن په صفت اعلان کړی وای. داهم احتمال لري چې دبنګال په سلطنت به یې هم قناعت نه وای کړی. په عین‌حال کې دامیرجمله خواهش ردول هم خطرناك و. ځکه امیرجمله دا استعداد لري چې کومه خطرناکه بلوا راپورته کړی لکه داکاریې چې یوځل په گولکهنده کې وکړ.

اورنګ زیب دامیرجمله خواهش ته ځنګه ځواب ورکړی وای. ده ته یې ښځه لور اومحمد امین‌خان ټول بچیان ورولیږل. امیرجمله ته یې دامیرالامرالقب ورکړ، چې پدغه دولت کې تر ټولو لوړه رتبه ګڼل کیږی. دالقب پادشاه ډیرو نږدې اومحبو بو کسانو ته ورکوی. محمدامین‌خان ته یې دلوی بخشي رتبه ورکړه چې زمونږ دسپاره نظام دلوی آمرله رتـبې سره تقریباً سرخوری. دارتبه دمغل په په پادشاهی کې دوهمه یادریمه رتبه گڼل کیږی. ولې دارتبه سړی په دربار پورې تړی او بیادا موقع چاته نه ورکوی چې ددربارنه بلې خواته ولاړشي. امیرجمله هم

پدې ښه پوهېږي چې اورنګ زیب دغریبي نه ځان بچ کړ. اوس نو فایده هم نه کوی
چی دهغه نه خپل زوی وغواړی. اوس نو داکوشش کوی چی اورنګ زیب آزرده
نکړی اوله تولو بهتره دابـولـی چې په «دو سنی» کـی دبنګال سلطنت پـه
www.libtool.com.cn
ګـورنـری قناعت وکړي. آما بیا هم هیڅکله احتیاط بایـد دلاسه ورنکړی.
کـه چیرې دی نه شی کولای چی د اورنګ زیب په مقابل کی کوم اقـدام
وکـړی نـو باید داسي فضا جوړه نـه کـړی چی اورنګ زیب د ځان پـه
مقابل کی عـکس العمل ته مجبور کړي. تاسی رګورئ دې دوولو یوانسانونو څنګه
یو دبل په مقابل کی فعالیت کاوه او یوه کال په موده کی څنګه وضع روانه وه.

اورنګ زیب پوهیده چی که چیرې دغه لوی سپه سالار په باندینو جنګو کی
مصروف نکړي نو ارو مرو به دیته لاس تیر کړي چې دننه په دولت کـی کـومه
کشاله جوړه کړي. لدې وجهی نه یې امیر جمله ته پیشنهاد وکړ چی داسام بـډای
او قوي راجه سره جنګ شروع کړي. ددې راجه ځمکی دشمالـي ډاکـی نه آن
دبنګال تر خلیجه (٦) پورې پرتي دي. داسی ښکاري چی په خپله امیرجمله هم دانیت
درلود، او فـکریې کاوه چی ددې هیواد فتحه به دده لپاره دابدې افتخار دروازه
خلاصه کړي. اوله بلی خوا به دده دعسکري شاهکاریو آوازه ان ترچین پورې
خپره شی.

بنا پـدې اساس یې دجګـړې لپاره تیاري ونیوله. دډاکی نه دخپل پوځ
سره په کشتیو کی سپور شو اوتر هغه دریاب پورې یې سفر وکړ چی پدې هیـواد
کی بهیږي. پدې دریاب کی دملوليو په حدود کی دشمال خواته چې په ځینـو
مواردو کی ختیځ لوري ته میلان لري پرمخ حرکت وکړ، دازو چونی ته‌چې داسام
راجه په لاس کی ده او یو وخت یې دبنګال سلطنت څخه رانیولی وه ځان ورساوه
امیر جمله پدغه چونی حمله وکړه او پنځلس ورځونه یې په لږه موده کی لاس ته

کړه.ددې چونې ستراتژيکې موقعيت اسام ته د دروازې مثال لري .دې چونې مقابل لوري ته شانداري ته لارځې چې داهم په خپل وارد اسام راجه هيواد ته بله دروازه ور خلاصوي.امير جمله دغه ځای ته ۲۸ ورځونه وروسته راغی اوپر له پسې دشمال خواته پر مخ روان و.داسام راجه او امیر جمله ترمنځ کلکه جګړه ونښته چې په نتیجه کې مات او مجبور شو چې ګرګوانو لوري ته په شاولاړشي چې دغه ځاي دده دهیواد مرکز بال کیده او شامداري نه د ٤٠ میلو په فاصله کې پروت دی.امیر جمله داسام راجه پسې تعقیباوه دهغه په منده ور پسې روان او په پنځوورځو کې يې دښار شاوخواته ځان ورساوه.داسام راجه داموقع پیدا نکړه چې په ګرګوانو کې ځان محکم کړي، بلکه مجبور شو چې دامیر جمله دلاسه دسلطنت غرونو ته پناه يوسي. ګرګوانو دشامداري پشان امیر جمله چور کړ، او ډیر ثروت دده لاس ته ورغی. دا ډیر لوی اوښکلی ښار دی چې په لویه پیمانه تجارت پکې کیږي.ددې ښار ښځې دېرې ساري ښکلا له مخې دنورو دښارونو سره جوت فرق لري .ولې دامیر جمله بدقسمتي ته ګوره چې دتباکلې مودې ته مخکې دشیګرو موسم شروع شو.دلته شیګرې ډیرې درنې او تقریبا درې میاشتې دوام کوي او تردې اندازې رسیږي چې يوازې په جګو ځايو کې کلې داو بونه پاتې کیږي اونور پهاواره کې تول لاندې کوي. دی ګسهواو اوږ دوشیګرو امیر جمله په سختو مشکلاتو کې ایسار کړ.راجه په دغرونو څخه داسې کسان رالیږل چې دکلیو درك ورته معلوم و او په لنډه موده کښې ئې وکولای شول چې کلې دخورا کې موادو ذخیری تش کړي. دامیر جمله فوځ اګرچې زیاته دارايی لرله ولې دخوراکې موادو له پلوه سخت په تکلیف شو. ترڅو دشیګرو موسم پای ته ونه رسید ترهغې فوځ نه شوای کولای چې دځای څخه پر مخ یاپر شا ولاړشي .

www.libtool.com.cn

مخې ته دغرونو له امله فوځ نه شو تلای، ځکه چې پدغه غرونو کې تلل اسانه خبره نه ده دبلې خوانه ګسې شیګرې او ختې، دریم داچې داسام راجه په خو ځایو

نو کی هغه لارچی شامداری ته ځی له کاره ایستلی وه.ددی ټولو موانعو په نتیجه کی امیر جمله مجبور شو چی دشیگرو ټول موسم تیر کړي. ددې موسم دخلاصیدونه وروسته امیرجمله لیدل چی دده فوځ دلوږې نه دمړ ژواندی حالت ته راغلی، ډیر ستړی اورت په تنگ شوی دی. لدې وجهی نه یې دمخکی تنگ‌نه ځان وژغورلو او بیرته راستون‌شو.ولی بیرته راستانیدل درمره زیاتو مشکلاتو او زحمتونو سره ترلی وو، چی له یوې‌خوا ختی دبلی خوادخرراکی موادو نشتوالی،، دریم دراجه له له خوا تعقیب دفوځ وضع رته وخیمه کړي وه.
که چیرې‌دامیرجمله په ځای بل‌خوك وای چی صبر او تحمل یې لږوای اونه یې شوای کولای چی فوځ نظم وساتی نوبی شکه ټول فوځ به یې تباه او ځان به‌یې ورك کړی وای. امیر جمله ددې مشکلاتو سره‌سره په ډیر اوږ نوم او زیات ثروت سره راستون شو. ده دانیت درلود چی په راتلونکی کال‌کی بیاهغی خواته لښکر کښی وکړي اوهم‌یې دافکر کاوه چی دده تینگ فوځ چی په‌ازوکی اچولی دی دکال پاتی برخه بهد اجه په مقابل کی مقاومت وکړي. آما دده وجود چی ډیرو مشکلاتو زپلی اوله کاره ایستلی و، آیاکولای شول چی ددې ستونځو په‌مقابل کی مقاومت وکړي؟ داچی راستون شو دده‌په‌فوځ کی دیزنتري (نس‌خوزی)ولگیده په خپله دامیر جمله وجود هم دفولادو څخه جوړشوي نه دی هم دې مریض‌ونیواو مړشو. داسی ښکاریده چی تقدیر غوښتل اورنگ زیب دعادلانه‌ویری نه را خلاص کړي،زه وایم چه «عادلانه ویره» دا ځکه هغه چاچی دغه لوی انسان پیژانده او د هندوستان وضع ورته معلومه‌وه‌نوحتمأئی‌ویل چی‌اورنگ‌زیب‌اوس دبنگال‌بادشاه‌شو. حتی په خپله اورنگ‌زیب ونه‌کولای شول چی پدې باره‌کی دخپلی نظر یې‌جوتولونه ده وکړي. ده په څرگنده دټولو په‌مخکی محمدامین‌خان ته وویل:

«تاپلارله لاسه ورکړ او ماتر ټولو لوي او خطرناك ملگري کوم چی ماپه



www.libtool.com.cn

ژوند کې لاره». په همدغه ګړی کې اورنګ زیب داکوشش ونه کړه چې محمد امین‌خان نه داد ګیرنه رر کړي. اویا دا ورته ووایې چې دی بایـد داورنګ زیب لپاره دخپل پلار ځای ډك کړي. یا لکه څرنګه چې توقع کېده دده معاش کم کړي، دمرحوم امیرجمله د دارایـی پهلټون پسی لګیاشي بلکه اورنګ‌زیب بیاله سره دده منصب دبخشي په صفت تایید کړ اودخپل پلار دټولی هستی وارثـیې وټاکه .اګر چې ددې هیواد دعنعنی له مخی اورنګ زیب کولای شول چې دامیرجمله ټول‌مال او جایداد په خپله قبضه کړي .

www.libtool.com.cn

دریم دښایسته خان موضوع ده. کله‌چې اورنګ زیب دسلطان شجاع‌مقابلی لپاره کاجوي ته روان شو ښایسته خان یې داګرې. ګورنر مقرر کړ. بیایې د دکن ګورنر اوهغه ځای عسکری قوماندان او بالاخره دامیرجمله‌دمرګ‌نه‌وروسته‌دبنګال ګورنر اودهغه ځای عسکری قوماندانی هم ورپه غاړه کړه ، اودغه لقب امیرجمله هم درلوده مونږ په خپلوخبرو کی داتکی یاد کړچی ښایسته خان داورنګ‌زیب ما ما و ، اوده وکولای شول چې په خپلو تو طیئو مشورو ، خوږې ژبـې او تیز قلم اورنګ زیب سره مرستی وکړي. آما دابه دانصاف نه لرې وي که چېرې دده لوړ نوم او نیت په باره کی چې دګورنری په موده کی یـې په سر کی ګرځیده هیڅ ونه وایو. امیر جمله ممکن دسیاست له مخی یادېل خیال په اساس نه غوښتل چې دښایسته خان پـه شان اقدام وکړي. ددې خبرې تفصیل به زه وروسته ورکړم چـې تاسـې نـه یوازې دبنګال اوداراکان سلطنتونو دګذشته اوحال سره اشناشیء. ددې‌سیمو‌په‌حال پوهیدل ډېر سخت ، اوتراوسه پورې هیچا ونه کولای شول چې دهغه په حقیقت پوه شی.زه غوارم په همدې موضوع باندی لږتم شم ځکه چې دزیاتی‌توجه‌وړ‌د . .

کله چې دښایسته خان داقدام په مقصد او اهمیت پوه شو اودا تصورځان ته حاصل کړو چې هلته دبنګال په خلیج کی څه روان دي ، نو باید پدې تکی‌هم خبر

شو چې داراکان اوماکو په سلطنتونو کې دډېرو کالونو راهیسې خوایو شمېر پرتگالیان په دایمي صورت سره ژوند کوي. دغوی سره یو زیات شمېر عیسوي مریان، دوه رگه مریان او نور دبیلو بیلو ځایو پرنگیان یو ځای شوي دي. دغه ځای دفرار یانو لپاره یو ډول پناه گاه ؤ، چې د گوا، سیلون، کوشین (٦١) مالاکې، او د هندوستان دنورو ځایونو څخه په کومو کې چې پخوا پرتگالیان اوسېدل راتښتېدل. دا هغه کسان وو چې ټول ژوندیې په فرارۍ کې تیر کړی دی، دوه درې واره یې طلاقونه اخیستي دي، یاقاتلان دي.

لنډه دا چې د ټولې نړۍ جنایتکاران دلته په ډېره خوښۍ سره استقبالېدل. دوی داسې د نفرت وړ ژوند تیراوه چې دیوه عیسوي لپاره د ننگ وړ دی. تردې چې که یو بل به یې سره ووژل کومه سزا به یې نه لیده. د دوي په منځ کې وژل، مسموول، حتی د خپلو روحانیونو ټول یو عادي کارو. د دوي او روحانیونو په منځ کې کوم توپیر نه لیدل کیده. د اراکان پادشاه چې د مغل څخه پر له پسې په خطر کې و، دوی یې د پیره دار و پشان په خپل سرحد کې د چټاکونگ (٦٦) په بندر کې ساتل. دوی ته زیاتی ځمکې ورکړ شوې وې او د خپلې رضا ژوند ته یې خوشې کړي و. د دوی معمولي مشغولیتا او پېشه داړه ماری او دلارې وهل و. دوي په خپلو کوچینو کو بېړیو کې چې گالیاس نومیږي په بحر کې، یوه خوا بله خوا گرځې د گنگه دریاب په شاخونو او کانالونو ورننوځې. د کوز بنگال تر ټولو جزیرو ته تیریږي، او کله کله د مسیره سره سم د ٤٠ نه ٥٠ لیوږو ري پورنه ځي. کلیو په اوسیدونکو، جرگو بازارونو، اختر ونو، دغریبو بت پرستانو په وادونو او ددې هیواد په نور خلکو نابیره حملې کړي. په رتبه بې رحمۍ سره نیولي شوي کسان نرښځې، لوی او واړه نور هغه څه چې ځان سره وړلای شي وړي او پاتې شیان له یوې مخې سوزوي. هم دا وجهه ده چې په اوس وخت کې د گنگه په خوله کې ښکلې جزیرې بالکل خالي دي

یو وخت دلته خلک اوسیدل اوس دلته بې له وحشي حیواناتوڅخه بل ژوندہ ساری نه شيء پیدا کولای .

www.libtool.com.cn

دا ډول مریان چې دوی له هره ځایه پیدې غیر انساني صورت سره راوستل ، دوی څه ورسره کول ؟ دوی بې شرمي او « زرورتوپ » نــه هــم کار اخستلای شو چې لاس په لاس دغه مریان سبامنډیې ته راوباسي په ځپلوزامنو ، پلارونو باندي چې پرون ددې داړه مارانو دحملې ته تښتیدلي ، یاپه ځنګک کې پټ شوي ور ، آمادې وحشیانو ته پیژندل چې داخو هغه کسان دي پرون یې ددوي نه ځانونه په منډه خلاص وړي وو ، خرخ کړي . هریوه کوشش کاوه چې خپل پلار یامور چې پرون ددې وحشیانو په لاس کې کښیوتل وا خلی . دمریانو پاتې برخه یې ځان سره دکار لــپاره ساتل . دوي يې مجبورول چې خپل دین یعنې عیسویت ور باندې ومني . دوی یې داړه مـاران تـربیــه کــول ، دایــې ورښــودل چــې څــنګه دیــل وبنې توبــې کړي یابه یې په پرتګالیانو باندې په ګو ، سیلون ، سانتوچې ، اونوروځایونو کې رخول ، یابه یــې دبنګال اوخوګلی په پرتګالیانو باندې چې هلته داور نګ زیب ماما په اجازه پراته دي خرڅول . جهان ګیر د تجارتې روابطوله امله او هم ددې وجهې نه چې دبحري داړه مارانو په مقابل کې یې دبنګال خلیج ساتنه په غاړه اخیستې وه ، عیسویت ته یې دتحمل په نظر کتل . دغه تجاوت چې دګال جزیرې ، نږدې د داس پالما ں دماغې په شاوخوا کې روان دي ډیر په زړه پورې دي. همدلته بحري غلو دهغو پرتګالیانو انتظار یوست چې بیرې به یې د ارزان بیه مریانو څخه ډکې کړې وې . (ځینې نورو اروپایانو د پرتګال د سقوط نه وروسته هم دغه راز عمل کاوه) . دې رذیلانو به ویل او حتي دځان صفت به یې کاوه چې دوی دومــره شمیر عیسویت ته راوړول ، ، چې په هند کې عیسوي مشیونرانو دلسو کالولو په موده کې خپل مذهب ته ګرځول. دا باید رویل شی چې دا ډول متدیر دتعجب وړ و. دغه

داړه ماران ددې باعث شول چې شاهجهان، چې نسبت خپل پلار جهان ګیرته زیات جدي مسلمان و، دقهر او غضب څپره ازویتو ("ملحدینو) روحانیونو او هغه مشیونرانوته چې د پخوانه په اګره کې او سیدل برابره کړي. شاه جهان په خپل امرنه یوازې په لاهور کې دعیسویانو ډیره ښکلې کلیسا چې دجهان ګیر په مهربانۍ سره جوړه شوي وه (پدې کلیسا باندې ډیر لږ ه مانۍ جوړه شوې وه چې دزنګونو آواز به یې په ټول ښار کې اوریدل کیده) ورانه کړه بلکه په خوګلي کې هم دعیسویانو تعقیب شروع کړ. دشاه جهان سره نوره حوصله نه وه پاتې چې دغه عیسویان د بحري داړه مارانو سره په ګډه عمل ته پریږدي. ځکه دهر عیسوي کور د مریانو څخه ترېږې پورې ډک و، او دا ټول دشاه جهان رعیت وو. دوی دشاه جهان دلاسه دافلاس (۶۳) درجې ته ورسول شول. لومړی یې په تهدیداو نوازش سره دعیسویانو څخه دومره پیسې و شکولې څومره چې یې کولای شول. بیایې پدې بهانه چې دوي د شاه جهان د امر په مقابل کې دنا معقولیت نه کاو اخیستي دي او د هغه د اجرانه یې انکار کړي دي دوی محاصره او امریې وکړ، چې ټول اګري ته راولي. حتی د دوی ماشومان، روحانیون او راهبان پدې ډله کې راوستل شول چې شمیریې څو سوو کسوته رسیده. دغه داسې پیښه وه چې ویل یې په ژبه نه راځې او تکې په تکې د واویلون بند ته ورته وه. په اګره کې یې مریان کړل پیې مخې ښځې او پیغلې یې په حرمسرای کې وتړلې، بوډاګان او نور یې بیلو بیلو امیرانوته ورکړل، هلکان یې سنت کړل، دلویانو زیاته برخه دویرې او ترس نه چې ممکن دهیل تر پښویې لاندې کړي یا داچې رنګارنګ وعدې ورکول کیدې دخپل دین نه انکار وکړ، ولې دا هم رښتیا ده چې ددوي په منځ کې یو څو کسو راهبانو سخت مقاومت وکړ ددې نه پرته په اګره کې میشو نران چې ترسخت فشار لاندې وو، او په خپلو کورونو کې دبندیانو پشان ګوذاره ورسره کیده. وروسته یې دا موقع پیدا کړه (ځینې د

ملګرو په مرسته او ځینې نورو دپیسو په وسیله ) چې زیاته برخه یې ځانونه خلاص کړي ، ګوا او نورو ځایونو ته چې هلته پرتګالیانو نیولي و ، ورپورې شي . دغو سمندري داړه مارانو دخوګلي د سپیره والي نه څه موده مخکې دګوا د بادشاه نایب ته دا پیشنهاد وکړ چې دپرتګال پادشاه لپاره دا راکانتوول سلطنت تر قبضې لاندې کړي ولي ده لکه چې ویل کیږي دغه پیشنهاد دغرور او کینې له مخې رد کړ ، ولې نه غوښتل چې ددې داړه مارانو مشرته چې زښت ډیر قوي او مشهور شوی و ، او حتې دپادشاه دیوې لور سره یې واده هم کړی و ، مرسته وکړي . دپادشاه نایب نه غوښتل چې دغه لوي کار د باستیان کوشانو (٦٤) غوندې یو بې نسبه سړي سره تر سره کړي . دا دتعجب خبره نه ده ځکه هغه پرتګالیان چې په هندوستان کې پراته دي د همدې علتونو له مخې یې ډیر قیمتي چانسونه دهغو پرتګالیانو پشان چې په جاپان ، پیګو ، حبشي او نورو هیوادونو کې پراته دي له لاسه ورکړي دي . ممکن دادې وجې نه وي چې دوي ته خدای تعالی عادلانه په قهر شوی دی ، لکه څنګه چې دوی په خپله هم پدې اعتراف کوي او په نتیجه کې دوی ددښمنانو ښکار شول . په هندوستان کې دپرتګالیانو حثیت دومره لړیدلی دی چې حدنه لري . زه نه پوهیږم چې دالړیدلی حثیت په بیا پورته کړي که نه . خو دا معلومه ده چې دوی پخوا له هغه چې دې چټلې ته راورسیږي ټول د دوی په مخکې لړزیدل . دوي په مرتوب ، نیک خویي او شاهکاریو کې دټولو نه وتلي وو ، ټینګ عیسویان وو ، بې حده دولتمن او د هند ټولو حاکمانو ددوی دوستی ته سترګې په لاروې . همدې داړه مارانو به هغه رخت کې دسندیف جزیره چې دګانګه دریاب په خوله کې پرته ده او ددې دریاب تصرف لپاره ر ته مهمه او ګټوره نقطه ده قبضه کړه . همدلته مشهور راهب فراغوان دڅو کالونو په موده کې دیو[5] کوچنی امیراتور غوندې رول لوبا وه او بیا خدای پوهیږي په کوم ترتیب سره وکولای شول چې دچړنې دقوماندان څخه ځان تیر کړي . همدغه

www.libtool.com.cn

داړه ماران بیاډاکي ته راغلل چې له هغه ځایه په خپلو بیړیو ګالیپاسوکې سلطان شجاع اراکان ته یوسی . لکه څنګه چې مونږ مخ کې وویل دوي وکولای شول دسلطان شجاع څو صندوقونه مات کړي او دهغه څخه زیات شمیر قیمتي ګاڼې غلا کړي . څه یې خرڅ او زیاته برخه یې په اراکان کې تقریبامفت له لاسه ووتل . ځکه ددې قیمتي ګاڼو زیاته برخه دهغو چالاس ته ورغلې و ، چې هغوي اساساً د دوي په ارزش نه پوهیدل . دغه قیمتي ګاڼي تقریباً ټول دهالندیانو لاس ته ورغلل . دوي دې جاهلانو غلوته ویل چې ددوي الماس نوم دي . او کوم قیمت چې دالماسو په مقابل کې ورکول کیږي هغه اساساً دکلکوالماس بیه ده . لنډه دا چې دوي څرګاله پرله پسې په بنګال که مغلوته زحمتونه ورکول ، هغوي یې مجبورول چې هلته په دایمې صورت زیات شمیر محافظه کاران په ټولولا روګې ودروي . زیات

شمیر پلي عسکر او یو کوچنی پوځ دګالیپاسو بیړ یو سره ددوی دحملو په مقابل کې هلته وساتی . ولی ددې سره سره دوی سخت خطرناك چوروونه او داړه ماری کولی . تردې اندازې لکه چې ماوویل آن دهیواد منځ ته به دننه ورننوتل ، دمغل په پوځ باندی به یې ملنډې وهلی او په نتیجه کې دومره زړورماهر او دومره دوسلې په استعمال کې تکړه شول چې څلور و پنځو کسو دمغلو په ګروپیز و بیړیو باندې چې شمیر به یې ۱٤ ــ ۱٥ ته رسیده حملې کولی په پای کې به فتح هم ددې داړه مارانو وه . مغل به یې چور یابندي او یایې له یوه مخه دبحر تل ته وغورځول . بنایسته خان ټوله توجه دې داړه مارانو ته را واګرځوله . کله چې دوی بنګال نه راکوز شونو دافیصله یې وکړه چې هیواد ددې طاعون نه چې دډیری زمانې راهیسې خوایی دافلاس خواته را کشوي خلاص کړي . ده دانیت درلود چې لدې کاره وروسته مخ په وړاندې ولاړ شي او داراکان په پادشاه حمله وکړی . داورنګ زیب امر هم همداسی وچې غوښتل یې دسلطان شجاع او دده دټولې خلیخانې دویتو بدل ځنې



www.libtool.com.cn

واخلي دکوم سره چې هغه بادشاه په ډيره بې رحمي او ناځوانمردي سره مـقابله وکړه او دی غله بادشاه ته دارښيي چې دشاهي کورني غړي په هردول شرايطو کی چې وي، وي به، ولې دوينو توبول يې نابخښونـکي ګناه ده.
www.libtool.com.cn

ارس به پدې خبرې وکړم چې ښايسته خان څرنګه خپل پلان تر لاس لاندې ونيو. دی ښه پوهيده چې دبنګال نه ترا راکانه پورې سپاره پوځونه دوچې لارې نه بيول نه يوازې ممکنه خبره نه ده بلـکه دپلی پوځ بيول هم هلته اسانه خـبره نه وه ځکه په مخ کې زياتې وپالي، کانالونه درياونه، دسرحد سره بالـکل نزدې بـهيزي ددې نه علاوه دغه داړه ماران چې مخکې مونږ خبره وربانده وکړې پوره قوي دي او کولای شي چې دبحري لارې نه دپوځ او مال مانع شي. لدې کبله ښايسته خان دافيصله وکړه چې دې پلان ته دهالنډيانو توجه را جلب کړي.

دې کار لپاره يې خپل سفير باتا وياته روان کړ او داسې ورته وويل چې په معلومو او څرګندو شرايطو سره دکمپنې جنرال سره تړون لاس ليك کړي چې دګډو کوښښونو په مرسته دار اکان ټول سلطنت قبضه کړي.

با تووي جنرال پوهيده چې دا کار کيدونکی دی او دبلې خوا به دا امکان هم ورته پيداشي چې په هند کې دپرتګاليانو حثيت بيخي تباه کړي او هم به کمپنې لدې درکه زياتې پيسې او دولت لاس ته کړي.

ددې مقصد په اساس يې دوې نظامې بيړی بنګال ته واستولې چې دمغـلو دپوځ راوړلو لپا ه زمينه مساعده کړي. پخواله هغه چې دهالنډيانو نظامي بيـړی راورسيږي دادي وګورئ ښايسته خان څه وکړل: ده څولړي باروړونکې بيړی او زيات شمير ګلياسې بيړی دپوځ وړلو لپاره تيارې کړې. دبحري غلو مخه يـې وتړله او هم يې پرتګاليان داړه ماران داسې وپوهول چې ګويا اورنـګ زيـب کوشش کوي دار اکان بادشاه په مقابل کې جنګ رکړي او دهالنډيانو ډير قوي

پوځ را نږدې کېږي او دوي ته(پرتګاليانو)ته داموقع ورکوي چې دخپلو ماشومانو خيلخانو په آينده باندې دمعقوليت له مخې ښه غور وکړي. که چېرې دوی وکړای شي چې داراکان بادشاه نوکري خوشې کړي او داورنګ زيب نوکري غوره کړي

www.libtool.com.cn

نوښايسته خان به ددوي لپاره ښه شرايط برابر کړي . هر څومره ځمکې چې غواړي په بنګال کې به يې هغوي ته ورکړي اوضمناً دموجوده معاش په اندازه به اورنګ زيب دوي ته دوه چنده ورکړي. دامعلومه نه وه چې دې وعدو اوتهديدونو ددوي په ماغزو تاثير وکړ يا داچې په تصادفي ډول پدې وخت کښې دوي داراکان بادشاه يو مامورو واژه او دسزا څخه وويريدل. واقعيت چې هر ډول وي وي به ولې دا بايد وويل شي چې دوي په لومه کې ولويدل اوپه يوه رڼا ورځ په دوي باندې داسې ويره ولويده چې دځان خلاصولو لپاره په ٤٠ــ٥٠ ګاليياسو کې کښيناستل دبنګال په لوري ښايسته خان ته راوخوځيدل. په پرتګاليانو داسې ترس راغلی و چې يوازې د ماشومانو او ښځو دخلاصون په فکرو نوريې هيڅ له ځان سره بېرېوته پورته نه کړل ښايسته خان دوی په خلاصه غيږ استقبال کړل او دمهر بانيو نوازشونو باران يې ور باندې شروع کړ. ټولوته ئې په دکن کې ځای ورکړ پوره لوړ معاش يې ورته حواله کړ، ولې داستراحت موقع يې ورنکړه لاس يې دخپل فوځ سره يوځای کړل دسنديف جزيرې محاصرې لپاره يې چې داراکان بادشاه په تصرف کې وه، روان کړل. هغه ځايه ټول فوځ پلې اوسپاره چيټا کونګ ته ور پورې وتل. پدې وخت کې دهالنديانو دوې نظامی بيړی هم را ورسيدې آما ښايسته خان اوس پدې فکر وچې دهالنډيانو دمرستې نه پرته کولای شي په ډيره آسانی سره دښمن مغلوب کړي دهالنډيانو د بيړيو عمله يې په ډير ممنونيت سره رخصت کړه. دغه دوه بيړی دخپلو کپتانانو سره بېرته بنګال کې وليږدې، ولې ښايسته خان په کور ورداني اوسوغاتو هيڅ خوشحاله نه و .

دبحری غلو په حمله دومره باید وویل شي چی اوس کله چی ددوی ښځی ماشوملن دښایسته خان په لاس کې دي نوداتمه ورسره نشته چی بیابه یو وخت هغه پخوانی ځای چیتها کونګ ته ورستانه شي. دوی اوس دښایسته خان پکار نه دي. ښایسته خان په خپلو عدوچی دوي ته ورکړې وی ملنده ي وهي دوی سره اوس داسی رویه کوي کومه چی لازمه وه. په میاشتومیا شتوبی تنخواه ځنلوي، مـر دار او خاینان یی بولی. داځکه چی دوی داعتماد ورنه دی، داځکه چی دوی هغه څوك په میدان پریښود. دکرم چی دوی په کلونومالګه خوړلی وه. تاسي به اوس وو بنیء چی ښایسته خان ددې پستانو کار څنګه ورتمام کړ، چی هر رخت به یی کوز بنګال تالا کاوه. دابه وروسته وګورو چی داراکان بادشاه په مقابل کی دښایسته خان پلانونو سره بخت څومره ملګر تیا کووي.

څلورم داورنګ زیب د وو ځامنو سلطان محمود اوسلطان معظم حادثه ده لومړی خولاتراوسه دګوالیار په کلاکي بندي ساتل کیږی آما سړی په هغه آوازو باور ورکړي چی دخلکو په منځ کی خپرې دي، نو اورنګ زیب نه غواړي ده ته پولست ورکړي. بلکه عادی څښاك چی دهغه ځای بندیان یی په څښلو مجبوریږي ده ته هم ورکول کیږی. آما دسلطان معظم په باره کی دابايد وویل شي چی دی هر وقت خیر اوتعدل سیمبول ګڼل کیدای شي. ولی داجوته نه ده چی دی په کړمو مهمو توطیئو باندې لګیادی که نه. کله چی اورنګ زیب دمرګ په حال کي و، آیا ده دخپل زوي څخه کوم داسی کار ولید که نه چی شك راپارووي. یا داچی اورنګ زیب ممکن غوښتل ده ده زړ ور توب او اطاعت از مویښت کړي. په هرصورت. یـوه ورځ اورنګزیب دټولو امیرانو په حضور کی سلطان معظم ته امروکړ چی د غرونـو څخه راکوز شوی زمری مړکړی کوم چی کلیو ته ډیر تاوانونه رسوی. ولی دا امر یی ورنکړچی ده ته لوی جالونه ورکړي چی عموماً دداسی خطرناك ښکار په مقابل

ورځخه استفاده کیږي دښکار لوی آمر غوښتل چې فوراً سلطان معظم ته جالونــه ورکړي اما اورنګ‌زیب هغه ته داسې وویل : « هغه وخت چې دی شاهزاده وپداسې وختونو کې یې‌ږی له وسایلونه کار ونه کول» دسلطان معظم بخت ته ګوره چــې www.libtool.com.cn
زمری په آسانی سره ښکار شوتش دده څوکسانو ټپونه واخستل اوخو آسونه‌ئې پکی مړه شول. دزمري نیول دسلطان معظم لپاره هم بی خطره نه‌و، ځکه‌چې زخمي زمری دده دپیل په سرباندی ورتوب کړ چې نږدې وپخپله ده ته کلې تاوان ورسوی. ددې پیښې‌نه راپلدې‌خوا اورنګ‌زیب دسلطان معظم پدې میړانه باندې‌سترګې‌نه‌پټوی حتی ده ته‌ئې د دکن اداره پــه‌لاس کــې ورکـړه آما دابایـد هیـره نه شـي چــې ددې منطقې محدود قدرت اولږ عایدات اورنګ زیب ته داډ ګرینه ورکوي چې دده څخه هیڅ خطراحساس نکړي.

پنځم دکابل صوبدار محبت‌خان پیښه ده اورنګ زیب بالاخره دی لـدې ولایت‌څخه ویوست . محبت خان‌یې دمهربانی له‌مخې عفوکړ، ځکه‌اورنګ‌زیب نه غوښتل دومره شجاع‌عسکري‌قوماندان چې په ډیره میړانه سره‌یې دخپل نیکوکار پادار شاه جهان څخه دپاره کو له له لاسه ورکړي . اونګ زیب دجې سامسنګ په ځای دګجرات صوبه دار وټاکه ، اوجې سامسنګ یې دکن تــه دجنګ لپاره روان کړ .حقیقت دادی چې دمحبت‌خان رټ قیمتی سوغاتونه روښن آرابیګم اوپه خپله اورنګ زیب ته‌چې ۱۵ ۱٦ زرو‌ړ‌ـوړې طلایی روپی کیدې اوهمدا دول ایرانی‌اوښان اوآسونه چی‌په دغه سوغات‌کی شامل وو، دده په مقرری کی بی تأثیره نه و. دکدها سلطنت چی‌دکابل صوبی په مقابل کی پروت دی اوس دپارس په لاس کی دی ز ه غوارم‌دلته په‌یوخوکی کرښو کی‌دهغه سلطنت په هکله خبری وکرم‌ځکه زما په فکردالندې خبرې به تا یخ لپاره ګټورې اوهم‌به دامکان پیدشی لکه څنګه چی‌لازمه ده دهغه وطن سره لوستونکی اشناشي .دغه سیمه دهندوستان اوپارس دوار

لپاره دعلاقې ور منطقه ده زما په فکر دپارس او هندوستان انترستونه کندهار په باره کې دهيڅچا لپاره واضح نه دي کندهار محکمه او مهمه کلاده چې ددغه سکلي اورت ښتمن سلطنت مرکزدی . دغه محکمه کلا په خپله هم کندهار او ميرې پلدي ور وستو پیړيو کې کندهار دمغلو او پارس ترمنځ دلويو جنګونــو سبب شو . ځکه دوار وخواوو دکندهار دعوا کوله دهندوستان لوي پادشاه اکبر په زور سره کندهار دپارس څخه راونيو اودخپل ټول ژوند په موده کې يې کندهار په لاس کښې و.

شاه‌عباس دپارس مشهور بادشاه داکبر زوی جهان گير نه کندهــار ونيــو .

دشاه‌جهان په وخت کې کندهار بيا دپارس دلاسه ووت شاه‌جهان البته کندهار دقوې په زور سره نه، بلکه دکندهار گورنر علي مردان خان دخيانت په مرسته دکندهار کلا لاس ته کړه او ورپسې په‌خپله علي مردان دخپلو دښمنانو دتوطيئو له ويرې نه د مغلو خواته راتير شو . لدې پيښې نه څه موده وروسته کندهار (٦٥) بــيا محاصره شو او دشاه عباس زوی دمغلو څخه خلاص کړ . له دې مودې وروسته بيا

بيا دوځله کندهار دشاه جهان له خوا محاصره‌شو آما دښار په فتح بريالی نه شوه‌لو مړي ځل ښار پلدې سبب فتح نه شو، چې دايراني اميرانو په منځ کې چې دمغل سره‌نوکري کوي ګډي اتحاد نظرموجود، او هم يې په پارس باندې زړه خپه کيده دا ايراني اميران

چې دمغلو نوکري کوي په دربار کې له نورو ټولو اميرانو څخه قوي دي‌داچې‌دغه ټول ايراني اميران دپارس پادشاه ته ډيرداحترام په سترګــه ګوري ار دکــندرهار دمحاصرې په وخت کې دغو ايراني اميرانو په‌ګډه سره ډيرسست کار کاوه او نه يې غوښتل‌چې راجه روپ پسې ولاړشي کوم چې دغرونو له خوا په ښار ورغی او نژدې و چې دښار په ديوال باندې بيرغ ودروي .

دوهم ځل داورنګ زيب کينه اوحسد ددې بــاعث شول چې کندهار فتح

www.libtool.com.cn

نه‌شي ځکه هغه ونه غوښتل دهغه کنډ وخځه تيرشي چي مونږ فرنګيانو، فرانسويانو انګريزانو، پرتګاليانو اوجرمنيانو په توپونوسره جوړ کړي و .

www.libtool.com.cn

داورنګ زيب کيني اوحسدهم دليل درلود . هغه نه غوښتل چي دکندهار دفتحي نوم د دارا شکوه په‌شهرت وراضافه کړي ، چي ددې اقدام مبتکر ګڼل کيده، اوپلدې وخت کې دخپل پلار شاه جهان سره په کابل کې ناست و. ددې وروستيوکورنيو جګړونه ځوکاله دمخه شاه جهان غوښتل چي دريم ځل کندهار محاصره کړي ، ولې ددې فکر څخه امير جمله منع کړ او دا مشوره‌يې ورکړه چي خپله قوه ددکن خواته متوجه کړي . په‌خپله علي مردان خان‌شاه جهان ته دکندهار د محاصرې مشوره نه‌ور کوله او هغه ته يې دا څو ټکې داسې وويل چي زه يې عيناً دلته راوړم .

«اعليحضرتا ! که‌هلته زما غوندې خاين نه وي کندهار به‌هيڅکله فتح نه کړې

آيا تاسو څه خيال لرئ چي هيچ ايراني ځان سره بونه ځي ؟ »

بالاخره اورنګ زيب‌هم لکه نور په وروستيو کلونوکې د کندهارمحاصرې لپاره تياري نيوله . دا معلومه نه ده چي دپارس پادشاه په ليکونوکي اورنګ زيب توهين شوی وکه نه ، آماده دپارس سفير تربيت خان سره تحقير آميزه رويه کوله هغه يې توهيناوه ، کله چي دپارس پادشاه دمرګ خبر اورنګ زيب ته راورسيده دخپل نيت څخه يې لاس واخيست او ويل يې (البته دا ديقين څخه دبهر ليرې‌ده ) دی نه غواړي دپارس نوی پادشاه سره چي بالکل ماشوم دی وجنګيږي . اګرچي شاه سليمان ته چي تخت او تاج په ميراث رسيدلی او زما په خيال ۲۵ کلن ځوان دی .

شپږم دهغو کسا و خبرې وی چي اورنګ زيب سره يې په پوره وفاداری نوکري کوله او تقريبا ټول دده له پاملرني نه لويې ته رسيدلي وو . په خپله اورنګ

زیب دوي ته لوړ منصبونه ور کړل دمثال په طور د . ه ماما شایسته خان چې لومړي یې ددکن گورنر او عسکري قوماندان مقرر کړ او بیایې د بنگال گورنر په حیث وټاکه . میر خان یې د کابل صوبدار ، خلیل الله خان دلاهور گورنر ، میربابایي

www.libtool.com.cn

په الله آباد کې ، لښکر خان په پټه کې د الله ویردي خان زوي چې پخوا یې د سلطان شجاع سره نوکري کوله دسند گورنر ، فاضل خان چې په خپلو مشوروواوچالاکیو یې اورنگ زیب سره زیاتې مرستې وکړې د خان زمان رتبه چې دشاهي کورنۍ لوی امر بلل کېږي ، دانشمند خان دډیلي گورنر . . . وټاکل . آما څرنګه چې

دانشمند خان یا په علوموا و یا په خارجي کارونوپرله پسې مصروف وي ، نو اورنگ زیب د خاص احترام او امتیاز له مخي چې هغه ته قایل شو دا اجازه ور کړل شوه چې ه پادشاه دستري مه شي لپاره هره ور ځ دوه ځلې یا دوه کرتې مجلس ته حاضر نه شي او د تنخواه څخه به یې هم څه نه گرځول کیږي . دې مجلسو نوته ورتگ د هیواد د هرمعنی له مخې ضروري دي . که چیرې بل کوم امیر حاضرنه شـي نو د تنخواه یوه برخه به یې دغیر حاضري له امله گرځول کیده .

دیانت خان یې د کشمیر گورنر وټاکه . کشمیر یوکوچنی سلطنت دي چې

فتح کول یې تقریبا نا ممکن دي وای اکبر بادشاه هغه په چالاکۍ سره لاس ته کړ کشمیر دهندوستان یوکوچنی جنت دی چې ځانته خپل تاریخ لري او په خپله ژبه سره لیکل شوی دی . زما سره د کشمیر تاریخ مختصره ترجمه په پارسي ژبه شـته چې دجهان گیر په امر سره ترجمه شوی و . دد غه دولت حاکمان ډیره پخـوانی اوزده سلسله لري اوکله کله دومره قوي کیدل چې هندوستان به یې ترسیاوونه یوړې نیوه . نیابت خان چه دکاجوي او سمانگر په جگړو کې د اورنگ زیب پهطرفداری یوره میړانه ښودلې وه

له کشمیره بدل کړ. دا به ورسته نه وي که چیرې خپل بادشاه پدې ملامتوي چې ولې چې دده دخدمتونو مجرا ورنکړه. دجیون خان او نظیرخان په هکله مونږ دومره ویلای شو چې لومړي دخپل «خدمت» بدل بیاموندی، آماده وو هم سرې په باره کې هیڅ معلومات نشته چې هغه سره څه ډول معامله وشوه.

www.libtool.com.cn

دجسوانت سنګ او جې سنګ دحال دتشریح په باره کې لږ مشکلات شته دي. زه غواړم چې دهمدغه شیانو ته لږ تفصیل ور کړم. دبیجا پور یوبت پرست باغي و کولای شول چې دبادشاه یو څو مهمې چونې او بحري بندرونه قبضه کړي ددې سرې نوم سیواجی دی چې سیوا دبادشاه معنی ور کوي. دېر میړانی بې اندازې محتاط زړه ور او منتها تشبثکاره انسان دی. ده په دکن کې دښایسته خان لپاره دومره سرګردانی راپورته کړې چې دا سرګردانې دبیجا پور راجه نه چې دهغه ټول پوځ او راجه ګانو سره چې زیاتره دضرورت په وخت کې په یوه مخاذ کې دریږي هم زیاتې وې دسیواجی زړ ور توب دې درجې ته ورسیدچې باوجود ددې چې ښایسته خان په اورنګ آباد کې ځان سره قوي پوځ او زیاته خزانه لرله، ولې بیاهم ددې سره سیواجی غوښتل چې هغه په ډاك غلا کړي. سیواجی به بې شکه خپل مرام تر سره کړی وای که چیرې افشاء شوې نه وای. یوه شپه دمخه سیواجی دیوه تکړ ټولګی سره دښایسته خان آرامګاه ته ورننوت. ښایسته خان زوی دمدافعې په رخت کې ووژل شو او پلار یې سخت ټپي شو. سیواجی روغ رمټ خپل ځای ته راستون شو. ددې بې درکه زړور انسان ناکامی دده هیلې مړې نه، بلکه لاپسې زړور او مهمو کارونو ته یې لاس و چو.

ده په خپل سر کې بې درکه خطرناك فکر ګرځاوه او هغه یې نسبتاً ښه تر سره کړ. ده دخپل پوځ ځینې دې زړه تکړه کسان غوره کړل چې له شر و شوره دهغوی سره روان شو. په لار کې یې داوازه خپره کړه چې دی داورنګزیب دربار

ته ور روان دي. کله چې سورت ته رانږدې شو (سورت دهندوستان مشهور اورتشته من بندر دی) ددې په ځای چې دهغه نه په ښکاره تېرشي لکه څنګه چې دهغه ځای لوی امرته اطمینان ورکړ شوی و. په ښار ئې حمله وکړه. پدې ښار کې درې ورځې پاتې شو. ددې لپاره چې دهغه ځای اوسېدونکي دې اقرار ته مجبور کړي چې هلته دخزانې درك وروښیي و ټولو لاسونه او پښې یې ورپرې کول. دښار په پاتنه یې پیل وکړ. کوم شیان یې چې ځان سره وړلای شول وای خستل او باقیمانده شیان یې ټول وسوځول. لدې داړه ماری نه وروسته یې له کومه مقاومته خپل ځای ته راستون شو. دخلو میلونو په اندازې طلا یې نقره یې پیسې ، مرغارې ، ور ښمین ټوکران نازکې او نور قیمتي شیان په ولجه راوړل. دسیواجي ددې دوه کارونو په باره کې چې سامسنګ هم تر شك لاندې رنیول شو. لدې وجهې نه اورنګ زیب د دکن ښخه راوغوښت اما هغه ددې په ځای چې ډیلي ته ولاړ شي خپلې منطقې ته راستون شو. مادا باید ویلی وای چې دسورت دچور په وخت کې سیواجي دیوه مذهبي انسان په صفت دمحترم مذهبي پلارا مراسیا راهب میشونر کورونه له چوره معاف کړل او هم یې امر ورکړه چې دهغوی په دارایي باندې غرض ونه نیسي. لکه ښنګه چې هغه ویل فرنګیان ، روحانیون خیرخواه خلك دي. دهالنډیانو دمرحوم لوي دلال کورئې هم چور نه کړه . ځکه پدې پوهېده چې هغه ټول ژوند دخپلې دارایې نه غریبانو ته خیراتونه ورکول. دهالنډیا نواوانګریزانو کورونه یې هم چور نه کړل. البته دانه دروحیانیو په شان دمذهب له مخې بلکه پدې سبب چې دوی په رټه مېړانه سره دخپل ځان ښخه دفاع کوله. ددښمن په مقابل کې ټینګ ولاړ. ونو. خصوصاً انګریزانو دخپل ځان په دفاع کې تر ټولو زیات جنګیدل دوی ښو بېړی ښکونه ډکې راوستی ، کومې چې په بندر کې ولاړې وې. دې کسانو په دفاع کښې معجزه کوله. دوی نه یوازې خپل ځانونه بچ کړل ، بلکه یو ښو نورو

www.libtool.com.cn

ورنژدی کورنه یی هم له چوره خلاصه کړل. خصوصاً یو یهود چي د کانستانتینوپل څخه یی قیمتی جواهر راوړي وو اوغوښتل یی چی هغه‌په اورنګ‌زیب باندي خرڅ کړي دسیواجی دلاس نه خلاص شو. ده په‌دفاع کی دزورو زولو څخه جوت فرق درلود. ددي په‌ځای چی په‌خپلو جواهرو اعتراف وکړي دائی غوره و بلـله چـی‌دا ځاني خپل سرددښمن دتبرګي لاندی کیږدی داډول کار یوازی یهود کولای شـی چی‌بخل ئی په ذات کی اخښل شوی وي.

www.libtool.com.cn

اوس به دجی‌سنګ خبره رواخلو. اورنګ زیب ده پدې را ضي کړ، چـی دپوخ دقوماندانی سره یوځای د کن ته وخوځیزي . سلطان معظم یـی هم ورسره ملګری کړی ولی هیڅ قدرت‌یی هغه‌ته ور نکړ. چی سنګ پرتولو پخواپه‌پوره میړانه سره دسیواجی کلا محاصره کړه ولی داچی دی دهرچاڅخه په خبرو کـولو کـی ماسترو، نو ویی کولای شول چی سیواجی‌دوکلاتسلیمو لوته راضی کړي ، اوهم یی سیواجی دبیچاپور په مقابل کی داونګ‌زیب اوري ته راو ګرځاوه. اورنګ زیب سیواجی دراجه په حیث اعلان کړ. دی ئی ترخپل حمایت لاندی ونیو اوهم یی‌دده زوی ته دامیری لړیه تنخواه وټاکله. اورنګ‌زیب غوښتل چی څه موده ورووسته د پارس سره جګګ شروع کړي نوبناپدې ،مقصدیی سیواجی ته یر خوښیر مهر بان لیکونه واستول چی‌په‌هغه کی دسیواجـی شجاعت ، سخاوت، صبراو تحمل ستایل شوي‌و . اودا خواهش‌یی هم ترې کړی و، چی دجی‌سنګ پەمرسته دهلی ته‌راشی داورنګ‌زیب نژدې خپل بنایسته خان چی پدې وخت کی په‌دیلی کیو، داکوشش یی چالان کړ چی اورنګ زیب دسیواجی مرګ ته راضی کړي کـوم دده دزوی قاتل او بنایسته خان ئی تپی کړ اوهم سورت چور کړی و. یوه شپه مانبام ځاورو امیرانودسیواجی‌خیمه احاطه کړه . اماهغه وکولای شول‌چی‌ځان په بدله جامه کـی خلاص کړي. دې پیښی په دربارکی زیات غالمغال را پورته کړ ،او ټولودجی‌سنګ

مشرزوی پهدې کار کې شریك باله. جې سنگ چې دېښې نه خبرشو او پوهیده چې اورنگ‌زیب دده په زوی باندی سخت په قهردی دربارته ورتگ نه‌یې ډډه وکړه شپه ورځ یې دځان ـ محافظه کوله. ویریده چې ممکن اورنگ‌زیب ددې بهانې نه استفاده وکړي اوپه منطقه بهٔیې دحملې امر ورکړی. جې سنگ دهمدې ویرې نه دکن ته ولاړ چې هلته خپله منطقه وساتی اما لارامپورته نه و رسیدلی چې په لاره کی مړشو .

www.libtool.com.cn

اورنگ‌زیب نه یوازې دمړې سینې نه کار واخست، بلکه‌دده زوی‌ته‌یې دجې سنگ دمړینې په مناسبت تسلی ورکړه اوهغه پحوانی تنخوایی ورته مقرره کړه. ډیر خلك داخبره تایدوی چې دسیواجی په تښتیدو کې په خپله اورنگ زیب لاس درلود. ځکه په دربار کې دسیواجي ساتل نور ممکن نه وو. د دربار ټولو ښځو دده په مقابل کې سخت حساسیت درلود اولیدل یې چې همدې سړی ددوي دوستانو او خپلوانو په وینو لاسونه سوه کړی وو.

اوس باید بیرته دکن ته راوگرځو . دغه منطقه چې تقریباً څلویښت کاله د تیاتر غوندې دجنگ میدان گرځیدلی ده او ډیر ځله دمغلو په‌منځ کی‌دمخالفت‌اصلی عامل شوی ده همدا ډول دگولگهنډې‌اوبیجا پور ترمنځ په همدې‌منطقه باندی‌وهل ټکول روان دي اویادنورو ورو بادشاهانو ترمنځ یې بې اتفاقي راپورته کړې ده ددې اړاره چې په اصلی عامل پوه شو نو لازمه ده چې د مهمو پیښو سره اشنا شو کومې چې پدې هیوادکې منځ ته راغلی دي ، اوهم دهغوپادشاهانو حالت سره چې دغه منطقه اداره کوي .

که چیرې دهندوستان په ټوله عظیمه جزیره اما باندې دکومبیس خلیج نه تر بنگاله پورې چې د جاگانات منارته نږدې پروت دی اوله هغه ځایه د کومورین

دماغي پوري (تش دځینو غریزو برخونه پرته) خطه راویستل شی دا تبوله عظیمه
جزیره نما تقریبا ۲۰۰ کاله دیوه واحد پادشاه له خوا اداره کیده او دغه پادشاه زښت

www.libtool.com.cn

ډیر قوي و . په اوسني وخت کی دغه عظیمه جزیره نما دخو واکمنو په منځ کی
ویشل شوي ده چی هر یو یی ځانته بیل مذهب لري . ددې ویش علت په خپله د
هغی عظیمی امپراتوری دروستنی پادشاه رامراس وه . ځکه ده خپل درې گرجی مریان
له حدنه زیات لوړ کړل ، هریوه ته یی گورنري ورکړه . لومړی یی ددکن گورنر
وټاکه . پدې منطقه کی دولت آباد ته نژدې آن تر باداره ، پرندې سورته او تر
بداره پورې سیمی شاملی وې چی اوس دلوی مغل په لاس کی دي . دوهم مریی
ته یی دبیجا پورې سلطنت مربوطی سیمی ورکړې . دریم یی د گولکنډې سلطنت
مربوطو سیمو گورنر وټاکه . دغه درې واړه مریان بی حده دولتمن او زښت ډیر
قوي شول . دمغلو زیاتره برخه چی د رامراس په نوکری کی وو ، ددې مریانـو
حمایه کوله . ددې کار اصلی علت داوچی دغه درې واړه مریان دپارسیانو په شان
شیعه گان وو (دوي نه شوای کولای چی حتی کـه غوښتي یی هم وای چی دبت
پرستانو دین ومني . ځکه بت پرستان دا عقیده لري چی آسمانی قانون یوازې د دوی
لپاره دی) دوی بالاخره په گډه سره شورش وکړ رامراس بی مرکز او هریو خپلی
منطقی ته راستون شو . هلته یې ځانونه بادشاهان اعلان کړل . درامـراس اولادې
نور دا قوت ځان کی نه لیده چی د دوي په مقابل کی وجنگیږي . تش یی په هغـه
برخه اکتفا وکړه کومه چی د دوی په تصرف کی وه . داهغه علاقه ده چی اوس
یی خلک کرناتیک بولی او زمونږ په نقشو کی بهاگ نگر (٤٤) نومیږي او تر نـن
ورځی پوري دوی هلته راجگان دي .

دهندوستان پاني برخه دنورو راجه گانو ـ نایکانو (٦٧) او کوچنیو پادشاها
نو تر منځ وویل شوه دغه درې گرجی مریان او د دوې اولاده کله چی په قدرت

باندې ولاړ و تول وخت یې په خپلو کې تماسونه درلودل . دمغلو په مقابل کې په لویو جنګونو کې په ګډه جنګیدل . آما کله چې دری یوازې دخپلو ملکونو په غم کې شول ، زر یې ددې نفاق عواقب احساس کړل مغلو ددې وضعې ته استفاده وکړه ۳۵ ـ ٤۰ کاله پخوا دوی و کولای شول چې دنظامشاه پادشاه چې د لومړي ګرجي مړیې پنځم او یا شپږم نسل دی ټوله پادشاهي تصرف کړه او په خپله دی هم د دولت آباد په مرکزکې بندي ګیرشو ، او بیا لږ موده وروسته هلته مړشو . (٦٨) دګولکهنډې پادشاهاز پدې وخت کې نسبتاً په ښو تینګ ولاړ وو ، ولی بالاخره دوی هم و نه کولای شول چې دمغلو طاقت ته ځان تینګ کړي . مغل داوخت دګو لکهنډې او بیجا پور سره په مبارزه لګیاو او پخواله هغه چې په آسانی سره ګولکهنډه لاس ته کړي غوښتل یې چې له دوي شخه دامیر ، پرندې ، بیدار او یوڅونورې چونې واخلي . ولی د ګولکهنډې پادشاهان ډیر چالاکه او درلتمن وو ، دوی په پټه سره د بیجاپور پادشاه ته دپیسو مرسته ورکوله ترڅو بیجاپور و کولای شي دمغلو مخنیوی وکړي . دبلې خوانه د ګولکهنډې پادشاه پوخ پوځ درلود چې هروخت جګړې ته تیار و ، او کولای یې شول چې دضرورت په وخت کې یې له معطلی دمغلو په مقابل کې دبیجاپور سرحد ته رانږدې کړي . ګولکهنډې مغلو ته داښودل چې دوی نه وازې دخپل ځان مدافعه کولای شي بلکه که دبیجاپور بادشاه وغواړي دهغه مدافعې لپاره په لازم وخت کې لاس په لاس کومك رسولای شي . دبلې خوا دا خبره باید وشي چې ګولکهنډې کولای شول دمغلو پوځ لویو قوماندانانو ته په پټه سره بډې ورکړي ترڅو هغوی دربار دیته تشویق کړي چې بیجاپور سره ونښلي . ځکه چې هغه ځای دولت آباد ته نسبتاً نږدې دی . بل داچې د ګولکهنډې بادشاهان مغلو ته هرکال وطني نادر مصنوعات یوځا پیلان چې دپیګو او سیلون څخه یې راوړلي اویوه برخه نقدې پیسې دسوغات په توګه ورکوي . بالاخره مغل دې سلطنت ته

تقریبا دخپلې سیمې په ستر ګه ګوري . دغه لوی صوغاتونه یاپه بل عبارت باج دهغې موافقې له مخې اورنګ زیب داوسني باذشاه سره تړلې ده . کله اورنګ زیب ګولکهنده محاصره کړې وه اودهغه په باره کې ماپخوا خبرې کړې دي . بل داچې دګولکهنډې پادشاه ددولت آبادنه تر ګولکهنډې پورې دمغل په مقابل کې کوم سنګر هم نه لري چې دهغه څخه کاروا خلی مغل دافکر کوي چې که چیرې دې تولی قوې نه کار واخلي نو کولای شي چې دغه پادشاهي په یوه لښکر سره ونیسي . زه فکر کوم چې مغل به داکار لاپخوا کړی وای که دبیجاپور پادشاه څخه نه ویریده. که چیرې اورنګ زیب خپلې قواوې دګولکهنډې په مقابل کښې و دروي دبیجاپور پادشاه به بې له شکه په دکن ورننوځي . اورنګ زیب پدې ښه پوهیږي چې دلته دخپل ځانګړې امنیت لپاره دګولکهنډې پادشاهي یوازې توب ډیر مهم دی .

دپورتنې تفصیل نه وروسته اوس کیدای شي چې لږ څه دګولکهنډې پادشاه په انترستونو ، دمغلو سره دده په روابطو اوبالاخره په هغو علتونو باندې چې دده دپادشاهي ستنې وربانډې ولاړې دي پوه شو . ددې سره سره زه بیاهم وینم چې د دغه سلطنت وجود سخت په تزلزل کې دی . ځکه داښکاري چې نننی پادشاه داورنګ زیب اوامیر جمله سره دجګړونه ووروسته بالکل میرانه دلاسه ورکړې ده . داسې جوت ښکاري چې په خپل سلطنت کې د'دارې واګې له قدرته وتلي دي. حتی دا جرئت هم نه شي کولای چې دګولکهنډې چونې نه دباندې راووځي خلکو ته ځان ښکاره کړي یا دغوښتونکو فریادونو ته دهیواددعنعنې مطابق دعدالت په نوم غوږ ونیسي . دهمدې کار په نتیجه کې کارونه په ډیره خرابۍ سره په مخ ځي . بلدایان غریبان ځوروي ، ترڅو چې پادشاه خپل احترام له لاسه ورکړی دی. دده په حکمونو بالدې خلک ملنډې وهي اوتقریباً دښځې په سترګه ورته ګوري . خلک چې بې عدالتي اوغیرانساني رویې نه ستوني ته راغلي دي ، یوازې داورنګ زیب

په خيال شپې ورځې تيرري . لنډه داچې دغه پادشاه کيداى شى سرى پــه لانــدې فکتونو باندې محاکمه کړى .

لومړى واقعيت : په ۱٦٦۷ کال کې چې زه په ګولکنډه کې وم اورنګ زيب ده‌ته فوق‌العاده سفيررا وليږه سفير تــه هدايت ورکــړ شوى و، چې کــه چيــرې د ګولکنډې‌پادشاه اورنګ‌زيب ته (لس) زره سپاره‌دبيجا پورپه مقابل کې مــرسته ورنکړې نو بايد دجنګ اعلان د ګولکنډې پادشاه ته ورکړى شي . دغــه پاد شاه داورنګ زيب سفير ته بې‌سارې احترام وکړ. پخپله سفير او اورنګ زيب ته يې لوى سوغاتونه برابر کړل او هم يې داسې قرار داد ورسره‌لاس ليک کړچې دهغه په اساس‌به لس زره سپا ه نه بلکه‌دومره پيسې هم ورکړې‌خومره چې‌اورنګ زيب غواړى ، ترڅو وکولاى شي دجنګ ټول مصرفونه پوره کړي‌اورنګ زيب په دغه ترون کفايت وکړاو نور يــې څه ترې ونــه غوښتل .

دوهم واقعيت : داورنګ زيب عادي سفير چې په ګولکنډه کښې پرله‌پسې اوسيږى دخپل ځانه امرونه ورکوي ، تهديد ونه کوي‌پاسپورتونه ورکوي لنډه‌دا چې دخپل زړه بــادشاه دى او هيڅوک دانــه شي کولاى چې پــه ده څوک اعتراض وکړي .

دريم واقعت: دامير جمله زوى محمدأمين‌خان اګــرچې داورنــګ زيب عادى اميرانو څخه دى، کوم خاص امتيازنــه لرى ، ولې د ګولکنډې سلطنت خصوصاً په مسليپاتم کښې داندازې نه زيات احترام ورته کيږي . دده معتمد پــه مسليپاتم کې کلې واکدار بلل کيږي . مالونه اخلى خرڅوي يې . په ما لونو کې بيړۍ راولي اوبيايې استوي‌ولې هيڅوک داجرائت نه شي کولاى‌چې‌دهغه په مقابل کې د ګمرک غږ پورته کړي دمحمد امين‌خان‌پلار اميرجمله هم پخواپــه همدې دول پدې سلطنت کې قوي لاس درلود چې زمانې هغه له پښونه شوغور ځولاى.

شلورم واقعیت: هالندیانهم پوره دا جرائت کولای شی چی دهیواد تولی

تجارتی بیړی بندرکی تال اویا تهدید کړي . بیړیوته ترهغه پوري‌دوتو اجازه نــه

www.libtool.com.cn

ورکوي ترڅویې‌خپل مقصد نه وی حاصل کړی . هالندیــان حتی دگولکهندې

پادشاه‌امرونوته غاه نږدي .یوه ورځ ماپه ستر گولیدل چی دوی دانــگریزانو یوه

تجارتی بیړی په زور سره دملسیپاتم په بندکی ونیوله . گورنر په کارکی مداخله

وکړه تول‌ښاریې ددوی په مقابل کې‌ودراوه پدې ئی تهدید کړل چی‌ددوی تجارتي

نمایندگی به وسوځوي اوټول به‌له یوه سره ووهي ، ولی بیاهم هالندیان دپخواپشان

بی‌نظمی راولی اوتجارت‌ته‌ر ته‌صدمه‌رسوي .

پنځم واقعیت : حتی پرتگالیان چی‌په هند کی ترټولو غریب بد بخته اوبی

زره دي امابیاهم ځان ته دا اجازه ورکوي چی گولکهنده په جنگ کی مصر وفــه

ملسیپاتم اونور ټول ساحلونه په چورسره پدې بهانه تهدید کړي چي که‌چیرې‌دوی

ته دسان تومی چونی ورنــکړي کومه چی خوکاله پخوایی په خپله رضا دغه چونی

دگولکهندې پاد شاه ورخوشی کړه . داچی اوس دغه چونی هالندیانوتــه ورکول

کیږي اوهمدا چونی دوی لاقوي کوي نوا دپرتگالیانو په زړه نه اوارېږي.

ولی په عین زمان کی نه گولکهنده کی‌ماله‌ډیرویوهوکسانونــه واوریدل چی

دگولکهندې پادشاه ډیر هوښیار بولی . دوی وایی چی‌دده دغه کارونه یوازې

اویوازې پــه‌سیاسی غرض بنادي ، ځکه دی نه غواړي چی څوک دځان څخه خپه

کړي: خصوصاً داور نگ زیب شک لري کوی اوه پدې‌یې داده کړی دی ، چی

دی دگولکهندې (پــاد شاه ) دپــاد شاهی پــه کــارونــو کی هیڅ مــداخــلــه

نه کوي. دبلی خوا په همدې وخت کی دده زوی لویږي. هغه یـی دخاـکـوڅخه

پټ کړی دی اودهغی ورځی انتظار باسی چی خپل زوی بادشاه اعلان کړي اوبیابه

www.libtool.com.cn

داورنګ زیب په موافقو بالدي ملنډیووهی که ژوندي و، وبه یی وینو.

راځی اوس بیجاپورروګوروچی دده انترستونه کوم دی. د بیجاپور ساطنت

هم کوشش کوي چی دخپل قدرت شته والی ته دوام ورکړي. مغلو اګرچی دوی

سره جنګونه نه قطع کول اردو اړو طرفونو زورهم مساوي نه دي، ولـی اصلـی

خبره داده چی مغلو د بیجاپور په مقابل کی هیڅکاله دلوی قدرت څخه کاروانخست.

داورنګ زیب لوی عسکری قوماندانانهم نه غواړي چی جنګونه زرپای‌ته‌ورسوي،

ځکه دي نه‌په زړه پوري بل هیڅ شی نشته کله چی سری دپوځ په سر کی ولاړوي

حکمونه کوي، خپل ځان ددربارنه لري دیوه واړه بادشاه په‌شان احساس کـړي. د

همدې وجهی نه دغه‌متل جوړ وچی «دکن ده‌ندوستان دعسکروژوند اودودی‌ده.»

ددې نه پرته دبیجاپورعلاقی ته دمغلو دامپراتوری له خوانه ورتګ رټ سخت‌دی

ځکه چی په لار کی نه شې اوبه پیدا کیږی ارنه دسړیو اوحیواناتو لپاره خوراکـی

مواد شته .

دریم داچی دبیجاپور پایتخت ډیرمحکم دی. پداسی ځای کـی پروت دی

چی بالکل وچه اوبی حاصله منطقه ده دښارنه پرته هلته دښو اوبـوپیداکول مشکل

سوال دی. څلورم داچی په ساطنت کی ډیرې داسی عزیزې کلا وې موجودې دی

چی هلته لارورپیداکول سخت دي. ولی بیاهم زماپه عقیده دغه سلطنت هم‌متـزلزل

دی، ځکه چی ددوی څخه پرنده ونیوله چی په هغه هیوادکښی دبیدار اوداسی‌نورو

مهمو کلاوو نیولو لپاره د کونجی مسال لری . داخصوصاً لدې ښځه هم لیدل کیږی چی د بیجاپور وسقنی باشاه ښځه کوم نارینه اولاد پاتې نه شو. هغه ځوك چی اوس www.libtool.com.cn په تخت ناست دی د بیجاپور ملکی چی د گولکهنډې باشاه خوردهه ځوی نیولی و. دې بادشاه ملکی ته ددې دمهربانی او شفقت په مقابل کی دیره وچه رویه رواخیسته. هغه وخت چی ملکه دمکی ښځه راوگرځیده، ده په ملکی باندې په گولکهنډی بیړی کی چی هغه ئی موکړته ورله ناوړه سلوك شروع کړ. هغه ځوك چی دې سره په بیړې کی و د هغوې ښځه دملکی درې تنه دیرخوښ شول . ځینی کسان ددې ناوړه فتار له مخی د بیړی ښځه ووتل، او دوچی لارې نه موکونه ترمکی پورې هغی پسی لاړل. د همدې وجهی نه کله چی ملکه دمکی ښځه راستنه شوه ده هیڅ پروا ونه بالدې خرڅه کړه، بالاخره د هغه بې نظمی له مخی چی په دغه سلطنت کی موجوده ده هغه بت پرست سیواجی چی ما دهغه په باره کی پخوا خبرې وکړی وکولای شول په لږه موده کی ددی سلطنت دیرې محکمې کلاوې چی په صعب — العبور و ځایونو کی پرتی وې فتح کړی . دلته اوس دی ځان دیره ګ چنوتسی پادشاه غوندې احساسوي. له همدې ځایه په مغلو او بیجاپور باندی ملنډې وهی. له سورته او د گواتر دیوالونو پورې ی ملکونه لوټوي .

شپږم واقعیت : کله چی زه د هلی ښخه ولاړم د بیرته راتګ په وخت کی دشاه جهان د مرگ خبر ماته په لارکی راورسید. وایی چی اورنگ زیب دشاه جهان په مرگ باندی دومره زیات غمجن شو، لکه څومره چی یوزوی د پلار په مرگ غمجن کیږی . داورنگ زیب په څیره کی دغم

ټولې نښې ښکاره کيدې اوپه همغه ساعت چې پلاريې مړشو داګرې خواته ورغی. بيګم صاحب امروکړ چې جومات اوداورنګزيب داستوګنې ځای په اعلی قالينو سره فرش کړي.

www.libtool.com.cn

پخواله هغه چې پو چونې کې حرمسرای ته اورنګزيب ورننوځي بيګم صاحب ده ته په طلا و ډکه لويه تغاره وړاندې کړه اوپدې تغاره کې بيګم صاحب خپل اودشاه جهان ټول قيمتي ګاڼې ارجوهرات اچولي وو. بيګم صاحب ارزنګزيب سره په داسې نرمۍ اوچالاکۍ خبرې کولې، چې حتی اورنګ هغه وبخښله. څه موده وروسته بيګم صاحب داورنګ زيب اعتماد لاځان ته جلب کړاودهغه مهربانۍ څخه پوره برخورداره کيده.

زه يقين لرم چې زما دتاريخ لوستونکي اکثريت به زما په ليکنو کې هغه لارې پيدا کړې په کومو باندې چې اورنګ زيب تللی و. اورنګ زيب دتاج وتخت کتلو لپاره په ډيرو خطرناکو لارو ولاړاودزورنه يې کاراخيست. زه داکوشش نه کوم چې اورنګ زيب په خپلو اعمالو اعمالو تبره يه کړم. بلکه هيله کوم چې تر ټولو اول دی وغندل شي اوددې دولت په هغوناوړ واوبدبختوصنعنو باندې پوره سوچ وشي، کومې چې دتخت ارتاج واکداران ټينوي. خبره داده چې دلته هيڅ داسې قانون نشته دکوم له مخې چې مشرزوی ته دتاج اوتخت حق ورکړشي، لکه څنګه چې زمونږ په هيواد کې موجود دی. دداسې بې قانونۍ او ګډوډۍ په نتيجه کې دولت هغه څوک ګټي ترنورو قوي اوخوشبختوي. دشاهي کورنۍ شاهزاده ګان ددې پورتنيو شرايطو له مخې دژوند دلومړۍ ورځې نه په ډير بې رحمه ضرورت محکوميږي. يابه تاج اوتخت وګټي، دتاج دعواګيرله يوې مخې دتيغ نه تير کړي ترڅو وکوولای شي خپل قدرت په هيواد کښې ټينګ اوخپل ژوند دخطرې نه وباسي يابايد پدې مبارزه کې ځان هلاك کړي. زه فکر کوم څوك چې پدې شرايطو ښه غور وکړي نو داورنګ زيب رويه به دومره دتجب وړ ورته ښکاره نه شي، او نه به ده ته دومره سخت دغله په سترګه وګوري، بلکه هغه به يولوی انسان، نادره نابغه، لوی سياست مداراولوی واکمن ورته ښکاره شي.

www.libtool.com.cn

# کاالبـیرته‌لیک ۶۹

دهندوستان مساحت، دهغه طلا او نقره انتقال چی هندوستان ته را رسیږي او بیا دلته دلته ځاني کیږي، داسیایی دولتونو دا نحطاط او سقوط مهم عوامل، ددې دولتونو ثروت، نظامي طاقت او عدلیه قوه.

مون سینیور! (جلالتمآبه!)

څنګه چی اسیائی دودونه هیڅکله چاته دا اجازه نه ورکوي چی دنړۍ لویو کسانو ته تش لاس څوك ورشي، نوزه هم کله چی دلوی مغل اورنګزیب دلمنی په ښکلولو مشرف کیدم دهغه درباري لپاره می خپل سوغات یعنی (۸) اته روپۍ او د تیغ یوه تیکه چی دګهر باخخه مرصع شوي وه اورنګزیب ته وړاندې کړل. جلالتمآب فاضل خان ته می پنځې او یو کوچنی جیبی چاقو تقدیم کړل ده بابدماته دیوه ډاکټر په صفت تنخواه ټاکلې وه. فاضل خان دوزارت چاپي اداره کوي او ددولت مهم کارونه هم دهغه په لاس کې دی.

جلالتمآبه!

زه نه غواړم چی په فرانسه کې نوی دودونه یانظم ونسق مروج کړم، ولی ددې سره سره زما دبیرته راتګ په وخت کښې زه نه شم کولای چی دغه رواج هیر کړم. ما ته ښکاري چی زه همداډول ونه کولای شم دخپل دبادشاه په حضور کې خالی لاسونه ورېزم کوم چی داورنګزیب په نسبت هغه ماته ډیر احترم ورکړی. همداډول ستاسو په حضور کې چی د فاضل خان نه ماته ډیر محترم یاست.

ستاسو په حضور کې به تش لاس در یدل زما لپاره ډیر ګران دي . همدا شیان ما مجبور وي چې د خپل راتګ په وخت کې هغه او تاسو ته داسې کوچنۍ سوغاتونه وړاندې کوم چې که څیرې زما د لاسونه څخه نوی نه وي ، نو کم له کمه خو د خپل نوي والي له مخې نادره او کم یافت وي .

www.libtool.com.cn

دغه کوډتاچې په هندوستان کې شوه نظر په دې چې په بې سارو پیښو بدر ګه کیده نو زما په نظر دا ډول زمونږ د بادشاه د شان او لویۍ سره مناسب دی . د بلې خوا دغه مضمون په حقیقت کې هغه مواد لري چې ستاسو د وظیفې سره مطابقت کوي او زمونږ د باشاه شورا کې مو په غاړه اخیستې دی . هغه فعالیتونه چې زه به یې د خپل بیرته راتګ په وخت کې وړینم او ما به په تعجب کې واچوي ، هغه نظم و نسق چې په زیاتو او په ځینو غیر ممکنو کارونو کې به منځ ته راغلی وي ، هغه هاغې ځلې چې تاسې یې د نړۍ بې اندازې لیرې هیوادونو ته متوجه کوي ، بالاخره زمونږ ټول فرانسویان کولای شی چې ستاد پلانونو په ساحه کې هر عمل ته لاس تیر کړی او هغه ترسره کړي ، هغه پلانونه چې تاسو ئې تر نظر لاندې لرئ یوازې او یوازې د دې لپاره دی چې د فرانسویانو نوم او ګټې پکې وساتئ .

همدا هندوستان چې ۱۲ کاله وروسته د هغه څخه وځم ستاسو نوم ښه شهرت پکې موندلی دی . زه پوهیږم چې فرانسه څومره خوشبخته ده . پدې هم داډه شوم چې فرانسه ستاسو د خدمتونو ډیره ممنونه ده . دا به څومره د خوشحالۍ ځای وای که ما کولای شوای چې پدې موضوع باندې در یدلای وای . ولې دا چې اوس مقابله موضوع مخ ته کړې ده او پدې موضوع کې به حتماً نوي معلومات وي ، او ستاسو شهرت چې اوس ټولې نړۍ ته جوت شوی دی ، په هغه باندې خبرې کول څه ګټه لري ؟ زه یقین لرم چې د هندوستان په باره کې به زما معلومات ستاسو پوره خوښ شي او دا به هغه شیان وي چې د هغو د پلر وظیفه ما ته راپه غاړه شوې ده .

تاسي اوس گولای شئ چي دختيځ په نقشه کی دمغل دامپراتوري لويه ساحه ووينئ، چي معمولا دهتدار يا هندوستان په نوم سره ياديږي . دمغل دامپراتوري ساحه په رياضي سره ما حساب نکړه ولی دعادي مزله په حساب دگولکهنډي سلطنت نه ترغزني پوري چي قندهار ته نژدي پروت دی دوي مياشتی مزل کيږي . زه فکر کوم چي دغه فاصله دلندن او پاريس تر منځ دفاصلي په نسبت پنځه چنده ده او زما تر په حساب ۵۰۰ ليوته رسيږي .

www.libtool.com.cn

اجازه راکړئ خپله توجه دي لوي منطقی ته راوګرځوم چي هلته فوق العاده حاصلخيزي ځمکی شته ، چي ځينی برخي يی دمثال په طور لکه : دبنگال تول لوی سلطنت دمصر دځمکو په شان نه يوازي دشولو ، غنمو او نورو مهمو خوراکي موادو په برخه کی وړاندی دی ، بلکه دهغو قيمتی کالوپه برخه کی هم ساری نه لري کوم چي مصريی حتی نوم نه پيژني . مثلا و ريښمين ، نخی مصنوعات ، نيل او داسی نور چي په مختلفو ځايونو کی دهغوي په باره کی ماپو هاندازه معلومات عرض کړي دی .

ددي ځمکو په زياتو برخو باندي خلک پراته دی او تقريباً ښی آبادي شوي دي . ځايی کسب ګران اګرچي دخپل طبيعت له مخی پوره تنبل دي ، ولی بياهم داحتياج په وجهه او يا ممکن نور سببونه موجود وي ، چي دوی کارته سخت تمبه کوي . قالينی ، طلايی او نقره يی توګران وودي ، خامک دزوي کوي او داسی نور وريښمين او نخی مصنوعات توليد وي ، کوم چي څه اندازه يی په هيواد کی دننه مصرف کيږي او هم نورو ځايونونه صادريږي .

تاسو داهم وينئ چي طلا او نقره په ټوله نړی کی ګرځي اوددا چي هندوستان ته راکوزيږي شي يوه برخه يې بې پتی کيږي .

داهم څرګنده ده ، هغه قيمتی فلزات چي دامريکا څخه راوړل کيږي او بيا زمونږ په اروپايی هيوادونو کی څواره کيږي يوه برخه يی په مختلفو لارو ترکيی

ته ورننوځي . دهغې په مقابل کې کالي اخستل کيږي . بله برخه يې دسمير ني له لارې پارس ته ځي او په عوض کې يې وريښمين شيان مبادله کيږي . توله ترکيه قهوې ته سخت ضرورت لري . همدا قهوه ديمن اويا خوشبخت عربستان څخه هلته ځي ، او د ترکانو عادي مشروب تشکيلوي . همدغه ترکيه ، يمن ، پارس نه شي کولای چې د هندي کاليو په مقابل کې ځان بې احتياجه حساب کړي . پدې ترتيب سره ټول دغه هيوادونه مجبور دي دموکو ، باب المنديب ، بساروڅخه چې دپارس خليج په پای کې پرته دي او بندر عباس يا عامرون ته چې د هرموز په څنګ کې واقع دي بيرته هغه طلاء او نقره چې دوی ته ورغلې وي دغې ځايونو ته راوګرځوي او دهغه ځايه دبادونو په موسم کې هندستان ته په کشتيو کې راوړل کيږي . مقصد دا چې دې درو مشهورو بندرونو ته دوړا لدې هيوادونو ، څخه طلا او نقره پرته راځي اوبيا دهغه ځايه هندوستان ته نقل کيږي ديلې خوانه دهندوانو ، هالنډيانو ، انګرېزانو ، پورتګاليانو بيړۍ چې هر کال کې هندي کالي او مالونه پيګو ، سيام ، سيلون اسام ، ماکاتر ، تاتاسرې ، دمالاريف جزيرو ، موزامبيک او نور ځايونو ته وړي او په مقابل کې ډيره طلا نقره ځان سره راوړي . هغه قيمتي فلزات چې هالنډيان ئې دجاپان څخه راوړي او هلته ددې ټول قيمتي فلزاتو معدنونه زيات دي ، وړاندې وي يا وروسته يوه برخه يې هندوستان ته را کوزيږي . بالاخره فرانسه او پرتګال دهندي کاليو په بدل کې يوه اندازه دغه قيمتي فلزات دمستقيمې بحري لارې نه هندوستان ته راليږي .

زه پوهيږم چې ممکن زما څخه پوښتنه وشي چې همدغه هندوستان پيتلان مس ، قرنفل ، داړ چينې او نور مساله جات واردوي ، کوم چې هالنډيان يې دسياون جاپان ، اروپا او موکو جزيرو څخه هند ته وارد وي . سربېره يوه اندازه برتانيه صادر وي کوماچ او نور کالي فرانسه ورته راليږي . هند زيات شمير آسونو ته ضرورت لري او هر کال ازبکستان د ۲۵ روز څخه زيات آسونه ته هند ورکوي . د کندهار

دلاري نه پارس يولز شمير آسونه هندرستان ته راليږي اوپر شمير يـــي دحبشـــي عربستان څخه دموكر، بصرى او بند عباس له لاري هندوستان ته راځي . ددې نه
www.libtool.com.cn
علاوه هندوستان دتازه ميوى عظيم مقدار ته ضرورت لري چې دسمرقند بالـــى(؟) (بلخ)، بخاري او پارس څخه ورته راځي . دمثال په طور خربوزې، مىنى، امبروت انگور، دغه ميوې په ډيلى كي په خورا لوړ قيمت سره خرڅيږي اوتقريباً ټول ژمى دوچو ميوې، لـكه پسته، ځنگلى متملك، الوچې، زردالو، انگورچې دپورتينوهيوادونو څخه ورته راځي، خرڅيږي. بالاخره په هندستان كي بحري وړو گوجيوته دميـــده پيسو په صفت چې په بنگال او نورو ځايونو كي استعماليږي هم تقاضا موجوده ده او دمالديف جزيرو څخه دلته راوړل كيږي.

همدا ډول خړه كهر با دوړانډينو جزيرو او موزامبيك څخه ورته صادريږي دكرگدن ښكر، دپيل هډ كي، او دحبشى مريانو ته هم هندوسان محتاج دي. دچين څخه مشك ارلوښي، او داسې نور ډير شيان چې حسابول يې گران دي اوله هغه پرته هندوستان نه شي كولاى په ښه وجهه گوزاره وكړي وارد وي. بي ولى ددې سره سره ددغو اموالوتوريد نه شي كولاى چې امپراتورې دطلا او نقره څخه لغړه كړي. ځكه چې هندي سوداگران زياتره دخپلو هندي مالونه په بدل كـــي دهـــغو هيوادونو مالونه او كالي اخلى او دا ډول تبادله ددوي لپاره ډيره گټوره تماميږي نسبت دېته چې په هغو مالونو او كاليو باندې پيسې مصرف كړي. آما باوجود ددې دا مبادله هم نه شي كولاى چې هندوستان ته لـكه څنگه چې موږ دټولى نړى دطلا اونقرې زياتي برخې نغرونـكى وبلله مخه ونيسي. ځكه چې هندوستان ته دطلا اونقرې دننوتو لارې زښتي ډيرې دي ولى دوتو تقريباً يوه لار هم نشته.

بالاخره دې ته هم توجه وكړئ چې مغل دټولو لويو كوچنيو اميـــرانـــو منصبدارانو او ويلموژو، چې دده سره نوكري كي ميراث خور گڼل كيږي . په

همدې توګه ټوله ځمکه هم سرکاري بلل کيږي، چې دا په خپله مهم ترين عواقب لري. پدې معنی چې ديوځو محدودو کورونو، باغونو نه پرته هغه هم په استثنايي صورت خلك کولای شي په خپل واك خرڅ، تقسيم او يا واخلي، پاتې نورې ټولې ځمکې دمغل په اختيار او قدرت کې دي. دغه ټول فکتونه په يوه قاطع صورت سره دا ښيي چې هندوستان کښې ډيره زياته اندازه دطلا او نقره شته. دا هم بايد وويل شي چې په هندوستان کې دطلا او نقرې پلټنه او يا معدنونه نشته. ددې نه پرته دغه فکتونه دا امکان راکوي چې ووايو:

مغل چې دهندوستان پاد شاه او واکمن دی يا په بل عبارت سره دهندوستان غوره برخې ددوی په لاس دي مغل ته ډيرزيات عايدات ورکوي، او بې اندازې لوی ثروت يې په لاس کې دی. ولې دبلې خوانه ځينې واقعيتونه چې ددې عظيمې دارايي په مقابل کې نيغ دريږي، هم دياد ونې وړ دي. دټولونه اول بايد وويل شي چې دهندوستان (مغلی امپراتوری) په عظيمه ارته منطقه کې بې حاصله او شګلن غرونه موجود دي، چې هلته آبادي لږه ده. او خلك هم لږ هلته اوسيږي. دښارو ځمکو زياته برخه نه ده آباده شوې، ځکه چې هلته بزګران نشته. ددې بې زمينه بزګرانو زياته برخه دګورنرانو دناوړې او نامعقولې رويې په سبب تباه شول.

ددوی ځينو دژوند او کار ډير ضروري او لازمي اسبابونه غصب شول، که مور او پلار داوس نه لاره چې دوی ته ماليات ورکړي او يا له هغو ځينو سرغړونو په مقابل کښې ئې ماشو مان قبول کيږي، او مرئيې توب ته ئې اړوي. ځينو په همدې وجهه کلي پريښودل. دا چې دوی مجبور يږي دنورو لپاره کار وکړي، دکار نه نا اميده شول، ښارونو ته ولاړل، يا پوځونو کې شامل شول چې هلته دپنډ يانو، سقاوانو يا دسپرونو کرانو په صفت کار وکړي. ځينې دراجه ګانو سيموته وتښتېدل، ځکه چې هلته لږ استثماريږي، او له بلې خوانه تقريباً رويه هم ښه ورسره کيږي.



www.libtool.com.cn

دا هم باید هیره نه شي چي پدی عظیمه ساحه کی مختلف قومونه اوسیږی. ولی مغل په ټولو باندی یوډول حاکمیت نه لری. ددی قومونو زیاتره برخه ځانته خپل امیران، حاکمان او پاد شاهان لری، چی مغل ته دمجبوریت له مخی باج ور کوی

www.libtool.com.cn

او پدې باج سره تابع گڼل کیږی. ځینی یی بیخی لږ باج مغل ته ور کوی. او ځینی هیڅ شی حتی یوه کسیره دباج په نوم مغل ته نه ور کوی. داسی قومونه هم شته چی دمغل څخه باج آخلی. پدی جمله کی ټول هغه کوچنی پاد شاهان (حاکمان) راځی چی دپارس سره په سرحدکی پراته دی. دوی نه مغل ته کوم باج ورکوی او نه پارس ته. پدی ډله کی بلوچ، افغانان او غرنی قبایل راځی. دوی مغل ته کله او کله هیڅ شی دباج په نوم نه ور کوی. بلکه مغل بیخی په نظر کی نه نیسی.

دوی مغل ته په ډیرسپکه سترگه گوری. لاندینی پیښه ددې خبری لپاره ډیر ښه سند کیدای شی: «کله چی دمغل ټول پوځ دکندهار دمحاصری لپاره داټك او سند نه دکابل په لوری تیریده، دوی (افغانانو) دمغل ټول پوځ مجبور کړ چی دغرونو په منځ کی په لارکی ودریږي. دوی دمغل فوځ ته. او به نه ور کولی، کومی چی لارې ته ور بهیدلی، همدغسی پټانان، مسلمان چی په بنگال کی دگانگه له خوا او نه را پور ته شول».

په هندوستان باندی دمغلو دچپاونه پخوا دوی کولای شول چی دلته په بیلو بیلو ځایونو خصوصاً دیلی (۷۰) کښی قوت پیدا کړی اوشاوخوا ځینی راجه گانی دځان تابع کړل. دغه پټانان باغروره اوجنگی خلك دی. دخلکو په منځ کی تر ټولو غریبان، خپل ځانونه ډیر لوړ بولی او کله چی قسم خوری نو وایی «که چیری داخبره داسی نه وی او یادغه کار داسی ونه شی نوزه دی هیڅکله ددهلی بادشاه نه شم». دغه پټانان څومره چی هندوان او بت پرستان په حقارت سره گوري

دومره مغل ته په نفرت سره گوری ، مغل دخپل سر دښمن بولی. په تېنګه به دا یاد لرئ چی پټانانو پخوا څنګه شان وشوکت درلود، ولی دوی دمغلو دلاسه دخپلو لویو سردار یو څخه وشړل شول اومجبوریسی کړل چی ددهلی او اګری څخه غرونو ته پناه یوسی، او بیاهلته کوچنی کوچنی پاد شاهان شول ، چی پـه قدرت کی تـقریباً راجه ګانوته ورته وو، ولی لږ څه کم.

www.libtool.com.cn

پدی ډول دبیجا پور بادشاه چی دهندوستان بادشاه ته هیڅ باج نه ورکوی. دمغل سره پر له پسی جنګونه کوی ،خپل ځان ئی په خپل هیواد کی یوڅه دخپل قوت په برکت ټینګک کړی دي، څه پدی سبب چی ددهلی او اګری څخه ډیرلیری پروت دی دریم داچی دبیجاپور پایتخت ډیرمحکم او هم داجنبیانو ور تګک داو بودخرابوالي، اوپه لاره کی دحیوانا تودخوراکی موادو دنشتوالي له امله ډیرمشکل دی. څلورم داچی ځینی راجه ګان دده سره دجنګک په وخت کی همیشه پـه یوه محاز کی دریـږی. دمثل په طور مشهور سیواجی چی څه موده پخوا ئی دسورت غـونـډی مشهور او دولتمن بندرچور اووسوځاوه. سیواجی زیاتره وختونه دباج څخه انـکار کوی، که باج ورکوی هم نوبیخی لږوی بل دګولـکهنډی دولتمن او قوی پاد شاه دی چی په پټه دبیجاپور بادشاه دپیسوله درکه تـکیه کیږی، په خپل سرحدکی هروخت تیار پوځ ساتی چی دمبادا په صورت کی دبیجاپور بادشاه په سخته موقع کی لـه هغی استفاده وکړی.

پدي ترتیب سره لنډه داچی په سل هاوو، لوی راجه ګان یابت پرستان بادشاهان پـه ټوله امپراتوري کی تیت پراته دي. ځنی اګري اودهلی ته چی دمغل مرکزونه دي او ځنی نوردي ښارونو څخه ډیرلیرې واقع دي. پـه منـځ کـی ۱۵ ، ۱٦ ډیر دولتمن اوقوي را جه ګان شته دي، او ۵ ، ٦ داسی راجه ګان، لکه را نی (کوم چی پخوا تقریباً دراجه ګانو امپراتور بلل کیده او څنګه چی ویل کیږي ،

دی دپور (۷۷) امپراتورله اولادي څخه دی) جی صنګ، جی سامسنګ او داسی نور

دغه داجه ګان دومره زور وردی چی که چیری واړه سره متحد شی، دنورو مرستې نه پرته مغل ته به درانه مشکلات جوړ کړي. ځکه هریو په خپله کولای شی

www.libtool.com.cn

چی پرته لږه موده کی ۲۵ زره سپاره دجنګ د ګرته وړاندي کړی، کوم چی دمغل دجګړنو څخه په جنګ کښې تکړه دی.

دغه سپاره جګړن راچپوتان نومیږي، چی دراجه زامن ئی بولی . اولکه چی پخوامی وویل پیری په پیری عسکری خدمت کوي. راجه ګان دوی ته پدې شرط ځمکی ورکوی چی دده دامر مطابق به لاس په لاس په آسونو سپاره دجنګ د ګرته حاضریږی. دغه راجپوتان ډیرزړه وردی، ولی عیب ئی دادی چی هیڅ دول دسپلین ته غاړه نږدي چی لوی لوی جنګجویان تري جوړشی.

دریم واقعیت هم دتوجه وړدی: هغه داچی مغل مسلمان او دګوډتیمورله اولادي څخه دی، ګوډتیمور دتاتار ودغو مغلو سر کرده (رهبر) و، چی د۱۴۰۱ کال په حدود کی یی هندوستان په سرو اخیست او ددې هیواد خاوندان شول . ددې هواملو په نتیجه کی مغل په هندوستان کی دامی واقع شوي دی، چی په توله معنی تقریباً دهرې خوا نه ددښمنی فضا ورته جوړه شوې ده. بله داچی نه یوازې دمغل په سر، بلکه چی عمومی صوت دهرمسلمان په سرپه سلهاوبت پرستان راغی. ددې لپاره چی دومره قوی داخلی دښمنانو په مقابل کی مقاومت وکړای شی، او هم د تولو همسایه وواپرانیانو، از بکانو څخه ځان وساتی نومغل مجبوریږي چی پرله پسی دځان دساتنې لپاره عظیم پوځونه

په څنګ کی وساتي چی دهغه څخه دجنګ اوسولی په وخت کی استفاده وکړي . دغه پوځونه یوڅه دمحلی خلکو څخه تشکیل شوي دي . دمثال په طور راجه ګان، پټهانان . ولی زیا تره برخه یې مغلی دي اویا دمغولی نژدې طرفداران وی . داطرفداري په رنګ اوپوستکی پوري اړه نیسی . دوی سپین پوتکی خارجیان او مسلمانان دي. داپه اوسنی وخت کی بالکل کفایت کوي . ځکه اوسی دمغل په دربار کی نه یواځی مغلان وي لکه چی اول کی وو، بلکه ددې طائیفو څخه چی مونږ پخوا هغوي ته ګوته ونیوه دهرې طایفی خارجیانو ټولګی لکه ازبکان ، ایرانیان، عربان، ترکان اود دوی پس ماندګان ټکی شامل دي.فقط په دومره توپیر سره چی دغو پس مانده ګانو په دریم اوڅلورم نسل کی هم دپوتکی سپین والی له لاسه ورکړاو هم دځایي خلکو پشان ددوی رنګ کترسست شو، چی اوس دوي ته دومره احترام اوترجیح نه ورکول کیږي لکه هغه وخت چی دلته نوي را غلی وو . حتی دغو پس مانده ګانو ته ندرتاً مامور یتونه ورکول کیږي . که چیرې دوي ته اوس دساده سپار کار یاپلی عسکر کار پیدا کیږي نوداهم دځان خوشبختی بولی . زه غوارم ددې پوځونه په باره کی ځینی معلومات وړاندې کړم ، په کو موباندی چی مغل دمجبوریت نه خوراکی مصارف په غاړه آخلی. دمغل ددې مصارفو څخه کیدای شی چی دده بډای توب اټکل شی . دټولو نه لومړی غوارم چی دهیواد آني پوځ په باره کی خبرې وکړم کوم چی یې دمجبوریت نه ساتی .

www.libtool.com.cn

دهیوادانی پوځ دراجه ګانو څخه جوړ شوی دی. دمثال په طور دجی سنګ اوجی سامسنګ اوداسی نورو ډیرو راجه ګانو پوځونه دي، چی ددې پوځونو له مخی مغل راجه ګانو ته ډیر اوچت مستمرې معاشونه ورکوي . دغه پوځونه په ټاکلی شمیر په هروخت کی بایدجنګ ته تیار وي . دغه راجه ګان دامیرانو سره مساوي الحقوق شمیرل کیږی. پدې معنی چی دغه راجه ګان دخارجیانو مسلمانانو ویاموږو

سره برابردی . مغل دوی یاپه هغه پوځونو کی ساتی چی په دایمی صورت دده په ځنګ کی وي اویایـی په محلی پوځونو کی ساتی. دغه راجه ګان هغه مکلفیتونه

www.libtool.com.cn

لري کوم چی نور امیران یـی په اجرا کولو مجبوردی . ولی توپیریـی دادی چی دوی پہ چوڼی کی دننه نوکریوالی په غاړه نـه آخلي ، بـلکه دچوڼی ددیوالونو نه دباندي خپلو خیموکي نوکریوالی تیروي .دغه راجه ګان دي سره موافقه نه شی کولای چی حتی دیوي شپی لپاره په چوڼی کی دننه ځان کالب کړی . که فرضاً کله چوڼی ته ننوځی هم نوهغه وفادار کسان ورسره وي چی ددوی لپاره دژوند نه تیریږی په ډیروعلتونو مغل مجبور دي چی په خپله نوکري کی دغه راجه ګان وساتی . تر ټولولومړی داچی ددغوراجه ګانو لښکرې ډیرې ښې ارقوی دی. لـکه څنګه چی ماپخوا وویل داسی راجګان هم شته چی دسترګو په اشاره سره شل زره سپاره اویا لدې شمیر زیات کسان دجنګ دګرته حاضر کړي . دوهم داچی دغه راجه ګان مغل ددې لپاره ساتی چی نورراجه ګان ددوی په مرسته په کیزه کی وساتی، کوم چی دده سره نوکری نه کوي . که فرضاً دغه راجه ځان دمغل دباج نه غاړه غړوی نوباید دنورو راجه ګانو په مرسته یـی سدسرته راولي . دغه راجه ګان نه غواړی چی دمغل دنوکری لپاره خپلی ځمکی پریږدی. دریم دلیل دادی چی پدي وسیله سره مغل غواړی دراجه ګانو ترمنځ دښمنی اوبـی اتفاقی لاتقویه کړي . پدې کی دمغل نوازشونه اوتشویقونه زیاتره ددې سبب ګرځی چی دخپلوپه منځ کی دجګړې درجی ته سره ورشی. څلورم دلیل دادی چی دغو راجه ګانو څخه دپټهانو، دخپلو امیرانوا وګورنرانو په مقابل کی دبغاوت په وخت کی کار واخلی . پنځم دلیل داچی مغل غواړی دګولـکهنډې پادشاه په مقابل کی که هغه دباج نه غاړه وغړوي اویاد بیجاپور پادشاه په حمایه راولاړ یږی او یا دبل کوم راجه حمایه کوي، کوم چی دمغل دچورخیال لري اویاپدې کوشش کی وي چی مغل باید هغه ته باج ورکړي ،

استفاده وکړی. ځکه پدی حالتونو کی مغل نه شی کولای په خپلو امیرانو چې زیاتره برخه یې ایرانیان دی اوهغه هم سنیان نه، بلکه شیعه ګان دی، لکه دپارس او ګولکهنډی پاد شاهان تکیه وکړی . شپږم ترټولو مهم دلیل دادی چی که چیری مغل وغواړی دپارس په مقابل کی څوك واستوی، نوباید همدغه راجه ګان وی . ځکه مغل نه شی کولای په خپلو امیرانو اعتماد وکړی، ددې کار علت همغه دی چی مامخکی وویل چی دوی ایرانیان دی او طبعاً دانه غواړی چی دخپل اصلی وطن پاد شاه په مقابل کی وجنګیږی . بله داچی دغه دپارس پادشاه ددوی لپاره امام، خلیفه اولومړی لوړ روحانی شخصیت ګڼل کیږي، چې دحضرت علی (رض) داولادحامی او بیادده په مقابل کی دپارسیانو په عقیده جنګیدل جنایت اونه بخښونکی ګناه شمیرل کیږي .

په همدی پورتنیو دلایلوسره دراجه ګانونه علاوه مغل مجبور دي چی یو شمیر پټانان هم ځان سره وساتی .

باالاخره مغل مجبوریږی چی اجنبی اردوهم په خپل څنګ کی وساتی، چی هغه دمغلوځخه جوړه شوې ده اودهغوی په باره کی مونږ پخوا خبري وکړی. څرنګه چی دغه خارجی اردودمغل ددولت مهمه قوه تشکیلوي، نوپدی اردو باندی مغل غیرقابل تصور لګښتونه کوی، ماته ښکاری چی کــه چیرې ددې اردو دتشریــح دکوشش کار زه په غاړه واخلم، نودا به ډیرپه ځای کاروی. باوجودد دې چی ممکن پدې تشریح باندې زیات وخت هم مصرف شی .

راځئ اوس وګوروچی دغه خارجی اوبیګانه اردوڅنګه ده؟ دغه اردوسپاره وي که پیاده په دووبرخو ویشل کیږی. یوه برخه یې په دایمی صورت دمغل سره په جنګ کی وي. بله برخه یې په ولایاتو کی خپره شوې ده. لومړی بایله دمغل دامیرانو بیامنصبدارانو، روزینه دارانو (؟) اوپه پای کی دعادي سوار کارانو سره اشنایی پیدا کړو او بیابه له دوی نه دموشیکټور (ګارډ) اونورو پلیو عسکرو خواته توجه وګرځوو.

www.libtool.com.cn

کوم چې د توپونو خدمت کوي او په ضمن کې به د مغل د دوو نوعو خه‌وو پېژندو ته تاسو کې هم دوې خبرې وکړو .

تا به داڅرګند بایله ونکړئ چې امیران او یاد مغل دربار یان، لکه په فرانسه کې د اشرافو څخه راوتلي وبولئ . څنګه چې دلته تر له هغې د پادشاه جایداد بلل کېږي نو دا نتیجه اخیستل کېږي، چې دلته نه لاړ دا نشته؛ نه مارکیزا نان او نه داسې دولتمنې کورنۍ چې هغوی پوازې د خپلو ځمکو په عایداتو باندې ژوندکولای شي. دغه درباریان او امیران حتی زیاتره د امیرانو زامن هم نه دي . څنګه چې پادشاه په خپله د دوی د ټولو جایدادونو میراثخور بلل کېږي؛ نو لدې سببه وینو چې اشرافـه فامیلونه نه شي کولای زیاته موده په خپله د بد به کې پاتې شي ، بلکه د دوی سقوط هروخت احساسیږي او په یوه کړه کې راځي. دقري امیرانو زامن او یالمسیان د پلار او نیکه د مرګ نه وروسته زیاتره داسې حالت ته رسیږي، چې هغه تقریباً افلاس ته ور خیرمه وي، او لدې وجهې نه مجبوریږي چې د کوم یوه ساده سپاره په صفت نوکرۍ کې شامل شي .

داهم رښتیا ده چې مغل اکثره د خپلو امیرانو، کوندانو ماشومانو ته ناچیزه مستمري تنخوا پرېږدي . که چیرې پلار یې زیاته موده ژوندی پاتې شو ، کولای شي چې د واسطې په مرسته خپل زوی په نوکرۍ کې په مخ بوځي. خصوصاً داهغه وخت که د دوی زامن ښکلي ځواني؛ سپین مخونه ولري او هندو ښوا ته ډیر ورته وي. نو داهم کیداې چې د مغلو په جمله کې تیر شي، ولی دا باید ووېل شي چې د واسطې له لارې وړاندې تګ ډیر ورو سرو صورت نیسي، ځکه دلته تقریباً د عمومي قانون له مخې لوېو ماموریتونو او وظیفو ته باید له وړو ماموریتونو څخه ور تیر شي. دغه امیران معمولي او انتیوریستان، ماجراجویان دي چې د هر دول اقوامو څخه راوتلي دي، لکه څنګه چې ما مخکې ووېل د وی یو بل ته په دربار کې واسطه کیږي. دغـه خلك

چې زیاتره برخه یې د تېټو کوزنیو نه څخه راوتلي وي ځنې یې مریان، زیاته برخه یې بې تعلیمه دمغل په خپل زړه دوي ته لوی ماموریتونه ورشندي او په استبدادیې سره یو ځای کوي .

دامیرانو په منځ کې ځنې هزاري نومېږي چې (زرآسونه ولري) ځنې نورتـــر هزاري زیات وي یعنې (دوه هزاري (دریم یې پنج هزاري (پنځه زرې) (آته زري) دس (لس زرې) اوحتی دوازدس هزاری (شل زري) دغه رتبه دمثال په طور دپادشاه مشرزوی لمرله . داپه خپله دامعنی لري هغه آمر چه زر آسونه یاپنځه زره اسونـــه .. لری . . یعنې ددوی دتنخواه لږ والی اوزیات والی دآسونو په شمیرپورې تړلی دی . زه وایم چې دآسونو شمیر ځکه ځی ددوی دتنخواه لږوالی ډېروالی دآسونو په تعداد پورې مربوط دی نه دسپاروپه شمیر پورې امیران کله کله دښه خدمت لپاره دیوه سپور په سر دوه اسونه ساتي . په گرمو هیوادونو کې داسې ویل کیږي : کوم سپورچې یو آس لری هغه نیمایې پلې عسکردی ، . ولی داهم درسته نه ده که داسې فکرو کړای شي چې دوی مجبور دي دومره زیات شمیر آسونه وساتي اویا پادشاه په ربښتیاهم دوی ته تنخواه د آسونه د تعداد په اندازه ورکوي ، کوم چې دوي لوړ والقا بودواز دس هزاری (۲۰) زره آسونو یا آتوزرو آسونو) سره مطابقت کوي دغه القاب ددې لپاره رایستل شوي دي خارجیان پدې نوم راجلب کړي . پادشاه په خپله دآسونو شمیر تاکی اودهغوي له مخې دوی تـــه تنخواه ورکوي . ددی تنخواه ته پرته مغل دوي ته یوه اندازه نورې پیسې هم ورکوي چې دهغه په مقابل کې امیران مجبور دي آسونه وساتي دغه مقدار پیسې ددوی دعمومي دعایداتو مهمه برخه جوړه وي .دهرسپاره اویا آس دلگښت نه علاوه ددغه مقدار پیسو څخه « ذخیره » هم کوي دغه سلوکونه دامیرانو لپاره دبډایې مهمې لارې دي خصوصاً کــه دوي وکولای شي چې ښه جایگیرونه لاس ته گړي چې په تنخواه کې دهغه پوښ بیني سم شوې وي.ما په ستر کولیدل چې زما پخوانی آغا اوویلموژچې پنج هزاری بلل کیده یعنې باید پنځه زره آسونه یې ساتلی وای ولی په حقیقت کې یې پنځه سوه آسونه ساتل.

دتېولو سپارو دتنخواه نه علاوه‌ده ته په میاشت کې پنځه زره‌ایکی پاتی کیـدې .
اگرچې نقدې و، پدې معنی چې دخزانې څخه یې‌لکه نور بې جایگیره‌امیران نقدې
پیسی اخیستی .

www.libtool.com.cn

امیرانو ته اگرچې لوی عایدات راتلی مگر بیاهم ددوی په منځ کې دولتمن
خلک ما ډیر لږ ولیدل . ډیر زیات امیران مادي مشکلات احساسوي او په قرضونو
کې ډوبیږي. دوی نه یوازې هغه تاکلی لګښتونه‌مفلسوي ،چې په نورو هیوادونو کې
لوی ویلموژورصوه زیاتره مخامخ کیږي ، بلکه بر عکس ددوی لګښتونه عادي او
متوسط دي . دوی باید دکال په طول کې په تاکلیو اخترونو کې حتماً پادشاه ته لوی
لوی سوغاتونه دخپلی تنخواه مطابق وړاندې کړي . دپلی خواته ددوی لګښتونه د
ښځو، نوکرانو ، او ښدانو، قیمتی آسونو چې دوی یې دخپلو ځانګړ و احتیاجونو
لـپاره بایـد وساتي هم دوی په افلاس کې مرسته کوي . دتېولو امیرانو شمیر چې
په لښکر کښی کې یا په‌ولایاتو کې دپوځ‌په منځ کې واقع دي یاپه دربار کې دایماً دباد
شاه په حضور کې ولاړوي ډیر لوی دي . ددې شمیر صحیح معلومات زما لاس ته
هیڅکله نه شي راتلای . ځکه چې اساسا معلوم نه دي . ولې په دربار کې هر وخت
ماد دوی شمیر ۲۵ ــ ۳۰ څخه‌کم نه دی لیدلی ،کوم چې لوی تنخواوې اخلي او
دآسونو دشمیر له مخی یې تنخواه تاکل کیږي . ددې امیرانو څخه ځینی حتی ۱۲
زره آسونه ساتي . دغو امیرانو ته په دربار کې مهم پستونه ورکړي اوهم دباندې
دګوړ نرانو رتبې ورکول کیږي . دغه امیران لکه څنګه چې ویل کیږي د دولـت
ستنی‌بلل کیږي‌اوهم د دربار شان وشوکت ساتي .کله چې دوی په‌کوڅو او بازار
ونو کې ګرځی ډیرې ښکلی جامی بی اغوستې وي .کله په پیلانو او کله په آسونو
لپاسه او کله‌کله په تخت‌روان کې‌ناست وي . دیوه شمیر مجهزو سپرو له‌خوا‌بدرگه
کیږي ،کوم چې ددوی ګورونه محافظه کوي . ددوی په څنګ ، مخ ، او ګرد

چاپېره زيات شمير پلې نوکران روان وي او لار ورته خلاصوي . په لاسونو کې يې مچ شړونې نيولې وي چې دامیرانو مخ نه مچان اودوړې لېرې کړي . دامیرانو تف دانې دښښاک او په دمحاسبې کتابونه اونور اسناد په دوی پسې وړل کېږي www.libtool.com.cn

هغه اميران چې په دربارکې دننه نوکري کوي ، دتنخواه دګرځونې له وېرې مجبور دي چې په ورځ کې دوه ځله دبادشاه سلام او تعظيم ته په درباري مجلس کې حاضر شي . لومړی ځل دسهار په ۱۱ بجو کله چې پادشاه محکمه خلاصوي . بل دماښام په شپږو بجو . ددې نه علاوه هراميرمجبوردی چې په چوڼۍ کې دننه په وارسره په هفته کې يوځل يوه شپه ورځ نوکريوالي وکړي . دوي دنوکريوالي په وخت کې ځان سره بسترې ، قالينې ، او نور فرش اوظرف راوړي او بادشاه دوي ته يوازې ډوډۍ ورکوي . داډوډۍ د دوی له خوا په ډېرو تشريفاتو سره منل کېږي . درې واره هغې ته سلام او ياسرټيټوي او دسلام په وخت مخ د پادشاه استوګنځې ته اړوي . اولاسونه تر ځمکې پورې ټيټوي او بيايې د سر نه پورته کوي . ددې نه علاوه کله چې پادشاه چکرته ځي دوی يې سپاره بدرګه کوي پدې وخت کې دهوا ښه والي او بدوالي حتی لکه شيګرۀغبارهم مهم نه ګڼل کېږي دا وخت پادشاه دخپل پيل په شا تخت کې ناست وي او يا پـه تخـت روان کې ځي چې اتوکسو په اوږو ايښـی وي ، او په ډېـر احتـياط ســره دنـورو اتوکسانو له خـوا وار په وار بدلېـږي . دا وخت امپـراتور دهـر ډول بـدي هوانه محفوظ وي.دغه اميران مجبور دي که پادشاه جنګ ته ځي يا دېوځونو سره ديوه ښار نه بل ښارته ځي اويا په ښکار پسې روان وي دوی يې بدرګـه کـوي کله کله ځنې اميران د مکـلفيت څخه دخاصو کارونو يالدې سببه چې هغـوي فاروغه ياډېر زاړه وي يالدې وجهې نه چې په خپله پادشاه ونه غواړي په ځان پسې زيات ټولې جوړ کړي ،خصوصاً داهغه وخت چې پادشاه ښارته نزدې کوم ځـاي

ته دښکار لپاره ځي، یا جومات ته ځي نه داسي حالاتو کی دوی معافوي. پداسی وختونو کښې دعادت له مخي پادشاه یوازې دنوکریوال کراوول له خوا بدرگه کیږي او نور امیران رخصتوي.

www.libtool.com.cn

منصبداران، داهغه سپاره دي چي هم منصب لري او هم اوچت معاشونه آماد دوی تنخواوې دومره اوچتی نه دي لکه دامیرانو، ولی د دوی تنخوا وې دنور و مامورینو څخه اوچتی دي. ځکه دوی ته دکوچینو امیرانو په سترگه کتل کیږي یعنی دهغه په نظر چی په نزدې وختونو کی دامیر رتبی ته قدم پورته کوي. دخوند خبره داده چی دغه منصبداران دخپل پادشاه نه پرته بل هیڅ آمر په ځان نه مني. دوی هم هغه مکلفیتونه اجرا کوي دکومو په اجرا کولو چي امیران مؤظف کیږي. دوی به هم رښتیني امیرانوای که چیرې تر لاس لاندی یی یوڅو سپاره واقع وای. پخوا ځینو منصبدارانو یوڅو سپاره ترلاس لاندی لرل، ولی اوس دوی یوازې له ۲ څخه تر شپږو آسونو پورې باید ولري یعنی هغه آسونه چی شاهی داغ وربانندی لگیدلی وي.

ددوی تنخواه عموماً له ۵۰۱ څخه تر ۲۰۰ او بیاله ٤۰۰ څخه تر ۷۰۰ سوونقدو وریپو پورې په میاشت کی رسیږی. دمنصبدارانو شمیر هم معلوم نه دی، ولی دامیرانو دشمیر څخه بیخی زیات دی. ځکه په دربار کی هر وخت له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ سوو تنو پورې حاضروي، مگر پدې شمیر کی هغه منصبداران نه راځی چی په پوځونو او یا ولایتونو کی په نوکری لگیادي. روزینداران، داهم سپاره دي ولی ددوی فرق دمنصبدارانو سره دادی چی دوی یومیه تنخوا اخلی او داد دوی دعنوان څخه هم معلومیږي. ددوی تنخواه کله کله دزیاترو منصبدارانو څخه زیاته لوړه وي، ولی په دومره تشریفاتو سره دوی ته تنخواه نه ورکول کیږي. ددوي بنیگڼه داده چی دمنصبدارانو غوندې داجناسو اخستلو ته نه مجبور یږي. دروزیندارانو

شمیر ډیر زیات دي.دوی کوچنی پښتونه چلوي . زیاتره یې منشیان او یا دهغوی مرستیالان وي چې په براتونو،امرونو،چې دتنخواه اخستلو لپاره ایکل کیږی تپې لګوی.ولی دوي دبراتونو دزر خلاصولو په مقابل کې بډې اخلي
www.libtool.com.cn

ساده سپاره امیرانوته تابع کیږی.ددوی په منځ کی دزیات احترام اوزیاتـی تنخواه خاوندان هغه څوك دی؛چې دوه آسونه حتمی ولری.ددوی په آسونو باندی دامیرانو داغ لګول کیږی.دسپارو تنخواه تیلك معلومه نه ده.ددوی دمعاش زیاتره برخه دامیر په میړانه‌پورې اړه لری.امیران کولای شی که وغواړی یوه‌سپور ته‌دبل سپاره نه زیاته تنخواه ورکاکی.ولی مغل وایی چې دیوه ساده سپاره تنخواه چې یـو آس ولري باید ۲۵ روپۍ او یا پدې‌حدودو کی وي او په‌خپلو حسابونو کې‌امیرانو ته هم همدغه مقدار مجرا کوي.

دپلیو تنخواه دسپارو په نسبت ډیره ټیټه ده.پدې سبب سره به پلیو پوځونو کی ډیر خوار توپک ویشتونـکی شاملیږې خصوصاً هغه کسان چې په ولاړې توپك ولی دتوپك په کنداغ باندی چې یوه ډیره بنـکلی چار شاخه ورپورې تړلی ده تکیه نه کوي .ځکه دوی ددې نه ویریږي چې مبادا دتوپك په لوګی خپلی اوږدې ږیرې اوسترګی وسوځوي.دوی نه هم سخت ویریږي چې ممکن په توپك باندی یـې پیریان اوپله کړمه بلا نازله شي او توپك یې وچوي .ددوی تنخواه لس (۱۰) اویا شل روپۍ وی.

کاتونیران(داهغه جنګي پرسونل دی چې دبیړی نه په توپونو ډزې کوی) هم دمغل په پوځونو کی لیدل کیږی.دوی ډیرې او چتی تنخراوې آخلی.خصوصاً زمونږ پرنګیان یا عیسویان لـکه پرتګالیان،انګریزان،هالندیان،جرمنیان اوفرانسویان چې دلته دګوا څخه او یا دهالندیانو او انګریزانو کمپنیو څخه راتښتي. پخوا کله چې مغلو ددې ډول وسلی سره اشنایی نه درلوده دکانونیرانو تنخواه ډیر جګه وه .

دهغه وخت نه ځنې داسې کسان پاتې شوي دي چې په مياشت کې ۲۰۰ روپۍ تنخواه آخلي. ولې اوس دوی ته د۳۲ روپيو څخه زياته تنخواه نه ورکوی. حتی په عمومي صورت سره نه غواړي چې دوی په نوکرۍ کې واخلي. توپخانه په دوو ډولونو ويشل کيږی. لومړی درنده توپخانه، دوهمه سپکه توپخانه يا لکه څنګه چې دوی يې چابکه توپخانه هم بولي. کله چې پادشاه دسختې ناروغۍ نه وروسته دخپلې ټولې اردو سره سفر کاوه، هره ورځ به يې کله په بغبغو باندې، يا دخرو غوښيکو (دغه نوع غوښکې دوی په لو سياسره يادوی ساتيري کوله کله به ئې دسګو (آهو) کله به يې دپړانګانو او کله کله به يې په زمريانو ښکار کاوه او کرار په کرار ه لاهور او کشمير ته ورنږدې کيدل چې دا دهندوستان کوچنی جنت دی اوزه به يې په بل ځای کې په پوره تفصيل سره تشريح کړم په کوم ځای کې چې بادشاه دو بې تير ول غوښتل نو دغې درندې توپخانې دبادشاه پدرګه کوله په درنده توپخانه کې (اويا) توپونه شامل وو، چې زياتره برخه يې دچدن (چوګون) څخه جوړشوي وو. پدې توپخانه کې ۲۰۰ــ۳۰۰ اوښان هم شامل وو، چې يو ډول کوچني توپونه ئې وړل. دغه توپونه دتوپک نه دوه درې واره غټ دي او په اوښ پورې تړل کيږي. لکه څنګه چې مونږ په کوچنيو بيړ يوپسې ددبروغوړ ځولو ماشينونونه تړو.

چابکه يا سپکه توپخانه زما په نظر کې ډيره ښکلې او ماهره ښکاره شوه. پدې توپخانه کې ۵۰ــ۶۰ کوچنی ځمکنی برنجي توپونه شامل وی، چې هر يو توپ مخ اوشاته دګوليو لپاره صندوقونه ايښودل شوي وی. دومره ښکلي آسونه يې کشوي، چې سترګې دهغوی په ليدلو نه مړيږی. ګاډيوان يې دعادي ګاډيوان پشان اداره کوي. هر ګاډی په سرو تو کرانو ښکلې شوې وی او هر ګاډی پسې دريم آس هم تړلی وي چې دګاډيوان مرستيال يې په کيزه کې بيايي. دغه دريم آس تش د احتياط لپاره ورسره ساتل کيږي. درنده توپخانه نه شی کولای هر لورې ته بادشاه

بدرګه کړي. کله چې به هغه دلارې نه ښي او کیڼې خواته یادښکار او یاداو یو ځښځلو او یادبل کوم شي لپاره ګرځیده نوپدې صورت کې بــه دغه سپکه توپخــانه ورپسې روانه وه. درنده توپخانه به په زیات سرعت سره مخ په وړاندې تله او کوښښ به یې کاوه چې دځنډ او تال نه ځان بچ کړي خصوصاً کله چې به دبیړیو په پلونو باندې د دریاب څخه تیریده . سپکه توپخانه دبادشاه څخه نه جلا کیده ونکې بلل کیده او په همدې وجه دسپرې توپخانې نوم ورکړ شو .

www.libtool.com.cn

دغه توپخانه سهار دبادشاه دخیمې نه دوتوسره یو ځای هغه پسې خوځــیږي. دی عموماً په لار کې څو ځلي دلارې څخه یوه خوا بله خوا ګرځي ــ ترڅــو دښکار تماکلي ځای ته زر ځان ورسوي، کوم چې دپوځ دورنګ نه پخوا د هغه لپاره ساتل کیږي. درنده توپخانه مخامخ روانه وي دتولیدو ځای ته ځان رسوي چه هلته دبادشاه دخیمې سره منظمه ودریږي . شاهي خیمه پخــوا درول شوې وي او شاوخــوا یې د امیرانو خیمې ګرد چاپیره ولاړې وي. په هغه ګړۍ کې چې بادشاه را ښرګندیږي دغه درنده توپخانه په ډزو پیل کوي ددې لپاره چې اردو دبادشاه دراتګ نه خبره کــړي .

پلې پوځ په هیڅ صورت سره دهغه پوځ څخه چــې د بادشاه په حضور کې ولاړوي توپیر نه لري. پلې توپخانه او نور لوازم چې دجنګ په وخت کې په کاریږي ورسره وي. فرق یــې تش دادی چې دپلې پوځ شمیر زیات وي . ځکه یوازې هغــه پوځ چې مغل یې دمجبوریت له مخې په دایمې صورت په دکن کې ساتې تــرڅــو وکولای شي دګولکهنډې ډیر زیات قوي بادشاه په کیزه کې وساتي او بیا د بیجاپور بادشاه او نور ټولو راجه ګانو په مقابل کې چې د بیجاپور بادشاه سره اتحــاد کــوی مخنیوی وکړي کم له کمه دشلو نه تر ۲۵ زرو او کله کله تر ۳۰ زرو پورې سپاره ور کې شامل دی .

دکابل سلطنت دایرانیانو، پښتنو، بلوڅو اونورو غرنیو قبایلو په مقابل کی د
عادي محافظی لپاره کم له کمه ۱۲ــ۱۳ زرو سپاروته ضرورت لري. دکشمیر سلطنت
دڅلورو زرونه زیاتوسپارو، بنګال سلطنت ددې شمیرنه لازیات تهــداد ته اړدی.
دپلی خوانه همدلته هر وخت جنګ روان دی. داسی ګورنر یه پیدا نکــړئ چی د
خپلی صوبی دخصوصیاتو یا لویوالی له امله زیاتوعسکروته احتیاج نه احساسوي.
داټول چی یوځای سره جمع کړو دتعجب وړ شمیرپوځونه ترې جوړیـږي. که د
پلیونه چی دومره مهم رول نه لوبوي تیرشو، تش دآسونه ښودل شوی شمیــرته،
چی کولای شی انسان خطاباسي، اوزه دهغه چاپه شان چی په ښه تـوګه ددې سوال
سره اشناوی، فکر کوم چی داسونو واقعی شمیر چی عادتاً دبادشاه په حضــور کــی
ولاړوی، اوپدې شمیرکی دراجه ګانو، پټانانو سپاره نظام هم ورګډ کړو نو ممکن
تعدادیی د ۳۵ زرو حدودته ورسیږي. که ددې شمیرسره هغه تعداد یوځای کــړو
چی دد. بارنه دباندی په ولایتونوکی پروت دی، نوزما په فکرشمیربه یــی ددووسوو
زرونه اویا ممکن ددې نه لازیات شي. ماوویل چی پلی عسکرچندان مهم رول نه لوبوي
ځکه زه فکر کوم دغه پوځ چی بادشاه یی ځانپورې ساتی، که چرې پــه هغــه کی
توپلک و یشتونـکی پلی کانونیران، د دوي مرستیالان او بالاخره ټول هغه ځوک چی
ددغې توپخانی خدمت کوي ورګډ کړو نوشمیربه یــی د ۱۵ زرو څخه زیات نه شی.
ددې شمیر له مخی کولای شو دا قضاوت وکړو چی د دوی شمیربه په ټولــو پلــی
فوځونوکی څومره وي. الدې نه دابنه جــوتیږي چی دپلی اردودغه حیرانوونکـــی
تعداد چی ځنی کسان یــی دمغل دپوځونو په حکله خ ته کوي درست نه دی. کــه
چیرې دوی دمغل په پوځوتوکی هغه تعداد کسان ورګډ نه کړي، کوم چی په پوځونو
کی دسوداګرو، دوکانداړانو، بازارچیانو، اونفرخدمتیانو په حیث کار کوي، په
پوځونو پسی روان وي، نو هیڅ ـکله به دې شمیــرته ونــه رسیږي. ک فــرضــاً

www.hbtool.com.cn

څوك دغه بازاري عمله ، سوداګر په پوځونو کې ور شاملوي نو زه حاضر یم دا ومنم چې د دې کسانو تعداد به یوازې د مغل دحضور ي اردو سره یوځای ۲ ـ ۳ سوو زرو ته ورسیږي . کله کله ممکن دغه تعداد دوراندې حساب څخه هم زیات شي . مثلاً هغه وخت کله چې باداشاه دیوې اوږدې مودې لپاره دپایتخت څخه لرې کیږي . که سرې دپوځونو دګڼ دیو ، اشپزخانو ، صاپیو ، فرش وظرف ، اساسیې اوحتی دښځو دمالونودوړلولپاره اربنان ، غوښکي ، پیلان ، آسونه ، پندیان ، دحیواناتو اوسړیو د خوراکې موادو برابرونکي هر ډول سوداګران ، نوکران اوداسې نور کسان چې په پوځونو پسې ځانونه غزوي په نظر کې ونیسي نوداتعداد به دتعجب ور نه وي ؟ هغه څوك چې دهیواد له اداري او وضعې سره اشناوي دکومې له مخې چې باداشاه په مملکت کې دټولو ځمکو یوازینی څښتن ګڼل کیږي نولدې ته به دانتیجه واخلي چې ګردپایتختونه لکه دهلي اوان اګره یوازې او یوازې دپوځونو په حساب ژوند کوي . دهمدې وجهې نه د ښارونو ټول خرڅوونکي اومعامله داره کسان مجبور دي په بادشاه پسې وخوځیږي . که بادشاه دجنګ میدان ته ځي دوی هلته بازارونه خلاصوي . دهلي او اګره هیڅکله پاریس ته نه دي ورته . که رښتیا را باندي وایې نو دا ښارونه نظامي کمپونه دي چې نسبت نورو ځایو ته په ښه موقعیت کې پراته دي .

نورو شیانو څخه چې تیرشو نو دا باید هیره نه کړو چې دغه ټولي اردوګاني کوموته چې ما اوس اشاره وکړه دامیر څخه نیولي آن ترساده عسکره پورې په دوو میاشتو کې یوځل خپل تنخوا وې اخلي . دغه تنخواه ددوی دعایداتو یوازینی مدرك دی . لدې وجهې نه دتنخواه په ځنډولو کې هرډول تال او معطلې دعفوې ور نه دي ، کوم چې زمونږ په هیواد ونو کې کله کله پېښیږي . هلته دا یومنلی شی دی چې کله کله دیوه عامل او ضرورت له مخې دولت دسرداراًنو منصبدارانو او حتی دساده عسکرو تنخواوې



www.libtool.com.cn

ځنډوي ارتنخواه لرونکي مجبوردي چي يوه موده انتظار وباسي ، خپله ګـوذاره د خپل کاپيتال په فيصدي ګټه يانځمکو په عايدتو او يا پ کومونو ورسايلو وچلوي. په هندوستان کي داضروري ده چي په ټاکلي وخت کي تولو مامورينوته تنخواه ورکړای شي . که داکار دلته ونه شي نوخيره خرابيږي ، ټول دلوږي مري او يابه مجبوريږي چي خپل ورستي ضروري شيان ، سامان چي دوی يې لري حتى ترا سونو پوري خرڅ کړي . دا ډول وضع ماپه وروستيو جګونو کي وليده . که چيرې چ ګونه لاپسي اوږده شوي وای نو خلک ديته بالکل تيار ووچي دې کار ته لاس واچوي . دمغل په پرخ کي به په مشکله داسي عسکر پيداکړي چي هغه واده اولاد مزدوران او مريان ونلري ، کوم چي دې تنخواه ته انتظار باسي اوله هغه پرته بله هيڅ هيله نـه نلري . دې عظيم شميرته چي تش په تنخواه ژوند کوي ډيرخلک حيرانيږي ( دوي شمير په ميليون دی ) دوی دانه شي کولای ددې عظيم تعداد دلګښتونو مدرک تصور وکړي . ولی دا دتعجب خبره نه ده که چيرې د دولت شته مني د ولتي اداري مميزات او دبادشاه زميندار ی خصوصيات خوك په نظر کي ونيسي .

اجازه راکړئ داهم ووايم چي لوی مغل په ډهلي اګره او شـاوخـواکي دضرورت او احتياط لپاره ۲ ــ ۳ ز ٥ ډيراعلی آسونه ساتلي دي . ددې نه پـرتـه ۸ ــ ۹ سوه پيلان زيات شمير کچرې ، آسونه پليان دلويو خيمو نقلولو ، د بنځو ورلو ، دده اشپز خانی ، فرش ، دلښکر کښنی په وخت کي دګانګه څخه داوبو راوړلو اوډده دنور و ارتياوولپاره ساتل شوي دي .

ددې ټولو لوازمو برابرول دلښکر کښنی په وخت کي مغل ته داسي شرايط برابروي ته به وای چي هيڅ دکور څخه نه دی وتلی . آمادغه ډول شيان زموږ په دولتونو کي ضروريات نه ګڼل کيږي .

اجازه وفرمايئ پدې پورې دحرمسرای غير قابل تصور لګښتـونه ، چـی د هغی نه پرته لـکه څنګه چي ښکاري دوی ګوزاره نه شي کولای هم تاسوته لږ څه

تشریح کړم. دغه بې ساري لګښتونه په داسې شیانو کېږی لکه هرډول نازك طلایي کتابونه، ګلدوزي‌شوی رختونه، ورېښمین توکران مشك وعنبر، خوش بویه روغنیات، مرغلري اوداسې نور دهغو ټولو نورو شیانو سره یوځای چې ما پخوا عرض کړل. کهچیرې دغه ټول بې ساري لګښتونه چې دوي یې دمجبوریت له مخې کوي دهغه عایداتو سره پرتله شي چې دوئ ته راځي او تاسې دهغه تصور کولای شئ نودابايد وويل شي چې دی بې حده غنی دی. که زما څخه ځوك پوښتنه وکړي چې دده ژوند سره ښه اشنایم نودومره ویلای‌شم، چې دده ځانګړي عایدات به دهغه مقدار عاید تو څخه زیات وي، کوم چې دترکیې سلطان او د پارس بادشاه دواړو لاسونو ته ورځي. ولی هغه غیرقابل تصور افسانې چې د دوی په باره کې ویل کېږي زمالپاره دمنلو وړ نه دی. کهچیرې زه ددې افسانوپه زیاتروبرخو یقین هم وکړم ولی ددې سره سره دده دومره بډایی‌توب زمالپاره دیقین نه وړتلی خبره ده، دکوم په باره کې لکه څنګه چې ټوله نړۍ خبرې کوي. په هغه‌صورت کې که چیرې هغه عظیم مبلغ چې په یوه لاس یې اخلي او په بل لاس دمجبوریت له مخې خوروي، کهچیرې دغه شی په نظر کې ونیول کېږي نو به زه دا ومنم چې‌په رښتیا غنی دی. زماپه عقیده‌خوواقعي‌بډای بادشاه دی چې خپل رعیت دباشکوه دربار ساتلو لپاره نه دومره وشکوې اونه یې دومره ترفشار لاندې ونیسی بلکه دهغه لپاره بیل دركونه ولرې لکه څنګه چې دا دول بادشاهان زمونږپه هیواد او یانوروځایو کې شته دي دوی دخپلو دولتونو دساتلو لپاره په کافی‌اندازه‌عسکری قوه لري. کولای شي چې دخپلو ګارنډیانو دیوه نسبأ لوی جنګ په‌مقابل کې‌څوکاله مقاومت وکړي. داهم کوی شي که چیرې‌وغواړي دامیرانه وکړي چې څوباشکوه شاهانه قصرونه آباد کړي، دهغوی لګښتونه په خپله غاړه واخلي دکومو سره چې بادشاهان عادت دي، یې لدې چه څو کاله‌مسلسل دخزانې څخه لوی‌مقدارپیسې څنګ

ته کړي او هم کولای چې څو کاله لوی جنګونه وزغمی او بیا یې په خپله شروع کړي.

زه به داومنم چې مغل تقریباً دا ډول امکانات لري. ولې ددې سره موافقه نه شم

www.libtool.com.cn

کولای چې دی د دومره لویو لګښتونو او مصرفونو قدرت لرې، کوم چې معمولا فکر کیږی او یایې دغه ته نسبت ورکوي. دغو عظیمو او ضروری لګښتونو ته چې ما اشاره وکړه تاسو باید دهغه د ربښتیا والی په باره کی زما سره موافقه وکړئ. تاسو بی شکه دغه دوه کیفیته او یو څه نور د کومو سره چې زه ښه آشنایم او هغوی ته به اشاره هم وکړم زما سره ومنئ، لومړی کیفیت دادی چې اوسنی مغل دوروستی کودتا په آخر کی کله چې د بنګال نه پرته چې هلته تراوسه سلطان شجاع ځان ټینګ کړی، نوره په ټوله امپراطوری کی سوله برقراره ده، دی سخت په مشکلاتو اخته دی. هغه نه پوهیده چې دخپلو پوځونو دساتنې لپاره دکوم مدرك نه استفاده وکړی ده اګر چې پدې وختونو کی خپلو فوځونه ته چندان تنخواه نه ورکوله، لکه څنګه چې په پخوا عادي وختونو کی ورکول کیده. جګړه پنځه کاله پرله پسی روانه وه او ددی مجبور شوچې دخپل پلار شاه جهان خزانی ته لاس ور وغزوي.

دوهم کیفیت دادی چې دشاه جهان خزانه چې څښتن یې دهغې په مصرف کی زښت ډیر محتاط و، څه زیات څلویښت کاله یې بادشاهي کړې وه پدې اوږده موده کی یې دڅو کوچینو جنګونو څخه پرته نور څه هم ونه لیدل، ولی بیاهم دده ځانګړې خزانه شپږ وکرور ونوته نه رسیده. ما مخکی وویل چې یوه روپۍ تقریبا د۲۹ سوسره معادل ده. سل زره روپۍ یو لک اوسل لکه روپۍ یو کرور کیږي. البته دشاه جهان په خزانه کی ما دده دقیمتي زیوراتو لویه پیمانه شامله نه کړه چې مختلف انواع اقسام لري، او ټول دطلا او نقره څخه جوړ شوی دی. همدا ډول دقیمتي ګاڼو سرغمرو لویه اندازه چې داهم مختلف انواع او لوړ قیمتونه لري، ما دده په خزانه کی حساب نه کړل. زه نه پوهیږم آیا په نړۍ کی بل هم دشاه جهان

په شان بادشاه شته که نه چې دومره زيات قيمتي شيان ولري. يوازې تاج چې په قيمتي مرغلرو جواهراتو او نورو قيمتي کاڼو مرصع شوی دی که چيرې غلط نه شم نو کم له کمه درې کروړه روپۍ قيمت لري . داهم بايد وويل شي چې دا تپوله ولجه ده ته دپخوانو پټانانو، سردارانو، راجه ګانو څخه لاس ته ورغلې ده چې دلرغوني زماني څخه ذخيره کيده او هره ورځ مخ په انکشاف وه. ديوه بادشاه نه بل بادشاه ته را تيريزې او بل دهغو سوغاتو نوله برکته چې اميران يې هر کال په څو مشهورو واخترو نو کې بايد مغل ته وړاندې کړي. دتاج شته منی څخ حتی که په خپله بادشاه يوسول (۷۲) ولګوي يائې خرڅ کړي نودې کارته دلوي جنايت په نظر کتل کيږي .

مخکې لدې چې زه خپل لياك پای ته ورسوم غوارم ووايم چې دمغل امپراتوري چې په اول کې مونږ دطلا او نقره دنغرلوژوري وبلله ولی همدلته طلا بې پتې کيږي. ددې ځای خلك بايد نسبت نورو ځايونو ته ډيرمارهوای اماخبره برعکس ده زه په ستر ګو وينم چې ددې ځای خلك نسبت نوروته زيات محتاج دی او همدا ډول دلته پيشه نسبت نورو ځايونوته کم يافته ده.

ددې کار لومړی دليل دادی چې دقيمتي فلزاتو ډيره زياته برخه د غوږ و، پزې لښتيو ، دغاړې اوزيوپه‌غميو، دلاسو پښو وښيو لپاره چې ښځې يې استعمالوي ويلي کيږي . ددې قيمتي فلزاتو زياته برخه خصوصا په تپو کرانو کې لګيږي چې هغه اساساً هيڅ ګټه نه لري. دقيمتي فلزاتو لری‌لوی کندې چې وروسته يا بالکل بې پتې کيږي، په تپولو ګلدوزيو آلاچو، خطه لرونکو ورښمينو تپوکرانو طلايې ځنځيرونو، ناريزونو چې په پټکيو او داسې نورو تپوکرانو کې مصرفوي . تپول پوځونه دامير نه نيولې ترساده عسکره پورې او همداډول د دوی ښځې او ماشومان تپول داهڅه کوي چې په طلا کې ځان جل بل کړي. دوی ولو که دلوږې مري، ولی کوشش کوي چې طلايې او نقره يي پسول ځانته پيدا کړي .



www.libtool.com.cn

دوهم سبب دادی چې ددولت تولی ځمکې دبادشاه ملکیت گڼل کیږی . جایگیر چې په ترکیه کې هغی ته تیمار ویل کیږي ، دپوځونو سرلښکرانو ته دتنخواه او یا مستمري معاش په ځای ورکول
www.tibtool.com.cn
کیږی. داځکه چې په خپله دجایگیر کلمه دځای معنی ورکوي او یا باید دتنخواه په عوض کی ورکړل شي، چې په هغه باندی پوځ وساتی ، ولی پدې شرط چې دجایگیر ځمکو له عایداتوځخه هرکال یوه برخه داجارې په صفت بادشاه ته ورکړي. کله کله بادشاه ځنی ځمکی دخپل دربارپه نوم قیدوی چې هغه هیڅکله چاته دجایگیر په نوم نه ورکوي ، بلکه دی دغه ځمکی اجاره دارانو، سویبی خوارانوته په ټیکه ورکوي. هغوی مجبوردي چې هرکال یو مقدارنقدې پیسی دځمکی دحاصلاتو له درکه بادشاه ته وسپاري. ددغې او هغوی فورو عایداتوله برکته جایگیرداران، گورنران ، ټیکه داران په خپلو سیمو کې په بزرگرانو حتی په اهل کسبه او ښارونو په سوداگرانو باندی، چې ددوی په منطقو کې راځی نامحدود قدرت لري . دلته نه لوی ویلموژ شته اونه زمونږ پشان شورا، چې وکولای شي تول دغه گورنران جایگیران ټیکه داران وویروی . نه داسې قاضي شته چې پوره نفوذ ولري ترڅو هغه وکولای شي ددوی دظلم اواستبداد مخنیوی وکړي اوله منځنه یې یوسي .

لنډه داچې دلته داسې څوک نشته چه هغه ته بزگران، کسب گران ، سوداگران دخپل ژوند اولیدلی استبداد نه فریاد وکړي. کرم کسان چې اه یوه سره دحکومتی قدرت ته نه غیر قانوني او بې ترسه ناوړه استفادې کوي اوپه مقابل کې دخپلو اعمالو سزا هیڅ وخت نه وینی دلویو کتلو ژوند ددوی په لاس کې دی . هغه ځایونه چې مرکزونو یعنې دولی اوگرې ته نږدې دي یالوی ښارونو، لوی بحری بندرونو ته نږدې پراته دی، دهغه ځایونوځخه شکایتونه نسبتاً په آسانه توگه دربارته رسیدلای شي اووضع هم لږڅه ښه ده . داډول کسان لکه ټیکه داران، جایگیران، خصوصاً

ګوزنرانو څخه خلك داسې ویریږي چې مړیې به دخپل ځینتن څخه دومره ترس ونه لري. ددې وجهې نه خلك کوښښ کوي چې سرو پټې لوځ ، ځانونه محروم، مفلس، په کالیو فرش‌و ظرف اود‌تولو نه زیات په خوراك او څښاك کې د‌بې ساري ساده والي نه کار واخلي .

www.libtool.com.cn

دوی داکوشش هم نه کوي‌چې‌په تجارتی معاملو کې زیات پرمختك وکړي. ځکه دوی ویریږي چې‌مبادا په دوی به دبډایانو گمان وشي او بیا به ددوی دشوکي لپاره کوم چال په کار ولیږي . ددې سببه دوی دخپلې شته منۍ لپاره دپټولو نه بله څه چاره نه وینۍ. خپلې پیسې دځمکې لاندې په کوم یورت تیاره کونج کې‌خاوروته سپاري . پدې ترتیب سره پیسې‌دگټې نه لویږي ، په ځمکه کې‌تباه کیږي. نه پادشاه نه دولت، او نه بل‌چاته هیڅ ډول گټه نه شي رسولای. دغه کارنه یوازې د‌بزگرانو او کسب گرانو په ژوندکې لیدل کیږي بلکه د‌هرډول لویو سود‌گرانو‌په حال کې هم صدق کوي، مسلمان وي که بت پرست ولې سرنوشت یې یوډول وي . لــه هغو کسانوچې دبادشاه یاامیرانو سره نوکري کوي، یاپه‌د‌بله واسطه ولري چې هغه په پوره نفوذ کې وي. دځمکې لاندې دطلا خښولو کارعموماً دبت پرستانو په ژوند کې زیات لیدل کیږي. دوي پدې عقیده دي چې‌دطلاونقرې دځمکې لاندې خښونه دوی‌ته دمرګ نه وروسته په کار ورځي . زماپه عقیده اصلي علت همدادی چې په تجارت کې پیسې دبریږې په جریان لویږي ؟

دلته یومهم سوال راپورته کیږي، هغه داچې آیا داکار به نه یوازې درعیتو بلــکه په خپله ددولت اومغل بادشاه لپاره گټور اومعقول نه واي کــه چېرې دی زمونږ ددولتونو اوسلطنتونو دبادشاهانوپشان دټولې‌ځمکې یوازینی‌وارث، نه بلــکه زمونږ پشان دلته هم «زما» او«ستا» په نوم ملــکیت موجود وای .

زه دخپلو بادشاهیو دحالاتو چې هلته «زما» او «ستا» ملکیت وجود لري ددې
ځای بادشاهانو له وضعې سره چې «زما او «ستا» نشته ژورې مقایسې نه دې نتیجې ته
راغلم چې د بادشاهانو لپاره همدا زمونږ نظم چې زمونږ په هیوادکې موجود دی زیات
www.libtool.com.cn
معقول او ګټور وبولم ځکه په هغو دولتونو کې چې ټول ملکیت یوازې په باد شاه
پورې اړه لري طلا او نقره په هغو لاروځي، چې ما مخکې وښودلې. هیڅ داسې سړی
به پیدا نه شي چې ددغې جایګیر دارانو، ګورنرانو، او اجاره دارانو له ظلم، استبداد
نه په امن کې وي. بادشاهان که دخپلو رعیتو په نسبت هرڅومره نیکه اراده هم لري،
ولې دهغو عاملونو له مخې چې ما مخکې وویل تقریباً هیڅکله نه شي کولای پدوی کې
عدالت برقراره کړي او یادظلم و استبداد مخه ونیسي، خصوصاً دا په هغه سلطنتونو
او منطقو کې چې دمرکزونو (دهلي، اګرې) څخه لرې پراته دي. دبلې خوا دباد شاه نه
همدغه عدل غوښتل کیږي. ځکه چې دده مسئولیت او مکلفیت همدغه شی دی.
ددې ظلم او استبداد په نتیجه کې چې دلته موجود دی دبزګرانو، کسب ګرانو،
څخه دژوند هر ډول ضروریات غصب کیږي. تردې اندازې چې دوی دلوږې
او غریبۍ نه ستړي کیږي، اولادونه نه شي زیږولای، او که څوك اولاد لري هغه دناوړه
غذا له مخې په ماشومتوب کې مري. دوی غریبۍ په میراث اخلي. دپلارونو
ارمېندو پښان په نا امیدۍ کې ژوند تېروي. کله کله دغه بزګران پدې تمه خپلې
ځمکې پرېږدي چې دکوم یوسپور سره مزدوري ونیسي یا یوې نامعلومې خواته
ګارنده یا نوته پدې هیله ستر ګې ور پړوي چې هلته په نسبتاً نرمه رویه وویني. پدې باره
کې ما پخوا خبرې وکړې. بالاخره ځمکې یوازې او یوازې دکوتلك په زور کرل
کیږي. ولې زښتې ډېرې خرابې، زیاتره برخه یې بې غوره کیږي او بالکل
دکرو کښت نه لوېږي. ځکه دلته هیڅ داسې څوك نه پیداکیږي چې هغه دزړه نه
وغواړي او یا کولای شي دحیواناتو لپاره داوبو څښلو ویالو او جرونو لګښتونه په

په غاړه واخلي، اويا دغه ويالي اوجرونه ځمكوته ورسوي، كومې چې ړداوبو لپاره سختيې تږي دي. داسي څوك هم نه پيداكيږي چې دكورونوجوړوني سره علاقه او يادغه دتـر ميـم سره دلچسپي ولـري، كـوم چې مخ پـه رنگيدو دي.

www.libtool.com.cn

بزگران ځانته وايي: «زه په كوم دليل دهغه استبداد لپاره زيارو باسم كوم چي سپاته يـې ليوني نيشه راشي نودژوند نهايـي ضروريات به هم ماته پرې نه ږدي.»

جايگيرداران، گونران اواجاره داران هم داسي فكر كوي: «زه دځه لپاره دخپلي بتهوې نه پيسي روباسم اوپدي كوشش كي شم چې ځمكي آبادي كړم، يا هغه سبي وساتم پداسي حال كي چې دسباورځي دپاتي كيدو اميدنه لرم اوسبابه زماپه ځاى بل څوك ناست وي. كه چيرې زما دنن ورځي كار زما لپاره نه وي اودا احتمال زښت ډير دي چې په راتلونـكي كال كي دبل لاس ته ورځي او داځانگړى جيب نه به عظيم لگښتونه زه ور باندى كوم نوزما لپاره بـه يـې گټه كومه وى؟ بهتره داده ترڅوزه ددې منطقي واكمن يم، بزگران ولوكه ستيږي ياځمكي پرېږدي اويا دغه آبادي ځمكي شاړې شنډې كيږي ولي ترڅو دلته يم بايد دهغي څخه په اعظمى توگه استفاده وكړم.»

همدغه علت دى چې دغه اسيايى دولتونه زمونږ دستر گو وړاندې سقـوط ته نږدې كيږي. همدغه علت وى چې په دغو هيوادونو كي دختونه جوړ شوي ښارونو څخه پرته بل شي نه وينو. دغه ښارونه زمونږ له ښارونوڅخه بالكل توپيرلري. دلته بى له چټلو وړانوښارونو اوكليو څخه بل شى نه شئ پيداكولاى. همدغه علت دى چې ټول دغه مىسوپتوميا، (بين النهرين) اناتوليا (پخوانى تركيه) فلسطين، اوانتي اوخيا حيرانوونكي دښتي او داسي نورې څومره ځمكي چې يووخت كي ښي آبادې، حاصلخيزې او دخلكونه ډكي وې، ولي اوس په نيمه غرنيو، شنډو، متروكوځمكو او ياپه مرگباره غير مسكونو جبوبدلي شوې دي. همدغه سبب دى چې دمصر بـې ساره ځمكي تقريباً پدې وروستيو ۸۰ (اتياو) كالونو كښي لـكه څنگه چې ليدل كـيږي په پلسمه برخه تباه شوى.

ځکه هیڅوک نه غواړي د کانالونو په ساتنه باندې لګښت وکړي، یا د نیل دریاب مخه ونیسي، چې هرې خواته بې واکه خوله ونه غورځوي، په آبادو ځمکو شګې ونه غورځوي او آبادې حاصلخیزې ځمکې تباه نه کړي. تاسې پوهیږئ چې ددې ځمکو له سره آبادول څومره لګښتونه غواړي.

www.libtool.com.cn

لدې سببه په دغه هیوادونو کې کسب مړي او یا کم له کمه دومره پړ مختګ نه شي کولای لکه په نورو ځایو کښې او لکه څنګه چې مونږ یې په خپل هیواد کې لیدلای شو. دلته کسب ګر په خپل مسلک کې لازمه پوه، زړور تیا او خپله انرجي نه شي استعمالولای. ځکه دی په سترګو وینې چې دلته خالك ترمړګ پورې په غریبـــی کې ډوب دی. دوی دا احساسوي چې دلته ددوی د کار دظرافت او ښکلا دعلاقې وړ کسان نه شيء پیدا کولای. ځکه چې ټول له یوه سره په ارزانۍ پسې منډې وهي. دا شرافو که په مغزو کې نیشه راتاوه شوه نو کسب ګر و ته ددی د کار په مقابل کې بیخې لږې پیسې ورکوي ولې بیاهم کسب ګر دخدای نه شکر باسي چې د هغه دلاس نه روغ سالم خلاص شو او دده مترکو ته سم نه شو، کومې چې دامیرانو دروازو ته څوړندوي اود هرچا سترګې ور باندې لګیږي. کسب ګر پدې ښه پوهیږي چې په حال او ماضي کې دده لپاره هیڅ داسې هیله او تمه نشته چې د خپلو ماشومانو او یا ځان لپاره یوه ټوټه ځمکه واخلي. دا ځمکه دی ویریږي چې مبادا د بډایانو په لاس کې په ونیول شي. ددی ویرې نه چې د بډایانو فکر ور باندې و نه شي ځان ته دیوه عادي انسان په توګه دخوراك څښاك او پوشاك اجازه هم نه ور کوي. که فرضاً څو تنګي یې ذخیره کړې هم وي ولې بیاهم په هغه باندې ښکلې جامې ځانته نه شي اخستلای. لدې وجهې نه پدې هیوادونو کې دظریفه او ښکلو صنایعو تغر باید لا پخوا ټول شوی وای. ددې هنر د پاتې کیدو یوازینی علت دادی چې بادشاهان او لوی ویلموږ ددې هنر ماسټران ځان سره ساتي، دهغوی په تنخواه ژوند کوي او کاریې هم

يو ازې د دوى لپاره دى. دغه ماستران خپلو زامنو ته خپل مسلك ور زده كوي او كوشش كوي چې چالاكه ئې تربيه كړي، چې د هغه په مرسته د خپل بادار مهرباني ځانته جلب او د هغه د مترو كې نه ځان بچ كړي. په لويو ښارونو كې غټ سوداگران كسب گرو ته نسبتاً لږ خه ښه مزدور كوي. زه وايم چې نسبتاً لږ ښه، داځكه چې پدې منطقو كې كه هر څو مره ښه نوكران ليدل كيږي، ولې دا فكر بايد و نه شي چې هلته كسب گرو ته احترام كيږي او يا كولاى شي كم له كمه د خپل مسلك په مرسته د ښه ژوند ښېتن شي، بلكه دى د نهائى احتياج له مخى اود كوتك په زور كار كوى، او په مقابل كې به هيچكله دولتمن نه شي.

دا هم د خداى نه شكر كوي، كه دى داسى وسيله وارى چې په هغه سره ژوندو كړى، په متوسط ډول كالي واغوندى. كه چيرى كسب گر پيسى گټي، نو دغه پيسى د ځان لپاره نه، بلكه د لويو ښارى سوداگرانو لپاره دى، لكه څنگه چې ماوويل كسب گران په خپله په مشكله ژوند كوى او نه پوهيږى چې په كومى لار د توهين څخه ځانونه بچ كړى. پدې دولتونو كې نهايى درجه جهالت حكمفرمايى كوى. دلته ښوونځي او اكاډيمي له كومه شوې؟ ددې مرسسو لپاره به بنياد ايښوونكى له كومه پيدا كړئ؟ فرض به كړو چې دغه ډول مؤسسې پيدا شوې نو زده كوونكى به ورته له كومه شوى واى؟ هغه كسان چه له هره پلوه تضمين دى او كولاى شي چې خپل زامن په ښوونځيو كې واچوى هغه چيرې دى؟ كه چيرې داسى كسان پيدا هم شي نو څوك غوارى چې تش دوسې او بهاى په نوم ځان د خطر سره مخامخ كړى. كه چيرې دوى دې كار ته حاضر شوى هم واى، نو د دوى لپاره به يى گټه څه واى؟ هغه ماموريتونه او دوياړنى القاب چې پوهى او استعدادته ضرورت لرى او كولاى شي ځوانان علم ته تشويق كړى هغه چيرې دى؟ ددغه ورانديزو دلايلو له مخه پدې هيوادونو كې تجارت نسبت زمونږ هيوادونو ته ډير سست ښكارى. دلته داسى كسان ډير لږ پيدا كيږى چې د زړه

له کومی په خپل مسالك پسی هلی ځلی وکړي، دنوروسره مکتوبی راشه درشه قایمه کړي، دنوروليپاره ځان دخطر سره مخامخ کړي دګورنرليپاره چی ترتولولومړی دی، ددوي په آزارکی برخه أخلی ؟ . سوداګـر باید کوم یونظامی لوی سړی ته
www.libtool.com.cn
ځان نژدې کړي اوهغه ته ځان غلام جوړ کړي. همدغه نظامی سړی هرڅومره چی دده په زړه کیږي په هغه اندازه به دده له ګټی نه برخه بیلوي. څوك غواړي ځان بلا سره وتړي؟ که دزياتو رو پيولرلونه سړی په غريبی اومفلسی تظاهر کوي، نوپدې صورت کـی دسلوزرو په ځای لس زره بهترې نه دي؟ دلته دبادشاهانو په نوکری کی دسردارانو ویلموژ (درباريانو)، اشرافو، شته منو، افسرانو، سوداګـرانو کسب ګرانو اوبورژوازانو زامن نشته، دکومو په منځ کی چی کله کله تعلیم یافته اوتربيه شوی کسان هم وي، چی دزړه له کومی خپل بادشاه ته احترام کـوی اود ممنونيت په سترګه ورته ګوري. دادونل کسا، لکه څنګه چی ماوویل دخپل جیب اوهستی په مرسته په درباراوپوځ کی کولای شي زيات وخت ځانونه تینګ کړي. په امیدکی ژوندوکړي، دخپل بادشاه دنوازش اوپاملرنـــی څخه خوندواخلی ، د ضرورت په وخت کی يودبل په مقابل کی دقوت اوخپلی انرژي څخه کارواخلي. پدې کوشش چی دخپلو نیکونو قبیلونوم اونشان وساتی . آمـا د مغلو پـادشاهان په خپله شاوخواکـــی داسی کسان وینی چی دربارپانو څخه راوتلـی دي اوبیـا هغـه مقام ته پـه مرداروالاړو رسیدلی دي چـی نه تعلیم لري اونـه تربیه.

ددوی نه هروخت دشته منو غريبانـو بوی خیزي. غرور، غیرقابل تحمله بی رحمي او بی ننګی ددوی نه ورکیدونکي عاداتونه دي. دخپل بادشاه نـوم او ناموس دوی لپاره ارزښت نه لري، اونه وطن. پدې هیوادکی بـادشاه هم دخپلو محیرالعقولو لګښتونو لپاره مجبوردی چی تول وشکوي، کوم چی دیوه باشکوه دربار

د ساتلو لپاره یې له ځاګړو صندوقونو او دبیت‌المال خزانی څخه بل مدرک نه لري . له دغه مدرکه باید عظیمه عسکري قوه وساتي چې په هغه باندی خلک تابع او دامووقع ورنکړي چې دپادشاه له غوښتنو

www.libtool.com.cn

او اوامرو څخه غاړه وغړوي ، او هم یې په همدې قهري قوه کار کولو ته تیت کړي او هغه څه ترې لاس ته کړي چې ددولت‌لپاره ضروري اولازمي‌دی.

رعیت دېرله پسی اذیتونو ، تهدیدونواونو وته دکار کولودمجبوریت له مخی سخت ستړي او په ژوره ناامیدی کی ژوند کوي. پدې هیوادونوکي کله چې جدی جنګ ولګیږي بادشاهان هروخت حتی دیته راضی کیږي چې یوه صوبه په نقدو پیسو خرڅه اودهغه خرڅلاو نه عظیمی پیسی لاس ته کړي. لدې ځایه زیاتره دغه ورانی ، افلاس ، او وحشتناك حالاتونه راپورته کیږي چې مونږ یې په ستر ګوویڼو. ځکه دغه ګورنرچې هغه صوبه اخلي باید بادشاه ته زښتی ډیرې پیسي ورکړي چې ده دیوه اوبل نه په لوړ سود سره اخیستي وي. ددې نه علاوه چې هغه داصوبه واخیسته آیادې نه غواړي دخپلی خیټی مړوالي لپاره په هغو لاړو ولاړ شي په کومو چې اجاره داران ، جایګیرداران تللي دی؟ ترڅو وکولای شي د وزیرانو ، خواجه ګانو د حرمسرای کومی یوې ښځی اوداسی نورو کسانوته چې په دربارکی دهغه حمایت وکړي هرکال تحفی واخلي؟ آیادی‌مجبورنه دی‌چې بادشاه ته‌ټاکلی باج ورکړي؟ آیادی داکوشش نه کوي چې‌دباج نه علاوه خپله خیټه هم ښه مړه‌او ډکه کړي؟ آیاګورنران ټول هغه‌څوك چې دده په صوبوکی اوسیږي نه لغړوي؟ دغه واړه فرعونیان چې بی حده بی‌اندازې اونا محدود واك یې په لاس‌دی‌په خپلو صوبوکی هیڅ داسی قوه په خپل مقابل کی نه ویني لکه څنګه چې مخکی وویل‌چې ددوی لاس‌ونیسی ، اویادکوم یوه رعیت فریاد ته غوږ کیږدی ،اووکولای‌شی‌چې د هغه ګورنرداستبداد له تیغه یی‌خلاص کړي. داهم رښتیا ده چې دمغل په‌امپراتوری کی واقعه لیکونکی ( تفتشیان) هم شته دی .

داهغه کسان دی چې بادشاه یې صوبو ته استوي چې د هغه ځایــونو حالات ده ته راوړي. دصوبو مامورین که چیرې ددوی د ګټې « مرتیا » په باره کې مشترکه ژبه پیدا نه کړي لکه څنګه چې زیاتره پېښېږي نولز څه یې ویروی. ولی اصلی خبره داده چې دغه تفتیشیان هم دصوبو دمامورینو پشان توک خواره دی. صوبې د مغــل په امپراتورۍ کې دترکیې پشان زیاتې نه خرڅیږي. که خرڅې هم شي نونه په دومره جوته سره ( زه وایم نه په دومره جوته سره) ځکه هغه لوی سوغاتونه چې د صــوبو اخستونکی وخت په وخت یې باید بادشاه ته وړاندې کړي په خپله دومره قیمتــ لری لــکه دصوبې قیمت. دا «تحفې» داکارکوي چې ګورنر په خپله پخوانۍ صوبــه کې لا زیاته موده پاتې کړي . لدې وجهې نه دغه ګورنران دومره وزي فقیــران او په قرضونو کې ډوب نه وي لــکه نوي مقررشوي ګورنــران . ددې سببه دوی پــه رعیت دومره فشار نه راولی، دومره ظلم نه وربانډې کوي چې رعیت راجه ګانو ته په تیښته ورمجبور کړي. داهم باید وویل شي چې په پارس کې دصــوبو خرڅــول دومره عمومیت او رواج نه لري لــکه په ترکیه کې. په پارس کې دګورنرانو او لاده زیاتره دخپلو پلارونو په ځای میراث خواره پاتې کیږي. لدې وجهې نه خلك هــلته دومره تراستبداد لاندې نه نیول کیږي لــکه په ترکیه کې. بلــکه هلته یعنې په پارس کې دخلــکو حساسیت زیات دی. ځنې کسان حتی علم ته ځانــونه وقف کــوي ولی بیاهم داټول خورا جزیات دی. ددې دري وارو دولتونو لــکه ترکیه، پــارس او هندوستان دخلکو دملــکیت په باره کښې «زما» او «ستا» مفهوم تباه کړه، کوم چې دنړۍ په هر ګوټ کې د هرقیمتي او ښکلي شي اساس همدا «زما» او « ستا » بلل کیږي. دغه دولتونه هرو یو بل ته ورته دي او عین نیمګړتیا وې لري. زروي یا وروسته دوی به حتماً دغریبی، فساد، افلاس او تش والي پړاوته وررسیږي.

خدای دې داسې ورځ رانه ولی چې زمونږ په اروپایي هــوادونو کې بادشاهان دټولو ځمکو مالکان شي ، کومې چې د دوی د رعیتو په لاسونو کې پرتې دي .

که چیرې زمونږ هیوادونه په خلکو ډك، ماڼه، آباد باکلتوره او پرمخ تللي نه وای. ترکومې اندازې چې مونږ بې په‌ستر ګوویڼو، زمونږ بادشاهان د هندوستان د باشاهانو په نسبت دولتمن او قوی دي. پدې هم باید اعتراف وشي چې زمونږ د بادشاهانو کارونه نسبتاً ښه اوپه شاهانه صورت دي. که زمونږ بادشاهان ددې ځای د بادشاهانو په شان وای نو ډیر زر به یې حال ددې ځای د باشاهانو پشان اوښتی وای، کوم چې همدااوس ماترسیم کړل. هغه څوك چې د ټولو لږ لوپه هیله وي بالاخره هرڅه یې له لاسه وځي. هغه څوك چې د ر ټي شتمنۍ په خیال وي په نتیجه کې د هرڅه بی نصیب او یاکم له کمه د هغه خیالي ثروت څخه ډیر لیرې کیږي، کوم چې دوی ته یې ړنده اوغولونکی مینه ستر ګوته کوي، پدې هیله چې دنامحدود واك خاوندان شي. آیا دا ټمه دخدای او طبیعی قوا نینو مخالفه نه ده؟. دپاریس لیون، تولوزا، روآن، همداډول دلندن او ډیرو نورو ښارونو دغه ټول کنیازان (سرداران)، روحانیون، درباریان، بډای بورژوازیان، غټ سوداګران، نامتو کسب ګران به چیرې وای؟ دغه بی شماره کلي ټول حیرانو ونکي کلیوالي باغونه ځمکې او شنې غونډۍ چې په دومره زیارونو پاملرنو او دلچسپیو سره آباد شوې دي له کومه کیدای؟ دغه عظیم عایدات چې له دغه‌درکه راځي شاه او رعیت مړوي له کومه به کیده؟ په برعکس صورت کې به دغه‌لوی کلي دناوړې هواله کبله په کنډوالو بدل‌شوي وای هیڅوا به دافکر نه وای کړی چې بیایې له‌سره آباد کړي. دا شنې غونډۍ به‌سپیرې شوې وای، ځمکې به‌شاړې، تش به صارایی بوټی پکې زرغونیدل اویا به‌جبې ترې جوړې شوې وای مکروب به یې خپرولای. دمهربانو او تجربه کارو سیاحینو په عنوان غواړم یوټکی اضافه کړم. ددوی لپاره به هیڅ ډول استانیاوې نه‌وای. مجبور به‌وای چې د کوچیانو په شان دضرورت ټول شیان ځان سره یوسي دغه ټولې مهمانخانې چې دپاریس ته تر ترلیونږ پورې غزیدلې دي په لس ګونو مړدارو کاروان سرایونو به اوښتي وای. کاروان سرایونه هغه عادی لوی ودانۍ دي چې په جګو ځایونو باندې آبادې شوې ولې چار چارپیره

یی لوی دیوال وي او په هغه کې په‌سلګونو کسان د آسونو، کچرو او اوښانو ــ وسره ګډوډ یوځای پراته وي. پدې ودانیو کې په‌دوبي د تودوښې نه سړی مري او په‌ژمي کې دیخنی نه. آماځنی به په ما دانتقاد کوي چې مونږ دمتان دپاره ولې لیرې ځو. ځکه د هندوستان نه علاوه مونږ داسې دولتونه وینو چې هلته د«ما» او«ستا» د ملکیت مفهوم فرق نه کیږي مثلاً د ترکیې دسلطان امپراتوري چې مونږ یې نیسبت نورو ته بنه پیژنو په‌دغه امپراتورۍ کې نه یواځې دغه مفهوم وجود نه لري بلکه همدغه امپراتوري په عین حال کې ډیره قوي او طاقتۍ ورځ په ورځ لا یې زیاتیږي.

دا رښتیاده چې دغه‌دولت په‌خپله‌غیز کې بې‌شماره ارتې ځمکې رانیولې‌دي، چې دخاورې دجنسیت له مخې لومړي‌درجه دي، او باید وویل شي ددې ځمکو بې‌حاصله کیدل به په داسې لنده موده کې امکان ونلري. دغه دولت نوره هم قوي او دولتمن دی. ولې پدې کې شك نشته چې که چیرې هندوستان زمونږ دهیواد پشان آباد او دخلکو نه ډك وای، او که چیرې دلته هرځای ځانګړي ملکیت وجود لرلای نو ویلای شم چې بالکل به یې بله بڼه لرلای. کولای به یې شول چې دپخوا پشان حیرانونکې پوځونه دجنګ ډګرته وړاندې کړي، او هم به یې دا قدرت لرلای چې دغه پوځونه وساتي. مونږ دهندوستان تقریباً په ټولو ښاروکې وګرځیدو دا مو په سترګو ولیدل چې داهیواد څومره تش، مفلس او دخلکو څخه خالي کړشوی دی. په پایتخت کې که غواړی چې ۵ــ۶ زره عسکر ټول کړئ نو پوره درې میاشتې وخت غواړي. مونږ دا هم په سترګو وینو چې که چیرې په هندوستان کې دعیسوي مریانو لوی شمیر چې دهرې خوانه دلته راوستل کیږي وجود نه لرلای نو حال به یې څه وای؟ پدې کې هم شك نشته چې که چیرې اوسنی حکومت دزیات وخت لپاره حکومت کولو ته دوام ورکړي هغه به هرومرو تباه او دخپلې کمزورۍ دلاسه به سقوط وکړي.

www.libtool.com.cn

هو ! همدا اوس دغه حکومت ښکاري چې پوازې او پوازې په همدې مريانو تيکه کوي . ځکه هيڅ داسې گورنراو يا په عمومي طور سره په امپراتوری کی داسې سړی به پيدا نکړئ چې هغه د کومې پوې مؤسسې لپاره حتی پوخه ولري او يا وکولای شي دومره خلك راټول کړي څومره چې دده پکار وی . پدې صورت کی ددې لپاره چې شور شونه خپه کړي نو دپيگو هغه براميڼ ورته پکاردي چې دخپل سلطنت نيم او سيدونکی يې له لوزې سټ کړل او هغه ځای يې په ځنگل باندی بدل کړ او دا موقع يې دخو کلونو په موده کی چاته ورنکړه چې کشت او کرو کړی . ولی دی خپل مقصد ته ونه رسيد او په نتيجه کی دولت سقوط وکړ او څه موده پخوا دهغه ځای پايتخت آوا ايله دهغه هيوادغرنيو خلکو په لاس که چې دچين څخه راتبنيدلی دی ولويد . دا هم دويلو وړده چې ممکن مونږ په خپلو سترگو په خپل ژوند کی د امپراتوری کلی تباهی او سقوط ونه وينو ځکه چې دهغې گاونډيان نه پوازې ددې قدرت نه لری چې دهغه په مقابل کی کوم عمل ته لاس تيرکړی بلکه حتی داوس هم نلری چې ددې امپراتوری په مقابل کی دخارجيانو دمرستې نه پرته مقاومت وکړي ، چې دفاميلی دليوې والی له امله او په خپل منځ کی درقابت له مخی به هميشه ددوی نه بدگومانی ،خورده کاری اوسستی راخر گنديزي .

دلته کيدای شي داسوال وشي چې پدې دولتونو کی ولی ښه قوانين نشته دصوبو او اطرافو خلك ولی نه شي کولای لوی وزير او يا په خپله پادشاه ته شکايتونه راوړي . که رښتيا وويل شي نودوی دښوقوانينو څخه بالکل بې برخی نه دي . که چيرې ددوی قوانين لکه څنگه چې لازمه ده مراعات کيدلای نو کيدای شول چې هلته وضع دنورو ځايونو څخه بدنه وای .

آمادغه قوانين چې نه مراعات کيږی دچاپه دردخوري ؟ آيا همدغه وزير يا بادشاه بې بضاعته ظالمان گورنران دوی ته صوبوته نه ورليږي؟ آيادوی داقدرت



www.libtool.com.cn

نه لري چي هلته بل ځوك ور مقرر كړي؟ آيا په خپله بادشاه دغه صوبې ورخرڅي نه كړي؟ آيا دغه غريب بزگر ياكسب گر دومره وسايل لري چي د داد خواهي اوعدالت غوښتلو لپاره مركز ته ځان وربانده ورسوي، كوم چي دده داستو گنځي څخه يونيم يا دوه سوه ميله فاصله لري. كه چيري گورنر وغواړي چي هغه شكايت كوونكي دلارې نه راوگرځوي بندي يې كړي لكه څنگه چي په كراتو مراتو داسي شوي هم دي او يا يې په لار كې مړ كړي نو څوك به يې شكايت واوري؟ كه گورنر دربار كې واسطه ولري خبره بل ډول بادشاه ته ورسوي داسي هم زياتره پېښيږي، نو دهغه مظلوم شكايت كوونكي پای به څه وي؟ لنډه داچي دغه وزي گورنران، جايگيرداران، او اجاره داران، دفارسي متل له مخي چي «از ريگ روغن ميكشد» آيا نه شي كولای ټول چور كړي؟ زه وايم چي دغه گورنر مطلق العنان حاكم، څښتن اوقاضي نه بلكه دغه گورنر په خپله پارلمان دی هيئت ريسه دی دباج او ماليي ټولوونكی دی لنډه داچي هرڅه دی دی.

دا بايد وويل شي هغه ځمكې چي زموږ دبادشاهانو ځانگړې بلل كيږي په هيڅ صورت درعيتو دځمكو څخه خرابې نه دی آبادې شوي، اونه خلك دنورو ځايونو په نسبت هلته كم دي. ددې نه پرته موږ دومره معقول قرائين لروچي ټولو ړومبی په خپله بادشاه دهغه ښه مراعات كوي. دوی دا غواړي چي دخپلو ځانگړو ځمكو څخه دنورو رعيتو ځمكو په خير گټه واخستل شي. دغه بادشاهان حتی دا اجازه هم ور كوي چي ددوی دځمكو اجاره دارانو او نورو خدمت گرانو تفتيش وشي. پدې ترتيب سره بزگر او كسب گر كولای شي خپل ځان حق ته ورسوي، دبی عدالتی، بی قانونی ظلم، واستبداد نه ځان ته پناه پيدا كړي. ولی برعكس پدې هيوادونو كې دكمزورانو او مظلومانو لپاره هيڅ ډول پناه گاه نه وينم دگورنرانو كوتك او مشكل تراشی تقريبا يوازينی قانون دی چي دلته حكمراني كوي او ټول كارونه فيصله كوي.



www.libtool.com.cn

بلاخره ممکن دا پوښتنه وشي چې پدې دولتونو کې ددې پورتنیو نوقصوسره سره بیاهم دومره زیاتی محکمی اوعدلی لانجی نشته، لکه زمونږ په هیوادونو کی چې شته او کارونه ځنډوي .

مقصد داچې داوزده عدالت نه لنډه بې عدالتي بهتره ده . ددعوا اوزدوالی باید دومره سنی نه شي چې بلاخره دعوي کوونکی استغراق ته را شي . د پادشاه فوري وظیفه هم داده چې په ټول کوشش سره دغه کار اصلاح کړي . داهم درسته ده که چیرې « زما » او «ستا» له منځه و یستل شي، نودبې شماره مشکلاتو ریښې به لنډې شي تقریباً دومره زیاتو کسانوته چې زمونږ بادشاهان دخپلو رعیتو په منځ کې دعدلی محکمو لپاره کارورځنی اخلی، اوبیاددوی په څنګ کی هغه لوی شمیر کسان چې یوازې دهمدې لاري نه خپلې خیټې ډکوي، هم ضرورت نه وای پاتې شوی . ولی څومره چې څرګنده ده دغه دارو به دخپلوعواقبوله مخې چې ځان سره یې راوړي داصلی ناروغی څخه به سل ځلی خطرناك تر و . داهم بایدله یادو نه ایستل شي چې قاضیانو به پدې دولتونو کی دلقب استعمال حق له لاسه ورکړای وای . ولی په عین حال کی زمونږ پادشاهان لاتراوسه کولای شي پدې وویاړي . پدې هیوادونو کی دنادرې استثنائه پرته، نورټول دکوڅې بازار بدبخته محروم خلك محاکمه کیږي چې داجتماعی موقعیت له مخی په یوه قطار کې راځي . دوی داقدرت نه لري چې قاضی ته بډې ورکړي؛ یادناحقی شاهدان په پیسو واخلی ، کوم چه دلته یې شمیراو ارزانې دتصورنه وتلی ده او هیڅکله به دخپل عمل سزا ونه وینی . ځایې خاوکو زمونږ دپخوانوسوداګرانو چه پدې منطقو کی یې ژوندکړی دی همدادول د سفیرانـو قونسلګرانو او ترجمانانو څخه پدې باره کی په ټینګه سره پوښتنې کولی .

زمونږ سیاحان زیاتره برخه دخپل سیاحت په ترخ کی درې ډوله خس و خاشاك یابه بل عبارت سره دقاضیانو اودوی دچوکره ګانو ډلې وینی : لومړی ډله قاضیان ددعواکوونکودعوازر فیصله کوی. دوهمه ډله قاضیان هغه یادغه خواحمایه کوي اوپه مقابل لوري زلې اوروي؛ دریمه ډله په دواړو خواووجلا ګوزاوونه کوی.

په پای کی په لنډه سره دو مره وایم . دخلکو نه دځمکی دملکیت حق غصبول دظلم ، بی عدالتی عدم مساواتو او غلار او سپتل دي .

دخلکو نه دځمکی دملکیت حق دا نیول د آبادو حاصلخیزو ځمکو شړلو او ساراپی کول دي ، دانسانی نسل په مخ ټول قوت سره دتباهی او دافلاس دروازي خلاصول دي ، او هم دسلطنتونو او دولتونو لپاره دبی نظمی او ګډوډی زمینه برابرول دی.

www.libtool.com.cn

آما په مقابل کی «زما» او «ستا» مفهوم دهر انسان دامید بنیاد دی ، پدي هیله چی دی ددایمی خیر او ښیګڼی لپاره زیار باسي ، کوم چی دده او دده داولاد ځانګړی مال بلل کیږي . دغه امید په نړی کی دټولو ښکلاوو او ښیګڼو اساس دی . هغه څوک چی دنړی په مختلفو دولتونو ، هیوادونو نظر واچوی او هغه څه چی دشاهانو او رعیتو له ځانګړی ملکیت څخه راوځی ، په هغوی غور وکړي ، نو هغه لوی توپیر چی مونږ یی په مختلفو دولتونو او دنړی په بیلو بیلو امپراتوریو کی لیدلای شو ، دهغوی تر ټولو لومړی او مهم دلیل هم موندلای شئ ، پوهیدای شو چی یوازي او یوازي په همدي لومړی او مهم دلیل پوري دځمکی دمخ بدلون او تنوع تړلی دی .

www.libtool.com.cn

ضمايم :

# نو مليك

«۱»

## د خلکو نو مونه

اعتبار خان : ۱۳۵ ، ۱۳۷ مخ .

الله قلي خان : ۸۷ مخ .

الله وردي خان (دالله وردي په بيه هم راغلی دی) : ۹۵ ، ۱۹۰ مخ .

اکبر بادشاه (داکبر په بيه هم راغلی دی) : ۱٤ ، ۱۵ ، ۲٤ ، ۵۵ ، ۱۳۰ ، ۱۳۷ ، ۱۳۸ ، ۱۵٤ ، ۱۸۹ ، ۱۹۱ مخونه .

امير جمله : ۱٦ ، ۱۷ ، ۳۵ ، ۳۷ ، ۳۸ ، ٤۰ ، ٤۵ ، ٤٦ ، ٤۸ ، ۵۹ ، ٦۰ ، ٦٦ ، ۹۳ ، ۹٦ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹ ، ۱۰۰ ، ۱۹۸ ، ۱۹۹ مخونه .

اورنگ زيب (داورنگ په بيه هم ليکل شوی دی) : ۱۰ ، ۱۵ ، نه تر ۱۸ ، ۲۱ ، ۲۸ نه تر ۳۰ ، ۳۲ ، ۳۳ ، ۳۵، ۳۷ نه تر ۵٦ ، ۵۹ نه تر ٦۵ ، ۷۰ نه تر ۸٦ ، ۸۸ ، ۹۳ ، ۹٦ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۱۰۰ ، ۱۲٦ ، ۱۲۸ نه تر ۱۳۹ ، ۱٤۱ ، ۱٤٤ نه تر ۱٤۸ ، ۱٤۹ ، ۱۵۰ ، ۱۵٤ ، ۱۵٦ ، ۱۵۷ ، ۱۵۸ ، ۱٦۰ ، ۱٦۲ ــ ۱٦۳ ، ۱٦٤ ، ۱۸۵ نه تر ۱۹۱ ، ۱۹٤ ــ ۱۹۵ ، ۱۹۸ ، نه تر ۲۰٤ مخونه .

برنيه (دکتاب مؤلف) : ۱ــ۳ ، ۷ــ۱۱ ، ۱٦ مخونه .

بيگم صاحب : ۳ ، ۳۱ ــ ۳۳ ، ۳۹ ، ٤۲ ، ۷۵ ، ۸۲ ، ۱۳۷ ، ۲۰۳ مخونه .

تاروينه : ۲ مخ .

تر بیت خان . ۱۹۰ مخ .

تیورینا : ۷۳ مخ .

جسوانت سنگ : ۱۹۲ مخ .

www.libtool.com.cn

جگت : ۱٦ مخ .

جهانګیر : ۲۳ ، ۲٦ ، ۱۸۹ ، ۱۹۱ مخونه .

جی‌سامسنگ : ۲۸ ، ٥٤ ، ٥٦ ، ٥۷ ـ ٥۸ ، ۹٦ ـ ۱۳٥ ـ ۱۳٦ ـ ۱۳۷ مخونه .

جی سنگ (دراجه جی‌سنگ په بڼه هم لیکل شوی دی) : ٥۲ ، ٥۳ ، ٥٤ ، ۷٥ ـ ۷۷ ، ۹٦ ، ۱۹۲ ، ۱۹٤ ، ۱۹٥ ، ۲۱۲ مخونه .

چیون خان : ۱۹۲ مخ .

حضرت محمد(ص) : ۲۸ مخ .

خوا ه شاه عباس : ۸٥ ، ۸۸ مخونه .

داراشکوه (د دارا په بڼه هم لیکل شوی دی) : ۲۰ ، ۱۹ ، ۲٦ ، ۲۷ ـ ۲۹ ، ۳۱ ، ۳۳ ، ۳٥ ، ٤۱ ، ٤٤ ، ٤۷ ، ٥۱ ـ ٥۳ ، ٥۹ ـ ٦۱ ، ٦۳ نه تر ۷٦ ، ۷۹ ، ۹۳ ـ ۹٥ ، ۲۹۰ مخونه .

دانشمندخ (ددانشمند په بڼه هم لیکل شوی دی) : ۲٥ ، ۲٦ ، ٦٦ ، ۸٤ ، ۱٥۱ ، ۱٥۲ ، ۱٦۲ ، ۱٦٤ مخونه .

داود خان : ۷۷ مخ .

دلیل خان : ٥۳ ، ۷٦ ، ۷۷ مخ .

دیانت خان : ۱۹۱ ، ۲۱۹ مخونه .

دیلاموتلی وي : ۱۰۰۲ مخونه .

راجه چاتریسال : ٦٦ ، ٦۹ مخونه .

راجه رامسنگ روتلی (درام سنگ روتلی په بڼه هم لیکل شوی دی) : ٦٦ ، ٦۹ مخونه .

راجه روپ: ۱۸۹ مخ.
راز آندازخان: ۲۶ مخ.
رام‌سنگ: ۷۰ مخ .
رستم‌خان: ۶۶_۶۹ مخونه.
روشن آرابیگم: ۳۱، ۳۳، ۸۳، ۱۳۵، ۱۳۷، ۱۴۲، ۱۶۲ مخونه.
صافی ن‌خان: ۲۶ مخ.
سپاه‌شکوه: ۷۳، ۱۲۱ مخونه .
سعدالله‌خان: ۳۹، ۴۱ مخونه .
سلطان بیگ: ۱۲۶_۱۲۸ مخونه.
سلطان‌محمود: ۴۷، ۷۲، ۹۷، ۹۹_۱۳۹ مخونه.
سلطان‌معظم: ۴۶، ۴۷، ۱۳۸، ۱۸۷، ۱۸۸ مخونه.
سلیمان شکوه: ۵۲، ۵۴، ۶۲، ۶۵، ۷۵_۷۸، ۱۲۱ مخونه.
سیتی: ۱۶ مخ
سیواجی: ۱۴۷، ۱۹۲_۱۹۵، ۲۰۲، ۲۱۱ مخونه.
شاه جهان: ۲، ۱۶، ۲۴_۲۶، ۳۰، ۳۷، ۳۹_۴۳، ۴۸، ۵۱_۵۳، ۵۵، ۵۹_۶۶، ۷۴، ۷۵
۷۸_۸۵، ۱۲۹، ۱۳۰، ۱۳۵، ۱۳۶، ۱۳۸، ۱۵۸_۲۶۲، ۱۹۰، ۲۰۲، ۲۲۸ مخونه.
شاپلین: ۳ مخ
شاه عباس: ۱۶۲، ۲۸۹ مخونه .
شاه نوازخان: ۱۳۸ مخ .
شمپت: ۱۴ مخ .
شهزاده کوندي: ۷۳ مخ .
شایسته خان: ۳۱، ۷۴، ۹۶، ۱۸۵، ۱۸۷، ۱۹۱، ۱۹۴ مخونه.

علیمردان خان : ۱۸۹ ، ۱۹۰ مخونه .

فاضل خان : ۲۶، ۲۰٤ مخونه .

فدای خان : ۱۳٥ مخ.

کالبیر : ۳ نه تر۹ مخونه.

www.libtool.com.cn

کاظم خان (دکاظم په بڼه هم لیکل شوی دی) :٥٦، ٥٧، ٥٩ مخونه .

کلیل خان (دکلیل الله خان په بڼه هم لیکل شوی دی):٦٦، ٧١، ٧٤، ٩٥، ۱۹۲ مخونه.

گاسندی : ۱۰ ، ۱۱ مخونه.

گوډتیمور: ۲٤ مخ .

لنبکرخان : ۱۹۱ مخ .

محبت خان : ۸۸ ، ۱۳٥، ۱۳۷ ، ۸۸۱ مخونه .

محمد امیرخان : ۳٦ ، ۳۷، ٥۹، ۹۸، مخ .

محمدامین خان : ۱۹۹ مخ.

مراد بخش (دمراد په بڼه هم لیکل شوی دی): ۳٦، ۳۰، ٤۲، ٤٤، ٤٥، ٤۸، ٥۲، ٦۰، ٦۲

٦۹، ۷۱، ٤۷، ۸٥، ۸۸، ۹٥ مخونه .

مهربابا : ۱۹۱ مخ.

میرخان : ۱۸۱ مخ .

ناظرخان : ۳۳ مخ.

نظامشاه: ۱۹۷ مخ .

نظیر خان : ۱۹۳ مخ .

نورجهان بیگم: ۲٦ مخ.

نیابت خان :۱۹۱مخ .

ورجی ورا : ۱٦مخ .

همایون: ۲٤ ،۱٦۳مخ.

یونانی سکندر : ۷۳ مخ.

## دځایونونومونه

www.libtool.com.cn

اټک : ۲۱۰ مخ .

احمد آباد : ۲ ، ۱٦ ، ۵۰ مخونه .

احمدنگر : ۹ مخ .

ادربکان : ۱۳۸ ، ۱٤۸ مخونه .

اروپا : ۱۸ مخ .

ازبکستان : ۱۳۸ ، ۱٤۸ مخونه .

اسام : ۲۷ مخ .

اسپانیه : ۷ مخ .

اصفهان : ۱۲۷ ، ۱٦۱ مخونه .

افغانستان : ۱۳ مخ .

اګره ( داګري په بڼه هم لیکل شوی دی ) : ۲ ، ۱٦ ، ۱۸ ، ٤۹ ، ۵۳ ، ۵٤ ، ٦۰ ، ٦٤ ، ٦۵ ، ۸۵ ، ۹۳ ، ۹۵ ، ۹٦ ، ۹۸ ، ۱۵٦ ، ۲۰۳ ، ۲۱۱ ، ۲۲۵ ، ۲۳۰ ، ۲۳۲ مخونه .

الله آباد : ۲ ، ۵٤ ، ۹۷ ، ۱۹۹-۱۹ مخونه.

امریکا : ۲۰٦ مخ .

اناتولیه : ۲۳۳ مخ .

باب المندب : ۲۳ ، ۱٤٦ ، ۲۰۷ مخونه .

بخارا : ٦۰۸ مخ .

برامپور : ٤۸ ، ۵۰ مخونه .

بصره : ۱٦ ، ۲۰۸ مخونه .

بلخ : ۱۲۹ ، ۱۳۲ مخونه .

بنارس : ۹۹ مخ .

بندرعباس . ۲۰۷ ر ۲۰۸ مخونه .

بنگال : ۱۷ ، ۳٤ ، ٤۲، ٤۳ ۷۹ ، ۹۹ ، ۱۲۸ ، ۱۸۵ ، ۱۸٦ ، ۱۸۷ ، ۱۹۵

۲۰۸ ، ۲۱۰ ، ۲۲٤ ، ۲۲۸ مخونه .

بهاك نگر : ۳۷ ، ۳۸ ، ۱۹٦ مخونه .

بیجاپور : ۱۳ ،٤۱ ، ۱۲٦ ، ۱۹۲ ، ۱۹۹ ، ۲۰۱ ، ۲۰۲ ، ۲۱۱ ، ۲۱٤ ، ۲۲۳

مخونه .

بیدار : ۱۳ مخ .

تاج محل : ۲٦ مخ .

ترکیه : ۲۰۷ ، ۲۲۷ ، ۲۳۸ مخونه .

پارس : ۱٤ ، ۱۲٦ ، ۱۳۷ ، ۱۵۷ ، ۱۵۹ ، ۱٦۳ ، ۱۸۹ ، ۱۹٤ ، ۲۰۷ ، ۲۰۸ ،

۲۱۰ ، ۲۱۵ ، ۲۳۸ مخونه .

پاریس : ۲۰٦ مخ .

پرتگال : ۷ ، ۱۷ مخونه .

پنجاب : ۱۸ ، ۱۹ ، ۲۱ ، ۲۲ مخونه .

جاپان : ۲۰۷ مخ .

جده : ۲۳ مخ .

جمنا : ٥٤ ، ٥۹ ، ٦٥ مخونه .

حبشه ( دحبشي په بڼه هم لیکل شوی دی): ۱٤۳ ، ۱٤٦ ، ۱٤۰-۱٥۰ ، ۲۰۸ مخونه

چیناکونګ: ۱۸٦-۱۸۷ مخونه

چین: ۱۷، ۲۰۸، ۲٤۱ مخونه .

داراکان، ۱۴، ۱۲۵، ۱۲۷ مخونه .

دکن: ۱۳، ۲۰، ۲۹، ۳۶، ۴۱، ۶۹، ۱۸۸، ۱۹۰، ۱۹۲، ۱۹۴ـ ۱۹۶، ۱۹۸، ۲۰۱، ۲۲۳ مخونه .

دولت آباد: ۳۶، ۴۶ـ۴۷، ۱۹۶ـ ۱۹۷مخونه .

دومبیا: ۱۵۱ مخ .

ډنمارك: ۱۴ مخ .

ډیلی: ۲، ۲۱، ۷۶، ۸۷، ۱۳۲، ۱۹۱، ۱۴۱، ۱۴۷، ۱۴۷، ۱۶۱، ۱۶۲، ۲۰۸، ۲۱۰، ۲۱۱؛ ۲۲۵ـ ۲۲۶، ۲۳۲مخونه .

راج محل: ۹۹ مخ.

رامپور : ۱۹۴ـ ۱۹۵مخونه.

رام گیر: ۳۹مخ.

سرینگر: ۷۷ـ۸۷، ۱۲۱مخونه.

سلیمگر: ۸۷ مخ.

سمانگر: ۸۷، ۹۵، ۱۹۱مخونه.

سمرقند: ۱۲۸ـ ۱۲۹، ۱۳۱ـ ۱۳۲، ۲۹۸مخونه .

سند: ۱۳، ۱۷مخونه.

سورت: ۸ ـ۱۹، ۲۴، ۴۸ـ ۵۰، ۱۴۷، ۱۵۴، ۱۹۳ـ ۱۹۴ مخونه .

سوریه : ۷مخ .

سیام: ۱۴، ۱۲۵، ۱۶۳، ۲۰۷ مخونه .

سیلون ۱۲۷، ۲۰۷مخونه .

شیراز: ۲، ۱۰، ۱۲۶ مخونه .

شیلی: ۷ مخ .

www.libtool.com.cn

عربستان : ۱، ۲۰۸ مخ .

غزنی: ۲۰٦مخ .

فتح آباد: ٦٥ مخ.

فرانسه : ۳، ٦ـ۷، ۱۰-۱۱، ۱٤، ۸٤، ۲۰٥، ۲۰۷، ۲۱٦مخونه .

فرانکفورت : ۳مخ .

فلسطین: ۲۳ مخ.

قاهره : ۲۳مخ

کابل: ۲۱، ۳٤، ۸۸، ۱۲٦، ۱۳٥، ۱٥۹، ۱۸۸ ۱۸۹، ۲۱۰مخونه.

کاشغر: ۱٦۳ مخ .

کالیاتی : ٤۱مخ.

کانادا: ۷مخ .

کاندیثي: ۱۳مخ.

کشمیر: ۲، ۱۳، ۱۳۰، ۱۹۱ ۱۹۲، ۲۲۲مخونه.

کناکورد: ۱ مخ .

کندهار : ۲۱، ۱۲٦، ۱٥۹، ۱۸۸ ۱۸۹ـ۱۹۰، ۲۰٦ـ۲۰۷، ۲۱۰ مخونه .

گجرات: ۱۳، ۱۷، ۳٤، ٤۲، ٥۰، ۱۳٥ مخونه .

گنگاه: ٥٤، ۹۷، ۹۹، ۲۱۰، ۲۲٦ مخونه .

گوالیار: ۳۳، ۱۸۷. مخونه.

گولکهنده : ۲، ۱۳، ۱۹، ۳٥ـ۳٦، ۳۸ـ۳۹، ٥۰ـ٥۱، ۱۲٦؛ ۱۹٥، ۱۹۷، ۲۰۰، ۲۰۲، ۲۰٦، ۲۱۱، ۲۱٤ـ۲۱٥، ۲۲۲ مخونه.

گیني: ۷ مخ .

لاهور: ۲، ۸۸، ۲۲۲ مخونه.



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

لندن: ٢٠٦ مخ .

ليون: ٢٣٩ مخ .

ماتوره: ٨٥ مخ.

مارسل: ٣ مخ .

مدراس: ١٧ مخ.

مصر: ١، ٢٣؛ ٢٠٦، ٢٣٣ مخونه .

مکه: ١٢٧، ٢٠٢ مخونه .

ملتان: ٣٤ مخ.

مورليند: ١٦ مخ.

موزامبيك: ٢٠٧، ٢٠٨ مخونه .

موكو: ١٤٥ـ١٤٦، ٢٠٢، ٢٠٧ـ٢٥٨ مخونه .

ميلان: ٣ مخ.

نرباده: ١٣ مخ .

ويجانگر: ١٣ مخ .

هالند: ٥، ١٤ مخ .

هندوستان: ٢، ٣، ٧، ١٠ تر ١٦، ١٨ تر ٢٠، ٢٢، ٣١، ٣٥، ٥٢، ٥٥؛ ٦١، ٧٢، ٨٤
١٣٠، ١٣٣، ١٤٤، ١٤٥، ١٥٩، ١٦٢، ١٦٣، ١٩١، ١٩٦، ٢٠٠، ٢٠٥ تر ٢٠٨، ٢١٠ــ٢١١
٢٣٨، ٢٤٠ مخونه .

يمن: ١٤٣، ٢٠٧ مخ.

## سموں پا نه

گرانو اودرنو لوستونکو! له بده مرغه دځینو نیمگړ تیاوو له امله په دغه کتاب
www.libtool.com.cn
کی دغه لاندې چاپـی تیرو تنی شوي ، چی تر اوستو دمخه به یـی پـه سمولوځان
زهیر کړئ .   « اداره »

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| پښتو | پیښو | ٥ | ١٤ |
| نرنیه | برنیه | ١١ | ٢٠ |
| غونبل | غونبتل | ١٣ | ٢٠ |
| ښپله | خپله | ٤١ | ٥ |
| مکلن | کلن | ٥٢ | ٩ |
| تعقیت | تعقیب | ٥٤ | ١١ |
| دارجه | دراجه | ٥٧ | ١٩ |
| چوا | خوا | ٧٣ | ٦ |
| دارِیه | دارا | ٧٣ | ١٣ |
| ایرانیو | ایرانیانو | ٨٩ | ٧ |
| سطلان | سلطان | ١٠١ | ١٠ |
| لارې | لدې | ١٠٦ | ٦ |
| کز | کې | ١ ٥ | ٢٨ |
| لعتونه | لغتونه | ١١٦ | ١٥ |
| خواخه | خواجه | ١٢٦ | ١٠ |
| امتـکبر | اوتـکبر | ١٣٨ | ١٣ |

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| گاندیانو | گاوندیانو | ۱۴۱ | ۲٤ |
| تردیدم | تیرېدم | ۱٤٤ | ۱۵ |
| لښکر | ښکر | ۱۵۳ | ۲۳ |
| زیاره | زیاتره | ۱۵٦ | ۱ |
| ووکاوه | ورکاوه | ۱۷۲ | ٤ |
| نه | ته | ۱۷۳ | ۵ |
| مریض | مرض | ۱۷۸ | ۱۹ |
| کندرهار | کندهار | ۱۸۹ | ۲۰ |
| روحیانیو | روحانیونو | ۱۹۳ | ۲۲ |
| سوه | سره | ۱۹۵ | ۱۱ |
| اوه | اور | ۲۰۰ | ۱۸ |
| پو | په | ۲۰۳ | ٤ |
| گډوډړی | گډوډی | ۲۰۳ | ۱۸ |
| بکه | بلکه | ۲۰۳ | ۲۵ |
| خوشبخه | خوشبخته | ۲۰۵ | ۱۸ |
| یخی | بیخی | ۲۱۰ | ۹ |
| هزازي | هزاري | ۲۱۷ | ۳ |
| څی | چی | | ۸ |
| لمرله | لرله | ۲۱۷ | ٦ |
| مرغرو | مرغلرو | ۲۲۸ | ۲۲ |
| ډولي اوگري | ډیلی اواگري | ۲۳۰ | ۲۰ |
| استانیاوي | اسانتیاوي | ۲۳۹ | ۲۲ |

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU 5833

# کوروداني

دهند دمغلو په دولت کې د وروستيو سياسي کودتا وو تاريخ د اومري ټوك په چاپ کې دپوهنتون مطبعې دغو ښاغلو له موږ سره مرسته کړيده:

۱ـ ښاغلي سيدمحمود کارګر دطباعت مدير

۲ـ ښاغلی عبدالحبيب دنشراتو غړی

۳ـ فضل الرحمن دحروف چيني دځانګې سرمرتب

٤ـ ښاغلو فتح محمد، محمدقسيم، نوراغا، ميرجان، محمدحسن، عبدالغفار، محمدمهدی، محمديوسف اوغلام نبی مرتبين

٥ـ ښاغلی شاه محمود دماشين د څانګې فنی مامور

٦ـ ښاغلی عبدالستار ماشين کار

۷ـ د صحافی دځانګې محترمو کارکونکو .

په دې توګه موږ د دوی له مرستو او همکار يوځخه مننه کوو، او کوروداني ورته وايو .

«اداره»

# سلسله کتب درسی

۱— دعصبی جهاز توصیفی تشریح .
تألیف پوهاند دکتور سیدعبدالقادر بهاء

www.libtool.com.cn

۲— پروبلم های انکشافی پلانگذاری ورول دولت دراقتصاد افغانستان .
تألیف دکتور امیریحیی اپوی .

۳— مصطلحات حقوقی ، انگلیسی ، دری .
تألیف دکتور محمد قاسم فاضلی .

٤— اساسات علمی ترسنگ .
باهتمام عبدالستار نایر

٥— تغذی ترجمه اوتتبع :
پوهنیار داکتر امان الله حمیدزی .

٦— فن تربیت .
تاءلیف پوهنمل محمد امین

۷— در سایه های قرآن.
ترجمه برهان الدین ربانی

۸— دمغلو په دولت کی دورستیو کودتا ووتاریخ.
ترجمه‌دکتور گل محمد نورزی ـ جلد اول

# مننه

دادبیاتو اوبشری علومو پوهنځی‌دپښتو څېړونو څانګه دپوهنتون دخپرونو داوی مدیر پوهندوی حبیب الرحمن هاله څخه چی ددی کتاب په چاپولوکی مولږ ته هرډول اسانتیاوی برابری کړی دی دزړه له کومی مننه کوی . «اداره»

www.libtool.com.cn

دچاپ شمیر: ۷۰۰ ټوکه ۱۳۵۲

دچاپ شمیر: ۷۰۰ ټوکه ۱۳۵۲